# پښتنو!

## قبیلویت پرېږدئ

## قومیت جوړ کړئ

Download from:aghalibrary

د ډاکتر جاوید وردګ په زیار

# پښتو!

## قبیلویت پرېږدئ

## قومیت جوړ کړئ

PROPERTY OF ARIC Established 1989

PROPERTY OF ACKU 11774

۱۳۸۱

د ډاکټر جاوید وردګ په زیار

Download from:aghalibrary

## کتاب پېژندنه :

نوم : پښتنو قبیلویت پرېږدئ. قومیت جوړ کړئ!

زیار او اوډون : ډاکټر جاوېد وردګ

خپرووونکي : د پښتني فرهنګ د ودې او پرختیا ټولنه

کمپوزر : وحیدالله وردګ

د خپرونو لړ :

د چاپ نوبت : لومړی

د خپرېدو نېټه : ۱۳۸۱ وری

د چاپ ټول حقوق له خپرووونکي سره خوندي دي.

Download from:aghalibrary

[illegible]

بسمه تعالی

Download from:aghalibrary

# فهرست

| | |
|---|---|
| ډالۍ | الف |
| سريزه | ب |
| جرګې، ملي جرګې او لويې جرګې | ۱ |
| اقدامات دپلماتيك و مسئلهٔ صلح در افغانستان | ۳۱ |
| ملي ژبه، ملي بيرغ او ملي سرود | ۶۹ |
| د حالاتو بې ثباتي + د نظرياتو بې ثباتي = ... | ۹۶ |
| ماجراجويى بس است | ۱۱۰ |
| پښتانه تل د توري سپر دي | ۱۲۲ |
| په بشري ټولنه کې د پښتو او پښتنو سره د بشري حق... | ۱۳۶ |
| سقوط رژيم شاهى و آمدن دولت جمهوري در افغانستان | ۱۷۶ |
| نوى افغانستان او د نويو کلتوري هڅو لپاره وړانديزونه | ۱۹۰ |
| د افغانستان د بيا ودانولو په اړه | ۲۰۲ |
| د بن تړون، دږيم قوت او د مذهبي بنسټ پالنې ماتې | ۲۰۸ |
| حکومت "کشاد" او ملي حاکميت | ۲۲۵ |
| ازبك سالاري په افغانستان کې | ۲۳۵ |
| که د عشق لاره اغزنه وي... | ۲۴۷ |
| افغانستان: اميدونه او ايرادونه | ۲۵۴ |
| پښتانه او يو موټى افغانستان | ۲۷۰ |
| د پښتنو بې غوري او د دښمنانو بدسګالي | ۲۷۹ |
| د افغانستان د روغتيايي مرستو بيا رغاونه | ۲۹۶ |
| په افغانستان کې د ملي اردو د جوړېدو ستونزه | ۳۱۸ |
| پښتانه دې د خپلو ښېخرته ملي-... | ۳۳۶ |
| د يوه اتل ولس غم لړلى برخليك | ۳۵۵ |
| يا به يو کېږو، کنې ورکېږو | ۳۷۹ |
| ديکتاتورى، دموکراسى و مشروعيت قدرت در افغانستان | ۳۸۶ |
| زما کندهار | ۴۱۴ |
| پښتنو! قبيلويت پرېږدئ، قوميت جوړ کړئ! | ۴۳۱ |

Download from:aghalibrary

# ډالۍ :

د هغو بېګناه او مظلومو افغانانو سپېڅلي اروا ته چې د نړیوالو د غیر قانوني او خونړیو بمبارۍ، توغندیو او په همدې توګه د هېواد د کورنیو غلیمانو د نامرده جنایتونو په وجه په شهادت رسېدلي او رسېږي.

همدارنګه د بې دربار پښتو ژبې دوو سترو ستیو هر یو :

اکاډیمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد ته چې د هر ډول امکاناتو له لرلو سره سره یې خپل مبارک سیوری د هېواد له غېږې لیرې نه کړ او خپل ولس ته یې په لسګونو څېړنیز او تخلیقي آثار وړاندې کړل.

او ګران استاذ حبیب الله رفیع ته چې په رنځور صورت یې د کاناډا غوندې هېواد د مادي هوساینو پرځای په پېښور کې یوه کوټه غوره وګڼله او د یوې اکاډیمۍ په څېر یې یوازې د دوه نیمو کلونو په بهیر کې څه له پاسه پنځوس توکه پوهنیز، تاریخي او ادبي آثار خپلې ټولنې ته خپاره کړل.

ډالۍ کوم.

# سریزه او مننه

دا درې لسیزې زموږ پر ګران هېواد افغانستان داسې لوبې بهیر لري، چې د نړۍ په هېوادو کې یې سارې نه و لیدل شوی او سړی هك پك شي چې سبا به بیا څه راپېښېږي؟

که سړی یوڅه په ژوره توګه وګوري، دغه تېرې، وژنې او جګړې که څه هم په لوی کچ له بهر څخه پر موږ تپل شوې دي او تپل کېږي، خو لومړی درجه مسئوولین یې په خپله افغانان دي او روانه غمیزه په تېره بیا زموږ د یو شمېر ټولنیزو نیمګړتیاوو، د نالوستوب او په هر اړخ کې د ناڅرګند افراط او تفریط پایله او زېږنده ده. د سپتمبر تر یوولسمې نېټې وروسته یو ځل بیا افغانستان د یوې نوې لوبې ډګر وګرځېد چې په وجه یې ډېر بېګناه افغانان په شهادت ورسېدل او له بده مرغه دا لړۍ تر دې دمه دوام هم لري.

د دې لپاره چې د دغو بدمرغیو سرچینې او تاریخي عوامل رابرسېره شي او په راتلونکي کې د ورته پېښنو مخه ونیول شي. ما له یو شمېر دوستانو او د نظر له خاوندانو څخه د ځانګړو مقالو او څېړنیزو لیکنو هیله وکړه او

ګټو يې زما بلنه ومنله. چې زه له دوی ټولو څخه د زړه له کومې مننه کوم او هیله لرم چې دغه لیکنې زموږ د هېواد په ښېرازه او ملي وحدت کې مثبت رول ولوبوي او افغانان ترې د یوه خپلواك افغانستان په موخه ښې ګټې واخلي.

په همدې توګه له ګران ورور ښاغلي محمد آصف وردګ څخه هم ډېره مننه کوم چې د خپلو ګټو کلتوري خدمتونو په لړ کې يې د دغه کتاب چاپي لګښت ته هم اوږه ورکړه.

له ښاغلیو باز محمد عابد، احمد ویس وردګ څخه مننه کوم چې د چاپ او خورولو په برخه کې يې ډېرې هڅې او منډې کړې دي او هم له ښاغلیو وحیدالله وردګ او نجیب الله وصال څخه مننه کوم چې د دې ټولګې په ټایپ او ډیزاین کې يې سر خوږولی دی.

په مینه او درنښت
ډاکټر جاوېد وردګ
کاناډا

ډاکټر عبدالصمد حامد

# جرګې، ملي جرګې او لويې جرګې

اوس چې د ملګرو ملتونو په ابتکار او لارښوونه د بن د غونډې د موافقت لیك په اساس او په دې اړوند د یوه یویشت کسیز کمیسیون غړي او مشر هم وټاکل شول او په نتیجه کې د افغانستان راتلونکې د اضطراري لويې جرګې او د لويې جرګې په پرېکړو پورې تړل شوې، نو د دې جرګو ترکيبي ماهيت. عمليه او مشروعيت باندې غور او بحث د هروخت نه زيات ضروري برېښي.

جرګې په عمومي توګه زموږ د ولس له هغو غوره دودونو څخه دي چې ډېر اوږد تاريخ لري او په یوه محل او قام پورې منحصرې نه دي. زموږ د ټولنيز ژوندانه په مختلفو ساحو کې د ډېرو معضلو د حل لپاره له جرګو نه استفاده کېده او کېږي. په دې وجه ددې موسسې بلاانقطاع او عام چلښت د یوه منل شوي ښه دود په توګه هم د شرعې په سطح او هم د افغانستان د حقوقي نظامونو په سطح (د تعاملي حقوق په توګه) یوه نافذه حقوقي موسسه ګڼل کېداى شي. که څه هم تر اوسه پورې په دغه برخه کې لازمې او دقيقې څېړنې نه دي شوې. خو زموږ د تاريخ په اوږدو کې په خاصو حياتي

سیاسي بحرانونو او حالاتو کې. جرګې دایرې شوې دي او اکثره د دې جرګو د مناسبو پرېکړو او د هغو د تطبیق په واسطه زموږ د تاریخ مجرا په مثبته توګه تثبیت شوې هم ده. داسې جرګې معمولاً د ملي جرګو په نامه یادېږي. د مثال په توګه د میرویس بابا په ابتکار او تدبیر په (۱۰۸۸ل - ۱۷۰۸م) کال کې د کندهار په "مانجه" کې جوړه شوې جرګه او په (۱۱۲۰ل - ۱۷۰۸م) کال کې کندهار ته نژدې د "مزار شیر سرخ جرګه" چې احمد شاه بابا په کې د هېواد د مشر په توګه وټاکل شو. که څه هم داسې ملي جرګې زموږ په تاریخ کې د ډېرو لویو جرګو نه زیات ارزښت او اهمیت لري. خو د ماهیت له کبله لویې جرګې د دوی څخه متفاوته دي.

۱. لویه جرګه: که څه هم لویې جرګې له جرګو څخه نشئت کړی دی. خو د خپل حقوقي ماهیت له لحاظه له نورو جرګو سره تفاوت لري. که څه هم د "لویې جرګې" اصطلاح د اماني اصلاحاتي پروګرام نه مخکې هم استعمال شوې وې خو په حقیقت کې د خپل خاص ماهیت له کبله منطقاً د اماني دورې له نوښتونو سره رامنځ ته شوې، نه د هغه نه مخکې. ځکه چې په افغانستان کې د شرعي او عرفي نظام تر څنګ د قانون څخه ناشي نظام (ولو که له شرعي احکامو سره د موافقت په شرط هم و) او د هغه تصویب د لویې جرګې په واسطه شوی- دې موسسې ته د هېواد د حقوقي او سیاسي سیستم په چوکاټ کې چې اساسي قانون په کې (ولو که شکلاً هم وي) محوري نقش لري او دا چې اساسي قانون په خپله هم د لویو جرګو له خوا تصوبیبده نو لویې جرګې ته د یوه غوره او دایمي رکن ماهیت ورپه برخه شو. یعني لویه جرګه د خپلو نورو وظیفو تر څنګ عمدتاً د موسساتو د مجلس صلاحیت او حیثیت حاصل کړ.

که څه هم د اماني دورې اصلاحي پروګرامونه د یو شمېر داخلي او خارجي عواملو پر بنا تر ډېره حده پورې نه یوازې ناکامه شول، بلکې شاه امان الله په خپله هم سلطنت له لاسه ورکړ. خو دغه اصل تر اماني دورې وروسته هم خپل چلند له لاسه ورنه کړ. اساسي قانون او نور قوانین (ولو که په شکلي توګه هم وي د شرعې په حدودو کې) د هېواد د حقوقي نظام یوه مهمه برخه تشکیلوي او په دې اړوند لویه جرګه او پارلمان د خلکو د ارادې د تمثیل په عملیه کې (ولو که عموماً یوازې په شکلي توګه هم وي) د یوه مهم او دایمي دولتي رکن حیثیت تر لاسه کړی. د اماني دورې د حقوقي نظام اصلاحي پروګرام په حقیقت کې له لادینۍ مفکورې څخه نشئت کړی.

د افغان مسلمان ولس حقوقي نظام بنایي چې د شرعې په چوکاټ کې د افغان ولس د ارادې څخه نشئت کړی وي. د دې لپاره چې د خلکو اراده په سمه توګه تمثیل شي، د پخوانیو دورو په خلاف اوسنی ټولنیز جوړښت دا نه شي په ډاګه کولای چې کومې حلقې د ولس د ارادې ممثلین دي، نو دا تجویز مرجع وګڼل شو چې د انتصابي غړو تر څنګ دې په لویه جرګه کې یو شمېر انتخابي غړي هم حضور ولري. په دې اساس افغاني محلي اداري عملاً د انتخابي حوزو په حیث وټاکل شوې چې د هغو بالغو نارینه وو له خوا په محکمو کې د شرعي اقرار او د شرعي وثیقو په جوړولو سره وکیل وټاکل شي.

د دې وکیلانو تر څنګ چې د لویې جرګې انتخابي غړي نومېدل. یو شمېر مخور شخصیتونه لکه مشهور دیني علماء، روحانیون او یو شمېر نور قومي مشران، د پاچایي فرمان په واسطه د انتصابي غړو په حیث ټاکل کېدل. د دې غړو تر څنګ یو شمېر (منورین) په دولتي ادارو کې د خاصو منصبونو د خاوندانو په حیث

د دې جرګې د طبیعي غړو په نامه ټاکل کېدل. دغه دریېمه ډله په نادرشاهي او ظاهرشاهي لویو جرګو کې په دې بڼه نه وه موجود. که څه هم د نادر شاه د دورې (۱۳۰۹ل) کال لویه جرګه کې یو شمېر خلکو چې عموماً دولتي مامورین د مشاورینو په نامه برخه درلوده. خو د لویې جرګې دغو ګډون کوونکو د رایې حق نه درلود.

د ۱۳۴۳ل کال د اساسي قانون په سطح د لویې جرګې موسسې هم د سیاسي او حقوقي خصوصیت. هم د ترکیب او هم د خپلو وظایفو د دوام او نوعیت د لحاظه د اهمیت وړ بدلون وموند. دغه بدلون په هېواد کې د ځینو حلقو له انتقاد سره مخامخ شو.

که څه هم د اماني دورې په اساسي نظامنامه کې د دې دورې د ځینو نظامنامو او بین المللي معاهدو د تصویب په رابطه. همدا راز د نادر شاه د دورې د اساسي اصولنامې. ځینې نورې اصولنامې او بین المللي معاهدو په ارتباط په ضمني توګه د دغو دورو لویو جرګو ته د تصویب کوونکي مقام په حیث اشاره شوې. خو د لومړي ځل لپاره د ۱۳۴۳ل کال په اساسي قانون کې لویه جرګه د موسساتو د مجلس او د ځینو نورو مهمو وظیفو د اجرا کولو لپاره د ذیصلاح جرګې او رکن په حیث نه یوازې په صراحت یادونه شوې. بلکې د اساسي قانون د نورو موسسو تر څنګ د یوه مهم رکن په توګه د لویې جرګې ترکیب او صلاحیتونه هم تنظیم شوي دي. په دې اساس لویه جرګه (په پنځم فصل او یو شمېر نورو مواردو کې) د اساسي قانون د تعدیل په شمول د لوړو صلاحیتونو په لرلو سره په حقیقت کې د خلکو د ارادې د انعکاس د عالي رکن حیثیت لري او د ولسي جرګې او مشرانو جرګې د غړو او همدغه شان د ولایاتو له جرګو د مشرانو څخه جوړېږي.

څرنګه چې دا درې جرګې تل حاضرې وي او یا ژر حاضرېدی شي، نو د لویې جرګې دایرېدل د اساسي قانون د تعدیل او تصویب د دویمې دورې نه پرته (۱۲۱ او ۱۲۲ مادې) کوم مشکل نه خلقوي او ډېر وخت نه نیسي او کېدی شي چې په بحراني او اضطراري حالاتو کې هم د جرګې په ترکیب کې د کوم بدلون نه پرته دایرې شي او لازم تصمیمونه ونیسي. خو ددې لپاره لازم شرط دا دی چې د دولت نظم داسې وي لکه څنګه چې یې د ۱۳۴۳ کال په اساسي قانون کې تجویز شوی او د هغې تجویز عملي کول ممکن وي.

څنګه چې د ولسي جرګې او د مشرانو جرګې دوه ثلثه غړي او د ولایاتو د جرګو غړي او مشران د عامو انتخاباتو او سري رایې اخیستلو له لارې انتخابېږي نو که په دغو انتخاباتو کې ګوتې ونه وهل شي واقعاً د خلکو د ارادې ممثل ګڼل کېدای شي. نو ځکه لویه جرګه د دې اساسي قانون د تجویز په اساس د دوو پخوانیو اساسي قوانینو په پرتله د دموکراسۍ له لحاظه پرمختګ دی.

لکه چې ګورو- نه د ۱۳۴۳ ل کال په اساسي قانون او نه د افغانستان په پخوانیو اساسي قوانینو کې د اضطراري لویې جرګې یادونه شوې ده. دا ځکه چې اضطرار یو حالت دی او نه کومه حقوقي یا تولنیزه موسسه. نو منطقاً هم اضطراري لویه جرګه نه شي موجودیدلی او د بحث ور هم نه شي ګرځېدلی. له دې کبله چې د تېرو دورو یعنې (اماني. نادرشاهي او د ظاهرشاهي دورې د یوې برخې) لویې جرګې د دې اساسي قانون په وجه تعدیل شوې. یعنې پخوانی شکل یې له منځه ولاړو او د کوم مشروع بل حقوقي نظام په وجه بېرته نه دی احیا شوی. د ترکیب او شکلیاتو له لحاظه د نویو نومونو لکه اضطراري لویه جرګه او نورو په واسطه په مشروعه توګه نه شي منځ ته راتلی ولوکه د امنیت د شورې او یا د ملګرو ملتونو



پښتنو قبیلویت پرېږدئ...!

د سرمنشي او د هغه د خاصو استازو او یا که د ځینې پخوانیو افغاني مقاماتو له خوا هم وي. مخصوصاً چې د بن د جرګې د تصویب په اساس د ۱۳۴۳ ل کال اساسي قانون د نوي اساسي قانون د جوړېدو او مشروع تصویبه پورې له ځینو محدودیتونو سره د افغانستان د حقوقي نظم د بنسټ د حیثیت مدعي ګرځېدلی.

په دې اساس یوازې عنعنوي جرګې چې په پیل کې یې یادونه وشوه، د هېواد د اوسني بحران د حل په لاره کې مطرح کېدی شي. ځکه دا جرګې اوس هم په افغانستان کې د نافذې حقوقي ټولنیزې او سیاسي موسسې په توګه خپل مقام لري او له دغو جرګو څخه نن هم په مختلفو حالاتو کې کار اخیستل کېدای شي او تر ډېره حده پورې اخیستل کېږي هم.

د مثال په توګه:

۱. د کورنیو، قبیلو، قامونو، کلیوالي شخړو په اوارولو کې له جرګو څخه د حکم په توګه کار اخیستل کېږي. (په حقوقي مسایلو کې لکه میراث، واده او یا طلاق) او یا په تجارتي معاملو کې.

۲. جرګې په هغو شخړو کې چې له ټولنیزو اړیکو څخه پیدا شوي وي د خیرغوښتونکو اصلاحي او پخلا کولو وظیفه اجرا کوي. لکه د بزګرانو او یا د ځمکو د خاوندانو تر منځ، قامي لانجو. جنګي شخړې که فردي شکل ولري او یا قامي او همدا راز په سیاسي وطني لانجو کې.

۳. جرګې د خلکو په شخصي موضوعاتو او یا ټولنیزو چارو کې د مشورو ورکول وظیفه اجرا کوي.

۴. په محلي او یا ملي سطح په سیاسي او پوځي چارو کې د پرېکړې وظیفه لري.

۵. جرګې د موقتې او یا د اوږدې مودې لپاره د کلي، منطقې، قبیلې، قام او یا ملي مشرتابه ټاکي.

لکه چې په پیل کې ورته اشاره وشوه ځینو مهمو ملي جرګو زموږ په تاریخ کې مثبت او اغېزمن نقش لرلی. چې له هغې جملې څخه مو د دوو جرګو یادونه وکړه:

۱. ملي جرګه د میرویس نیکه په ابتکار او لارښوونه د مانجې په محل کې د قامونو د مشرانو په ګډون جوړه شوه او د هېواد د استقلال د ترلاسه کولو لپاره د لازمو تدبیرونو تجویز په کې وشو. چې د میرویس نیکه په لارښوونه او ابتکار دې په څو قدمونو کې تطبیق شي. لکه چې معلومه ده، دې پرېکړې زر عملي بڼه غوره کړه او په نتیجه کې یې نه یوازې له یوې پېړۍ وروسته د هېواد استقلال بیا حاصل کړ، بلکې د اسلام پر اصولو ولاړ- زموږ له ملي عنعنو سره په سمون د قامي سپین ږیرې توب پر اصل ولاړ یو داسې دولتي نظام یې رامنځ ته کړ، چې د نورو په ظاهري شان او شوکت باندې ولاړو نظامونو او دربارونو سره یې کوم شباهت نه درلود.

د هېواد د هغه وخت ټولنیز جوړښت د خصوصیت په وجه د ملي جرګو دایرول او مطلوبو یعنې د ولس د ګټو د تحقیق سره سمو پرېکړو ترلاسه کول نسبتاً مشکل نه وو. ځکه چې د هغې وخت له افغاني ټولنې څخه دا په ډاګه کېدای شوی چې کوم خلک په محل او ټول ولس کې د چا مشرې مني او مشرانو هم د قام په مقابل کې عموماً ځان دومره متعهد ګاڼه چې په خپلو کارونو کې یې د ولس ګټې په نظر کې نیولې.

۲. د کندهار د "مزار شیر سرخ" د ۱۱۲۶ل - ۱۷۴۸م کال جرګه:

دا جرګه د "مانجې" د جرګې پر خلاف د یوه سړي په ابتکار نه، بلکې د ډېرو قامونو د مشرانو په ګډ ابتکار د دې لپاره دایره شوې

وه چې د نادر شاه افشار تر مړینې په استفادې سره د هېواد استقلال تر لاسه او د هېواد لپاره یو ملي مشر وټاکل شي. که څه هم په دې بنه د دې جرګې جوړېدل د جرګې د غړو د ښه نیت ښکارندوی و، خو قامي مشران د موجودو ذات البیني رقابتونو له کبله د هېواد د مشر د ټاکلو په سر نه جوړېدل.

لکه چې معلومه ده په هېواد کې له نفاق څخه د یوې لویې فتنې د پیدا کېدو د مخنوي په نیت دوی د خپلو ذات البیني اختلافاتو سره سره دا تجویز وکړی شو چې د جرګې یو زلمی غړی چې نسبتاً د یوې کمکۍ قبیلې مشر و، خو د نادر افشار په دربار کې د هغه وخت په سیاسي رمزونو پوه، د جګړو په ډګر کې ازمویل شوی شخصیت په حیث په قامي رقابتونو او پرو جنبو کې هم اخته نه و. د ولس د مشر په توګه وټاکل شو. دغه شخصیت احمد خان درانی و.

احمد خان درانی نه یوازې د سیاسي او پوځي نبوغ او لوی شخصیت خاوند و، بلکې د خپل ولس له ټولنیزو او سیاسي خصوصیتونو څخه هم پوره خبر و. د احمد خان دغو خصوصیتونو ده ته دا امکان ورکاوه چې نه یوازې ډېر ژر په ولس کې خپل مشرتوب تثبیت کړي، د هېواد استقلال بېرته تر لاسه او ویې ساتي، بلکې د افغان ولس د روښانې تاریخي عنعنې په پیروۍ، یو ځل بیا یو پیاوړی او منل شوی دولت جوړ کړي. احمد شاهي دولت تر پنځو سوو کلونو وروسته دده د لمسیانو د بې اتفاقۍ او غربي استعمار د مسلکي او اغېزمنو تخریبي لوبو په نتیجه کې مخ په کمزورۍ او کوچنې کېدو شو. دې تخریبي جریان د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې نور هم شدت وموند. خو له دې ټولو تخریبي عواملو او بې اتفاقیو سره سره بیا هم زموږ د ولس د پراخو پرګنو د سربښندنې او قربانیو

نـه ډکـو مقـاومتونو او خالصانـه جـهادونو لـه برکتـه د افغانسـتان اصلي هسته تر ننه پورې د میراث په تـوګه پـاتې شوې ده.

د څه د پاسه درویشـتو کلونـو راپـه دېخـوا نړیوالـو او سیمه یـیزو لوبـو یـو ځل بیا مـونږ د خپلـو راتلونکـو نسلونو پـه وړانـدې لـه یـوې لویـې ازموینـې سره مخامخ کـړي یـو چـې پرتـه د لاژم ایشـار، درایـت، پـراخ نظر، صبر او د خـدای عدالـت او پـه حمـایت بـاندې د توکـل او جرئـت څخـه بـه بریـالیتوب راپـه برخـه نـه شـي. نـن زمـونږ د فنـا او بقـا خبره ده، نـه د کومـې لویـې او یـا کمـې برخـې د لاسـه ورکولـو لکـه چـې ولیـدل شول د دې ذکـر شـویو ملي جرګو تـر منـځ، د جـرګو د مبتکرینـو او مشـرتابه د لحاظـه تـوپـیر موجـود دی. د لومـړۍ ملـي جـرګې د "مـانجي جـرګې" لاربنود، مشـر او مبتکـر مـیرویس نیکـه و. د دویمـې "مـزار شیر سرخ" جـرګې مبتکریـن او مشـران د ولـس د قـامي مشـرانو یـوه برخـه وه، نـه کـوم شـخص، قـامي مشـر او شـخصیت خـو دا ملـي جـرګې د خپـل ترکیـب لـه لحاظـه سـره تـر ډېره حـده پـورې ورتـه وې. د جرګو غـړو نـه یوازې تـر ډېره حده لـه یو بل سره اشـنایي درلـوده، بلکـې دوی پـه دې پوهـېدل چـې څوك د ولـس د کومـې ډلـې او کومـې برخـې د ارادې تمثیـل کـوي او تـر کومـه حـده د خپلـو موکلینـو ملاتـړ ترلاسـه کولـی شـي. دوی پـه دې هـم پوهـېدل چـې د جـرګې کومـې پریکـړې بـه ولـس تـه د منلـو وړ وي.

د امـاني دورې لویـې جـرګې او د هغـې نـه وروسـته دایـرې شـوې لویې جرګې د ملـي جـرګو مـاهیت درلـود. لکـه څنګه چـې پـه پیـل کـې ورتـه اشـاره وشـوه، د دې جـرګو دایـرېدل هـم د افغـاني مراجعـو لـه خـوا د (اکثره سـلطنت، خـو د داود خـان پـه دوره کـې د جمـهور رییـس لـه خوا) او د دوی په ابتکـار جـوړېدې. دغـو جـرګو پـه مـهمو ملي مسـایلو پرېکړې کولـې. خو د خپـل ترکیـب لـه نظـره د نـورو ذکـر شـویو لومړنیـو

د لوی خدای ﷻ په نامه

# د دې کتاب په اړه

د هېواد حالات په بېړه بدلون مومي، په دومره بېړه چې هېڅ تصور يې نه شي کېدای. د قلم او نظر خاوندانو وخت پر وخت د خپلو مسوولیتونو له مخې خپل غږ پورته کړی او ولس ته يې هغه لاره په ګوته کړې چې لـه بحـران او ستونزو څخه د وتلو لار ده.

په همدې لړ کې "د پښتني فرهنګ د ودې او پرمختيا ټولنې" وپتېيله چې د قلم او نظر خاوندانو او د افغان ملت تر منځ د يوه پله حيثيت غوره کـړي او د دوی نظرونه هېوادوالو ته ولېږدوي، په همدې لړ کـې يـې [د پښتنـو قبيلويـت پرېږدئ قوميت جوړ کړئ] کتاب د چاپ هوډ وکړ. نو "د پښتني فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنه" وياړي چې دا دی د خپل کار په بهير کې تاسې درنو ته يو بل کتاب وړاندې کوي، داسې يو کتاب چې د هېواد د تکړه ليکوالـو او د نظـر د خاوندانو ليکنې په کې راټولې شوې دي. ټولنې هيله درلوده چې همدا کتـاب د بېرنۍ لوېې جرګې تر جوړېدا دوه درې مياشتې مخکـې يـانې د روان لمريـز کال د ورې په لومړيو کې چاپ شي، خو د تخنيکي ستونزو له املـه يـوه نيمـه مياشت وځنډېد؛ د همدغو ستونزو له امله د ځينو درنو ليکوالو ليکنې له چـاپـه پاتې شوې او ان دومره وځنډېده چې دا دی زه هم د وخت د کمي له امله د ټولنې يادښت په منډه منډه کاږم. په همدې لړ کې د ټولنـې مسـوولينو دومـره وخت و نه موند چې کتاب تر نظر تېر کړي او په ځينو ليکنو کې هغه وييونـه او جملې جوړې کړي چې نه ښايېدل وليکل شي. په همدې لړ کې ښايي يادونـه وکړم چې د هرې ليکنې مسووليت د ليکـوال پـه غـاړه دی، ټولنـه پـه دې اړه هېڅ مسووليت نه لري.

په درناوي
ستاسې د برې په هيله
محمد آصف وردګ ــ جرمني

ملي جرګو په مقايسه يې بنه بدله شوې وه. ځکه چې د دې دورې د تولنيز جوړښت په وجه دا ځرګندنه وه چې څوك د كومې حلقې د ارادې ممثلين دي او د كومې حلقې له خوا يې تر كومه حده پورې ملاتړ كېږي.

نو له دې کبله د اماني دورې د لويو جرګو مبتکرينو او ډېرو (مخصوصاً انتصابي) غړو عموماً د ټولو نه زيات د خپلو ټاکل شويو اهدافو تصويبولو ته توجه کوله. دوی پوره اټکل نه شوی کولای چې دا پرېکړې به تر کومه حده د ولس د لويو پرګنو لپاره د منلو وړ وي.

همدا علت و چې د دوو لومړيو ملي جرګو پرېکړې د هېواد د استقلال او قوت باعث وګرځېدې، خو د اماني دورې د لويو جرګو له پرېکړو سره د ولس د لويو پرګنو د مخالفت په وجه په هېواد کې اغتشاش او ورور وژنه منځ ته راغله. حال دا چې په خپله شاه امان الله او د جرګو ډېر انتصابي غړيو هم غوښتل چې د لويو جرګو په واسطه د خپلو اهدافو د تحقق لپاره د ولس د لويو پرګنو حمايت تر لاسه کړي او د قدرت د مرکز (سلطنت) او د ولس د پراخو پرګنو تر منځ د همدې لويو جرګو په وسيله د افهام او تفهيم او اتفاق امکان موجود شي. خو لکه څنګه چې وليدل شول نتيجه يې معکوسه وه. زما په عقيده ښايي چې د حاضر وخت غير افغاني حلقې چې زموږ د راتلونکې په باره کې د لويې جرګې د لارې تصميم نيسي، بايد دا ترخه تجربه د تل لپاره په نظر کې ولري.

## د هېواد اوسنی حالت:

د تېرو څه له پاسه دوه ويشتو کلونو راپه دې خوا. د بين المللي سياسي دريځونو. اړيکو او اغراضو پر بنا افغانستان د شوروي د

تېرې کوونکي او ظالمې امپراتورۍ د سرو لښکرو او د هغوی افغاني کوډاکيانو د تباه کارۍ ذکر وکړشيد. د دې ظلم او تېري په مقابل کې د افغان ولس پراخو پرګنو د معينو شرايطو او حدودو په رعايت سره په جهاد لاس پورې کړ چې د ظلم او تېري په مقابل کې د متناسب قيام او جنګ ماهيت لري. د افغانانو د پراخو پرګنو دغه هراړخيز جهاد د ډېرې اوږدې مودې لپاره دوام وکړ.

زموږ د ولس خالصانه او کم ساري جهاد په بين المللي سطح ډېر ژر عملاً د يوه ثمر بخښونکي ائتلاف بڼه غوره کړه. دا ائتلاف د يوه نسبتاً کمکي هېواد چې د خپلو ملي نواميسو او د خپلې خاورې د دفاع لپاره د لوی خدای په عدالت د عقيدې او توکل پر بنا هرې قربانۍ ته تيار و او د بشري ټولنې له لويې کورنۍ سره چې د ملګرو ملتونو په شکل تمثيلېده عملاً ميدان ته راغی. دا ځکه چې د نړۍ اکثرو هېوادونو د شوروي امپراتورۍ د دې تجاوز له کبله خپل ځانته او يا خپلو ګټو ته خطر احساساوه نو ځکه يې زموږ له جهاد سره مادي او معنوي مرستې کولې.

لکه چې وموليده، د افغان ولس ددې خالصانه جهاد له برکته نه يوازې د شوروي اتحاد متجاوزې سرې لښکرې له افغانستان څخه وشړل شوې، بلکې دغه جهاد د يو شمېر نورو عواملو تر څنګه (چې د شوروي امپراتورۍ داخلي اقتصادي او ټولنيز مشکلات هم په کې شامل دي) د شوروي امپراتورۍ په ړنګېدو کې يو د دقت وړ عامل وګرځيد.

ددې امپراتورۍ د له منځه تللو په وجه نه يوازې زموږ په سيمه کې، بلکې په نړۍ کې لوی بدلونونه رامنځ ته شول. له اوکراين څخه نيولې د مرکزي اسيا تر جمهوريتونو پورې د شوروي امپراتورۍ غړې هېوادونه خپلواك شول. د وارسا تړون له منځه ولاړ. په شرقي

اروپـا کـې د شـوروي اقمـارو د دغـې امپراتـورۍ لـه جـغ څخـه نجـات ومونـد او دکمونـیزم لـه دیکتـاتورۍ څخـه د روسـیې خلـك آزاد شـول. د شرقي او غربي المـان یووالـی بېرتـه اعـاده شـو او بـالاخره د غـرب او پـه خاصـه تـوګه د امریکـې پـه ګټه د نړیـوال سیسـتم د قـدرت د توزیـع پـه سیسـتم کې بدلـون راغـی.

خـو لـه بـده مرغـه د ملګرو ملتونـو د موسسـې پـه ګډون د نړیوالـې بشري کورنـۍ اکثرو غـړو زمونږ د قربـانیو او جـهاد لـه ثمر څخـه د دغـه ائتـلاف پـر بنـا ګټې ترلاسـه کـړې. خـو یـوازې افغـان ولـس تـرې محـروم پـاتې شـو، توهیـن شـو او اوس د تباهـۍ کړنـګ تـه برابـر شـو. دا حـالت افغاني او غیر افغـاني عوامـل لـري.

افغـاني عواملـو تـر ډېره حـده پـورې زمـونږ د سیاسـي صحنـې د فعـالو لوبغـاړو نفـاق، غـیر واقعیـت بینـي، تـر ډېره حـده د دوی ریاکـاري، خپـل ولـس بـاندې نـه بـاور او لـه خپلـو وطنوالـو سـره خواخـوږي نـه لـرل، د خپلـو بـهرنیو ملګرو د اوامـرو پـه اجـرا کـې او د هڅـوی د ګټو د خونـدي سـاتلو پـه لاره کـې د زیـار ایسـتلو څخـه نشـئت کـړی.

غیر افغـاني عوامـل هـم ډېر دي چې دلتـه یـوازې لاندینـي مطلـب تـه توجه کـېږي.

غربي نړۍ موږ او زمونږ قربـانیو تـه اصـلاً پـه کـوم اهمیـت قایلـه نـه شـوه. مـوږ یـې د روسـانو پـه شـمول د سیمې د هېوادونـو د لوبـو د ډګر پـه تـوګه یـوازې پرېښودلـو او خپـل اصلـي هـدف تـه متوجـه شـول چـې د وارسـا د تـړون لـه مـاتېدو نـه پـه استفادې سـره د نـاتو د تـړون سـاحه پـه ټولـه شرقي اروپـا کـې پراخـه کـړي؛ د شـوروي امپراتـورۍ پـه بقایـاو کـې اقتصادي اهدافـو د تحقق لپـاره خپـل نفـوذ زیـات کـړي او د روسـانو د

سلطې د توسعې مخه ونيسي. په نړيوال سياست او نورو مسايلو کې آزاد لاس ولري.

زموږ ګاونډيان او د سيمې ځينې نور هېوادونه، چې په حقيقت کې دوی هم په نړيوالو سياسي لوبو کې د لوبو د درنو لوبغاړو حيثيت لري هر يو په خپل وار غوښتل چې له واقعيت بينۍ څخه پرته د نورو په مقابل کې له افغانستان څخه د خپل نفوذ د ساحې په توګه کار واخلي. دوی غوښتل چې زموږ د هېواد په ارتباط د نولسمې پېړۍ د سرو قدرتونو له لويو لوبو څخه په تقليد يوه نوې شانتې لويه لوبه جوړه کړي. خو د سيمې د دواړو قدرتونو له خوا دا جوړه شوې لويه لوبه هم د دوی او هم زموږ په ضرر تمامه شوه. ليوه لوبه د دوی له کنترول څخه ووتله او په نتيجه کې يې افغانستان عملاً د وړو او لويو قاچاقيانو، د بين المللي مافيا په ګډون ماجرا لټوونکو عناصرو او خلکو، د بين المللي استخباراتي شبکو، د بين المللي تروريزم د تربيې مهم مرکز او په خاصه توګه بيا د هغه بين المللي تروريزم د نفوذ ساحه وګرځېده؛ چې په نيويارك او واشنګټن کې د سپتامبر د يوولسمې د فاجعې د طرحې او تطبيق په تور متهم دي.

لکه چې اوس ګورو، موږ نه يوازې له بشري تولنې سره د خپل جهادي ائتلاف څخه د مشروعو ګټو اخيستلو څخه محروم شوو. بلکې د بين المللي تروريزم په مقابل کې د امريکې په ابتکار او مشرۍ د نړيوال نوي ائتلاف د سيوري او نامه لاندې روسيه د شوروي د وارث په توګه په موږ خپل پخوانی او نوي ملګري مسلطوي او د خپل نظامي حضور په وسيله خپل سياسي نفوذ تثبيتول غواړي. حال دا چې افغان ولس د جهاد د دورې د موتلفينو او ملګرو له خوا (چې اوس د دې نوي ائتلاف مشران او مهم غړي

هم دي) د بې وفايي له کبله په لومړۍ درجه د بين المللي تروريزم قرباني دي. يعنې افغانان د خپل جهادي ائتلاف په پای کې محروم او يوازې پاتې شول. لس کاله د سياسي خلا او د خپلو پخوانيو ملګرو د اغراضو له کبله وځپل شول او اوس بيا د پخوانيو ملګرو او غليمانو له خوا د نوي ائتلاف په ذريعه ځپل کېږو. کله چې دې ائتلاف د تروريزم په ضد زموږ په هېواد کې خپل نظامي عمليات پيل کړل. د افغانستان خلك د تېرو اتو کلو را په دې خوا په داسې حالت کې وو. چې نه پوهېدل د چا پلوي شي او د چا مخالف. يوې خواته يې د طالبانو بدمرغه نظام او بلې خواته د طالبانو ضد نظام چې عمدتاً د طالبانو نه دمخه دورې د تالاګرو او بدنامو خلکو څخه جوړ و. دواړه خواوې نه يوازې دا چې د خارجي حلقو له خوا تقويه کېدې، بلکې دومره د هغوی د هدايانو د تاثير لاندې وو چې د افغان ولس په ګټو او پت پسې نه ګرځېدل او دواړه خواوې د خپلو غير افغاني ملګرو د ګټو د تامين په لاره کې خپل هېوادوال وژل. له دې کبله زموږ د ولس لويې برخې په سياسي لحاظ بېخي فلج شوې وې.

په دغو شرايطو کې د طالبانو ضد جبهې ته ښه فرصت ورپه برخه شو. ځکه چې طالبان د خپلو تېرو سولوك تر څنګه تر آخره پورې نه يوازې د بن لادن او د هغه د القاعدې شبکې له تخريب او هېواد څخه د هغوی له ايستلو سره مخالفت کاوه. بلکې د نړيوال ائتلاف په وړاندې يې داسې دريځ غوره کړ چې په پای کې د هغوی په وړاندې جګړې ته حاضر شول. طالبانو په خپل دې کار سره او بيا يو دم د کابل د پرېښودو په واسطه د وروستي ځل لپاره په ارادي او يا غير ارادي توګه روسانو او د هغوی افغاني پلويانو ته خدمت وکړ. په نتيجه کې نه يوازې امريکې او د ائتلاف نورو غړو ته په

افغانستان کې د هغوی نظامي حضور لازم او میسر شو. بلکې تر ټولو مخکې د روسیې نظامي او سیاسي ډله په کابل کې ځای په ځای شوه. پرته له دې چې د افغانستان د خلکو د ارادې د تمثیل مدعیانو له خوا د دوی په مقابل کې کوم منفي عکس العمل وښودل شي.

لکه چې معلومېږي، دوی غوښتل چې تر طالبانو پخوانی حالت بیا د دوی په ګټه ببرته رامنځ ته شي او دا ځلې د خارجي قواوو (مخصوصاً د روسانو) په مرسته د ډېرې مودې لپاره په ټول افغانستان مسلط شي.

## پر افغانستان د بین المللي تروریزم په ضد د مبارزې لپاره د نړیوال ائتلاف، نظامي عملیات او برید د افغانستان د سولې او ثبات په اړه د ملګرو ملتونو پروګرام:

د سپتامبر د فاجعې څخه وروسته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د افغانستان په ارتباط څو فیصلې صادرې کړې دي. چې له هغې جملې څخه یوه د تروریزم په ضد د مبارزې لپاره نړیوال ائتلاف او په خاصه توګه امریکې ته دا صلاحیت ورکړی و چې د بن لادن د محکمې او د هغه د القاعدې شبکې د له منځه وړلو په ارتباط په افغانستان کې نظامي عملیات وکړي.

همداراز په افغانستان کې د سولې او ثبات د تامین په خاطر د ملګرو ملتونو د سرمنشي د خاص استازي د وراندیز ضمني تائید په لړ کې ښاغلي سرمنشي ته دا وظیفه ورپه غاړه کوي چې په

افغانستان کې د بشر د حقوقو د رعایت پر بنا او د افغانستان د خلکو د آزادۍ ارادې څخه ناشي پراخ بنسټه حکومت د جوړولو په واسطه سوله او ثبات تامین او د دې هیواد د بیا ودانولو کار دې پیل شي. ښایي چې دا موضوع په نظر کې ولرو چې له یوې خوا د افغانستان د خلکو د بشري حقوقو په خوندي ساتلو ټینګار کېږي او له بلې خوا نه خارجي ځواکونو ته په افغانستان کې د پلي کولو او د جنګي عملیاتو آزادي ورکول کېږي.

په هر صورت د بن د جرګې په پای کې په افغانستان کې د موقتې ادارې جوړېدل او د هغې د افغاني غړو ټاکل او د اضطراري لويې جرګې د ترکیب او تدبیر لپاره یو ویشت کسیز مستقل کمیسیون او د محکمې د جوړېدو تصویب هم وشو.

لکه چې معلومه ده د بن د جرګې غړي د ملګرو ملتونو د سرمنشي او د هغه د خاص استازي له خوا د څلورو افغاني حلقو څخه تعیین شوي او د المان د حکومت له خوا یې مېلمه پالنه کېدله. دا افغانان د افغانستان د ولس د استازو په توګه نه، بلکې د ملګرو ملتونو د خبرو د ګډون کوونکو حیثیت لري. د دې درې وارو مؤسسو نظارت او لارښوونه د ملګرو ملتونو د سرمنشي د خاص استازي په غاړه ده او د دې ټول پروګرام مسؤولیت هم ده ته او هم ملګرو ملتونو ته متوجه دی.

لکه چې په سر کې ورته اشاره وشوه، د ملګرو ملتونو په دې پروګرام کې د اضطراري لويې جرګې او قانوني لويې جرګې دایرېدل او د هغوی تصویبونه محوري نقش لري. نو ښایي چې اوس په دې موضوع څه رڼا واچول شي، موږ په پیل کې یادونه وکړه چې د افغانستان په تاریخ کې د اضطراري لويې جرګې په نامه کومه اصطلاح نه شته او د منطق له لحاظه هم دا اصطلاح صحیح نه

بـرېښي. ځکـه چې اضطـرار يـو حـالت دی او نــه کومــه جـرګه او کومــه مؤسســه.

همداراز دا هم په ګوته شوه چې زمـوږ لـه اوسني حـالت سـره سم د لويـې جـرګې د دايرولـو امکـان هـم نـه شـته مخصوصـاً چـې د بـن د جـرګې د فيصلـې پـه اسـاس د نـوي اساسـي قـانون تـر جوړولـو او نفـاذ پـورې د ۱۳۴۳ کـال اساسي قـانون لـه ځينـو محدوديتونـو سـره نـافذ اعـلان شـوی او دې اساسـي قـانون د لويـې جـرګې د تکويـن عنـاصر لکه ولسي جـرګه، د مشـرانو جـرګه او د ولايـاتو جـرګه اصلاً موجـود نـه دي. همدغـه شـان د افغانسـتان پـه اوسـنيو شـرايطو کـې د آزادو، عـامو او سـري انتخابـاتو، د لارې د خلکـو د اسـتازو د ټاکلـو او د هغـوی پـه وسـيله د خلکـو د ارادې د انعکـاس او تمثيـل د امکـان نشـتوالی يـو بـل تريـخ واقعيـت دی. نـو پـه دې اسـاس يـوازې د عنعنـوي ملـي جـرګې پـه دايرولـو سـره دا نسـبي امکـان ترلاسـه کـېدای شـي، چـې د افغـان ولـس د راتلونکـي نظـام پـه هکلـه د خلکـو اراده تحقـق ومومـي. خـو دلتـه هم لـه يـوه لـوی مشـکل سـره مخـامخ کـېږو، ځکـه چې د هېـواد پـه تـاريخ کې داسې کومـه جـرګه، ملي جـرګه يـا لويـه جـرګه نـه شـته چـې د غير افغاني مرجع لـه خوا جـوړه او دايـره شـوې وي. کـه څه هـم ملګري ملتونـه د بـن د فيصلـې پـه چوکـاټ کـې د يـوې افغـاني مرجـع (مسـتقل کميسـيون) پيـش بينـي کـړې. چـې د دې کميسـيون لـه خـوا د بحث وړ جـرګه دې دايـره شـي. خـو د ملـګرو ملتونـو لـه خـوا د ذکـر شـوي يوويشـت کسيزې کميټې ټاکنـه پـه داسـې شـکل شـوې، چـې کمېټه پـه ملـګرو ملتونـو پـورې مربوطـېږي. د موقتـې اداري پـه شـمول افغـاني حلقـې پـه کـې برخـه نـه لـري. ښايـي چـې د ملـګري ملتونـو ښاغلـی سرمنشـي، دده خـاص اسـتازي او پـه دې اړونـد د دوی نـور ذيصـلاح کسـان دې نزاکـت تـه متوجـه وي او د ډېر درايـت، تدبـير او امـانت

داري سره خپله دا وظيفه ترسره کړي. په دې لاره کې به د افغاني حلقو ملي وظيفه او له دوی سره همکاري دا وي. چې په علني توګه او د افغان ولس د نظر لاندې. د ملګرو ملتونو مربوطو مراجعو ته خپل مشورتي نظر څرګند کړي.

له دې کبله غواړم چې د دوی توجه لاندې مطالبو ته جلب کړم:

۱. د تېرو څلرويشت کلونو تجربو پر اساس د افغان ولس د لويو پرګنو احساس دا دی: بشري ټولنه او د هغه په استازيتوب ملګري ملتونه او په خاصه توګه د دې موسسې د امنيت د شورا ستر غړي د افغانستان په مقابل کې د جهاد د دورې په ارتباط د دغه موجود ائتلاف له بابته چې پرته د کوم شکلي قرارداد څخه عملاً د افغان ولس او آزادې نړۍ تر منځ د آزادۍ څخه د متعرضو ځواکونو په مقابل کې د دفاع په اړوند موجود شوي وو. پوروړي دي.

ځکه چې افغان ولس په دې تعهد کې خپله ونډه د مليونونو شهيدانو، معلولينو او ويجاړ وطن په بيه ادا کړې افغانانو سرې لښکرې د هېواد نه وشړلې پرته له دې چې د خپل بري نه کومه ګټه ترلاسه کړي. نو په دې وجه له ملګرو ملتونو څخه دا توقع کېږي چې د دې پور په ارتباط خپله وظيفه ترسره کړي او نه يوازې د بشري عاطفې او يا عادي اداري دندې پر بنا.

۲. ملګرو ملتونو ته ښايي چې په دې اړه د دې څو پوښتنو د ځواب په لټه کې شي آيا تر کومه حده پورې خپله افغانان د افغان ولس د اوسني لوی مصيبت عامل دي او څومره هم غير افغاني حلقې او ځواکونه.

آيا ملګري ملتونه، د هغو غړي او په تېره بيا د نړۍ ستر قدرتونه د دې توان او اراده لري. چې په افغانستان کې د غير افغاني حلقو او ځواکونو تخريبي مداخلې او د هغوی د اعمالو د

منفي فعالیتونو مخه ونیسي؟ که داسې نه وي نو په افغانستان کې به د سولې او ثبات لپاره د دوی هڅې او حالت له اوس نه نور هم خراب کړي. ددې پوښتنې مطرح کېدل په څو دلیلونو ضروري بریښي:

لومړی د ملګرو ملتونو په ګډون ټولو باخبرو حلقو ته دا په ډاګه ده، چې تر اوسه پورې ځینې هېوادونه او ځینې نورې حلقې عملاً دا خپل مسلم حق ګڼي چې زموږ په داخلي چارو کې مداخله وکړي. ولو که دوی خپل دا کار د نورو د واقعي او یا احتمالي مداخلو د مخنیوي په نیت توجیه کوي.

بله دا چې د سپتامبر د فاجعې په ارتباط د افغانستان د کشالو د حل په لار کې د امنیت د شورا جدي تصمیمونه او د هغې په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي او د هغه د خاصو استازو له نویو صلاحیتونو او فعالیدو سره جوخت د ځینو هېوادونو له خوا په صراحت سره دا علان وشو چې دوی د افغانستان په ځینو برخو کې خپل نفوذ ټینګول غواړي. پرته له دې چې د نورو سترو نړیوالو ځواکونو او یا د ملګرو ملتون د مربوطو ارګانو له خوا د دوی په وړاندې کوم محسوس عکس العمل وښودل شي.

نو له دې کبله ډېرو افغاني حلقو سره دا اندېښنه پیدا شوې چې ګواکي ملګري ملتونه خپل پروګرام پر دې اصل جوړ کړي چې په افغانستان کې د نورو مداخلې د یوه واقعیت په توګه ومني او د هغې له رعایت سره د حل یوه لار پیدا کړي. زما په عقیده دا مطلب د ښاغلي کوفي عنان د تېر کال د اګست د میاشتې د هغه راپور د متن څخه څرګندېږي چې له ځینو وړاندیزونو سره یو ځای یې د امنیت شورا ته وړاندې کړی- د همدغه راپور او وړاندیزونو پر اساس ده ته وظیفه ورکړل شوه.

د کوفي عنان له وړاندیزونو څخه دا انتباه کېږي چې افغانستان ته د یوې بین المللي معاملې د موضوع په توګه کتل کېږي. چې په هغې کې د ۶ جمع ۲ هېوادونو په ګډون د ټولو ذیدخلو هېوادونو د اړیکوتر منځ د همآهنګۍ د ایجاد د لارې په راتلونکي کې په افغانستان کې د یوه ملت او د هغه د سیستم د جوړولو لپاره زمینه مساعده شي. حال دا چې باید لومړی د افغانستان ملي حقوق او علایق تشخیص او تعریف شي چې د نورو د مشروعو حقوقو تر منځ د هم آهنګۍ د ایجاد له لارې نه په سیمه او زموږ په هېواد کې د سولې او ثبات لپاره زمینه مساعده شي.

تر کومه حده چې تر اوسه موږ ته معلومه شوې.د ملګرو ملتونو د پروګرام په دې پړاو کې داسې علایم نه لیدل کېږي چې د هغې نه دا په ډاګه شي چې د افغانستان مشروع ملي ګټې تعریف او د هغه د تحقق لپاره کوم لازم تجویز شوی وي. حتی داسې علامې لیدل کېږي چې ذیدخلو هېوادونو ته عملاً دا اطمینان ورکړی شوی چې د هغوی علایق او ګټې به خوندي ساتل کېږي.

د مثال په توګه د بن په جرګه کې رابلل شوې حلقې تر یوې اندازې د ځینو غیر افغاني ذیدخلو خواوو د علایقو د رعایت پر بنا صورت موندلی و او په نتیجه کې د موقتې ادارې او حتی د مستقل کمیسیون ترکیبي جوړښت له همدغې پالیسۍ څخه متاثر شوی دی. ځکه چې دوی به د خپل ترکیب د خصوصیت له لحاظه په راتلونکي کې د یو پراخ بنسټه حکومت د جوړېدلو لپاره نه یوازې ګټور نه وي، بلکې ضرر به هم ورورسوي.

له پورتنیو مطالبو په نظر کې نیولو سره بنایي ځینې مشورې هم ورکړی شي.

د ملګرو ملتونو پروګرام او د هغه حضور ته د افغان ولس حسن نظر په لومړۍ درجه د افغانانو له هغه خپګان او مایوسۍ څخه پیدا شوی، چې دوی یې د افغاني فعالو حلقو او د هغوی غیر افغاني ملګرو او ولي نعمتانو په وړاندې لري. نو هیله ده چې ملګري ملتونه په خپل پروګرام کې د دې خوشبینۍ نه په مطلوب شکل ګټه واخلي تر څو یې افغانانو ته هم ګټه ورسېږي.

د دې لپاره به دا ضروري وي، چې د ذکر شویو فعالو افغاني حلقو او د هغوی د غیر افغاني ملګرو د سلوك په خلاف د ملګرو ملتونو پروګرام او کار د ټولو دروازو تر شا د پټو مجلسونو په سطح تر سره نه شي. دغه پروګرام باید په دې منحصر نه شي چې یوې خاصې افغاني حلقې ته یې ګټه ورسېږي. که څه هم داسې یوه تګلاره به ځینې مشکلات هم ولري خو په خبروکې د افغان ټول ولس داخلول زموږ د مشکلاتو د حل په لاره کې د ذات البیني اعتماد لازمه فضا ایجادولی شي.

د سپتامبر له فاجعې سره سره چې تر ډېره حده پورې د اسلامي جریانونو او د مسلمانانو په مقابل کې تر یوه حده پورې منفي دریځونه تقویه شوي، ښایي چې دا واقعیت له نظره ونه لوېږي چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی او د یوه مسلمان هېواد په توګه له اسلام او مسلمانانو سره عمیقې کلتوري او انساني اړیکي لري او د دوی د ټولنیز نظام بنسټ د اسلام پر اصولو ولاړ او د هغې نه ناشي دی.

لکه څنګه چې د داود خان د جمهوریت د اساسي قانون په شمول د افغانستان له ټولو اساسي قوانینو څخه پوره ډول معلومېږي د افغانستان ولس د اسلام او د حقوقي نظام بیلتون نشي قبلولی. خو لکه څنګه چې د ۱۳۴۳ ل کال په اساسي قانون کې ښودل شوي. د

افغان ولس توجیه د اسلام په داسې پراخ نظر او واقعیت بینۍ باندې ولاړه ده چې د هغې په چوکاټ کې د غربي دیموکراسۍ او د هغې ډېر ارزښتونه تر ډېره حده پورې د اسلام له اصولو سره توافق پیدا کولای شي. خو زموږ ټولنیز نظام د غربي سیاسي نظام د کاپي کولو له لارې تحقق نه شي موندلای. د ذکر شوي اساسي قانون نه راپه دې خوا په افغانستان کې له ډېرو غیر افغاني تجربو څخه پیروي وشوه. په دغو تجربو کې زموږ د هېوادوالو ډېرې وینې او اوښکې توی شوې، خو دا ټولې تجربې ناکامې شولې. مثلاً د ۱۳۴۳ل کال په اساسي قانون کې د اسلام اساسات او مشروطه پاچایي پورې تړلي ارزښتونه د نه بدلېدونکو ارزښتونو په توګه معرفي شوي، کله چې مشروطه شاهي د داود خان له کودتا سره عملاً له منځه لاړه د پخواني پاچا او د هغه د کورنۍ په ګډون هېڅوك له هغې څخه د دفاع لپاره کومې مجادلې ته حاضر نه شول. خو تر کمونستي خلقي او پرچمي کودتاګانو وروسته چې زموږ په ټولنه کې د اسلام پر اصولو ولاړو ارزښتونو ته خطر متوجه شو، خلکو په جهاد او داسې لوی ولسي پاڅون لاس پورې کړ چې په نتیجه کې یې نه یوازې سرې لښکرې د هېواد نه وشړل شوې، بلکې کمونیزم یې هم مات کړ: بشري ټولنې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې په متفقه رایه هم دا مطلب تائید کړ، چې په افغانستان کې د هېواد د استقلال، آزادۍ او د خاورې د بشپړتیا او د هېواد د نظام اسلامي خصوصیت ساتنه د دې هېواد د سولې او ثبات لپاره ضروري ده. د کمونستانو تر سقوط وروسته د جهاد په ماحول کې جوړو شویو تنظیمونو چې عموماً یې له نړیوالو اسلامي نهضتونو سره نژدې اړیکي لرل او په سیاست کې د هغوی مشورو ته په احترام قایل وو. نه یوازې په هېواد کې سوله او سیاسي ثبات رانه ووست.

بلکې کوم حالت چې دوی عملاً په وطن کې ایجاد کړ زموږ د خلکو له اسلامي برداشت او تصور سره یې هېڅ سمون نه درلود. نو له دې کبله د افغان ولس د پراخو پرګنو له ملاتړ څخه محروم پاتې شول، چې په نتیجه کې د دغه اسامي نهضت د اکثرو ډلو اهداف په قومي افراطیت، دښمنۍ او تعصب بدل شول.

لکه چې معلومه شوه د اسلامي دیوبندي تفسیر چې د طالبانو د سلطې په وخت کې تجربه شو، نه یوازې افغان ولس ته د منلو وړ نه و، بلکې نورو اسلامي ملکونو ته یې هم زیان ورساوه. دا هم په ډاګه شوې چې په افغانستان کې د کمونستانو هڅې نه یوازې زموږ په هېواد کې ناکامه شوې. بلکې د کمونیزم په مقابل کې د افغانانو جهاد او ملي پاڅون- د خپل نړیوال وسیع بعد په واسطه حتی د کمونیزم د اصلي مرکز (شوروي امپراطوري) د انهدام یو عامل هم وګرځېدی.

د دغو تجربو په جریان کې افغاني حلقې هم د راز راز محیطي تاثیراتو له کبله د ټولنې په باره کې د فروعو له لحاظه د بېلابېلو تصورونو پیروان شول. ددې لپاره چې د فروعو په سطح د نظر اختلاف په ملي سطح د وحدت لپاره خطر نه شي دا به ضروري وي چې د هېواد راتلونکی نظام د اسلام پر اصولو ولاړ وي او له هغه څخه د داسې واقعیت بینۍ او مستقبل لیدنې پیدا شوي تفکر په وجه داسې یو حقوقي او ملي سیاسي ماحول جوړ شوي. چې ټولو ته په کې د ژوند او ونډې اخیستلو زمینه مساعده وي.

له دې کبله ښایي چې ملګري ملتونه او ددې مؤسسې موثرې حلقې دې مطلب ته جدي پاملرنه وکړي ځکه چې له دغې لارې به نه یوازې د افغانستان ستونځې حل شي. بلکې دا تجربه به د یوه داسې موډل په توګه تبارز وکړي چې اسلامي نړۍ له نورو تمدنونو

سره په سوله ييزه توګه ژوند وکړي شي. د راتلونکو ملي جرګو په ارتباط تر هرڅه دا ضرور برېښي چې يوويشت کسيزه کميټه او له دې سره تړلې نورې حلقې د دې کميټې دروند بار ته توجه وکړي: خپل نوي مسوليتونه وپېژني او په دې اړوند له خپل ځان سره دا پوښتنې مطرح کړي. استقلال او مستقل والی يعنې څه؟ استقلال د چا په وړاندې؟ دا استقلال به کوم اعمال احتوا کوي؟ د دوی د استقلال رابطه به د خدای، د ضمير، وطنوالو، د تاريخ او د هېواد د ګټو په مقابل کې څنګه تامين شي؟ آيا دا استقلال به د دوی د نفسياتو په سطح د مختلفو وسوسو، جاه طلبي، خود خواهي، منفعت غوښتنې او فرصت طلبي، شخصي حب او بغض او په پای کې له تهديدونو او خطرونو څخه راپيدا شوي- د وېرې د احساس په مقابل کې هم موجود وي؟ او که دې ايثار ته تياري موجود نه وي، نو دومره اخلاقي جرئت بايد موجود وي، چې سړی د دې وظيفې له قبلولو څخه معذرت وغواړي؟ آيا هغه مقامونه، چې د دې کميټې غړي يې ټاکلي دي، دې ته حاضر دي چې په خپله هم د دوی استقلال دې عمل ته احترام وکړي؟

آيا دا کمېټه په نهايي توګه تصميم نيسي او نيولی يې شي؟ يعنې د دوی تصميم به د جرګو د غړو په باب نهايي تصميمونه وي؟ د خلکو د اعتراض په صورت کې کومه بله مرجع هم شته چې د خلکو اعتراض ته غوږ ونيسي؟ که داسې نه وي سياسي او ټولنيز عواقب به يې څه وي او د افغانستان سوله، ثبات ته به يې کوم خدمت کړی وي؟

# د راتلونکي جرګې او د هغوی نه هیلې:

د راتلونکي جرګې چې ملګري ملتونه یې د اضطراري لویې جرګې او د لویې جرګې په نامه یادوي نقش به په دې پوړې تړلی وي چې:

الف: دا جرګې به د خپلو غړو د ترکیب له لحاظه تر کومه حده د افغان ولس د ارادې تمثیل وکولای شي؟ او تمثیل کوي.

ب: له افغان ولس سره تر کومه حده دا احساس پیدا کېدی شي چې د ملګرو ملتونو د کار او صلاحیت سره سره د دې جرګو په تصمیمونو کې د افغان ولس د ارادې رعایت هم شوی دی؟

ج: د ملګرو ملتونو مسولین او د سولې بین المللي غواکونه تر کومه حده په دې بریالي شوي چې په افغانستان کې د عام ذهنیت د ازاد انعکاس لپاره زمینه مساعده کړي؟

د: ملګري ملتونه او د انتخاباتو مستقله کمېټه تر کومه حده د خپلو اجراتو په وسیله د خلکو اعتماد جلبولی شي؟

له ټولنیزو خبري اړیکو وسایلو څخه په کار اخیستلو سره او د امنیت د چارود ښه سمبښت په واسطه تر کومه حده خلکو ته دا احساس ورکول کېږي، چې د ملګرو ملتونو او د خپلو افغاني مقاماتو له خوا د کومې معینې افغاني حلقې په ګټه او یا په ضرر د دوی د مقابلې خوا پلوي او یا مخالفت نه کېږي؟

ایا حقوقي او سیاسي نافذه فضا خلکو ته (د جرګو د غړو او مطبوعاتو ته) تر کومه حده دا اطمینان ورکولای شي. چې د خپلو اظهاراتو او تصمیمونو له کبله به تعقیب او مصدوم نه شي؟

څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه. ننني جرګې په داسې حالت او سیاسي فضا کې دابرېږي او جوړېږي چې په ولس کې د ملي مشرتابه د تبارز زمینه نه ده مساعده. همدغه شان زموږ د ولس ټولنیز له جوړښت څخه دا هم نه څرګندېږي چې څوك د کومې حلقې د ارادې تمثیل کولای شي. د خلکو د مختلفو حلقو د ارادې د

تمثیل مدعیان. عموماً له مختلفو حلقو څخه هغه افراطي عناصر دي. چې په دې اړوند نه یوازې په خپلو منځو کې د ډېرې مودې راپه دې خوا دښمني لري او تبلیغوي. بلکې تر ډېره حده د خارجي رقیبانو او مخالفوحلقو تر تاثیر لاندې واقع دي: دوی حتی ځینې حلقې له هېواد څخه ضرر د هغوی نه هدایت اخلي او د هغې په تطبیق کې هڅې کوي. له دې کبله زموږ د ولس ټولې هیلې د ملګرو ملتونو په سرمنشي پورې تړل شوي. زما په عقیده راتلونکي جرګې به په دوو لحاظو زموږ په راتلونکي کې مثبت یا منفي نقش ولوبوي: اول. که دوی نه یوازې د داسې عملي تصمیمونو مصدر وګرځي چې د افغان ولس د قبول او تائید وړ وګرځي. بلکې د دې جرګو د موثرو غړو سلوك د جرګو د غړو تر منځ او د افغان ولس د عام ذهنیت په سطح د ذات البیني اعتماد او متقابل احترام فضا خلق کړي. دوی د دې سلوك په وجه په هېواد کې د نوي مشترك مشرتابه حیثیت پیدا کاندي.

له دې کبله به دا حتمي او د ډېر اهمیت وړ وي. چې د جرګو د غړو د ټاکلو په ترڅ کې د دوی د تمثیلي صلاحیت او صفت تر څنګه د دوی خیرخواهي. خواخوږي. صداقت. درایت. تدبیر او ولس پخلا کولو او تفاهم ایجادولو صفت هم په نظر کې ونیول شي.

## زموږ د موجود ټولنیز جوړښت په اړوند د راتلونکي جرګې او د بن په کنفرانس کې د ملګرو ملتونو پریکړې:

لکه چې مو ولید زموږ هېواد د یو شمېر ملي. سیمه ییزو او نړیوالو عواملو له کبله په داسې موقعیت کې نه دي چې افغانان په

دغه شرايطو کې وکولای شي د ذات البيني اتفاق په قوت له اوسني ملي مصيبت څخه د خلاصون په لار کې پخپله ابتکار وکړي.

نو له دې کبله ملګرو ملتونو د خپلو سترو او موثرو غړو په لارښوونه او اراده ژمنه کړې. چې زموږ د خلکو د آزادۍ ارادې د انعکاس لپاره په څو مرحلو کې د لازمو تولنيزو. اقتصادي. اداري او سياسي اقداماتو په وسيله زمينه مساعده کړي. ترڅو په افغانستان کې سوله او ثبات تامين شي.

همداراز زموږ د موجوده تولنيز حالت پر اساس ممکنه نه ده چې څوك د هېواد د منل شوي مشر په توګه د جرګې د دايرولو ابتکار وکړي. د مشرتابه يو شمېر مدعيانو افغان ولس ته امتحان ورکړی او له دې کبله د منلو وړ نه برېښي. يا ځينې خارجي عوامل د دوی د بري مخنيوی کوي، يا ورسره لازم سازماني امکانات نه شته يا د افغان ولس له يوه قام سره د دوی د خاصې اړيکي او يا له بل قام سره واقعي او يا تصور شوی مخالفت د دې باعث ګرځېدلی چې کوم مثبت نقش ونه شي لوبولی.

زموږ تولنيز جوړښت د دويمې نړيوالې جګړې راپه دې خوا د يوه لوی سياسي بدلون د عمليې په جريان کې واقع دی. د تېرو څه له پاسه دوو لسيزو پېښو د ډېرې چټکتيا له کبله تولنيز بدلون تر ډېره حده خپل پخوانی ماهيت له لاسه ورکړی. خو پرته له دې چې د اتکا وړ نوي عناصر په کې په وضاحت وپېژندل شي تر څو له دې لارې د خلکو د آزادۍ ارادې لپاره يوه پرېکنده او د منلو وړ وسيله ميسره شي.

د اوسني عصر له تقاضا سره سم چې د تولنې. تولنيز جوړښت د معمولو عناصرو په توګه سياسي ډلې يو شمېر حرفوي. کلتوري. اقتصادي او يو شمېر نور مشهور سازمانونه ګڼل کېږي. هم زموږ د

ټولنې د خصوصيت په رعايت سره هغه وظيفه نه شي اجرا کولای لکه په پرمخ تللي هېوادونو کې يې چې اجرا کوي. ځينې سياسي او شبه سياسي ګوندونه له دې کبله زموږ په هېواد کې لازم نقش نه شي لوبولی چې د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند د حکومت په وخت کې د ملي خيانت او وطنوالو په مقابل کې د بې ساري جناياتو له خاطره د افغان ولس ذهنيت د دغه سياسي احزابو په مقابل کې څه شانتې حساسيت پيدا کړو مخصوصاً چې د جهاد د ماحول هغه تنظيمونه چې د احزابو شکل لري. وروسته له دې چې په کابل کې يې پر حکومت باندې سره جنګونه شروع کړل. عام ذهنيت د احزابو په باره کې منفي قضاوت ته شدت وموند. د جهاد په ماحول کې جوړ شوی محلي او يا سيمه ييزو. اداري. لوژستيکي او نظامي جوړښتونه هم د وخت په تېرېدو سره يا له منځه لاړل يا يې د تنظيمونو تر تاثير لاندې خپل هويت له لاسه ورکړ او يا د پرو او جنبو په اخ او ډب کې ګير او بدنام شول او يا هم د مايوسی په واسطه غير فعال حالت ته واوښتل.

د ملګرو ملتونو د بن د جرګې يوه مهمه پرېکړه دا وه چې د هېواد د نوي اساسي قانون تر جوړېدلو پورې د ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون له ځينو محدوديتونو سره نافذ وګرځي. لکه چې وليدل شو، د دې اساسي قانون لويه جرګه که څه هم کټ مټ نه شي تطبيقېدلی، خو د هغې د روحيې او د ارزښتونو د تفسير له لارې د راتلونکو جرګو د ترکيت خصوصيت او د کار په اړوند ترې استفاده کېدلای شي.

د دې اساسي قانون په اتم فصل (۱۱۲-۱۰۸ مادو) په اساس په هېواد کې مرکزي اداري سيستم نافذېږي. خو افغانانو ته دا زمينه هم مساعدېږي چې د محلي او ولايتي شوراګانو په واسطه د

مشورې له لاري خپلو محلي او ولايتي چارو کې برخه واخلي.
همداراز د لويې جرګې د ترکيبي عناصرو د تثبيت په اړه هم د دغه اصل رعايت کېږي. (د ولسي جرګې او مشرانو جرګې او د ولايتي جرګو د مشرانو په ګډون)

دلته هم دا په ډاګه کېږي چې اصلاً د مرکزي اصولو رعايت کېږي خود مشرانو جرګې او د ولايتي جرګو د مشرانو د ګډون په واسطه د محلي او ولايتي اړيکو رعايت هم کېدی شي.

همداراز دا موضوع به هم د بحث وړ وي چې د دغه اساسي قانون د نفاذ په دوره کې د لويې جرګې انتخابي غړي تر يوه حده پورې د راتلونکو جرګو لپاره ترکيبي عناصرو په جمله کې د رعايت وړ حيثيت پيدا کولای شي او که نه (۷۸ ماده دويمه فقره).

له ټولو موجودو مشکلاتو سره سره دا مجبوريت او تر يوه حده دا امکان هم شته چې د حوصلې او درايت د لرلو په وسيله د افغان ولس د آزادې ارادې او انعکاس لپاره داسې لارې ولټول شي چې د موجودو او نسبتاً فعالو عناصرو د تفاهم او متوازن ترکيب په واسطه ان شاالله په څو مرحلو کې د افغان ولس مطلوب هدف تر لاسه شي.

خود دې هدف د تحقق په اړوند دا پوښتنه مطرح کېږي چې راتلونکي جرګې واقعاً په دې نيت جوړېږي او تدوير کېږي چې زموږ ولس ته له اوسنيو ستونځو څخه د خلاصون لار پيدا شي: همدغه شان په افغانستان کې د خلکو د آزادې ارادې د تبارز او تحقق په وجه سوله او ثبات ميسر شي او که دا به د جرګې محض د يوه شکلي پلمې او برائت په توګه استعمالېږي چې د غير افغاني اهدافو د تحقق لپاره په موږ د غير افغاني پوځونو د حضور په زور يو معين نظام او زعامت وتپل شي. له بده مرغه اوسني واقعيتونه

ډېر د اطمينان وړ نه ښکاري. نو دا به راتلونکې انکشاف په ډاګه کړي چې اصلي هدف څه و.

دا چې د هېواد پالونکو افغانانو وظيفه به په دې اړه څه وي د يوه سړي له صلاحيته اوچته ده چې کوم خاص سلوك په ګوته کړي. ښايي چې افغان ولس د لويو پرګنو مشورو. خبرو او منظمو سوله ييزو او هماهنګو مناسبو اقداماتو په واسطه هېوادوالو او نړيوالو ته لازم عکس العمل وښودل شي او د هېواد د سولې. ثبات او سلامت يا په لاره کې خپله انساني. افغاني اسلامي او انساني وظيفه ترسره کړي.

داکتر سید عبد الله کاظم

# اقدامات دپلماتیک و مسئله صلح در افغانستان

مقدمه:

برای مجموعهٔ مقالاتیکه قرار است بزودی دریک کتاب در مورد اوضاع جای افغانستان به نشر برسد، از من خواسته شده تا پیرامون موثریت اقدامات دپلماتیک در تأمین صلح و ثبات در افغانستان مطالبی بنویسم.

در این ارتباط باید تصریح کرد که در مدت بیش از دو دهه ابعاد داخلی و خارجی معضلهٔ افغانستان چنان به هم درآمیخته و پیچ خورده که مشکل است از یکطرف این ابعاد را بطور مجزا از هم بررسی کرد و از طرف دیگر بدون نظراندازی مختصر به ریشه های موضوع در چند سال گذشته، به عمق مسایل جاری پی برد. لذا در آغاز نگاه بر چگونگی تحول بُعد خارجی مسئله طی دو دههٔ اخیر خواهیم انداخت، متعاقباً از عملیات نظامی امریکا بر افغانستان بعد از فاجعه تروریستی ۱۱ سپتمبر ۲۰۰۱ در نیویارک و واشنگتن دی سی و دست اورد های آن صحبت خواهیم کرد و در ادامه بملاحظهٔ وضع موجود افغانستان به این سوالها پاسخ خواهیم گفت که: چرا با وجود تلاشهای بین المللی وضع بار دیگر روبه بی ثباتی و عدم استقرار میرود؟ چرا در این موقع حساس رییس حکومت موقت فشار

مزید خود را در ساحه دپلماتیک موانع اصلی را از سر راه صلح و ثبات در کشور برطرف کرد؟ چه نقشی را قوای بین المللی حافظ امنیت در زمینه بازی کرده میتوانند؟ آیا بازسازی کشور در شرایط نا امن و بی ثبات نتیجه موثر بار می آورد؟

## نگاهی به چگونگی تحول بُعد خارجی معضله:

بی ثباتی و عدم استقرار اساساً با کودتای منحوس ثور (اپریل ۱۹۸۷) در افغانستان آغاز گردید و با تجاوز شوروی و پیاده شده قوای سرخ (دسمبر ۱۹۹۷) پای سه کشور - اضلاع متحده امریکا، عربستان سعودی و پاکستان مستقیماً در بعد خارجی معضله کشانیده شد. امریکا می خواست انتقام شکست ویتنام را از شوروي در افغانستان بگیرد و رقیب خود را در جنگ سرد زیر فشار قرار دهد، سعودی در رقابت با انقلاب اسلامی ایران تلاش میکرد جایگاه خود را در عالم اسلام حفظ و تقویه کند ولی پاکستان در نظر داشت افغانستان را در قدم اول به جبهه مقدم جنگ مبدل کند تا شوروی در آنجا مصروف گردد و فرصت پیشرفت بسوی پاکستان را نیابد و در قدم دوم میخواست با ادامه جنگ در افغانستان ازیکطرف با جلب امداد بنام جهاد افغانستان. بنیه نظامی و اقتصادی خود را تقویه کند و از طرف دیگر غیر مستقیم به گسترش نفوذ خود در افغانستان بپردازد. لذا آنها در برابر تهاجم شوروی توافق کردند تا:

-- جنگ در افغانستان را متکی به اصل "جهاد" پیش ببرند و به آن وجه کاملاً اسلامی دهند.
-- مجاهدین افغان را از نظر تسلیحاتی تقویه کنند.
-- جنگ را دوامدار سازند تا شوروی فرصت پیشرفت نیابد.
-- جهاد افغانستان را به شیوه عدم مرکزیت سازمانی پیش برند تا به سهولت آنرا برطبق نظر و میل خود رهنمایی کنند.

جنگ با شوروی تقریباً ده سال بطول انجامید و در نتیجه "انقلاب برگشت ناپذیر ثور!!" برگشت پذیرفت و قوای شوروی افغانستان را ترک کردند (۸ فبروری ۱۹۹۸). با اعلام رسمی سقوط نظام کمونیستی در

شوروی (۸ دسمبر ۱۹۹۱) جنگ سرد پایان یافت و امریکا به پیروزی در این جنگ نایل آمد. لذا امریکا دیگر ضرورتی به حمایت جهاد افغانستان نداشت. نقش فعال خود را در قضیه متوقف ساخت و سر نوشت افغانستان را بدست کشور های همسایه سپرد.

ختم جهاد که با فروپاشی شوروی و متعاقباً سقوط رژیم کمونیستی کابل توأم بود، دو نتیجه کلی را بار آورد که البته حوادث بعدی در افغانستان از همینجا نشأت میکند. این دو نتیجه عبارت بودند از:

اول: افغانستان در سالهای جهاد به کدام اسلحه تبدیل شد و افغانها با سلحشوری فطری خویش در مجموع به یک لشکر جنگ آزموده و کاردان مبدل گردیدند که با موجودیت یک حکومت قوی می توانستند به حیث یک قدرت چشمگیر در منطقه تبارز نمایند و این وضع موجبات نگرانی عمیق همسایگان مخصوصاً ایران و پاکستان را فراهم کرد.

دوم: جهاد شیوه های بنیاد گرایی اسلامی را در افغانستان و منطقه تقویه کرد، آنهم از طریق ایجاد و حمایت تنظیمهای جهادی بنیاد گرای افغانی، از طریق جلب عربهای افراطی و تقوینه احزاب بنیاد گرای پاکستانی.

وفرت اسلح و گسترش افکار بنیاد گرایی در افغانستان و منطقه بخصوص بعد از انقلاب اسلامی ایران و موقف خصمانه آنها در برابر امریکا، خطر بنیاد گرایي را به حیث یک قدرت سیاسی و نظامی در برابر غرب. روسیه. چین و حتی هند در منطقه باشدت تقویه کرد.

در عین زمان با سقوط شوروی و استقلال کشور های آسیای میانه موضوع تجارت و دسترسی به منابع اقتصادی و مارکیت های آن کشورها، از جمله تمدید پایپ لاین نفت و گاز طبیعی توجه جدی کشور های بزرگ مخصوصاً امریکا و انگلیس را بخود جلب کرد و به منطقه باردیگر یک موقعیت حساس و مهم جیو - استراتیژیک داد.

با سرنگونی رژیم کمونیستی کابل و بقدرت رسیدن حکومت تنظیمی نوع بنیاد گرا در افغانستان (اپریل ۱۹۹۲) این سوال مطرح شد که چگونه می توان در افغانستان و منطقه از قدرت روز افزون بنیادگرا ها که همه

سرتا پا مسلح بودند، جلوگیری کرد و چطور مانع نفوذ روبه تزاید جوانان افراطی عرب شد که بعد از ختم جهاد افغانستان، به اوطان شان برگشته و فعالیت های ضد غربی و ضد حکومتي را در کشور های خود در پیش گرفته بودند. بمب گذاری در عمارت بزرگ مرکز تجارت جهانی در نیویارک بار اول در سال ۱۹۹۳ مقامات امریکایی را از خواب سنگین بیدار کرد و متوجه خطر بنیاد گرایی در سطح و سیعتر ساخت. مقامات امریکایی متوجه شدند که هر گاه افغانستان مثل ایران بدست قوتهای بنیاد گرا افتد، آنوقت خطر نه تنها در منطقه افزایش خواهد یافت بلکه امنیت را در کشور خود شان نیز مورد تهدید قرار خواهد داد.

در اینجا سوال اساسی چگونگی خلع سلاح های نظامی افغانستان بود تا بدانوسیله بنیاد گراها توان نظامی خود را از دست دهند و قادر به گسترش قدرت در سایر کشور های نباشند. در این راستا هیچ کشور دیگر نمی توانست از عهده همچو کار بدر آید، مگر پاکستان.

دوکتورین پاکستان این بود که: افغان را باید توسط افغان خلع سلاح کرد. پاکستان با این دوکتورین میخواست دو هدف را بر اورده سازد: یکی هدف امریکا را مبنی بر خلع سلاح جناح های بنیاد گرای افغانی و دیگر هدف خودش یعنی ایجاد یک دولت دست نشانده در افغانستان که اختیارش بدست پاکستان باشد.

۲- قناعت دادن جامعهٔ جهانی مبنی بر تدارک قوای بین المللی بیشتر که ساحهٔ فعالیت آن فراتر از شهر کابل باشد، البته تازمانیکه اردوی ملی افغان به پای خود ایستاده شود.

۳- جلب کمکهای مزید در ساحهٔ بشری و اعمار مجدد کشور.

اقدامات دپلماتیک حکومت موقت با کشورهای همسایه تا حال از نظر زبانی امید بخش است و اما اینکه در عمل چگونه خواهد بود سوالیست که جواب آنرا نمیتوان با اطمینان کامل ارایه کرد. در مورد افزایش تعداد و وسعت ساحهٔ کار قوای بین المللی حافظ امنیت سفر های کرزی به کشور های بزرگ تا حال نتیجه مطلوب بار نیاورده و موجب نگرانی حکومت موقت گردیده است. یگانه

کشوری که اکیداً گفته افغانستان را در بی ثباتی رها نخواهد کرد ایالات متحده امریکا است ولی اینکه چگونه این گفته را تحقق خواهد بخشید، تاهنوز معلوم نیست. باید تصریح کرد ایالات متحده امریکا است ولی اینکه چگونه این گفته افغانستان را در بی ثباتی رها نخواهد کرد، ایالات متحده امریکا است ولی اینکه چگونه این گفته را تحقق خواهد بخشید، تا هنوز معلوم نیست. باید تصریح کرد که دوام کمکها برای اعمار مجدد در مدت طویل باز هم بسته به انکشاف اوضاع امنیتی و صلح و ثبات در کشور خواهد بود. هرگاه وضع سیاسی و نظامی در کشور بار دیگر متشنج شود، در آنصورت امید ادامه کمکها برای اعمار مجدد بسیار کم خواهد شد.

با ملاحظه این احوال گفته میتوانیم که افغانستان هنوز هم در چار راه بی سرنوشتی قرار دارد. تا حال افق بسیار روشن در این تاریکی ها دیده نمیشود. رییس حکومت موقت مجدانه در تلاش است با اقدامات دپلماتیک این فضا را روشن سازد و اما اینکه تا چه حد برایش این کار مقدور میباشد، یک سوال و یک معما است. دیده شود که خداوند بزرگ چه اراده می فرمایند و تمت بالخیر.

ډاکټر سبحان هاتفي احمدزی

# ملي ژبه، ملي بیرغ او ملي سرود

ګران ورور پیاوړي لیکوال او غښتلي هیوادپال ښاغلي ډاکټر جاوید وردګ دهغه مهرباني او مینه چې له ما سره یې لري. پر ما یې غږ وکړ چې د پورتني عنوان لاندې څه ولیکم. او که زما لیکنه یې خوښه شوه هله به دا لیکنه په یو کتاب کې خپره کړي. د دې خبرې سره په سوچ کې لاړم چې کتاب لیکل او بیا هغه چاپ د څه لپاره؟؟
ټولو ته جوته ده چې زموږ پټمن لیکوال، شاعران او نور عالمان د زړه په وینو څه لیکي. زیار ګالي تر څو د خپلو مرغلرو نه داسې امیل جوړ کړي چې د هر چا پر غاړې وځلیږي او بالاخره ټولنه خوځښت او پاځون ته رابولي.
خو کله چې کتابتونونو یا کتاب پلورنځي ته سر ورانندې کړې په ډیره خواشینۍ سره ګورې چې پر دې مرغلرو باندې یو من خاورې ناستې دي. او موږ دا احساس نه لرو چې لاس جیب ته کړو او د څو پیسو په بدل کې د دې کتابونو نه خاورې وڅنډو. د دې خپګان نه داسې حالت راته پیدا شي چې دا انګریزان د مرۍ نه ونیسم او ورته ووایم چې "فرنګیه! کور دې وران شه" تاسې له پښتنو سره ولې دومره دښمني وکړه هغه دوه ورورنه مو د ډیورنډ د

کرغېړنې کړښې په راښکلو سره بهل کړل. بیا مو دوی دې ته وهڅول چې ټوپك په اوږه واچوي شپه او ورځ په مرچلو کې تېره کړي. هغوی مو د ښوونځي، کتاب او قلم نه لرې وساتل.

له همدې کبله ده چې د پښتو اخبار، مجلې، ورځپانه، هغومره لوستونکي نه لري او د اقتصادي کمزروتیا له امله بې له جنازې څخه یو بل پسې تر خاورو لاندې کېږي.

ناڅا په مې سر خلاص شو چې دا ټولو یرغل ګرانو همدا دښمني د پښتو او پښتنو په حق کې کړې. خدای دې د روسانو د ژوند حالت له دې نه هم بدتر کړي، څکه هغوی د پښتون خپل د پښتني کلتور له منځه وړل خپل شعار ګرځولی و. او په دې لار کې یې ستمیان، پرچمیان او خلقیان وروزل، تر څو خپل ناولي پلانونه د هغوی په واسطه پلي کړي.

همدې سوچونو کې ډوب وم چې ناڅاپه یو غیبي غږ مې تر غوږ شو چې هلکه دا پښتانه ولې تل نور ملامتوي؟ ولې هر څه د نورو په غاړه اچوي؟؟ ولې خان نه پوښتنه نه کوي چې تا خپله څه وکړل. ولې ځانونه د علم په ګاڼه نه سمبالوي. خپلو سیمو کې ښوونځي نه پرانیزي تر کومه وخته نه خپل تدریجي مرګ ګوري او لاهم غلي ناست وي؟ په نارې سورې څه نه کیږي، باید د خبرو پر ځای عمل وکړو.

پښتون چې پښتو او پښتنونوالی پرېږدي نو د نورو ملامتول کوم سم کار نه دی ځینې ورونه په دې زور اچوي چې پښتو لرغونې ژبه ثابته کړي او پرې ویاړي خو خپله پښتو نه وایې او نه یې لیکي. زه خو په دې باور یم چې ټول زما ګران پښتانه وررونه او خویندې همدا نن پرېکړه وکړي چې نور به پښتو وایي او خپل راتلونکي نسل ته به د پښتو لیك او لوست زده کوي. هله به نور موږ کومه ستونزه ونه لرو. او که نه د همدې بې تفاوتي له وجې نه ده. چې د پښتو ویونکیو شمېر چې مخکې شمېر ۶۲ فیصده و نن هغه

۴۰ فیصده ته راکم شوی. که دا حالت همداسې نور هم دوام وکړي نو خدای مه کړه د پښتو جنازه به ژر ادا شي.

مایوسیت انسان ته په کار نه دی د هغه پر ځای د پښتو د ودې، روزنې او پالنې لپاره باید علمي او عملي پلانونه تر لاس لاندې ونیول شي او هغه پلي کړای شي. یو ټکی د یادونې وړ بولم چې زموږ ټینګار د پښتو ژبې په ودې پالنې او روزنې دا مانا نه لري چې ګوندې زموږ د ګران هېواد نورو ژبو ته پاملرنه ونه شي، نه داسې نه ده، د هېواد ټولې ژبې زموږ معنوي شتمني ده چې باید د هغو د علمي کولو په لار کې هلې ځلې هم وشي.

مخکې له دې چې په اصل عنوان وږغېږم لازمه بولم چې لومړی ګرانو لوستونکو ته د ژبې په هکله څه ولیکم. ښاغلی علامه رشتین په دې هکله داسې لیکي.

"انسان د ژوند په پیل کې سمې خبرې نه شوای کولای، د خپلو افکارو او مطالبو د کار اخیستو وروسته د وخت په تېرېدو سره یې حنجره د آوازونو او غږونو د وتلو استعداد پیدا کوي او هر غږ ځانته جلاجلا مخرجونه مومي، په دغه وخت کې نوموړي آوازونه د تورو او الفاظو په بڼه څرګندېږي او د افکارو او مطالبو، مقاصدو لپاره یوه وسیله را منځته کیږي چې هغه ژبه نومیږي.

نو ژبه یو وسیله او طریقه ده چې یو ملت د هغې په وسیله خپل افکار ویلی شي او یا یې په لیکلني توګه څرګندوي.

د ملي کلمه نن زیاته استعمالیږي خو ځینې هغه څه کوي، چې ملي نه وي، مګر بیا هم د ملي کلمه استعمالوي د ملي. کلمه جامع او عام شموله معنی لري. په دې معنی "هر هغه څه چې ټول ملت پورې د یوکل په شان مربوط او تعلق ولري ملي بلل کیږي.

ملي فرهنګ د ملي حکومت کلك بنسټ جوړوي او ملي حکومت په خپل وار ملي فرهنګ د ودې او پالنې زمینه برابر وي.

ملي یووالی او ملي اعتماد د خپل قوم لپاره سیاسي ضمانتونو ته اړتیا لري. او دا ضمانتونه یوازې د دیموکراسي د اصول تر سیوري او احترام متقابل له لارې تر لاسه کېدای شي.

ملي حکومت په خپله واقعي معنی هغه حکومت ته ویل کېږي چې د یو ملت په رایه او خوښه منځ ته راغلی وي او په بنستیز جوړښت کې یې هغه ولس د ټولو ډلو قومونو ټولنو ولایاتو او سیمو استازي او واقعي نماینده ګان چې خلکو په خپله خوښه ټاکلي وي دنده ولري. نو داسې ملي حکومت د ملي یووالي نښه ګرځي.

د ملت څخه مطلب هغه قومونه قبیلې او پرګنې دي چې د یوه هېواد په حدود کې دننه اوسیږي. او د حکومت څخه مراد هغه اداره او نظام دی چې په هماغه هېواد کې د مېشته وګړو د هوساینې او د هغوی د افکارو عقایدو او داخلي او بهرني دښمنانو په مقابل کې د هغوی څمکني بشپړتیا دنده ورسپارل شوې وي.

موږ کله چې ملي کلمه استعمالو هغه نه مو هدف د واخان نه تر اسلام قلعې او د شیرخان بندر نه تر سپین بولدك نه دی.

نو که چېرې د یو کلي وګړي په حکومت قبضه وکړي نو داسې حکومت یا ادارې ته ملي ویلای نه شو. څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه. ملي حکومت باید د ملت د خوښې او رایو په وسیله منځ ته راشي نه د بهر نه حکومتونه او ادارې پر ملت وتپول شي.

نو مراد د ملي ژبې. ملي بېرغ او یا ملي سرود همدا دی چې ټول ملت د پرګنو پورې تعلق ولري او د اکثریت ژبه د ټولو لخوا منل شوې وي.

د ملي هویت په ټاکلو کې د ژبې موضوع ډېر اهیمت لري تر دې وړاندې چې انګریزانو نیمایي پښتانه له افغانستان نه بېل کړل. پښتنو په افغانستان کې دومره غټ اکثریت درلود چې پښتو به د افغانستان یوازې رسمي او ملي ژبه وای.

اوس هم په افغانستان کې د پښتنو شمېر ۵۵ فیصده نه دېر دی او پر دې اساس پښتو باید رسمي او ملي ژبه وي خو پښتو تر ډېره وخته پورې رسمي اهمیت نه درلود او کله چې په قانون کې هغې ته د ملي هویت په تشخیص کې اهمیت ورکړل شو. په عمل کې نه یوازې دا چې پښتو نسبت دري ژبې ته اولیت نه درلود، بلکې په واقعیت کې پښتو دویمه درجه او محکوم ژبه وه د قانون او واقعیت تر منځ دومره غټ توپیر موجود دی چې د دولت لوی مامورین که څه هم پښتانه وي په پښتو نه شي غږېدلی. په دې ډول د ملي هویت په برخه کې د افغانستان سیاسي وده له تضادونو نه ډکه ده. قانون او د دولت پالیسي په تیوري کې د پښتو د تصمیم حکم کوي خو په عمل کې پښتو یوه محکومه ژبه ده د دغه تضادونو پایله داده چې د ملي هویت تعین او تعمیم په هکله هم پښتانه او هم ځینې اقلیتونه له حکومتونو نه ناراضه وي.

ژبه د ملي هویت په ټاکلو کې لوی نقش لري که د افغانستان تاریخ او د پښتو شمېر په نظر کې ونیسو له پښتو ژبې پرته بله ژبه نه شي کولای چې په افغانستان کې ملي حیثیت تر لاسه کړي.

که هدف یو غښتلی او متحد افغانستان او د ملي ټولنې جوړول وي باید پښتو د ملي ژبې په صفت ومنل شي او د تعمیم ملاتړ یې وشي.

هر کله چې د پښتو د روزنې پالنې او پراختیا (تعمیم) غوښتنه کېږي، ځینې خلك دغې غوښتنې ته فاشیستي غوښتنه وایي دغه سلوك نه یوازې دا چې د ناپوهۍ ښکارندوی دی. بلکې د هېواد د سیاسي تکامل په مخ کې د یوې لویې ستونزې حلول ښندیه وي.

په افغانستان کې د ملي ټولنې د جوړېدو په لاره کې په زړه پورې پرمختګ نه دی شوی. دا کار دري غټ لاملونه لري. قومي توپیرونه په عمومي ډول د حکومتونو بې پروایي او د ملت جوړولو لپاره د یوې واضحې ستراتیژۍ نشتوالی. په افغانستان کې بېل بېل قومونه ژوند کوي.

که څه هم د قومونو د تناسب په هکله یې د علما د اټکلونو تر منځ توپیر شته خو ډېر پوهان په دې نظر دي چې د افغانستان نفوس لا اقل په سلو کې پنځه پنځوس پښتانه. په سلو کې نوولس تاجك. په سلو کې اته فیصده هزاره. په سلو کې اته فیصده ازبك او په سلو کې شپږ فیصده ایماق دي. د نورو قومونو لکه ترکمنانو بلوڅانو نوریستانیانو پشه یانو برانویانو تناسب ډېر لږ دی.

څرنګه چې په قومي لحاظ دا یوه نامتجانسه ټولنه ده او له بېلو بېلو قومونو نه ملي ټولنه جوړول اسان کار نه دی. د پرله پسې هلې ځلې کار. روڼ فکر معقوله ستراتیژي. قوي عزم او دوامداره هڅې غواړي.

په افغانستان کې د ژبو او ژبنیو کړکېچونو پټ ساتل نا ممکن دي او نه ګټور. بلکې لازمه ده چې ورباندې څېړنه وشي.

کله چې د حکومت ژبه فارسي شي خلك مجبور دي چې خپل غوښتنلیك په فارسي ولیکي او په حکومت کې د خپل کار او ستونزې د حل لپاره فارسي زده کړي.

کله چې د بازار ژبه فارسي وي. خلك مجبور دي چې فارسي ژبه زده کړي بیا بازار ته لاړشي. او کله چې ښوونځي او پوهنتون د پښتنو لپاره په فارسي ژبه وي نو ټول نوی پښتون نسل به په خپله فارسیوان شي. دا کار په تېرو کلونو کې په ټول قدرت سره وشو. چې د پښتنو لپاره یې فرهنګي فاجعه را منځته کړه. همدې په ښوونځي کې د پښتو ژبې نشتوالی په کابل کې دا سبب شو چې نن یو پښتون پښتو مقاله نه شي لوستلای خو فارسي مقاله ښه لوستی شي.

بله ژبه زده کول که لوی کمال دی
خپله ژبه هېرول بې کمالي ده

(محمد ګل مومند)

زموږ په هېواد کې کله چې د ملي ژبې پښتو د ودې او پراختیا خبرې کېدلې نو ځینو هېواد والو به پرته د ځنډه منفي دریځ ښکاره کاوه او ویل به یې چې ژبه د افهام او تفهیم وسیله ده او نه باید دیوې ژبې په وده او عام کېدو باندې زیات ټینګار وشي.

همدغه شان دغو هېواد والو به ویل چې که د پښتو ژبې په وده ټینګار وشي، دغه کار به د هېواد د بېلو بېلو قومونو تر منځ بدنیتي او خپګان را پیدا کړي خو که په نړۍ کې د ملت جوړېدو پروسو ته حتی یوه سرسري کتنه هم وشي په ډاګه کیږي چې دغه شان څرګندونې نه یوازې د واقعیت په خلاف دي، بلکې د ملت جوړونې او هېواد د بېلو بېلو قومونو تر منځ د نژدېوالي او ښواریکو د ژورتیا مخه هم نیسي.

خو که په یو هېواد کې ټول وګړي په ملي ژبه پوه شي نو د شخړو او غلط فهمیو مخه نیول کیږي. د خلکو انرژي د شخړو په ځای په اقتصادي او کلتوري ودې ته مصرفیږي. د ټولنیز مفاهمې لپاره ملي ژبه ضرور ده.

له بده مرغه افغانستان په ټوله نړۍ کې یو استثنا ده چې د اکثریت ژبه په کې محکومه ده.

د یوه الماني متفکر Hada په نظر د ملي ژبې نه پرته د یوه ملت وجود ممکن نه دی. دی وایي د یو ملت ملي ژبې نه پرته د یوه ملت وجود ممکن نه دی. دی وایي که یو ملت ملي پیاوړې ژبه ونه لري هغه سم نظر هم نه شي لرلی.

د عربو د ملي یوالي د داعي یو متفکر ستي حو سري په نظر یو ولس هغه وخت مري او خپل هویت له لاسه ورکوي چې خپله ژبه له لاسه وکړي. دا ځکه چې ملي ژبه د ملت روح ده.

که یو ملت ژوندی ملي ژبه ونه لري نو د هغه ملت تاریخ یا نه وي او یا ګډوډ وي، ځکه د داسې ملت تاریخ نور څوک لیکي او سر نوشت یې د نورو په لاس کې لوېږي.

ملي ژبه د ملي کلتور اډانه (اسکلېټ) جوړوي او غښتلی ملي کلتور د ملت بنسټيزې ستنې دي. په افغانستان کې ملي ژبه "پښتو" د بېلو بېلو لاملونو په وجه د خپلو مشروع حقوقو نه محرومه ده. د پښتو د نه ودې لاملونه کورني او بانديني ريښې لري. چې په يو بل باندې متقابله اغېزه کوي. دلته په لنډ ډول د دې لاملونو يادونه کېږي.

## ۱- جغرافيايي موقعيت:

افغانستان د آسيا په زړه کې پروت دی داسې يو هېواد چې تل يې د سهېلي او جنوب ختيځ د پله ارزښت درلود نو ځکه يې د تاريخ په اوږدو کې په پرله پسې توګه د ستر ښکېلاک ګرو او ورانوونکو ظالمو تېري کوونکو پاملرنه ځان ته راجلب کړې کله چې دغو قومونو د افغانستان د نيولو هڅه کړې ده او يايې غوښتل د افغانستان له لارې د هند پراخې وچې او يا منځني ختيځ خواته ولاړ شي نو د افغانانو غوڅ مقاومت سره مخامخ شوي. نو د پرديو تېري او يرغلګرو نه د بې ساري وراني مادي او معنوي تاوانو باعث شوه. د افغانانو د غوڅ مقاومت سره مخامخ شوي. نو افغانانو تل خپله انرژي د خپلې د خاورې نه دفاع ته وقف کړې ده. د يونانيانو. چنګېزانو. تيموريانو. هلاکو مغلو. ايرانيانو. سکانو. هندوانو. انګريزانو. روسانو او دا دي د امريکايانو او نورو له امله تمدنونه خاورې سره برابر شول. مادي او معنوي شتمنی لوټ شوی. دغه شان ورانوونکو پېښو د افغانستان په کلتوري او اقتصادي وده ناوړه اغېزه وکړ او پښتو ژبه هم ترې زياته زيانمنه شوې ده.

## ۲- د استعمار او د مهاجرت اغېزې:

استعمار او مهاجرتونــه زموږ پـه هېواد بـانـدې ناوړه كلتوري علمي او اقتصادي اغېزې كړې. انګرېزانـو او روسـانـو د پښتنو د وركولـو پـه وسيله هغـه شخصيتونه بد نـامول چې پـه پښتـو كـې يـې د علمـي او اقتصـادي پرمختيا لپاره كار كـاوه. د پښتونخوا پـه سيمه كې پښتانـه دې تـه مجبور شول چې يوازې ژبې زده كړي او خپلې ژبې او هويت نـه محروم شـول او اكثره پـه پښتو ليك او لوست نه شي كولای. د پښتو خپرونې پـه تلويزيون كې بالكل محدودې يا لـه منځه يوړل شوې او پښتو اخبار پـه ندرت سره ليدل كېږي.

انګرېزي ښكېلاك لـه يوې خوا پښتانـه پـه دو و برخـو ووېشـل د بلـې خوا يې د هنـد د نيمي وچې نـه هندوان افغانستـان تـه پـه مهاجرت او زموږ پـه خاوره كې ځای پـه ځای كېدوتـه مجبور او يا وهڅول. پـه دغو كډوالو كې يې خپـل جاسوسـان هم راوستل. دغـو مهاجرو ځينو كورنيـو د افغانستـان پـه سياسي او اداري سيستم كې ستر قدرت تر لاسه كړ. او بيايې خيانت تـه ملا وتړلـه. چې د هغـه جملې څخـه د افغانستان پـه بشري جوړښت او سياسي قدرت كې د پښتو پـه زيان بدلون تـه ملا وتړلـه چې دغـه بدلون پـه خپـل وار سره پـه پښتو ناوړه اغېزه وكړه.

همدارنګه پـه دوه تېرو پېړيو كې پـه مركزی آسيا بـانـدې د روسي او بيا شوروي ښكېلاكو د حاكمېدو پـه وجه پـه سلګونو زره تـاجك. ازبـك. تركمن او قزاق افغانستان تـه مهاجرت تـه مجبور كړل شول. چې د امير عبدالرحمان خان پـه امر پـه ۱۸۸۴-۱۸۹۲-۱۸۹۳ كلونو كې ډېر شمېر بخارايي كډوال افغانستان تـه پناه راوړلـه او د امير پـه امر د افغانستـان پـه بېلو بېلو ولاياتونو كې مېشتـه شول. پـه كال ۱۹۱۷ كې بيا هم زيات شمېر بخارايان. تاجكان. ازبكـان. تركمنـان. قرغزيـان د بلشـويك د كمونستي انقلاب د بـري نــه

وروسته افغانستان ته راغلي حتی چې په کال ۱۹۲۱ کې د بخارا پاچا هم افغانستان ته راورسېده.

نو د همدې مهاجرو موجودیت د کوربه هېواد ملي هویت جغرافیوي جوړښت او اقتصاد ته ستر خطر متوجه کړ.

د افغانستان په شمالي ولایاتونو کې د سلګونو زرو مهاجرو ځای په ځای کول پرته له کوم پلان نه د افغانستان د حکومتونو تاریخي غلطي وه. دغه بې مسوولیته حرکت د افغانستان په بشري جوړښت کې بدلون راوست. په پښتو ژبه او همدغه شان د هېواد په افغاني هویت یې ناوړه اغېزه وکړه د ایران او روسیې په مرسته وروسته بیا د افغانستان د خاورې بشپړتیا د ګواښ سره مخامخ شوه.

## ۳- په پښتو باندې د ایران منفي اغیزې:

ایران زموږ ګاونډی هېواد د ساسانیانو د دورې را په دې خوا نه یوازې د برلاسه کولو په خاطر هڅې کړې. بلکې د سیمو په نورو ژبو باندې د فارسي د برلاسي او زیات غښتلي کېدو لپاره هم زیار ایستلی ایرانیانو دې هدف لپاره په ملیونونو ډالر او ریال مصرف کړي او مصرفوي یې.

ایران تل هڅه کړې چې د خپل لاس وهنو سره سیاسي او کلتوري نفوذ سره د پښتو ژبې په وده او پراختیا باندې منفي اغیزې وکړي.

ایراني دولت ځینو لوړ رتبه مامورینو ته یې د پیسو ورکولو سره د پښتو د ودې مخنیوی کاوه. ایران په خپل هېواد کې د هغو افغاني لیکوالو سره مرسته کوله چې زموږ هېواد د افغاني هویت سره یې مخالفت درلوده. په تېرو لسیزو کې دا فعالیت یې د افغانستان په دننه او افغاني مهاجرو په لوېدیز هېوادونو کې عملي کړ. ډېر ضد ملي او پښتني ضد اخبارونه یې خپاره کړ او ټول مصارف یې د هغوی لخوا ورکړل کېده چې دا کار تر نن پورې دوام لري.

دغه کمارل شوي ليکوالان په خپلو افغاني ضد نظرياتو او د افکارو سره دومره تعصب نه کار اخلي چې سړی د دوی په روحي روغتيا شك پيدا کوي.

## ۴- د سياسي ډلو او احزابو چلند:

د اعليحضرت محمد ظاهر شاه د سلطنت په وروستيو کلونو کې چې د اساسي قانون د ريفورم په رامنځ ته کېدو سره کومې سياسي ډلې او ... نه را منځ ته شول. د واکمنو د غلط سياست په وجه او په سيمه او نړۍ کې د ساړه جنګ د شرايطو نه د احزابو د قانون نشتوالي او سياسي ډلو او ولس تر منځ د اړيکو خنډ و. د دغه سياسي حالت نه شوروي اتحاد او ځينو نورو بهرنيو ځواکونو استفاده وکړه ځينې افراطي او ضد ملي ډلو قدرت ته د رسېدو لپاره د بهرنيو هېوادونو او قدرتونو د حمايت تر لاسه کولو او کودتاګانو لاره ونبوده. چې په نتيجه کې افغانستان د بهرني دښمنانو لخوا د ځينو سياسي ډلو او ګوندونو تر انحصار لاندې راغی دغو مزدورو ډلو د نورو ضد ملي کارونو تر سره کولو سره د پښتو ژبې په هکله هم ډېر ضد او نقيض کمونيستانو او اخوانيانو اکثره د پښتو ژبې د ودې او پراختيا سره مخالفت کاوه او دغه کار يې د خپلو انتر ناسيو ناليستي اهدافو په مخکې خنډ ګڼه. دوی حتی دهېواد ملي سرحدونو ته په سپکه ستر ګه کتل او هر يو د خپلو سرو او شنو عينکو په وسيله د جهان حکومت د جوړولو رنګين خوبونه ليدل. اخوانيانو د وطن سره مينه شرك بلله او کمونستانو د وطن مينه ارتجاعي او ضد شرقي غريزه بلله. کله چې په ۱۳۵۱ کال کې د حکومت لخوا پارلمان ته د مامورينو د قانون مسوده وړاندې شوه او په هغې کې د دولت هر مامور مکلف و چې د هېواد په دواړو رسمي ژبو يعنې پښتو او دري باندې پوه شي دخلق په ګوند پورې مربوطو وکيلانو لکه ببرك کارمل. حفيظ الله امين په بحث کې برخه وانه خيسته.

د ثور د ناورین سره سم خلقیانو د ملي ترمینولوژي په ورکولو چې پښتو ژبه وه لاس پورې کړ. کله چې د روسانو د تیري په نتیجه کې قدرت د پرچم ډلې ته ورسېد. د پښتنو د کلتوري او فزیکي نابودی له پاره یې اساسي پلانونه طرح کړ. د پښتنو په سیمو کې د پر له پسې بمباریو په وسیله یې پښتانه د خپلو سیمو پرېښودو ته مجبور کړل او د پښتنو په سیمه کې د تمدن نښې نښانې له منځه یوړل. په دولتي او اداري سیستم کې یې داسې چلند پیل کړ چې پستانه په هر موقف کې د اقلیت بدل شي. او د پرچم په وخت کې د مثبت توپیر یا تعصب په نامه یو ډول حرکت پیل شو او ستمیان یې ورته وګمارل چې د پښتون او پښتو د نابودی لپاره کار وکړي.

همدي وخت کې پښتو ټولنه منحل شوه په ۱۹۸۵ کال کې ببرك کارمل او ملګرو یې پښتو د تعلیمي نصاب نه وویسته. او په تعلیمي موسساتو کې د پښتو د تدریس مخه ونیول شوه او په ښوونځیو کې د پښتو په ځای روسي ژبې او ایډیالوژي ځای په ځای شوه. له رادیو او تلویزیون نه یې د پښتو مستقلې خپرونې وویستلې او هغه یې په فارسي بدلې کړې. د کال ۱۹۹۲ نه وروسته چې افغانستان کې مطلق اخلاقي کلتوري اقتصادي سیاسي او کلتوري برخو کې عملاً د روسي. ایران. تاجکستان او نورو په مستعمره بدل شو د اخوانیانو او کمونیستانو دغه ایتلاف چې د روسي او ایران ملاتړ ورسره و. د پښتو او پښتنو د سیاسي او فزیکي ورکولو لپاره ملاوتړله بېشمېره پښتو کتابونه یې د اور لمبوته ور وغورځول. پښتو ژبه د عمل په ساحه کې نه یوازې د رادیو او تلویزیون او مطبوعاتو نه وویستل شوه. بلکې د شورای نظار وسله والو افرادو د کابل په ښار او کوڅو کې خلك د پښتو د ویلو نه منع کول د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته د وزارت فرهنګ نوم ورکړی شو. او همدا نن هغه مطلقه ضد ملي. د ایران حکومت په لاس روزل شوی عنصر چې تل یې پښتنو ته سپکې سپورې ویلي د دې وزارت د وزیر په توګه ټاکل شوی. د داسې وزیر نه ملت څه تمه لرلی شي؟

له دين نه هم د هېواد دښمنانو د ناوړه اهدافو لپاره کار اخيستی. زموږ خوشباوره ملايان يې د مدرسو په تعليمي نصاب کې د بدلون په راوستلو په ضد مقاومت ته هڅولي دي او ملايان هم د سياسي پوهې د نه لرلو له امله په پټو سترګو د ملي ضد عناصر د پلانونو د پلي په لار کې لاشعوري هلې ځلې کړې. له همدې کبله په افغانستان کې حتی د اسلام له مبارك دين نه هم د پښتو ژبې په ضد ناوړه کار اخيستل کېده په جوماتونو او مدرسو کې به د ايراني شاعرانو لکه حافظ او سعدي شعرونه لوستل کېده. دا ضرور نه ده چې ګلستان. بوستان دې حتمي په ديني نصاب کې شامل شي په داسې حال کې چې د همدغه آثارو معادل په پښتو کې موجود دي. لکه خيرالبيان او رشيدالبيان يا د اخلاقياتو او تصوف په برخه کې د رحمان بابا عليه رحمه اشعار ډېر لوړ ادبي ارزښت لري.

## د هنر په ساحه کې:

د کلتور او هنر په برخه کې د پښتو سره د تعصب نه ډکه رويه کېدله. د هېواد په سينماګانو کې به هندي او ايراني فلمونه په دري ډوبله کېده. د افغان فلم دولتي موسسي اکثره مستند فلمونه ټول په دري يا فارسي ژبه وو. او په ټوله هنري ساحه کې فارسي ژبې ته تقدم ورکول کېده. د پښتو په ژبې جوړ شويو فلمونو ته د نمايش اجازه نه ورکول کېدله او د هغو دليل دا و چې پاکستاني دي په داسې حال کې چې د افغانستان ټول تجارتي بازارونه د پاکستان د مالونو نه ډك وو.

همدغه راز په کابل کې د پښتو د هنرمندانو سره د تعصب نه ډك چال چلند کېده. په دولتي موسسو کې دوی چانه پرېښودل. په وزارت خانو کې د داخلېدو لومړی شرط د ملي جامو لرې کول وو. په دې معنی چې دا هنرمندان چا په ملي جامو په وزارت اطلاعات کلتور کابل راديو کې نه پرېښودل. او پر دوی ريشخند او ملندې وهل کېدې. روحي او فزيکي او



پښتنو قبيلويت پرېږدئ...!

روحي زجرونه او تهديدونه ورسره کېده چې د بېلکې په توګه د خداى بښلي استاد اولمير يادونه دلته ضروري ده چې څو ځلې په کابل کې تهديد او وهل شوی. برخلاف استاد سرآهنګ چې د کابل د دربار مقرب سندر غاړى و خو په اصل کې د ده هنر د عام ولس لپاره نه. بلکې څو تنو درباريانو هغه نه خوند اخيسته. دغه هنرمند هم د پښتو سره خپل تعصب او بدنيتي څرګندوله مګر نه شاهي کورنى چې په نصب پښتانه و او نه لوړ رتبه پښتانه دولتي شخصيتونو ده ته څه وويل.

يوه شپه د ساز په يو محفل کې چې استاد تولة شپه دري بدلې واورولې يوه اورېدونکي استاد نه هيله وکړه چې "تاجوړه مه شې" پښتو سندره هم ووايي. محترم استاد په ډېره بې حرمتى سره وويل:

"چهل سـال از عمـر عـزيـزم گذشت"

اما زبانم به يک حرف پشتو نـه گشت

(د پورتني محفل کستونه په غرب کې شته)

که د پښتو سره د ضديت يو پروګرام شوی بڼه نه واى غوره کړې هېڅکله به هم د استاد سرآهنګ په شان يو هنرمند دا جرات نه واى کړى چې د ملت د اکثريت د ژبې سره دغه شان توهين آميزه چلند وکړي.

له بده مرغه د دې توهين لړۍ د استاد له مړينې نه وروسته نورو ضد پښتنې سندر غاړو ته وغزول شوه. او سرآهنګ داسې شعرونه په جرات په خپل محفلونو کې ويل.

نو زموږ سپارښتنه هغو ښاغلو پښتنو سندرغاړو ته دا ده چې زيار وباسئ خپله ژبه غني کړئ خپل وخت او انرژي د نورو ژبو په ويلو مه مصرفوئ. تاسې د خرابات د سندر غاړو نه دا تمه مه لرئ چې ستاسې د ژبې د ژوندي کولو لپاره هلې ځلې وکړي.

## د پښتنو ودونه د نورو غیر پښتنو کورنیو سره:

تجربو دا هم په اثبات رسولې چې د دوی ودونه هم د پښتو د ورکولو لپاره یو لوی عامل کېدل شوی.

پښتانه ځوانان او پښتنې پېغلې کله چې نورو غیر پښتنو ځوانانو او پېغلو سره ګډ ژوند پیل کوي. دوی باید د خپل خاوند یا ښځې په امر خپل په اصطلاح وروسته پاتې کلتور (پښتني کلتور) هېر کړي زیار وباسي چې متمدنه کلتور سره ځان بلد کړي. د متمدن کلتور نه مقصد غربي کلتور دی د دې ګډ ژوند پیل باید د خپلې ژبې. قوم او کلتور سره خدای پاماني وکړي او هغه ته په کمه سترګه وګوري.

د دې ګډ ژوند محصول چې راتلونکی نسل دی هغه خو ضرور باید د خپل اصلي رېښې نه خبر نه شي صرف فارسي یا انګرېزي زده کړي. نن په امریکه کې ډېرې کورنۍ حتی په دې شرمېږي چې ځانونو ته افغانان وایي.

دا هم د پښتو ویونکو نفوس په کموالي کې ستر رول لري. چې باید ترې مخنیوی وشي.

نن چې موږ ته ډېر دروند ستر مسوولیت پر غاړه دی دا زموږ افغاني. ملي. ایماني وطني رسالت دی چې ځانونه لومړی په علم سمبال کړو. بیا د ملي ژبې د روزنې او ملي کلتور د ژوندي کولو په لار کې هلې ځلې وکړو.

دا کار باید لومړی د خپل ځانه او خپل کور نه پیل کړو. دا ستر جهاد دی د دې سره باید پس له دې افغاني ملي پښتني خپرونې په پښتو ودروو. په محافلو کې په جرات په خپله مورنۍ ژبه وغږېږو.

پښتو وواېو په پښتو لیک او لوست وکړو. تر ټولو مهم یو بل سره د اتفاق او ورورولۍ لاس ورکړو.

خوشال ختک بابا دا څه ښه ویلي دي:

اتفاق په پښتانه کې پیدا نه شه
ګنه ما به د مغل ګرېوان پاره کړ

يو ګران ورور په خپله پښتو خپرونه کې پښتو کلمه داسې څېړي چې پ (پت) ښ (ښېګڼه) ت (توره) او و (وداني او وفا)

دا څومره په زړه پورې خبره ده. که دا هر یو توري موږ په پام کې ونیسو بس خدای به ټول کارونه سره سم کړي.

ما چې د پښتو د ملي ژبې بحث دومره اوږد کړ لاهم یو کتاب نور مطالب شته چې تاسو ته یې رانکل کړم. خو غواړم چې دا برخه د پښتو د بابا محمد ګل مومند علیه رحمه دا شعر ستاسو حضور ته وړاندې کړم.

پښتو که رانه لاړه هر څه به رانه تللي وي
نو بیا تالا والایم که وم وم که نه وم نه وم

د خدای پار مې دروړی پښتونه پښتو ټینګه کړه
زه تا ته په ژړایم که وم وم که نه وم نه وم

دروغ ویل مې هېڅ زده نه دي نه ټګي کولای شمه
پښتون یم په رښیتایم که وم وم که نه وم نه وم

خبره د ځلمو ده چې پښتو ته ځان تکړه کړي
زه زوړ یم او بوډایم که وم وم که نه وم نه وم

* * * * * *

په رښتیا چې د پښتو د بابا په دغه شعر کې یو عالم معنی او محتوا پرته ده چې باید نوی نسل. ځوانان او ټول ورته د زړه په مینه کار وکړي.

یا به یو کېږو ګني ورکېږو

نن چې پښتانه د هر راز ستونز او بد مرغیو سره مخامخ دي دوی ته په خپل هېواد کې د ځینو مغرضو او جفاکارو له خوا د "بې فرهنګ اکثریت" او بې کلتوره قام خطاب کیږي.

په تاریخ کې د دوی په نقش سترګې پټېږي په ملي خپلواکي بښوونکو نهضتونو علمي او کلتوري او هنري پروسو کې د دوی ونډه تحریفېږي او

حتی زیار ایستل کیږي چې دوی په خپل هېواد کې د نورو د خاور غاصبین او پردي معرفي کړي. دا خو لاڅه کوئ چې نن د هېواد په شمالي ولایاتو کې د پښتنو کورونه لوټ او په پښتنې نجونو باندې تېري کېږي د دې سره تول پښتانه د افغانستان د شمال نه وایستل شول او په زرکونو پښتانه د یو نوم او بل نوم په بهانه قتل عام شول. چې دا ټول هماغه د شوروي کمونیستي رژیم د پلانونو دوام دی. د دغه شان چال چلند لاملونه دا دي چې نور د دوی کلتور او مادي شتمنۍ، خاورې او د حقوقو د غصبولو په تمه دي. او دوی په خپل هېواد کې متفق او یو لاس کېدو ته نه پرېږدي دغه ویښنه او نفاق او کډوالي په دوی کې د کمزورۍ سبب ګرځي. او دا کمزوري بیا په سیاسي، علمي، کلتوري او اقتصادي وده ناوړه اغېزه کوي. د دغه ستونزو او بدمرغیو دوام د شیطاني کړۍ بڼه غوره کوي ترې. خلاصون څه آسانه کار نه دی.

## ملي بیرغ:

کله چې انسانانو لږ شانته د خپل چاپېریال سره پېژند ګلوي پېدا کړه او په دې وپوهېدل چې د خپل پاېښت لپاره ژوند غوره کړي. دا د ګډ ژوند یا یو کوچنۍ ټولنې جوړول دا احساس په دوی کې راپاروي چې باید د خپلې د ټولنې د ودې لپاره یوه سیمه تر قبضې لاندې کړي او د هغې سیمې نه دفاع وکړي. نو د هرې ډلې د پېژندګلو لپاره هغه وخت یې خپل ځانونه په ځانګړي توګه رنګ کړي. او یا یوه نیزه یا لرګی یې د یوې نښې په توګه خپلو سیمو پولو کې اینښودل وروسته بیا د مدنیت د پراختیا او ودې سره انسانانو د ونو او بیا د حیواناتو د پوستکو نه د پېژندنې نښې جوړې کړې. کله چې ټوکر جوړېدل پیل شول دانښې نښانې د نننې بیرغونو بڼه ځانته ونیوه. نو داسې اټکل کېدای شي چې د بیرغ د ودرېدو تاریخ ډېر اوږد وي نو د ټولنیز ژوند او هدف لپاره وکړي د خپل بیرغ لاندې راټولېدل.

وروسته بيا بيرغ ډېر ارزښت پيدا کړ او د هغه ساتنه ملي دنده وبلله شوه او د هېوادونو نښې او پت وګڼل شو. د جګړو په ډګر کې يوه خاصه ډله د بيرغ د ساتنې دنده په غاړه درلودله. مقابل لوري ډېره هڅه کوله چې بيرغ دار او بيرغ د پښو وغورځوي او بيرغ را ښکته کړي. چې دا د ماتې نښه بلل کېده.

ښاغلی حبيبي د بيرغ په هکله داسې ليکلي (د افغانستان تاريخ وروروسته د اسلام نه مسلمانانو د خپلو لومړنی فتحه کې د عقاب تر نامه رايتونه درلوده چې دا يې له روميانو څخه اخيستي وو. او رنګونه يې سپين يا تور و کله چې اسلام خپور شو د دې نښو شمېر د رنګ د بني أميه بيرغونه "سره" د عباسيانو "تور" د اعيان علوي سپين او د بني هاشم داعيانو "شين" و. کله چې دا بيرغونه پورته کېدل او چاته ورکول کېدل خپله خليفه ګانو د دهل او ساز سره د خپل استوګنځيو نه د لوا د جګېدو لپاره راوتل.

د اسلام نه د مخه په خراسان کې هم بيرغونه و او ډېر رواج يې درلوده فردوسي په بېلو بېلو جګړو او د جګړو په ډګر کې او د دوی په لښکر کشيو کې په سيستان، زابل، کابل او بلخ د بېلو بېلو شکلونو او رنګنو "رخت" يا رايت کارول.

ښاغلی کهزاد افغان تاريخ پوه په خپل کتاب کې د بيرغ په هکله داسې ليکي.

د افغانستان خلك د ډېر پخوا نه يعنې مخکې د اويستايي دورې نه بيرغ پېژنده او استعمال يې کاوه. د باختر لومړني پادشاه ما د لور (آريا) پنامه د "ريشها" په سرود کې او د مهابارت په يوه برخه کې (هرې وانګشه) يې ځای ورکړل شوی. چې په هغه کې د طاوس ښکه درې سره نيزه د لمر او سپوږمۍ علامې سره ذکر شوي او دا بيرغونه د نېزو په سرو کې پورته ګول.

همدارنګه د بخدي يا لرغوني بلخ د اويستايي په دوره کې د لوړو بيرغونو (درفشا . درفش) شهر بلل کېده.

در اسطوره و شهنامها نيز از بيرقهاى پهلوانان قديم کشور با علامات سيمرغ اژدها پلنگ گرگ وغيره ياد شده است طبق اشارات بعضى مورخين رنگ بيرق هاى افغانستان زردشتى (سبز) بوده است او قرن هشتم به بعد (از زمان ابومسلم) بيرق افغانستان رنگ سياه داشت که بالاى نيزه دوسر افراشته ميشد در قرن ده و يازده (دوره غزنوى) بيرق افغانستان علامت شير داشت و رنگ بيرق شاهى سرخ بود در قرن پانزده بيرق رسمى زرنگار افراشته ميشد. از آن بعد تا قرن نزده بيرق هاى رنگارنگ معمول بود. در قرن نزده باز رنگ بيرق افغانستان سياه و علامت آن (محراب و منبر) با تيغ و تفنگ گرديد در قرن بيست (۱۹۲۸) از طرف لويه جرگه کشور رنگ بيرق (سياه سرخ و سبز) و علامت آن (کوه و آفتاب) معين شد در سال ۱۹۲۹ مجدداً علامت بيرق (محراب و منبر و خوشه گندم) اختيار شد.

ښاغلى رفيع د هېواد پياوړى ليکلوال په خپله يوه ليکنه کې د بيرغ په هکله داسې ليکي.

په لومړنيو تولنو کې هم انسانانو بيرغونه درلودل او يا يې بېلابېلې نښې، بېلبېلې تر يوه بيرغ يا نښې لاندې راټول خلك به د يوه هدف لپاره سره ملمه شوي وو او کوم لور ته به چې بيرغچي بيرغ ليږداوه دوى به پسې روان وو.

زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د بيرغ تاريخچه ډېره اوږده ده. او يادونه يې له هغو پخوانيو آريا يي ډلو سره تړلې وه کله چې په بلخ کې د دولت موسسه جوړه شوه او د بلخ هوښيار او د ولس خدمتګار پاچا "يما" پرتخت کښېناست نو لوړ لوړ بيرغونه يې پر ښار راوځړول او په تاريخ کې بلخ د لوړو بيرغونو ښار وبلل شو. او بيا تل زموږ هېواد سر لوړي بيرغونه درلودل.

د بیرغ لوی هدف دا وي چې یو هېواد. یو ملت یا یوه ډله د خپل بیرغ په رپولو سره وپېژندله شي نو د دې لپاره د یوه بیرغ رنګونه. سمبولونه او نښانونه ټول ماناوې لري.

په معاصره زمانه کې چې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې پارلمانونه او ولسی نماینده ګانو غونډې رامنځ ته شوې نو د یوه ملت او هېواد بیرغ د دې ولسي نمایندګانو له خوا منل کیږي او بیا رسمیت مومي.

په افغانستان کې درې رنګه بیرغ د ۱۳۰۷ کال په لویه جرګه کې وټاکل شو او هر یوه رنګ یې بېله مانا درلوده.

تور رنګ دغلامۍ دوره سور رنګ د جهاد او د ملت د قربانۍ ښکارندوی او شین یا زرغون رنګ تر خپلواکۍ وروسته د هېواد د آبادۍ او ودانۍ څرګندوی و. دا بیرغ پوره پنځوس کاله په خپل حال پاتې شو."

د ډېرې خواشینۍ ځای دی چې په تېرو دوه لسیزو کې د افغانستان بیرغ په نړیوالې ټولنې او هم په تجارت کې خپل رسمیت. ارزښت او اهمیت له لاسه ورکړی. په دې هکله پرما تېر شو حال به درته رانکل کړم.

یوه ورځ دلته د امریکې شمالي کلفورنیا کې د افغانستان د بیرغ تر لاسه کولو لپاره د بیرغ خرڅولو هټۍ ته لاړم. د هټۍ د خاوند چې د نړۍ د زیاترو هېوادونو بیرغونه یې په خپل دوکان کې ځوړند کړي وو. ترې مې وغوښتل چې د افغانستان بیرغ راکړي. هغه قطعي ښکته کړه چې له پاسه یې پرې افغانستان لیکلی و. خو د هغه له منځه یې د رباني تنظیمي بیرغ راویسته او زما مخ ته یې کېښود. ما وویل چې زما د افغانستان ملي بیرغ په کار دی. نه د جمعیت د تنظیم بیرغ. ورته مې په ارامه لهجه وویل چې دا د یو پارټۍ بیرغ دی دا بیرغ د کومې لویې جرګې یا پارلمان لخوا منظور شوی نه دی. سړي چې زما خبرې واورېدلې هك پك حېران پاتې شو. ویې ویل ما خو ډېر زیات د دې بیرغونو ارډر ورکړی. وګوره قطعي ټولې ډکې دي. بیا یې وویل تاسو خلك ولې هره ورځ بیرغ بدلوئ دې کې مو څه ګټه

ده. زموږ د بیرغ جوړولو کمپنی ستاسو د بیرغ په جوړولو کې خورا تاوان وکړ په لنډه موده کې دا دریم یا څلورم ځل دی چې ستاسو بیرغ بدلیږي ګوره د امریکا د بیرغ نه څه د پاسه ۲۰۰ کاله کیږي چا پرې داسې لوبې ونه کړې چې هر څوك يې بدل کړي. زموږ کمپنی پرېکړه وکړه چې پس له دې نه به د افغانستان بیرغ نه جوړو.

هتې والا خواره کې رشیتا ویل ګوره داوُد خان بیرغ بدل کړ. تره کي. ببرك كارمل. ډاکټر نجیب الله او رباني دې تولو دا کار وکړ خو دا دی نن کرزی صاحب هم د خپلو سیالانو نه بېرته پاتې نه شو کرزي هم بیرغ بدل کړ چې په دې توګه د بیرغ بدلول یوه ساعت تیري یا د لوبې بڼه غوره کړې.

که چېرې زه په دې پوهېدلی چې د ۱۳۰۷ کال بیرغ چا طرح او یا طراحان یې څوك دي سمدلاسه تلم د هغوی پر قبرونو باندې مې د ګلو ګېډۍ اېښودلې. دا له دې کبله چې هغوی ډېر پراخ نظره او د دنیا په حالاتو خبرو و. له دې کبله تور، سور او شین رنګونه د غنمو وږی او محراب منبر سره ډېر ښه جامع ماناوې لرلې.

کرزی صاحب چې په بن کې د غیر افغاني خلکو لخوا انتخاب شوی لا د لنډ مهالي اداري عمر دوه میاشتو نه نه دی اوښتي. سمدلاسه یې د افغانستان د شاهي دورې بیرغ د يو تغییر سره هغه هم د مبارکی کلمې ور زیاتول دي بیرته په ارګ کې پورته کړ.

دلته سوال پیدا کېږي چې کرزی صاحب ته دا مشوره چا ورکړه او بیا کرزي صاحب د ۱۳۰۷ کال ذ بیرغ د طراحانو نه هوښیار دی چې د هغو مبارکې کلمې ته پام شوی نه و او د اسلام د مقدس دین سمبول يې محراب او منبر غوره کړی و. دا د ډېر افسوس ځای دی چې هر سیاست مدار زما مدار د خپل سیاسي مقاصدو لپاره د اسلام د مبارك نوم نه کار اخلي. او د ولس په سترګو کې خاورې دوړي زما ګنهګار په نظر د متبرکې کلمې زیاتولو ته هېڅ حاجت نه و. دا ځکه چې کرزي صاحب د دې مقدسې کلمې

د عزت او حرمت ساتلو ژمنه کولای شي. یا تش د احساساتو مسله ده او سیاسي لوبې.

که د کرزي صاحب په یاد وي کله چې طالبانو د بامیانو لرغوني ۱۶۰۰ کلن بتان چې په نړۍ کې بې ساري وو ونړول. نو بودائیانو او هندوانو د دې عمل نه په غچ اخیستلو سره د قران عظیم الشان څو مبارکو جلدو ته اور واچو و. طالب چې تش په بېوزلو افغانانو اوږدې ږیرې پرېښودل د دې ناوړه عمل په مقابل کې هېڅ ونه کړل. کرزي صاحب باید دوی نه یوه انتباه اخیستې وه.

اوس که چېرې یو تن یا یوه ډله د کرزي صاحب د ادارې په کړن لارې احتجاج وکړي او خدای مه کړه زموږ کلمه داره بیرغ وسوز وي هله به کرزی صاحب څه وکړي. "عاقل نه کند کارئ را آرد پیشمانی"

ښه مې په یاد دي کله چې په ایران کې شهنشاهي رژیم ونړېده او آیت الله خمیني د فرانسې نه راوستل شو. ایراني ځلمیانو په زرګونو امریکایي بیرغونه وسوزول او یا هغه یې د سرك په مخ هوا ره ول او په سر یې په بوټانو سره تېرېدل.

زما په فکر ښه به دا وي چې کله یوه رښتنې لویه جرګه او دملت رښتني استازی نه سیاسي لویه جرګه نه، انتقالي لویه جرګه چې دایره شوه ټول استازي دې ژمنه وکړي چې د بیرغ پر مسئله غور وکړي او پرېکړه وکړي چې نور پس له دې نه ځانګړی شخص یا یوه ډله یا حکومت ملي بیرغ ته تغییر ورنه کړي. او یا هېڅوك د بیرغ د بدلولو حق نه لري.

د تکنالوژي د پرمختیا نه په ګټې اخستلو سره دا دی تر هغه ځایه چې امکان درلوده د هېواد بیرغونه د انټرنټ لپاره پیدا او ستاسو مبارك حضور ته پیشکش کیږي. "جلا مخکې"

## ملي سرود:

تر هغه ځایه چې څېړنې شوي د ملي سردو په هلکه زموږ په ګران هېواد افغانستان کې کومه اوږ ده تاریخچه نه لیدل کیږي.

په معاصره دوره کې ملي سرود د هر هېواد لپاره ضروري بلل شوی دا ځکه چې ملي سرود د هېواد د مشر په رسمي لیدونو کې د بل هېواد څخه د فوځي ځواکونو د معینې په وخت کې او کله چې یو رسمي لویه غونډه یا کلیزه پرانیستله کیږي او همدارنګه په سپورتي نړیوالو لوبو کې او حتی په ښوونځیو کې هر سهار ژغول کیږي.

په لوېدیزه نړۍ کې کله چې ملي سرود غږول کیږي ټول اورېدونکي په پښو دریږي او خپل ښی لاس په خپل زړه باندې ږدي.

ملي سرود اورېدل انسان ته د حب الوطني احساس ورکوي. په نړیوالو لوبو کې کله چې بریالي لوبغاړي ته مډال ورکوي مخکې له هغه نه د هغه لوبغاړي د هېواد ملي بیرغ پورته کیږي او ملي سرود غږول کیږي دلته د ډېرو لوبغاړو اوښکې توئیږي.

تر هغه ځایه چې لیدل شوي د لومړي ځل لپاره ملي سرود د داوُد خان د جمهوریت په دوران کې منځ ته راغی او په یقین سره دا ملي سرود یو جامع او پر مفهومه و چې دا دی تاسو ته هغه وړاندې کوم.

ځو چې دا ځمکه، آسمان وي ... ځو چې دا جهان ودان وي
ځو چې ژوند په دې جهان وي ... ځو چې پاتې یو افغان وي

تل به دا افغانستان وي
تـل دې وي افغـان ملت
تـل دې وي جمهـوریت
تـل دې وي ملي وحدت
تـــل دې وي افغــــان ملـــت جمــــهوریت
تـــل دې وي افغــــان ملـــت جمــــهوریت
ملـــــي وحــــدت ملـــــي وحــــدت

وروسته بیا خلقیانو او پرچمیانو ملي سرود ته خلقي بڼه ورکړه او هغه لیکو کې د روسي مشاورینو هدایات په پام کې نیول شوي وو. د روسانو د مزدورانو د حکومتونو په رنګېدو سره د کال ۱۹۹۲ نه تر ننه پورې موږ ملي سرود نه درلود. دا د ملي سرودونو او یا بیرغ بدلولو کار د هغو کرغېړنو پلانونو له جملې څخه و. چې روسانو طرح کړې وه تر څو زموږ ملي یووالی او ملي هویت له منځه یوسي.

اوس چې د څه مودې راهیسې دا چې ټول د پردو په لاس ټاکل شوي رهبران په ماسکو راولپنډی. او بن کې ځانته ملي حکومتونه وایي. په داسې حال کې د دوی په انتخاب کې د ملت اراده مطرح نه وه ملت د رای ګیریو کوم مرکز ته د خپل د رهبر ټاکلو لپاره نه دی تلی. نو د ملي کلمه د داسې ادارو سره استعمالول د افغان ملت اهانت بلل کیږي. زما د پورتنیو خبرو په تائید سره بیا هم رفیع صاحب په یوه لنډه لیکنه کې د محاذ په اخبار کې ورته موضوع داسې څېړلې ده.

"ملي سرود د ملي اقدام په صورت کې جوړېدلی شي" د افغانستان د نوي حکومت د سوګند پورته کولو په غونډه کې د ملي سرود پر ځای د یوې داسې ترانې اورولو چې ملي ماهیت یې نه درلود د ملي سرود د جوړولو پوښتنه رامنځ ته کړه او نړیوالو راډیوګانو تبصرې پرې وکړې نو له دې کبله دا ضروري ده چې د ملي سرود په ملي ماهیت وغږیږو.

د ملي سرود معنی داده چې هغه به د ملت غږ د ملي هیلو ښکارندوی او د ملي روح څرګندوي وي له دې سره به یې الفاظ شمېر یې سپېڅلي او ښکلي او د هېواد په ملي او د اکثریت په ژبه به جوړ شوي وي.

د ملي سرود جوړلو پروسه یو اوږد بهیر غواړي لومړی د یوې مسابقې او یا داسې لارې چې د یوه هېواد شاعران برخه په کې واخیستلای شي. د ملي سرود له پاره شعر دیوه با صلاحیته هیئت له خوا انتخابیږي بیا د هغه لپاره یو د ملي پرتم لرونکی کمپوز جوړیږي او بیا په ښکلو غږونو کې ویل

کیږي. د ملي سرود بل شرط دا دی چې د یوه هېواد ملي موسسې لکه لویه جرګه ولسي جرګه مشرانو جرګه او نور داسې ارګانونه چې له ملت سره تړون لري د هغه ملاتړ کوي او بیانو د سپېڅلتیا مقام ته رسیږي.

کله چې کوم څوك د ملي اقدام له لارې د ملي سرود په توګه ومنل شي بیا نو د یوه هېواد ټول رسمي او ملي مجلسونه د هغه په اورولو پیل کیږي. د ټولو تعلیمي ادارو د سهارني درس سرټکي وي ملي رادیو او تلویزیون پرې پیلیږي.

نو د یوه داسې سپېڅلي او د درناوي وړکلام د منځ ته راوستلو او جوړولو لپاره لازمه ده چې بشپړ دقت وشي او ټول بهیر یې په ملي بصیرت وڅارل شي.

او ټول ملي شرطونه پوره کړي که داسې نه وي نو بیا هر شعر او هره منظومه وینا دا سپېڅلتیا او درناوی ترلاسه نه شي او د ملي سرود نوم پرې ایښودل کېدای نه شي.

بیا هم هغه د یوه کلي سندره چې بلکل ملي صیغه یې نه درلوده. د ملي سرود په توګه په کرزي صاحب منل شوې او د شورای نظار د نظامي مشر عکسونو چې په تالار کې ځوړند شوي وو. دې ته دا به کرزی په مناسب وخت کې ځواب ورکوي.

کرزي صاحب ته به د افغانانو مشوره دا وي چې "تاریخ په هر چا خپل قضاوت کوي اعمال یې په ټکي په ټکي ثبتیږي. ویاړ د هغه چا په برخه دی چې د ملت ارادې ته تسلیم او د ملت اندېښنې او وړاندیزونه په پام کې ونیسي د یو څوکي چې هغه هم د څو ورځو لپاره. خپل افغانیت اسلامیت له لاسه ورنه کړي. ملي مشر باید تل د ملت خوا ته ودریږي. ملي کلتور ته پاملرنه وشي. د ملي کلتور چې ژبه یې د ملا د تیر حیثیت لري. ژور اقدامات وشي.

موږ باید د نورو د کلتور تر تاثیر لاندې لاړ نه شو. ښه مشوره به دا وي چې پس له دې به دې مشهور او منلي متل ته کلکه پاملرنه وکړو "وروري به کوو حساب تر منځ"

هو کابل کې که دوه دري ژبې ښوونځي پرانیستل کیږي یو دی ضرور د پښتو ژبو ماشومانو لپاره پرانیستل شي.

پښتانه او غیر پښتانه دې په دې پوه شي چې حق غوښتنه امتیاز غوښتنه نه ده زموږ ژبه ډېره زیاته د ورکېدو سره مخامخ ده. که څوک زموږ د وروری دعوا کوي نو زموږ له دې ستونزې سره دې موږ سره مرسته وکړي. د ناپوهی او یا د پردو په لمسون سره پښتو ویل پښتو لیکل او پښتو لوستل فاشیستي عمل ونه ګڼي. پرېږدئ چې د دوی ورورنه خپله د دوزخ ژبه جنتي کړي.

وایي اغیار چې د دوزخ ژبه ده

زه په جنت ته د پښتو سره ځم

زموږ د وروری شرط دا دی چې هغه څوک د افغانستان، افغان او ملي کلتور سره ضدیت ونه لري هغه زموږ ورور دی.

پښتنو ته هم لازمه ده چې د خپل درانه خوبه راپاځي، وګوري چې دوی چېرته دي او څومره وروسته پاتې دي. د دوی په ژبه څومره ښوونځي، پوهنتونونه او دولتي اداري شته دي. بایددا حق ترلاسه کړي. چې د دوی ماشومان په خپله مورنی ژبه لیک او لوست وکړي. که چېرې پښتانه باسواده شي دا به د ټولو په ګټې تمام شي. د ټولو دا ملي دنده ده چې افغانانو ته په عمومي ډول او پښتنو ته په خاصه توګه د حب الوطنی حب الولس او حب الکلتوري لوستونه ورکړي. په دې توګه به زموږ بقا او پایښت تضمین شي.

# پای لیکونه او سرچینې


- پښتو ګرامر پوهاند صدیق الله رښتین
- "دعوت" ۱۲۳-۱۳۳ ګڼه د نظیف الله نهضت لیکنه
- افغانستان در مسیر تاریخ "غبار"
- "هیله" شپږمه ګڼه د پروفیسر احدي لیکنه
- رڼا او دفاع. د پوهاند کاکړ اثر
- تاریخ افغانستان قبل از اسلام "علامه عبدالحی حبیبي"
- د افغانستان د ملي اسلامی محاذ نشراتي ارګان "محاذ"
- ۱۷۶ او ۱۷۷ ګڼې د ښاغلي رفیع لیکنې.

# د حالاتو بې ثباتي + د نظریاتو بې ثباتي = د شخصیتونو بې ثباتي

کله چې په افغانستان کې د شرېدلي شوروي اتحاد د نظامي مداخلې پښو او متېو د وېرې او کمزورۍ له امله په رېږدېدو پیل وکړ. د قدرت نیولو لپاره د مجاهدو تنظیمونو هیله او تلوسه او د دوی تر مینځ سیالي دومره زیاته شوله چې ځینو یې خپلې ایډیالوژۍ او د مبارزې اصول شاته واچول او د قدرت نیولو لپاره یې هرې وسیلې ته لاسونه وراندې کړل. دې ډول غوښتنو او تمایلاتو په ټولو هغو سوله ییزو هڅو او کوښښونو ناوړه اغېزه کوله چې په افغانستان کې دننه یا ورڅخه بهر په نورو ډېرو ځایونو کې روانې وې.

هغه وخت چې نړېدلي شوروي اتحاد له افغانستان څخه د خپلو قواوو ایستلو وخت وټاکه. مجاهد تنظیمونه له نویو نویو مسایلو سره مخامخ

شول ځکه د دوی تر مینځ د نظریاتو توافق داسې نه و چې د هغه په بنسټ د یو داسې حکومت د جوړېدو لپاره امکانات برابر شي چې د ټولو خوښ وي.

دې ډول منفي حالاتو دوه ډوله معماګانې راپیدا کړلې چې یوه یې د پراخ بنسټه حکومت غوښتنه وه چې د ډول ډول اړخونو له خوا په جلا جلا توګه تعبیرېدله او بله یې هم د "شپږ جمع دوه" عجیبه فارموله وه چې مسایل یې د حل کېدو په ځای لا پېچلي کول. دا دواړه موضوعګانې په حقیقت کې د یوې سکې د دوو مخونو غوندې سره نښتې وې.

د (۶ + ۲) په فارموله کې راغلي شپږ هېوادونه، زموږ د شاوخوا ګاونډي هېوادونه وو او دا دوه نور چې ورسره جمعه کېږي هماغه د وخت دوه سوپر طاقتونه یعنې امریکا او روسیه دي. د شپږو ګاونډیو هېوادونو له جملې څخه د ځینو خپلواکي له شوروي اتحاد سره د افغان ملت د اتلوال جهاد له ضمني تولیداتو "By Prroductions" څخه دي. یعنې وروسته له هغه چې د سوپر طاقت په توګه د شوروي اتحاد زور او ځواک په افغانستان کې اوبه شو نور نو ورته دومره سیك پاتې نه شو چې د نورو ملتونو په مریو خپلې لګول شوې منګولې ټینګې نیول شوې وساتي. په نتیجه کې به ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان او ځینې نور د نړۍ د نقشې پر مخ د خپلواکو هېوادو په ډول راڅرګند شول چې د ملګرو ملتونو په موسسه کې د څوکیو خاوندان هم شول.

شوروي واکمنو د تاریخي بخارا د ټوټې ټوټې کولو په وخت د دې هېوادونو د یو شمېر خام ذهنه ځوانانو په غوږونو کې دا خبره څخولې وه چې ستاسې هغسې ونې دي چې تنې یې په بخارا کې دي او ښاخونه یې افغانستان ته غځېدلي دي یا تاسې د هغو ملیتونو "مخرجونه" یاست چې "صورتونه" یې په افغانستان کې دي. مګر اصلي حقیقت معکوس حالت درلود بخارا او د منځنۍ آسیا نور اسلامي هېوادونه له لرغونو وختونو راهیسې په تېره د لوی احمدشاه بابا له وخته د افغانستان له محروسه

هېوادنو څخه بلل کېدل یعنې دا چې که په دې هېوادونو باندې تېرى کوونکو ځواکونو تېرى کاوه نو افغانستان له هغوی څخه د دفاع حق او صلاحیت درلود. لکه چې لوی احمد شاه بابا د هغې سیمې د مسلمانانو په غوښتنه د یو تېري کوونکي ځواک یرغل شنډ کړ یوازې مبارکه خرقه یې له ځان سره راوړله نور نو ورڅخه تش لاسونه راستون شو ځکه چې د بخارا واکمني او شتمني یې د هغه ځای اوسېدونکو مسلمانانو ته وسپارله.

بیا د اعلیحضرت امان الله خان په وخت کې سره له دې چې د هغه وخت د ځینو لوېدیځو هېوادونو استعماري پالیسیو د افغانستان حکومت له شوروي سره د زړه د پاسه دوستۍ پاللو ته اړ کړی و. خو امان الله خان د منځنۍ اسیا د هېوادونو خپلواکي په تېره له پنځ ده څخه وتل له شوروي اتحاد سره د افغانستان د دوستۍ له مهمو شرایطو څخه بلل چې لېلن هم اصولاً د افغانستان دغه دفاعي یا حمایوي حق منلی غوندې و خو د خپل تېري کوونکي پالیسۍ لپاره به یې ډول ډول بانې او پلمې جوړولې.

بیا کله چې د افغانانو د زړه ور جهاد به برکت د منځنۍ اسیا د ملتونو له غاړو او پښو څخه د شوروي اتحاد د ښکېلاک ځنځیرونه په مځکه ولوېدل. نو د افغانستان قهرمان ملت هیله لرله چې نوی خپلواک ګاونډي هېوادونه به له افغانستان سره د ورورولۍ پخه مینه ولري خو له بده مرغه شوروي د خپلو راتلونکو مداخلو لپاره په پټه ډېر کار کړی و تر دې چې د افغانستان ځینې جهادي ځواکونه یې له خپل ځان سره بیا د ازمویل شوې دوستۍ په مزیو تړلي وو.

له بلېخوا ایران هم د خپل اسلامي انقلاب اراده او لوری بدل کړ. د یو پیاوړي او په خپلو پښو ولاړ مجاهد افغان ملت پهٔ ځای یې په افغانستان کې د ځینو نژادي ژبنیو او مذهبي ګروپونو سره خپلې پټې او ښکاره مرستې زیاتې کړې چې دغه کار د پاکستان سیالي سخته وپاروله او خپلې مداخلې یې تر پخوا زیاتې کړلې. که شوروي اتحاد د دوی په اصطلاح د



پښتنو قبیلویت پرېږدئ...!

ببېلو ببېلو مليتونود مخرجونو ترشا ودرېد نو ايران او تاجکستان هم خپلې خولې او غوږونه سره نږدې کړل او د کاغذ په مخ يې د فارسي ژبو د جغرافيوي کرښې وايستلې او افغانستان يې هم له خپله انده په دې جغرافيه کې ورشامل کېلی و. که ټول افغانستان په دې تخيلي ژبنۍ جغرافيه کې نه شوای راتلی، نو بيا يې دا پتيلې وه چې نيمايي افغانستان به هغه هم د کوم سوپر طاقت په زور او مرسته په همدې نقشه کې راوستل شي. هغه وخت چې روسانو افغانستان په جنوبي کې د پښتنو د اکثريت کمولو لپاره په کليو او کورونو. باغونو او کروندو ويالو او کارېزونو باندې وحشيانه بمباری کولې: ايران له حالاتو خخه د ګټې اخيستلو په فکر کې لوېدلی و او هڅه يې کوله چې په مزار شريف او هزاره جات کې خپل پټ او ښکاره مرکزونه پرانيزي.

۱۹۸۸م کال د پښتنو د کموالي لپاره د دوی د ځپلو او د دوی په ضد د رنګارنګ دسيسو جوړولو له کبله ډېر تور کال و. په دغه کال روسان د پرله پسې هڅو په نتيجه کې بريالي شول چې له مسعود سره يو تړون لاس ليک کړي، دې معاهدې روسان د شا له خوا ډاډه کړل او په پوره ډاډ غمی يې په جنوبي افغانستان کې خپلې حملې زياتې کړې. د يوه فرانسوي څېړونکي (Oliver Roy) له نظره دې پېښو د پښتنو اکثريت (۴۰%) را ټيټ کړ. خو حقيقت هغسې نه و، وروستيو پېښو ثابته کړله، سره د دې چې د روسانو د سختو حملو له امله ډېرې پښتنې کورنۍ د پاکستان په لوري کډې کولو ته مجبورې شوې وې خو د دوی مطلق اکثريت په خپل ځای پاتې شو په همدغه (۱۹۸۱م کال) کې د فرهنګ کتاب چې د تاجکو تاريخي موجوديت يې ډېر غټ ښودلی دی او پښتانه يې د افغانستان د تاريخ نه ايستلي غوندې دي د دوهم ځل لپاره هم چاپ شو. په همدغه کال کې په يو موټي او په شمالي افغانستان کې يو بل نجيب الله چې د "مسير" تخلص يې درلود، د دوهم صدر اعظم په توګه مقرر شوی و.

حسن شرق په خپل کتاب "کرباسهای برهنه پا" کې په اقلیت باندې د پښتو د اکثریت بدلولو فاشیستي او ملي ضد پلان رسوا کړی او لیکلي یې دي" ان عده از مردم پیشه یی که پشتو زبان مادری شان شده در تذکره مجبور بدند که ملیت پشه یی بنویسند نه پشتون. اما تعداد کثیر از پشتونهای که بمرور زمان دری زبان مادری شان اند. بایستی ملیت تاجك بنویسند. برخلاف پشتونهای دری زبان و پشه یی های پشتو زبان ازبکها و ترکمنهای دری زبان بایستی ملیت ازبك و ترکمن را به خود بگیرند ..."

په دې توګه په مصنوعي توګه د پښتو د اقلیت ګرځولو او د نورو قومونو د پړسولو لپاره ښکاره هڅې روانې وې او په دې هڅو کې روسانو او ایرانیانو هم خپلې رادې شریکې کړې وې.

پاکستان چې له نژدې څخه د سیاسي بهیرونو ننداره کوله فکر یې کولای شوای چې که چېرې د پښتنو د ملي او سیاسي موجودیت پولې ماتې شي بیا نو د پخوا په شان له شمال څخه د راغلو سیلاوونو مخه نه شي نیولی. نو یې ونه غوښتل چې بې تفاوته پاتې شي. دې ته اړ شو چې پښتنو ته یعنې هغو خلکو ته چې یو وخت ورته د سترګو اغزي ښکارېدل د سیاسي ورورولۍ غېږه لا پراخه کړي اوس چې ایران. تاجکستان او ازبکستان او د دوی ترشا روسیه او ترکیه لګیا دي په افغانستان کې د خپلې خوښې کلتوري او نژادي جړې لټوي. پاکستان هم په افغانستان کې تر ټولو یو قوم یعنې پښتنو د زړونو ترلاسه کول غواړي او هڅه کوي چې په یوه تاریخي او کلتوري ساحه کې یې له خپل ځان سره شریك کړي او د سیمې په مهم استراتژیك موقعیت او لویو تاریخي ویاړونو قبضه ولګوي.

د مداخلې ټول اړخونه سره د دې چې هریو یې جلا جلا نظر یې لرلې په یوه خبره کې سره موافقې ښکارېدې چې هغه په افغانستان کې د پراخ بنسټیزه حکومت د جوړولو موضوع ده. خو د داسې یو مطلوب حکومت لپاره جلا جلا فکري او نظریاتي قالبونه جوړ شوي وو. هر څوك پوهېږي چې

په بنسټیزه توګه یوه روغه رمتیه ولسواکي (دموکراسي) د پراخ بنسټیز حکومت د جوړولو لپاره تر ټولو ښه او اسانه لاره ده. خو لکه چې له حالاتو څخه څرګندېږي هم داخلي اقتدار غوښتونکي کسان او ډلې او هم د دوی بهرني ملاتړ کوونکي چمتو نه وو او نه دي چې په افغانستان کې د کلمې په اصلي مفهوم یو دموکراټ حکومت جوړ شي څکه که د یوې رښتیانې ولسواکۍ له لارې حکومت په خپله د افغانستان خلکو ته په لاس ورشي بیا د دوی ګټې د خطر سره مخامخ کېږي.

په ولسواکو (ډموکراتیکو) حکومتونو کې وزارتونه د ملي او اجتماعي خدمتونو لپاره جوړېږي خو له بده مرغه هم د خلقیانو او پرچمیانو او هم د تنظیمونو د حکمرانیو په وخت کې وزارتونو خپل دغه ماهیت له لاس ورکړی و. یعنې چې وزارتونه د دوی تر منځ د ولجې یا غنیمت د مالونو په توګه وېشل کېدو ته په لیستونو کې رواستل شوي وو. ډېره موده په دې جنجالونو کې تېره شوه چې کوم کوم تنظیم ته کوم وزارت وروسپارل شي چې خولې یې ورباندې پټې شي. په څو مهمو د چا خبره "کلیدي" وزارتونو باندې زیاتې شخړې روانې وې څینو تنظیمونو لکه پرچمیانو، شورای نظار او جمعیت اسلامي غوښتل چې د دفاع، کورنیو او بهرنیو چارو وزارتونه په خپل انحصار کې ولري. په خپله مرحوم مسعود په هېڅ ډول د دفاع وزارت څخه نه شوای تېرېدلای هغه وخت په افغانستان کې دننه همداسې حالت روان و، خلقیانو، پرچمیانو او تش په نامه بېطرفانو تهد وزارتونو د ونډو وېشل، د وخت تحمیل شوی جمهور رییس مجبور کړی و چې د بېروکراسۍ خېټه ډېره وپړسوي خو د ادعاګانو ډېرو خاوندانو ته وزارتونه ورزسپدلی شي.

د اقتدار ګټلو همدغسې غوښتنو په یوه موده کې افغانستان کې د دوو حکومتونو د جوړولو پروګرام رامنځ ته کړ. د اقتدار لوږې او حرص د کینو او بنیو. کافرو او مسلمانو تنظیمونو تر منځ د اختلاف پولې نرۍ او پیکه

کړي. ډېر خلقیان، پرچمیان او شعله یان په مختلفو اسلامي تنظیمونو کې ورننوتلي تر دې چې د دې ډول ګډو وډو او یو له بله دښمنو ډلو تر منځ نوي نوي د پوښتنو وړ ائتلافونه جوړ شول او معاهدې لاس لیک* شولې. خلقیانو او پرچمیانو هڅې کولې چې خپلو خپلو ائتلافي تنظیمونو ته ښې وسلې او وسیلې ورتېرې کړي. له دې کبله چې د کمونستانو په وروستني حکومت کې پرچمیان د پیاوړي لاس خاوندان وو. دوی خپلو ائتلافي ملګرو (شورای نظار) ته په سوونو ټانکونه او نورې درنې وسلې وسپارلې او د حکومت مهم عسکري او ملکي کار کوونکي هم ورغلل او ورسره ګډ شول چې هغوی تر اوسه پورې په شمالي اتحاد کې فعال دي.

بالاخره تر زیاتو سیاسي هلوځلو وروسته یو جوړ شوی پراخ بنسټیزه حکومت(!) کابل ته ولېږدول شو. جمهور رییس یې د څو میاشتو لپاره پروفیسور صبغت الله مجددي بیا د څو نورو میاشتو لپاره پروفیسور رباني ټاکل شوي وو. په دې له بهر څخه استول شوي دولت کې د صدارت مقام د حکمتیار حزب اسلامي ته او د دفاع وزارت مسعود ته وسپارل شول. دا پراخ بنسټیز حکومت(!) په خپل خلقت کې عجیب یو شی و، د دولت مشر حضرت صاحب د خپل دفاع له وزیر څخه شکایت درلود د امنیت حالت خو داسې و چې په خپله د جمهور رییس الوتکه وویشتل شوه. د ده تالې ښې وې له پېښې څخه ژوندی راووت. حزب اسلامي له خپلې خوا استاد فرید د صدر اعظم په توګه ټاکلی و. دا وخت صدراعظم او د دفاع وزیر دواړه تاجکان وو خو د قدرت د انحصار روحیې د دواړو تر منځ سخت اختلافونه راپیدا کړل. بیا کله چې په خپله حکمتیار د صدارت چارې په غاړه واخستلې هغه وخت هم د صدر اعظم او د دفاع د وزیر تر منځ داسې سختې جګړې وشوې چې نیمایي کابل په کې لولپه شو. د قدرت د انحصار روحیې په خپله د دفاع وزیر له خپلو متحدینو لکه مزاري او رشید دوستم سره په ډېرو تباه کوونکو جګړو کې سره مخامخ کړل. د دارالامان تاریخي

---

پښتنو قبیلویت پرېږدئ...!

مانۍ په همدغه وخت کې د توپونو هدف ګرځېدلي وه. د پراخ بنسټیزه حکومت په لیست کې داخل شویو متضادو عناصرو په جګړو کې د غلو او جنایتکارانو لاسونه آزاد پرېښودل شوي وو. د کابل موزیم تاریخي آثار، د پیسو د تبادلې لوی لوی پلورنځي جوړ شول انسانانو ته د هغوی د قومیتونو په وجه هم سزاګانې ورکول کېدلې.

ماته یو سپین ږیري خپله کیسه تېرولـه ده وویل یو ماښام چې زه په خپل کور کې ناست وم څو کسان راغلـل ور یې وتړکاوه ما چې د څوك یې؟ پوښتنه وکړه په ځواب کې یې راته وویل: "څوك یې دیګه خلاص شده .." په دې توګه دوی زه د "څوك یې" ویلو په ګناه لـه خپل کور څخه وشړلم. د جګړو، ظلم او زور په همدغسې تور تم کې د طالبانو تحریك شو، د دوی ناڅاپي راتګ او بیړني پرمختګ ټول خلك لـه لویو لویو پوښتنو سره مخامخ کړل خو زیاتره خلکو زړه او نازړه "له شر او فساد" سره په مبارزه کې د دوی متې پیاوړې کړلې. ما هغه وخت د کوټې له ښار څخه چې د طالبانو د تحریك د پیل کېدو ځای ته نـژدې پروت دی، د پېښو څارنه کوله. د کندهار روښانفکره قومي مشرانو لکه مرحوم عبدالاحد کرزي محترم عزیز الله واصفي او نورو د دغه تحریك له پرمختګ سره خپل مخالفت څرګند کړ خو استاد رباني چې د کابل واکمني یې په لاس کې وه هغه یو "خود جوشه تحریك" وباله او د هغه په باره کې یې خپل ښه نظر څرګند کړ. هغه وخت استاد رباني دا حرکت ځکه خوښاوه چې د ده یو سیال تنظیم یعنې حزب اسلامي یې له پښو غورځاوه. ماته یو ډریور چې د کوټې په ښار کې د جمعیت اسلامي په دفتر کې یې کار کاوه وویل چې ده څو څو ځله د جمعیت له خوا استول شوې وسلې په سپین بولدك کې طالبانو ته رسولې وې. که دا خبره رښتیا وي، نو څرګنده ده چې د طالبانو د تحریك لومړنی هڅوونکی جمعیت و. کله چې د طالبانو تحریك کابل ته ډېر ورنـژدې شو، مسعود یې په میدان ښار کې هرکلی وکړ. هغه وخت ویل کېدل چې مسعود

دوی ته یوه تمانچه ورکړه او وعده یې ورکړه کله چې تاسې د کابل له ښاوخوا څخه د حکمتیار ځواکونه په شا وتمبول بیا به موږ خپلې ټولې وسلې او قدرت تاسې ته سپارو. خو بیا لکه چې ټولو ته څرګنده شوه مسعود په ټېښته سره کابل طالبانو ته پرېښود وسلې او وسیلې یې له ځان سره ولېږدولې. په دې توګه دې سیاسي ډرامې بل اړخ ونیو بیا نو مسعود او متحدینو یې طالبان پاکستانیان وبلل: نو بیا د دوی او طالبانو تر منځ څو کلنو خونړیو جګړو د افغانستان د تاریخ یو بل فصل په سرو وینو ولیکه.

په نیویارک کې د سپتمبر د اومې پېښې چې ټوله نړۍ یې ولړزوله د افغانستان د قضایاوو بهرني عوامل تر پخوا زیات پیاوړي او فعال کړل امریکې او لوېدیزو متحدینو یې د (۶ + ۲) فارموله بیا خپل مخ ته کېښودله په دې ډول قضایاوو د سیاسي حل په ځای د نظامي حل ضرورت زیات شو او افغانستان د یوې بلې تراژیدۍ یعنې د امریکې او القاعده ګروپ تر منځ د جګړې ډګر وګرځېد. په دې جګړه کې طالبان ځکه دښمنان وګڼل شول چې هغو کسانو ته په افغانستان کې پناه ورکړې وه چې امریکایانو وربانديې پیاوړی شک درلود او خپل دښمنان یې وبلل. دې پېښې شمالي اتحاد ته چې یوازې د افغانستان (۵%) برخه یې کنټرول درلود طلایي چانس برابر کړ. دوی د امریکایي بمباریو په دوره کې ګام په ګام هغو مهمو ښارونو ته نژدې کېدل چې طالبانو په ماتې خوړلو ټېښته کې پرېښودل. د کابل ښار هم په همدغسې اسانۍ سره د دوی لاس ته ورغی. په دې ډول د تروریزم یو بل سور خوړلن د امریکایي حملو په دوره او ګردونو کې پټ د کابل زړه ته ورتېر کړل شو چې په وروستیو وختونو کې د یو وزیر ترور یې لومړنۍ نتیجه وه. په افغانستان کې پېښې د برېوکۍ په څېر له خپل ځان څخه تاوېږي یا به ووایو چې دوراني حرکت لري په دې مانا چې هلته غتې پېښې په لږ څه تفاوت سره بیا بیا تکرارېږي.

داسې برېوکې ته ورته حرکتونه په خپل ماهيت کې پرمختيايي موخه نه لري ځکه خو يې ستوماني زياته وي مګر نتيجه منفي.

موږ د سر په سترګو وليدل چې د مجاهدو تنظيمونو لومړني ائتلافي يا د چا خبره پراخ بنسټيزه حکومت په اسلام اباد، راولپنډۍ، پېښور او ... د پرله پسې غونډو په نتيجه کې جوړ شو. د دولت مختلف ارګانونه يو له بل سره په تودو وسلوالو جګړو کې ښکېل شول دولت وشړېده بې شانه او کمزوری شو او د طالبانو د يرغل له وېرې يې ځان د پنجشېر او بدخشان د غرونو ترشا پټ کړ. په دغه ځای کې طالبانو داسې يو حکومت جوړ کړ چې خوله او سر يې په کندهار او نور ځان يې په کابل کې و. حقيقت دا دی چې هېواد د امنيت او د خاورې بې پروايو او بې تجربه ګيو هم خپل ځانونه او هم افغانستان د بلا په خوله کې ورکړ. دوی هم وتښتېدل يو ځل بيا د يوې تکراري پروسې يعنې په روم، قبرس، بن چېرې او چېرې د غونډو او جرګو په نتيجه کې شمالي اتحاد ته چې په طالبانو او القاعده ګروپ باندې د امريکايانو بې ساري سختو بمباريو او د طالبانو د تېښتې په نتيجه کې کابل ته نژدې شوي وو طلايي چانس وبانښه چې په موقتي اداره کې لويه او موثره ونډه ولري. په عمومي توګه د موقتې ادارې ځينو اړخونو خلکو ته غټې پوښتنې پيدا کړې دي لکه دا چې:

ښاغلي حامد کرزي ته د موقتي حکومت د مشرتوب د سپارلو په وخت کې يوازې د مرحوم مسعود عکس لوړ ځړول شوی و. مراسم ترهماغه عکس لاندې سرته ورسېدل. په داسې حال کې چې د هغه مرحوم شخصيت يوه متنازع موضوع ګرځېدلې ده په دغسې ډېر مهم ځای کې د ده عکس ځړول به څرنګه احساس راپيدا کړي. د افغانستان جهاد د يو شمېر وياړنې وړ داسې جهادي او ملي شخصيتونه وځلول چې په هېڅ وجه د هېرولو وړ نه دي خو له بده مرغه د قدرت سپارلو په وخت کې د دوی تصويرونه تر سترګو نه شول. که دا خبره دليل ګرځول شوې وي چې هغه د وروستيو

پښتنو قرباني ګرځېدلی دی. بیا هم دی یوازې قربای شوی څوك نه دی څکه چې افغانستان ته د سولې راوستلو په مبارزه کې په خپله د حامد کرزي پلار مرحوم عبدالاحد کرزی همدارنګه نامتو جهادي قوماندن عبدالحق او مدبر شخصیت جنرال کتیوازی هم قرباني شوي دي. نو بیا مرحوم مسعود ځنګه دا امتیاز ترلاسه کوي چې د افغانستان په لوړ دولتي مقام کې یوازې د ده عکس ولګول شي. سړی نه پوهېږي چې په دې کار کې له حامد کرزي سره سلا شوې وه او که نه؟ که نه وی شوې نو بیا دا شك پیدا کېږي چې د قدرت تسلیمولو کار هسې سمبولیکه جنبه درلوده. کومو کسانو چې په تلویزیون کې دغه مراسم لیدلي. وايي چې د مراسمو په پای کې د ملي سرود په ځای یوه محلي ترانه وویل شوه چې دغه کار د افغانستان د ملي ژبې پښتو له نظره غورځولو معنی لري. د ملي سرود تاکل د یوې موقتي ادارې له واك او صلاحیت څخه ډېر لوړ کار بلل کېږي.

په داسې حال کې چې د ډېرو ترخو تجربو نتیجې د هر چا په مخ کې پرتې دي. د یوې جګړه مارې ډلې په انحصار کې د ملي دفاع. ملي امنیت کورنیو او بهرنیو چارو د مهمو وزارتونو پرېښودل څه معنی لري؟ بیا خو د دفاع وزیر ځان ته چمتو کوي چې د دولت د مشر په ضد مسلحانه مبارزه وکړي او یا د کابینې مخالف وزیران یو په بل پسې ترور کړي د تروریزم اوملي هوانوردۍ د وزیر وژل ساده خبره نه ده.

همدارنګه بیا خو به د یوې ډلې په ګټه د کورنیو چارو د وزارت له لارې د اهل حل او عقد د فرمایشي شورۍ یا لویې جرګې جوړولو پته اراده موجوده نه وي چې د افغانستان مزمنې کشالې ته نوې نوې غوټې واچوي.

د تګ راتګ د عادي اړیکو له لارې همدارنګه UNHCR د موسسې د مسئوولو کار کوونکو له ویناوو څخه ترلاسه شوي خبرونه او معلومات ځرګندوي چې د اوسني عبوري حکومت د کار په موده کې په شمالي افغانستان کې متعصبو کسانو د هغه ځای په اوسېدونکو پښتنو باندې

ظالمانه او وحشیانه او غیراخلاقي تېرې کړي دي. خو د دفاع او کورنیو چارو وزیرانو په دې باره کې خپله دنده سرته نه ده رسولې. آیا دا د دوی له وسې څخه وتلی کار و او که یې قصداً هلته د دغسې اعمالو مخه نه نیوله. دغه سیمې خو د همدغو وزیرانو د نفوذ ساحې بللې کېږي نو بیا ولې یې د داسې وحشیانه اعمالو مخه نه شوای نیولی.

دا ډول نورې ډېرې زیاتې پوښتنې راپیدا کېږي چې یو کتاب خبرې غواړي. خو دلته هڅه شوې ده چې یوازې هغه غټې غټې موضوعګانې راغونډې شي چې په یوه نسبتاً پوهنیزه څېړنه کې ځینې مهمې نتیجې او تجربې په لاس راکولای شي.

په دې لړ کې تر ټولو مهمه موضوع چې علمي فوکس غواړي د همدې نظریاتو، افکارو او تمایلاتو په ډېرو وړو وړو قالبونو کې د لویې تاریخي افغاني ټولنې د خصوصیاتو د ځایولو له ورانوونکو او ډېرو ستومانه کوونکو کوښښونو سره اړه لري همدغو منفي کوښښونو زموږ کور وزان او ژوند تباه کړی دی. مارکسیستانو د دې لپاره چې افغاني ټولنه په خپلو فکري قالبونو کې واچوي او بیا یې سره ووېشي. په دې ټولنه کې یې د مصنوعي تضادونو پیدا کولو ژوبلوونکې او وژونکې هڅې په کار واچولې. په مقابل کې یې د مجاهدینو ځینو سیاسي کړیو د ایران او تاجکستان له هیلو سره سم د فارسي ژبې په جغرافیایي قالب کې په وچ زور د افغاني ټولنې د ځایولو لپاره په اقلیت باندې د پښتنو د اکثریت د بدلولو لپاره د نوکانو او اوریو د جلا کولو غونډې ډېرې دردناکې عملیې سرته ورسولې چې له ښه مرغه د افغاني ټولنې ټولنیز جوړښت او ملي واقعیت هغه کامیابېدو ته پرې نه ښودلې. همدغه بې ځای او بې ضرورته هڅې وې چې په افغانستان کې یې یو زیات شمېر بې اعتمادۍ او بې ثباتۍ راپیدا کړلې. دې حالاتو د شخصیتونو او د دوی د نظریاتو په بې ثباتۍ کې ژوره اغېزه لرله. د ساري په توګه د جهاد په وختو کې د یو تنظیم یوې خپرونې د

سیدجمال الدین افغاني له نوم څخه چې په خپله دوی د ځان لپاره خوښ کړی و. د "افغاني" تخلص لیرې کاوه او په ځای یې "سید جمال الدین اسلامي" لیکه خو بیا په همدغه تنظیم کې د تنګ نظره ناسیونالیستانو شمېر زیات شو. همدوی وو چې په افغانستان کې یې د نویو نویو کینو پخولو نغري تاوده کړل. د حالاتو بې ثباتیو د ځینو داسې کسانو په شخصیتونو او نظریاتو هم اغېزه وکړه چې نومونه یې په درېو علمي، مسلکي او سیاسي لقبونو کې پوښل شوي وو. د مثال په توګه یو ډیپلومات چې ډېر خلك یې پېژني دکتور روان فرهادي دی. دی یو تکړه لیکوال او څېړونکی هم دی په پخوا وختو کې دري او پښتو ژبې ته د ده په ځینو خدمتونو سترګې نه شو پټولای. د شهید داود خان په جمهوري دوره کې په یو جوړ شوي کمیسیون کې چې د افغانستان د ژبو په ملي او رسمي موقعیتونو یې بحث کاوه، ده پښتو ژبه د افغانستان ملي ژبه او د اکثریت ژبه وبلله. نظریه یې دا وه چې دا ژبه باید د هېواد د اوه کلن پلان تر پایه د هېواد رسمي ژبه هم وګرځول شي. هماغه وخت د یو ملت د دوه ژبې کېدو ډېر زیاتونه وشمېرل نو ځکه یې د ملي ژبې پښتو له تعمیم او پراختیا سره خاصه دلچسپي وښودله خو ورسره یې د دري او د هېواد د نورو ژبو په باره کې هم ښه نظر درلود چې باید هر یو یې د خپل اجتماعي موقعیت له مخې په علمي، تعلیمي او فرهنګي ساحو کې په کار واچول شي. همدغه سړي د پرچمیانو د حکومت په دوره کې د ژبو په برخه کې بل نظر درلود چې په یو سیمینار کې یې څرګند کړ. هلته ده پښتو او دري دواړه ژبې د افغاني ناسیونالیزم ښکارندوی وبللې. خو کله چې د استاد رباني د حکومت له خوا ده ته په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د نماینده ګۍ څوکۍ ور وسپارله شوه، نو ده هلته ادعا وکړه چې پښتانه په افغانستان کې اکثریت نه لري. ده د افغانستان له خلکو څخه یوازې په سلو کې(۳۸٪) یې پښتانه وبلل په دې توګه د افغانستان نماینده(!) په ځای د دې چې په افغانستان

کې د نورو هېوادو لکه روس، ایران، پاکستان او نورو لاس وهنې وغندي، لګیا وو د ملګرو ملتونو په موسسه کې یې د افغانستان د قومونو اندازې او درجې کوزولې او لوړولې. یوازې د دکتور روان فرهادي غوندې کسانو او شخصیتونو نظریات د افغانستان د بې ثباته حالاتو ښکار شوي نه دي، بلکې دې ډول حالاتو د یو شمېر هغو پښتنو په ذهنونو هم اغېزې کړې دي. چې د جمعیت او یا شورای نظار سره یې مادي ګټې شریکې وې.

د دې لپاره چې د دې بحث لمنه ورټوله کړو او ځان ژر د اصلي مقصد ټکي ته ورسوو د خپلې څېړنې لاره او لوری یو څه بدلوو یعنې د "اجزاوو" څخه د "کل" خواته روانېږو او نتیجه اخلو چې په شخصیتونو او د دوی په نظریاتو کې د بې ثباتۍ سرچینه د هېواد د حالاتو له بې ثباتۍ سره اړه لري خو لکه چې علامه اقبال فکر کړی دی افغانستان د آسیا د زړه حالت لري که چېرې د دغه هېواد حالات ثبات ولري له دې لارې د ټولې آسیا ثبات ټینګېږي خو که چېرې په دې هېواد کې شر او فساد خپلې جرړې وغځوي بیا نو ټوله آسیا له ګواښ سره مخامخ کوي.

کومه تر ټولو مهمه نتیجه چې له دې بحث څخه اخیستل کېدای شي دا ده چې په افغانستان کې د شخړو او فسادونو په سلو کې اتیا لاملونه بهرني دي او له بهرنیو لاس وهنو سره اړه لري که چېرې دا لاس وهنې بندې نه شي په افغانستان کې به حالات یو ځل بیا د شر او فساد ډېر ناوړې مرحلې ته ورسېږي او هغه به یو ځل بیا د طالبانو غوندېیو ځوښېدلی، بیرنـي، او ګـړندی تحریك راپیدا کړي چې د شاوخوا د هېوادونو د مشرانو له سترګو به خوبونه وتښتوي.

موارد نقص موافقتنامه بن:

# ماجرا جویی بس است!

کانفرانس ۲۷ نوامبر ۲۰۰۱ بن در رابطه به استقرار صلح در افغانستان منجر به امضای یک موافقتنامه گردید. موافقتنامه توسط اعضای چار هیئت ذیل امضا شد:

هیئت قبرس، ممثل ستراتیژی ایران درافغانستان.

هیئت پشاور، ممثل ستراتیژی پاکستان در افغانستان.

هیئت ائتلاف شمال، ممثل ستراتیژی روسیه و ایران در افغانستان.

هیئت روم، ممثل ستراتیژی ائتلاف بین المللی در افغانستان.

ایجاد یک تعادل در انعکاس منابع ناهمگون و حتی متضاد کشورهای مداخله گر روسیه و ایران با پاکستان در متن موافقتنامه کار دشوار بود. اشکال کار وقتی بیشتر محسوس گردید که اقتضاحات ستراتیژیک امریکا و متحدین غربی در منطقه با منافع قوت های مسلط در ساحه در

متقابل آشکار قرار گرفت. از این گذشته اینهمه منافع غیر متجانس باید با مصالح ملی افغانستان که هیچ معلوم نبود که چه گروهی از آن نماینده گی می کند، در امتزاج قرار داده می شد.

هر کشور مداخله گری که در عقب برخی اعضای هیات اشتراک کننده قرار داشت (به استثنای هیات روم)، در انتظار این بود که در کانفرانس بن از ثمره سرمایه گذاری طویل المدت نظامی و سیاسی دو دهه خود در افغانستان بهره بردارد. برای سیاسی خود در داخل کشور غنایم دوران صلح را تدارک کند و راه اعمال نفوذ آرام و بی شرو صدای خود را در افغانستان پس از جنگ همولد نماید.

در کانفرانس بن اقلاً دو هیئت به نماینده گی از گروههای سابقاً مسلح وابسته به کشورهای مداخله گر همسایه اشتراک کردند. اینگروهها سابقه طولانی زدوخورد و برادر کشی با همدیگر دارند. آنها علی الرغم تدویر مذاکرات متعدد گذشته به تشویش کشورهای خارجی در اسلام آباد، پشاور، جلال آباد و مکه معظمه با همدیگر کنار نیاورده اند. عامل اصلی این عدم توافق آن بود که گروهیکه کابل را به مثابه سمبول سیاسی اداره افغانستان قبضه کرده بود و توازن شورا را به نفع خود می دید، حاضر نبود به آسانی دیگران را در اعمال قدرت دولتی شریک کند.

در کانفرانس بن چند عامل باعث ایجاد یک توافق سیاسی میان گروههای درگیر گردید:

شکست طالبان و بوجود آمدن نوعی خلاء قدرت در کابل. ائتلاف شمال به تحریک و کمک خارجی به سرعت این خلاء را پر کرد و با رضایت خاطر در مذاکرات سهم گرفت.

حضور نظامی امریکا در افغانستان و انتظار یک حکومت از آن کشور و از جامعه بین المللی از طرف گروههای شزه گر.

## فشار عظیم جامعه بین المللی :

موافقتنامه بن با شتاب زده گی به امید دریافت یک راه حل عاجل به قضیه افغانستان تحت تاثیر قهدی فکتورهای داخلی (با این باور جامعه بین المللی که افغانستان مرکز تروریزم بین المللی است) و خارجی (اقتضای ستراتیژی امریکا مبنی بر حصول کمک از گروه های ضد طالبان در مبارزه با تروریزم) به امضاء رسید.

جنگ جویان آماده گی کافی ذهنی و عقیدوی برای قبول مفاد موافقتنامه نداشتند. برخی کشورهای مداخله گر همسایه که منافع ملی خود را در ادامه جنگ در افغانستان جستجو میکردند و ازدور نمای استقرار ثبات سیاسی آینده در کشور سخت نگران بودند، در تقویت "مورال" جنگی تفنگ داران تلاش میکردند: ایران و روسیه اعلام کرد که برهان الدین ربانی رییس دولت قانونی افغانستان است. این اولین ضربه تبلیغاتی بر ضد تلاش های صلح بود.

در حالیکه نماینده گان سیاسی ائتلاف شمال در کانفرانس بن در حال چنه زدن برای دستیابی امتیازات بیشتر بودند، نیروهای نظامی تنظیم جمعیت به "برکت" بمباردمان امریکا بالای خطوط مقدم جبهه طالبان، شهر کابل و شهرهای شمال افغانستان را تصرف کردند. آنهم در شرایطی که در ماه اخیرسلطه طالبان، طالبان صرفاً به بیست روز وقت ضرورت داشتند تا کانون آخرین بغاوت را از قلمرو ملی نابود کنند. بعداً تنظیم جمعیت پیشروی نظامی در جبهات جنگ را نه به حساب مساعدت بمباردمان امریکا بلکه بر مبنای قوت خود حساب کرد و موافقتنامه بن را شدت تحت تاثیر مطالبات خود قرار داد. امتیازات زیادی بدست آورد و موافقتنامه را حد اقل طی شش ماه اول تطبیق آن با بی موازنه گی رو برو ساخت. جمعیت این شد که قوماندانان وابسته به گروههای پرخاشگر بار دیگر قلمرو افغانستان را به ساحات کوچک نفوذ خود تقسیم کردند و از

سلطه سیاسی تنظیم جمعیت در اداره عبوری اظهار نا رضایتی نمودند.

بهر حال! پس از امضای موافقتنامه، موضوع تطبیق آن مطرح گردید. طبق ضمیمه دوم فقره ۲ موافقتنامه، موسسه ملل متحد (م، م، م) موظف به نظارت بر تطبیق مفاد قرار داد شده است. اما تا حال هیچ یک میکانیزم دقیق و جدی برای جلوگیری تخلف از روحیه قرار داد، در عمل پیاده نشده است. احترام موافقتنامه صرفاً به حسن نیت و اراده نیک تفنگ بدستان که در گذشته امتحان خرابی در مورد قراردادهای صلح از خود به جا گذاشته اند، معمول شده است.

با آنکه بیش از دو ماه از امضای موافقتنامه نمی گذرد، ماشاهه نقض برخی مواد کلیدی قرارداد هشتم که در آن تنظیم جمعیت مسئوولیت اصلی را بدوش دارد: تنظیم موصوف در صدد برامده است تا با سوء استفاده از خلاء های میکانیزم کنترول تطبیق موافقتنامه "قدرت باد آورده" را به قدرت خودی و واقعی تبدیل کند، اهرهای اصلی فرمانروایی و حاکمیت را (اردو، پولیس، استخبارات و غیره) همچنان در قبضه نگاه داشته باشد وحریفان سیاسی را یکی پی دیگر ازصحنه بیرون براند. در این کار کشور های خارجی به شکل مخفی و علنی تنظیم جمعیت را تشویق می کند و یاری می رساند. ببینیم موارد نقص موافقتنامه بن طی قریب دو ماه از چه قرار است:

۱. در فصل سوم (اداره موقت)، فقره الف، بند ۳ چنین می خوانیم: "... انتخاب اعضای حکومت بر اساس کفایت مسلکی و اهلیت شخصی از جلسه لیست هاییکه از طرف مشترکین کانفرانس ارائه شده بود صورت گرفته و البته ملاحظات قومی، منطقوی و ترکیب مذهبی افغانستان... نیز در حکومت در نظر گرفته شده است."

از مجموع سی کرسی اداره عبوری در حدود هر ده چوکی (۴، ۵۰ فیصد) به اقلیت قومی تاجک های افغانستان تعلق گرفته است. در حالیکه تاجک ها در مجموع نفوس افغانستان (۲۰ ملیون)، ۲۰ فیصد آنرا ترکیب

می کنند. (احصائیه و فیصدی نفوس از جمله اخبار افغانستان (Les Nowvelles of Afghanistan) به زبان فرانسه. شماره **۵۳**، جون ۱۹۹۱ که در وابستگی عاطفی به تنظیم جمعیت، شهرت دارد گرفته شده است. بناً باید متوجه متداوم بودن مصنوعی احصائیه نفوس برخی اقلیت های قومی و تنزیل امار نفوس اکثریت قومی بود). از جمع ۳۰ کرسی اداره عبوری در حدود ۸ کرسی (۴، ۲۰ فیصد) به اکثریت قومی متعلق شده است. در حالیکه اکثریت قومی در مجموع نفوس کشور بیش از **۵۵** فیصد (از ماخذ قبلی گرفته شده است. فیصدی واقعی اکثریت قومی در افغانستان به امریکا آمار داخلی و خارجی از **۶۵** تا ۷۰ فیصد است)، را ترکیب می نماید.

از آنچه ذکر کردیم برمی آید که برخلاف حکم صریح فقره الف بند ۳ معاهده بن که در بالا ذکر کردیم، ملاحظات قومی به تعبیری که موافقتنامه ذکر کرده است (در واقع انعکاس ترکیب قومی جامع) در ساختار حکومت عبوری در نظر گرفته نشده است.

از این گذشته از مجموع ۱۸ چوکی اداره عبوری مربوط اقلیت تاجک های افغانستان، قریب ۱۰ کرسی به ولسوالی کوچک پنجشیر با داشتن صرفاً در حدود ۱۰۰ هزار نفوس، اعطا شده است. باقی۸ کرسی به سایر تاجک های افغانستان با داشتن بیش از ۴ میلیون نفوس تعلق گرفته است.

به سلسله استدلال بالا، اعطاة ۴، ۲۰ فیصد کرسی به اکثریت قومی در منطقوی "(این اصطلاح از موافقتنامه است)، در تشکیل اداره عبوری است. در فقره الف بند ۳ موافقتنامه بن در عین حال از "کفایت مسلکی" و اهلیت شخصی تعیینات در اداره عبوری صحبت شده است. این شراط نیز در تقرر اعضای حکومت در نظر گرفته نشده است: از مجموع ۳۰ تن اعضای اداره عبوری صرف ۱۲ تن "اشخاص مسلکی" و دارای "اهلیت شخصی و معلوم می شوند. بقیه ۱۸ نفر دیگر چنین اوصافی را دارا نیستند.

۲. در فصل پنجم (مواد نهایی) فقره ۲ موافقتنامه آمده است: "اداره موقت و لویه جرگه اضطراری مطابق اصول اساسی... عمل می کند". این اصول اساسی که به آن اشاره شده است، در واقع قانون اساسی سال ۱۹۶۴ است. این مطلب در فصل دوم موافقتنامه (چهارچوب قانونی و نظام قضایی) به شرح زیر صراحت بیشتر یافته است:

چهارچوب قانونی آتی بطور موقت قابل تطبیق است: الف قانون اساسی ۱۹۶۴م... به استثنای موادیکه با نظام شاهی و ارگان های قوای اجرائیه و مقننه اینکه در این قانون درج است، ارتباط دارد...".

لااقل دو موارد تخطی از احکام قانون اساسی ۱۹۶۴ به ملاحظه رسیده است:

الف- در مورد بیرق ملی: بیرق ملی مواد اعتبار در افغانستان طبق حکم ماده ۴ قانون اسای نافذ (قانون اسای ۱۹۶۴) همانا بیرق سه رنگ سیاه، سرخ و سبز افغانستان است. این حکم قانون اساسی در محفل انتقال قدرت تنظیمی به اداره عبوری (۲۲ دسامبر ۲۰۰۱) مراعات نشد. تنظیم جمعیت که از با طلاق "قوماندان گردشی" به همت امریکا قدعلم کرده بود، بدون درنظرداشت شرایط نو و خواست نو، باخیره سری، در برابر دیدگان کنجکاو و در عین حال چرت زده مردم افغانستان "پرچم" تنظیمی را برافراشت و محفلی را که می باید صیغه ملی میداشت و عاری از بت پرستی و تنظیم پرستی می بود در سایه فوتوی بزرگ شاغلی مسعود قوماندان محلی ولسوالی پنجشیر برگذار کرد. تنظیم جمعیت با این زست ثابت کرد که از نظر عقیدوي، ذهنی و روانی آماده برای حرکت از سوی هرج ومرج به طرف وحدت ملی و حرکت از ظلمت قرون اوسطایی جالب جامعه مدنی نیست.

ب- در مورد اسرای جنگی طالبان: ماده ۲۷ قانون اساسی مرعی الاجراء (۱۹۶۴) تصریح می کند: "هیچ افغان به علت اتهام به یک جرم به دولت خارجی سپرده نمی شود."

همین اکنون ده ها تبعه افغانی (طالبان) در بیرون قلمرو ملی تحت توقیف مقامات امریکایی قرار می گرفتند.

طبق صراحت قانون اساسی و در عین حال با ملاحظه روحیه قوانین بین المللی هیچگونه مجوزی در واگذاری آنها به یک کشور خارجی نمی توان قائل شد.

اداره عبوری با سکوت خود در قضیه در واقع عملاً عدم توانایی خود را در انجام یکی از وظایف ابتدایی یک "حکومت" (دفاع منافع اتباع) به نمایش گذاشته است.

۳. موافقتنامه بن در فصل سوم (اداره موقت)، فقره (ج) بند **5** خاطر نشان می سازد: حکومت موقت به کمک (م،م،م) کمیسیون مستقل خدمات ملکی را تاسیس می کند تا به اداره موقت و هم به اداره انتقالی • فهرست های کوتاه کاندید های مناسب برای اشغال مقام های کلیدی دواتر دولت و همچنان والی ها و ولسوال ها را تقدیم نماید. به نهویکه اهلیت، کفایت مسلکی و تقوای آنها نیز در نظر گرفته می شود. کمیسیون مستقل خدمات ملکی که می باید با آغاز کار اداره انتقالی تشکیل می شد و تعیینات مامورین عالی رتبه با اشتراک غیر مستقیم (م،م،م) نظارت می نمود، تا هنوز از قوه به فعل نیامده است.

تنظیم جمعیت با سوء استفاده از غیابت این کمیسیون به ده ها مامور عالی رتبه تنظیمی را طی دو ماه گذشته مقرر کرده است: قاضی القضات،شاروال کابل، والی کابل، والی غزنی مجموعاً سیزده والی ولایات مختلف وبه ده ها معینان و روسای ادارات از همین جمله اند. این مقرری ها می تواند مورد دیگری از نقض روحیه موافقتنامه و مظهری از تپ و تلاش تنظیم جمعیت برای دادن رنگ تنظیمی، قومی، منطقوی دلخواه به داره موقت باشد.

۴. در ضمیمه اول فقره ۴ موافقتنامه تذکر رفته است: "شرکت کننده گان در مذاکرت ت(م،م،م) در باره افغانستان متحد می شوند تا تمامی

واحدهای نظامی را از کابل و مراکز سایر شهرها و مناطق دیگر که در آن نیروهای مجاز (م،م،م) مستقر می شوند، خارج کنند...).

تنظیم جمعیت که پیروزی نظامی امریکا را در طرد طالبان به حساب موفقیت خود قیاس می نماید، علی الرغم تقاضای مصلحت ملی و با وجود درخواست قوماندانی قوای چندین ملکی در افغانستان، حاضر نشده است، نظامیان و ملیشای خود را از بارک های داخلی و اطراف شهر کابل به بیرون انتقال بدهد. از قراین چنین برمی آید که تنظیم جمعیت به موافقت پروسه صلح در چوکات موافقتنامه بن باور ندارد و قوای خود را برای جنگ های آینده در موضع "تیارسی" قرار داده است. عکس العمل طبعی این امر در میان تاثیر گروهای ستیزه جو همانا آماده گی بالمقابل برای احضارات جنگی می باشد که در مواردی با مداخله غیر مستقیم همسایگان (مثلاً ایران) توام بوده است.

۵. فصل چهارم موافقتنامه به تشکیل کمیسیون ۲۱ نفری مستقل اختصاصی تدویر لویه جرگه اضطراری وقف شده است. موافقتنامه شرایطی را در تشکیل این کمیسیون تعین می نماید از جمله:

الف- اعضای کمیسیون از بین فهرست نام های برگزیده خواهند که توسط اشتراک کننده گان مذاکرات (م،م،م) و همچنان توسط افغانهای ملکی و گروههای جامعه ملکی ارائه میشود. م،م،م در زمینه تاسیس و فعالیت وظیفوی این کمیسیون... کمک خواهد کرد." در این فقره منظور از "افغانهای مسلکی" غالباً حقوقدانان، سیاستمداران، جامعه شناسان، اتنولوگ ها و غیره است. "گروههای جامعه ملکی"، سازمان های سیاسی اتحادیه های صنعتی، انجمن های کلتوری و غیره را احتوا می کند.

طبق معلومات بدست آمده م،م،م که عملاً وظیفه ترتیب لست ۲۱ نفر کمیسیون اختصاصی را به عهده گرفته است، با "افغانهای مسلکی" و "گروههای جامعه ملکی" (این اصطلاحات از موافقتنامه است) در زمینه ترتیب لست مشوره نه کرده است. از هیچ یک گروه حزبی، فرهنگی و غیره

درخواست ترتیب لستی که بعد از آن با جمع بندی لست ها، لست واحد ۲۱ تن عضو کمیسیون تدارک شود، نشده است.

ب- عده یی از اعضای کمیسیون باید واحد صلاحیت" اختصاصی در حقوق اساسی یا حقوق عرفی باشند.

چنانچه معلوم می شود که در جلسه بن وارد بودن به حقوق اساسی بمثابه پیش شرط عضویت کمیسیون اختصاصی (برای برخی اعضا) تدویرلویه جرگه اضطراری از جانب کدام اشتراک کننده در کانفرانس بن به شیوه شتاب زده. پیشنهاد گردیده و به سرعت بدون در نظر گرفتن محل مناسب آن در متن موافقتنامه تعبیه گردیده است.

اساساً تشکیل دو کمیسیون در ارتباط تشکیل دو لویه جرگه در. موافقتنامه پیش بینی شده است: یکی در مورد لویه جرگه اضطراری (بغرض تعیین دادن رای اعتماد به حکومت انتقالی) و دیگری در باب لویه جرگه موسسان (به قصد تشکیل حکومت دارای قاعده وسیع). کمیسیون اخیرا الذکر دو ماه پیش از آغاز کار حکومت انتقالی از جانب حکومت موصوف به مساعدت م،م،م برای تدویر لویه جرگه موسسان و در عین حال تسوید قانون اساسی تشکیل میگردد. فقط در همین کمیسیون باید در موافقتنامه تصریح می شد، تذکر داده نشده است)، نه در کمیسیون موظف به تدویر لویه جرگه اضطراری (مراجعه شود: فصل چهار و موافقتنامه) (این موضوع که باید در موافقتنامه تذکر داده نمی شد، تصریح شده است).

این نکته نیز قابل یاد آوری است که در موافقتنامه بعوض اصطلاح تکنیکی لویه جرگه موسسان Grandde Assemlelee Cons Tituante (موظف به تصویب قانون اساسی) به غلط ترکیب لفظی "لویه جرگه قانونی" ذکر شده است. (مراجعه شود مفصل اول، فقر ۶).

بهر حال! هرگاه ما متن موافقتنامه را مبنایٔ صحبت خود قرار بدهیم باید بگویم که شرط دسترسی برخی اعضای کمیسیون به حقوق اساسی و

حقوق عرفی انطوریکه موافقتنامه تصریح می کند، در تشکیل کمیسیون مراعات نشده است.

از جمله ۲۱ عضو کمیسیون صرفا دو تن سطح عادی نه "اختصاصی" (انطوریکه موافقتنامه ایجاب میکند) در حقوق اساسی و حقوق عرفی کم و بیش بلدیت دارند.

کمیسیون اختصاصی تدویر لویه جرگه اضطراری در واقع پل ارتباط از اداره عبوری به سوی حکومت ممثل اینده افغانستان است. نظر به اهمیت این کمیسیون در دادن شکل به نظام سیاسی و حقوقی اینده کشور باید در ترکیب ان حد اعظمی تلاش بعمل می امد تا صیغه ممثلیت ان معروض به سوال نگردد.

چنین نه شد! در کمیسیون واقعیت های قومی جامعه افغانی انطوریکه انتظار میرفت، منعکس نگردید. از اکثریت قومی صرفا سه تن در مجموع ۲۱ نفر عضو کمیسیون برگزیده شد. این تعداد با وزن قومی اکثریت مذکور در دوران جامعه هم اهنگی ندارد.

بناء لست اعلام شده ۲۱ نفره روحیه موافقتنامه و معدله قوای اجتماعی در ان منعکس نشده و از رهگذر اعمال نفوذ یک جانبه گروه مسلط در اداره عبوری در تنظیم ان کاملا بی موازنه معلوم می شود، چطور عرض وجود کردم این سوال متوجه نماینده م،م،م است.

اگر این مطلب را بپذیریم که جناح جمعیت- پرچم اداره عبوری در تنظیم لست کمیسیون اعمال نفوذ کرده است، در انحال نقش بیطرفانه م،م،م انکشاف پروسه صلح در افغانستان که موافقتنامه روی ان تاکید کرده است، بشدت در معرض سوال قرار می گیرد. در مقدمه موافقتنامه بن درج است: "م،م،م به صفت یک سازمان غیر جانب دار شناخته شده بین المللی نقش عمده و خاص را در دوره قبل از ایجاد موسسات دایمی در افغانستان دارد می باشد".

در ضمیمه دوم، فقره سوم خاطر نشان گردیده است: "م،م،م اداره موقت

را در ایجاد یک محیط سیاسی بیطرف مشوره میدهد، تا برای برگزاری لویه جرگه اضطراری، آزاد و عادلانه کمک کند. م،م،م توجه خاص را در زمینه سلوک آن اشخاص و موسسات حکومتی مبذول خواهد داشت که در تدویر نتایج لویه جرگه اضطراری نفوذ مستقیم داشته باشند."

به امید اینکه م،م،م وظیفه خود را در تطبیق مفادت حکم ضمیمه دوم فقره سوم آنطوریکه در بالابه آن اشاره شد با جدیت و احساس مسئوولیت ادا کند، این نکته را قابل تذکر می دانیم که موافقتنامه علی الرغم ابهام و عدم انسجام برخی مواد خود، میکانیزم بی غل و غشی را در رابطه به نظارت بر چگونگی تطبیق احکام موافقتنامه می گوید: "نماینده خاص م،م،م بر اجرای تمام جوانب این موافقتنامه نظارت و کمک می کند". اما در اینکه در برابر مختلف از چه مویده یی (مجازاتی) باید استفاده شود، قرار داد سکوت کرده است. و این بزرگ ترین خلا موافقتنامه است.

با اینهمه مکلفیت اداره موقت در رعایت معاهدات بین المللی که موافقتنامه بن یکی از آنها است، در فصل پنجم (فقره۲،۳) با صراحت بیان شده است.

بالنتیجه مسئوولیت بخش عمده تخلفات از احکام موافقتنامه بن آنطوریکه تصریح گردید متوجه گروه مسلط در اداره عبوری است: گذشت صرفاً دو ماه و این هم تخلف واقعاً این دو سوال را خلق می کند ه اولاً آیا گروه جنگی ایکه الگام رهبری وزارت های کلیدی (مراکز ثقل قدرت) را قبضه کرده است، آماده گی عقیدوی و ذهنی برای قبول موازین صلح آنطوریکه در موافقتنامه ذکر شده و در پای آن گروه مذکور امضا کرده است، دارد؟

و ثانیاً آیا م،م،م در تحقق پروسه صلح مسئوولانه، بیطرفانه و صادقانه عمل می کند؟

ما به شکل صدای احتجاج خود را به تسمع مسئوولین م،م،م رسانیده می توانیم. اما به وطندارانیکه بصورت مستقیم یا غیر مستقیم در امر

مختلف از روحیه قرارداد بن مسئوول شناخته می شوند و نوشته رویدست از نظر شان می گذارد، پیام ملت در به در و خاک بسر افغانستان را چنین خاطر نشان می سازیم.

مخالفت با موافقتنامه بن، مخالفت با استقرار داعیه صلح در کشور است. تا همین اکنون بار گردن جنایت متنی بر سبوتاژ پلان صلح م،م،م در ۱۹۹۲ بروی شانه های شما سنگینی می کند. با مخالفت یا آن آخرین چانس صلح در کشور، دست از تباهی بیشتر روم بردارید و لست جنایات خود را طولانی نسازید.

ماجرا جویی بس است.

# پښتانه تل د تورې سپر

چې بې تا چا ته ټيټ نه شي ننګيالی زما ژوندون کړه
زړه زمـا دې مسلمان وي تفکـــر مې د پښتون کړه

حمزه بابا

پښتـون هغـه څوك دی چې ديـن يې اسلام. ژبـه يـې پښتـو. قـانون يـې پښتونولي او زانګو يې پښتونخوا ده. يو پښتون همېشه لومړی مسـلمان او بيا پښتون وي نه دا چې لومړی پښتون بيا مسـلمان. د هر پښتانـه زړه بـايد مسلمان او تفکر يې بايد پښتون وي. که نه ارو مرو به يو نيمګړی پښتـون وي او دا هغه واقعيت دی چې تـاريخ پـه اثبـات رسولی دی. پس لـه دې نـه معلومېږي چې "اسلام" او "پښتونولي" دوه هغه بنسټيز عنصره دي چې نننی پښتون ورڅخه جوړ دی. يانې دغه دوه عنصره د سوچـه پښتـون جوړونې پـه بهير کې مستقيم تناسب سره لـري. پـه بـل عبـارت. کـه يو پښتـون سوچـه مسلمان نـه وي نـو بيـا سوچـه پښتـون کېدای هم نه شي. کټ مټ کـه يـو پښتون په مانا کې پښتون نه. بلکې يوازې مسـلمان وي نـو پـه هغـه صـورت کې بـه بيـا هم بشـپړ پښتـون نـه. بلکې د نـور اسلامي امت غونډې بـه يـو مسلمان وي او بس چې په دې صورت کې پر خپـل پښتونوالي د ويـاړ لرلـو

حق اصولاً لـه لاسـه ورکـوي. کـه مـوږ تـاريخي او معـاصرو شـخصيتونو، تحريکونو او کوندونو ته ښه ځير شو چې جوهر يا مشري يې پښتني وه. نو پورتني انګېرنه به د لمر غونديږ راته ډاګيزه او ثابته شي.

پښتانه آن تر ځوارلس پېړيو اخوا ياني کله چې په اسلام نه وو مشرف شوي، د پښتونولۍ په ټينګو مزو سره تړلي وو. دا تړنه د اسلام په سپېځلي دين تر مشرفېدو وروسته هماغسې پايېدلې چې تر ننه د هغوی په معنوي ژوندانه کې ټينګه نغښتې ده. پښتانه په آسيا کې يوازېنی قوم دی چې تل په ځانو او خپله پښتونولۍ باندې وياړي. ژبه يې پښتو. قول يې پښتو. عزم. کلتور او لنډه دا چې هرڅه يې له پښتو جوړ شوي دي. پښتنو له آدمنه تر دې دمه دماغ لږ. مکر توره خورا ډېره استعمال کړې ده او ځکه نو تل د تورې- سپر پاته شوي دي.

که موږ تر اسلام راوروسته د پښتنو تاريخ ته يوه ځغلنده کتنه وکړو نو وبه ګورو چې پښتنو د وخت هر فاتح ته لښکر جوړ کړی او د خپلو متو په زور يې نورې امپراتورۍ ته رسولي. مګر په خپله د امتياز پر وخت شاته درېدلي دي. يعقوب ليث او لړۍ يې. سلطان محمود غزنوي او لړۍ يې. مغولي بابر او لړۍ يې. نادر افشار او نور ټول د پښتنو په توره سوبمن وو.

د کسي غره لر او بر ياني د پښتنو د خاپوړو سيمه يا لويه پښتونخوا تل د بېلابېلو يرغلګرو د آسونو تر لتېپير لاندې پاته شوې ده. هر واکمن زيار ايستلی چې د لويې پښتونخوا توريالي سره متحد نه. بلکې يو تر بله مخالف آن متخالف کړي. تر څو هغوی بريمن وي. نورو ځکه دغسې کړي چې د پښتنو همت او صداقت ورته ثابت و. دغه همت او صداقت په عين حال کې د پښتنو په زيان هم تمام شوی دی. نورو تل ناز پرې کړی او دوی منلې چې په نتيجه کې يې خپل کور په خپل اور سره سوځېدلی هم دی.

که په اسلام تر مشرفېدو وروسته د پښتنو سياسي تاريخ ته ښه ځير شو. نو هغوی له دوه عمده پړاوونو څخه ننني حالت ته را رسېدلي دي. په

دې واړو مرحلو کې هغوی تل د توري سپر یانې د قربانیو او سرښندنو اتلان پاته شوي دي. دغه هر پړاو څه کم او زیات پنځه پېړۍ په بر کې نیولې چې مختصراً یې داسې ځېړو: لومړی د ظهور او تشکل دوره. دویم د ملت جوړونې دوره او دریم د واکمنېدو دوره.

لومړنۍ دوره په بست. غور. غزني. ګومل او کندهارا کې د پښتنو مسلمانېدل او یو تر بله د اړیکو ټینګول په بر کې نیسي. دا مرحله د لومړۍ هجري پېړۍ له وروستیو څخه را پیل او د غزنویانو تر واکمنۍ پورې یانې څه ناڅه پنځه سوه کاله پایښت کوي. پښتانه په دې پنځو پېړیو کې ورو ورو د اسلام دین مني او د اسلام مجاهدین له هغو پښتنو سره په مسلسلو جګړو بوختېږي چې لا مسلمانان شوي نه وو. د بست. داور. غور او زاول پښتانه په لومړۍ هجري پېړۍ کې مسلمان شوي. خو د ختیزو سیمو یانې د سلېمان غره او سپین غره پښتانه د اټک تر غاړو پورې وروسته مسلمان شوي دي. په دې دوره کې مسلمانو پښتنو د عرب مجاهدینو په ملګرتیا له نامسلمانو پښتنو سره پرله پسې جګړې کړې چې د جګړو او جرګو په نتیجه کې تر پنځمې هجري پېړۍ پورې تقریباً ټول پښتانه په اسلام مشرفېږي. له دې څخه معلومېږي چې دا مرحله که څه هم د پښتنو د ظهور او تشکل بهیر رانښيي مګر بیا هم د جګړو دواړې خواوې پښتانه وو. یانې هم توره او هم سپر. په دې اړه د حدودالعالم نوم ورکې لیکوال په ۳۷۲ هجري کې. ابو نصر محمد بن عبدالجبار العتبي په ۴۱۵ هجري کې. ابو ریحان البېروني (د ۴۴۰ هجري متوفي). ابن اثیر نومور عربي مؤرخ په ۴۰۹ هجري کې. ابن منصور (مشهور په مبارك شاه فخر مدبر) او د شاهنامې لیکوال فردوسي ټولو په خپلو آثارو کې پاخه شواهد بیان کړي دي.

## دویمه دوره - ملت جوړونه :

دا پړاو د غور. غزني. بست. زابل. ګردېز. ګومل. پېښور او لغمان د پراخو سیمو د پښتنو مهاجرتونه. یو تر بله نژدې کېدل او یو موټي کېدل په بر کې نیسي. هغوی په خپلو کې خپښی او دوستی کوي. یو تر بله اړیکې ټینګوي او ستونزې سره حلوي. د بېلګې په توګه د یوسفزو او نورو پښتني قومونو یون له کندهاره د کابل او ننګرهار له خوا د پېښور او سوات سیمو ته چې مشران یې مداد. مدو. شیخ عثمان. سلطان شاه او نور وو. د ازمانه په ۹۶۰ میلادي کې یانې د سلطان محمود غزنوي له واکمنېدو څخه پنځه پېړۍ دوام کوي. خو چې په ۱۵۲۶ میلادي کې د مغل بابر په واسطه د لودي پښتنو د کورنۍ په سقوط سره پای ته رسېږي. دا مرحله د پښتنو د توري او قوت زمانه ده چې په نړیوالو چارو کې د دوی اهمیت ځرګندېږي. په دې دوره کې پښتانه د لویې پښتونخوا له پراخو سیمو څخه یو بل ته سره نژدې کېږي. د دې پیوستون اصلي فکتورونه د هغوی ګډه وینه او اسلام قبلونه پېژندل شوې ده. د دې پښتني جونګړې دېوالونه د هغوی ګډه وینه او چت یې اسلام و. چې په دې ودانه وه.

پښتنو د ملت جوړونې په بهیر کې خپل یووالی تامین او لویې پاچاهۍ یې جوړې کړې مګر تر وطن د باندې یانې په هندوستان کې. د لویې پښتونخوا ټول پښتانه بیا هم یا خو توره او یا هم سپر وو. ځکه بېلابېلو واکمنانو لکه سبکتګین. سلطان محمود. بابر. غوریانو. لودیانو. خلجیانو او وروسته سوریانو یو د بل په پلوۍ یا دښمنۍ کې د هغوی له توري او سپر څخه کار اخیستی دی. د بېلګې په توګه سلطان محمود غزنوي په ۱۰۰۵ میلادي کې د ملتان او کسي غره د سلطان داود لودي په مشرۍ د پښتنو پر واکمنۍ برید وکړ او پښتني لښکرو ښارونه ورته وتړل او ملتان کلابند شو. تر اوو ورځو کلابندۍ وروسته فیصله وشوه چې د ملتان

پاچا به د کاله شل زره سره درهمه په شل پلا د غزني حکومت ته ورکوي. د ښار دروازې چې کله پرانیستل شوې. نو سلطان محمود توره وکښله او هومره پښتانه یې ووژل چې د ملتان د ښار تر لاهوري دروازې پورې وینې راوبهېدې او د سلطان لاس د توري په موتي پورې له ډېرو وینو هسې موښتی و څو چې تودې اوبه یې پرې توی نه کړې بېل نه شو. هو. پښتانه یو ځل بیا هم توره او سپر

## درېیمه - د واکمنۍ کېدو دوره:

دا مرحله د ۱۵۳۹ میلادي کال یانې د پښتون شېرشاه سوري له واکمنۍ څخه راپیلېږي چې د پنځو پېړیو نوساني مداوجزر وهلو څخه وروسته تر نن ورځې رارسېږي. دا چې د پښتنو د ټولنیزې او سیاسي ودې د بهیر په پرمختیا کې دغه پړاو غوڅ اهمیت لري نو ښه به دا وي چې څه ناڅه زیات پرې وغږېږو. پښتون تېر نور نو د خپل تاتوبي په وینو ساتنې او خپل ملي پیوستون ته اوړه ورکړه. د لر او بر لویې پښتونخوا تیت او پرکو پښتنو د تېرو پنځو پېړیو پر مهال دوو تینګو کړیو چې یو یې اسلام او بل یې پښتونولي ده سره وتړل. دا نوښت د پښتون شېرشاه سوري له امارت څخه را پیلېږي. د شېرشاه سوري لنډه پاچاهي د پښتنو یووالی. حکومت چلونه او برم په تاریخ کې ثبت کړی دی. هغه د پښتنو په یو ځای کولو او اتفاق راوستو کې بریالی هڅې وکړې. په پنځو کالو کې یې پردی وطن د پښتني لښکرو په واسطه خپل کړ. دا لومړی ځل دی چې پښتانه د پښتنو په اصلي مفهوم سره سیاسي واک اخلي او واکمني یې د اسلام تر سیوري لاندې د "پښتونولي" د اصولو له مخې چلېږي.

شېرشاه سوري بېلابېلو پښتني قومونو ته داسې خطاب کاوه: "ای پښتنو! په خپلو کې قبیلویت پرېږدئ. بلکې قوم ولي را پیل کړئ" (چې

مطلب يې له پښتون ولۍ څخه دی) خوشال ختك د غوپښتني پاچاهيو ته داسې اشاره کوي:

د شېرشــــاه او د بـــــهلول خــــبرې اورم
چې پـه هنـد کـې پښتانـه وو پـاچاهـان
شپږ اووه پـېړۍ يـې هسـې پـاچـاهي وه
چې په دوی پورې درست خلك وو حيران

د شېرشاه سوري واکمنـي د اسـلام تـر واقعـي جنـډې لانـدې لومړنـۍ واکمني ده چې په بالقوه او بالفعله ډول پښتنو مخته بېول. د هغه تر ناڅاپي مړينې وروسته پښتانـه يو ځل بيا د تـورې او سپر تـر منځ راغلـل چـې پـه لکونو کسانو خپلې ککرۍ وښندلې.

د مغلو ظالمانـه تېريـو او د پښتنو يو پـه بـل سره جنګول هغوی زيات وځپل. په اوولسمه پېړۍ کې شيباني او استراخاني دولتونو د آمو لـه پورې غاړې. ايراني صفويان له جنوبه او هندي مغولان لـه ختيـځه خپلـې واکـې تـر افغانستان راغزولې. دغو پېړۍ شموله تېريو او پوځ کښيو پښتانـه زېږه او تند خويه کړل. د آزادۍ په اهميت يې پوه او پر هغه يې مينان کړل. پښتنـو د تاريخي مخکښانو په حيث د وطن د دښمنانو او يرغلګرو پر ضد قوي ترين مقاومت کړی او تر هر چا يې زښت زيات سرونه نذرانه کړي دي.

د شېرشاه تر واکمنۍ وروسته په اوولسمه پېړۍ کې د روښانيانو ازادۍ غوښتونکي تحريك هم جنډه رپوله او په لکونو پښتانه يې تر لاندې جنګېدل چې هم توره وو او هم سپر. وروسته د ختېکو. يوسفزو او نورو خپلواکيزه پښتني غورځنګونو هم اسلامي صبغه لرله چې د مغولو پر خلاف يې سختې قربانۍ ورکړې دي.

هوتکيانو د اتلسمې پېړۍ په پيل کې د ايرانـي صفويـانو پـر ضد د يـوه ګرندي عمل په ترځ کې د هېواد جنوب لـه متعصبو ايراني يرغلګرو څخه پاك او په دې ډول يې د روښانيانو. ختېکو او يوسفزو راروان کړ مشعل خپل

تاپي ته خېرمه کړ. د میرویس نیکه دولت د معاصر افغانستان د ملي جوړښت لومړنی بنسټ بلل کېږي. چې اسلامي ارمان او جوهر یې درلود. نادر افشار په ۱۷۳۸ کې.کندهار تر یوولس میاشتو کلابندۍ وروسته ونیو او پوځونه یې د سېل غوندې پر ښار ورپرېوتل چې په لسګونو زره پښتانه یې له تېغه تېر کړل.

نادر په شمال کې د ترکانو او ازبکانو. او په ختیځ کې د مغلانو واکمنۍ ځپانده او بې سېکه کړې حال دا چې په افغانستان کې د هرات د ابدالي او د کندهار د هوتکي پښتني حکومتونو په سقوط سره ټول پښتانه د بهرني واك پر ضد جوپه جوپه سره یوکېدل.

په ۱۷۴۷ کې د نادر افشار په محض وژني سره د ایران له هېواده شپږ بېلابېلې پاچاهۍ راووتې او ایران عملاً تجزیه شو. په بخارا او ماوراء النهر کې هم ازبکي او جنیدي دولتونه د نادر د زیاتو بریدونو له امله په بېلابېلو ملوك الطوایفو سره محکوم شوي وو. هلته په هند کې د مغلو تش په نوم دولت د مرهته او سیکانو د راپورته کېدو په وجه د مرګ او ژوند په حال کې وو. خوارزم او ترکیه په خپلو کورنیو قهارو ستونزو کې ډوب وو. د افغانستان ټول ګاونډیان په خپلو دردونو او عذاب اخته وو چې یوه لا هم پر بل د هر ډول بري توان نه درلود حال دا چې د پښتونخوا سیاسي- پوځي جوړښت په بیړه بشپړېده او د ملي پیوستون بهر خپل تاپي ته رسېدلی و. د همدې تاریخي ضرورت له مخې د شېر سرخ لویې جرګې د ۱۷۴۷ په جولای کې د احمدشاه بابا تر مشرۍ لاندې د "افغانستان" واحد سیاسي دولت جوړ او اعلان کړ. دغې واکمنۍ یو ځل بیا د شېرشاه سوري او میرویس نیکه د حکومتونو غوندې اسلامي صبغه لرله چې پښتانه بالفصله او بالقوه چلوونکي وو.

په ۱۷۷۲ کې د احمدشاه بابا په وفات سره پښتانه بیا د تورې او سپر تر منځ کښېوتل په تېره بیا په ۱۷۹۳ کې د تېمورشاه تر مړینې وروسته

افغانستان ته په عام ډول او پښتنو ته په خاص ډول د بدمرغیو او ځپنو مخ شو. پښتانه د بېلابېلو شهزاده ګانو تر منځ وویشل شول. لومړی سیکان او بیا انګرېزان راغلل چې ټول یې په وینو کې ولمبول. هره خوا بې اتفاقي او پښتون وژنه خپره شوه. دا وضعه یوه نیمه پېړۍ دوام کوي خو د شوروي یرغل تر بل هر وخت زیات پښتانه په تورو وپېیل.

په ۱۸۳۹ کې پر افغانستان د انګرېزانو اول برید په دوو کالو کې په لس ګونو زره پښتانه له تېغه تېر کړل او دا جګړه په هغو سیمو کې جاري وه چې نژدې ټول اوسېدونکي یې پښتانه دي لکه کونړ. خوګیاني. باجوړ. نجراو. استالف. کابل. لوګر. خوردکابل. وردګ. غزني. کلات. خیبر او نور. په دې جګړه کې اویا زره پښتانه له تېغه تېر شول.

د ۱۸۷۸ د نومبر پر ۲۱مه څلوېښت زره انګرېزي پوځ پر افغانستان دویم ځل برید وکړ. دغه برید له دوو لارو (یانې خیبر. کورمې او پښین له خوا) مخ پر جلال آباد. پکتیا او کندهار وشو چې بیا هم پښتني سیمې لتېپیر او پښتانه د تورو سپر شول. د میوند جګړه او د کابل پاڅون یې ښې بېلګې دي. په شمال کې عبدالرحمن خان بېله جنګه او له برتانویانو سره د معاملې په نتیجه کې کابل ته راورسېد. خو په جنوب کې ایوب خان د هلمند او کندهار په محاذونو کې د انګرېزانو پر ضد لویې کارنامې ثابتې کړې یانې هلته سودایني او دلته جهاد. د درېیو زرو برتانوي پوځیانو او څلوېښت ملیونو پونډو په بدل کې په لسګونو زره پښتانه له منځه لاړل او سیمې یې له میوند څخه تر زابل. غزني. وردګو. لوګر. پکتیا. کابل او ننګرهاره پورې لوټې شوې.

په ۱۹۱۹ کې تر انګرېزانو وروسته مخامخ جګړه یو ځل بیا د کندهار. پکتیا او جلال آباد په محاذونو کې د پښتنو د سرونو په سودا وګټل شوه چې ثمره یې د افغانستان خپلواکي ده. دا صحیح خبره ده چې پښتانه له ازله د توري لوبغاړي او پر آزادۍ مینان دي او خپل دا شهامت یې د

انګرېزانو پر ضد په دوو واړو جنګو کې عملاً ثابت کړې هم دي.

د ۱۹۷۸ د ثور کودتا په تمام ډول او د ۱۹۷۹ د شوروي یرغل په خاص ډول پښتنانه او د هغوی سیمې بیا تر مېچن لاندې کړل. د "سوځونکې مځکې" تګلاره تیوله په جنوب لوېدیځ. جنوب او ختیځو سیمو کې مرعي الاجرا وه تر څو پښتنانه چې تل د وطن د دفاع اتلان ثابت شوي په مرګ یا دربدره کېدو سره محکوم کړي. په ټول افغانستان خصوصاً هرات. هلمند. کندهار. زابل. غزني. لویې پکتیا. لوګر. وردګو. کابل. لوی ننګرهار. بغلان. کندز. پروان. کاپیسا او نورو کې د شوروي یرغلیز ځواک په وړاندې غوڅ مقاومت وشو نو ځکه هغوی هم د غچ په توګه د خپلو ځناوریزه عملیاتو.تېره څوکه د نوموړو سیمو مجاهدینو ته واړوله. هغوی ګڼیا وو چې د افغانستان پر ستوني پښه کښېږدي مګر کله چې یې شاته وکتل نو اسلامي انګازې منځنۍ آسیا ته ورڅخه اوښتې وې یانې هغوی (زموږ کښتۍ ډوبوله خو خپل دریاب یې توپاني شو). کریملن له دې لومې څخه د ځان بچولو په اسره سره پوځ ته لارښوونه وکړه چې له خپلو ګومارلو سره له یوې خوا او د مقاومت له دښمني څخه د سوداینپالو قوماندانانو سره هم له بلې خوا پټې اړیکې پرانیزي. نو هماغه وو چې د "ملیتونو!" تر نوم لاندې یې د "کاسکډ" خپله ککړه تګلاره پلې او د هغې له مخې یې لړکي کامونه (لکه تاجك. ازبك. هزاره او ترکمن) ځانمنۍ او بېلتونولۍ ته ولمسول. ترڅو د غیرتي پښتنو پر وړاندې یې استعمال کړي. د دې شومې تګلارې لومړی پړاو په ۱۹۷۹ واکي د سره پوځ د وسلوالې ننوتنې څخه د ۱۹۹۲ په اپرېل کې د هغوی د لاسپوڅي رژیم تر ګډوډېدو پورې پایښت کوي حال دا چې دویم پړاو یې د مرموزو مجاهدینو څلورنیم کلنه ظالمانه موده په بر کې نیسي چې د ۱۹۹۶ په سپتمبر کې پای ته رسېږي. په لومړني پړاو کې کمونیستو ستمي څېرو (لکه کارمل او د هغه باند. ډاکتر نجیب او د هغه ګومارلو. کشتمند او د هغه نژادپالو. محبوب کوشاني او

د هغه پردیپالو...) او په دویم پړاو کې مرموزو تنظیمي څېرو (لکه برهان الدین رباني او لنډه غرو یې. احمدشاه مسعود او پېرېدلو یې. دوستم- مزاري- خلیلي- سید کیان او ببر سرو یې او نورو ځانپاله ملېشو) د کریملن کاسکډ بېړۍ پر مخ بوتله.

شوروي وروسته د هندوکش په شمال کې ولایتونه (لکه فاریاب. جوزجان، بلخ، بغلان. کندز. تخار. بدخشان. پروان او بامیان) چې اوسېدونکي یې زیاتره غیر پښتانه دي له افغانستان څخه بېل او د قومي تړاو له مخې د شوروي په بېلابېلو جمهوریتونو پورې تړل. له بلې خوا د کابل ګوډاګي رژیم د کریملین د لارښوونې له مخې د نوموړو لړکیو د ژبې او کلتور د ودې په نوم هغوی تحریك د شوروي په سیخ وپېیل. دې وضعې د پښتنو په وړاندې د دې اقلیتونو د بېلتون او له هغوی څخه د واټن نیولو غلطې مفکورې را وزېږولې او په دې ډول یې د خپلو پښتنو په پرتله د پولې اخوا تاجکو. ازبکو او ترکمنو ته ترجیح زیاته شوه. دا ټول د کاسکډ عملیاتو جزئیات وو چې په لومړني ګام کې یې د افغانستان د شمال څارنه مستقیماً د کې جي بي کارډ واخیسته. د دې عملیاتو دویم ګام په همدې نهو ولایتونو کې له غیر پښتون توکمونو څخه د روزل شویو پوځي ملیشو جوړول او هلته قدرت ورکول وو (لکه جوزجاني او اسماعیلي ملېشې). د کاسکډ درېیم ګام د افغانستان مقاومت څخه د غیر پښتني ډلو رابېلول او په دې پلان کې یې ورګډول وو. دا دنده سره پوځ ته وسپارل شوه او ستر برې په ۱۹۸۳ کې د څلوېښتمې شوروي فرقې په برخه شو. د دې فرقې استخباراتي یونټ د جمعیت اسلامي یوه لویه کتله د احمدشاه مسعود په مشرۍ رابېله او کاسکډ ته یې ور دننه کړه. دا لاسته راوړنه د شوروي لپاره تر ټولو ستر بریالیتوب ګڼل کېږي. چې د افغانستان د اوسني ناورین بنسټ ورجوړوي. د دې منحوسې ژمنپانې تر لاسلیك وروسته په کریملین کې جشنونه ونیول شول او مسعود په ډالرو کې ولوېد حال دا چې له هراته

نولې تر کندهاره. غزني. پکتیا. مشرقي پوزې افغانستان د سور پوځ تر اور لاندې سره لمبه و. تولې پښتني سیمې له هوا نه تر سختو بم واریو او له مځکې نه د ټانکونو او توپونو تر انداخت لاندې وې. خو په سالنګ کې پټې معاملې او د شوروي پوځیانو سره تږکې تګکالې روانې وې. له بلې خوا جوزجاني ملېشې د رشید دوستم په قومانده په کندهار کې چنګېزي ظلمونه وکړل چې ډاکټر نجیب په بدل کې د "اتلولی" په مډالونو سره وستایل.

برهان الدین رباني د ۱۹۹۲ په فبروري کې د افغانستان په تولو شیعه اوسېدونکو او پارسي ژبو سیمو کې د ایران په مرسته د کلتوري او مذهبي سیستمونو په تاسیس کې د ایران د لاسوهنو هرکلی وکړ.

نجیب د کریملین د کښېکښنې په وجه د بینن سیوان په منځګړتوب د ملګرو ملتونو پلان ومانه خو هلته د ماسکو- تهران په لمسون د "شمال ائتلاف" مځکې لا یوه کودتا طرحه او را روانه کړې وه. د دې ائتلاف تر منځ یوازېنی ګډ ټکی هماغه د پښتنو ضد دریځ و د کوم لپاره چې تاسیس او پارول شوی و. په پېښور کې جمعیت په ډاګه کړه چې "سیمه ییزه ملېشې او پوځي ځواکونو له کابل او پښتنو سره د مخالفت په وجه خپل دریځ بدلوي". نجیب هم مجبورا پر خپل پوځ زوغ وکړ چې له جګړې لاس واخلي او له مقاومت سره مل شي. ائتلافي ځواك د ۱۹۹۲ د اپرېل په وروستیو کې کابل ته راورسېد. له نجیب څخه نور نو لاره ورکه شوه او بالاخره د ملګرو ملتونو نماینده ګۍ ته ننوت چې د خپل ژوند تر پایه هلته څملاست. د نجیب ماسکو پاله رژیم په خپله د کریملین په لمسون سره ونړېد. په پېښور کې اووه ګونو تنظیمونو د اپرېل پر ۲۴ یوه ګډه پرېکړه لاسلیك کړه چې د هغې له مخې لومړی حضرت صبغت الله مجددي د دوو میاشتو لپاره او ورپسې برهان الدین رباني د څلورو میاشتو لپاره د "اسلامي حکومت" مشري کوله او دغه موده په هېڅ شرط نه تمدیدېدې. د حضرت صاحب

دوه میاشتنۍ موده په ډېره تکلیف سره پای ته ورسېده خو د برهان الدین ربانی څلور میاشتنۍ موده په چل ول او خاینانه ډول پسې اوږدېده چې څلورنیم کاله د ولس پر سرونو مسلطه وه. د رباني- مسعود لنډه غرو او د حزب وحدت ببرسرو په دې څلورنیمو کالو کې دومره جنایتونه. وژنې. جبري زناوې. تښتونې. فساد او جنګونه وکړل چې د افغانستان پنځه زره کلن تاریخ ورباندې شرمېږي. د دې ځناوریو له منځه د کړولي ولس بېړاوې تر عرشه وختې څو چې هغوی تول د ۱۹۹۶ د سپتمبر پر ۲۷مه د طالبانو له خوا له کابله وشړل شول.

شر او فساد په هره جبهه کې له سختې ماتې سره مخامخ و څو دا چې طالبانو د هېواد پر ۹۵ سلنه واکمن شول. طالبانو د خپل شپږ کلن امارت په توله موده کې بشپړ امنیت راوړی و. اسلامي او شرعي حدود یې مرعي الاجرا ګرځولي وو. غلا. چور او هر ډول اخلاقي فساد یې عملاً بند کړي وو. د مخدره موادو کښت او تجارت یې په خورا موفقیت سره بند کړ چې ملګرو ملتونو او امریکا د هغه پوره تصدیق هم وکړ. خو امریکا ته د اسامه بن لادن د نه سپارلو په وجه دا هرڅه له منځه لاړل. پر نیویارک او واشنګټن چې د تېر کال د سپتمبر پر یوولسمه هر چا ترورستي حمله کړې وي قیمت یې طالبانو ادا کړ. هغوی نور واکمن نه دي مګر په افغانستان کې یې داسې امن تامین کړی و چې نن د نړۍ د شلو پر مختللو هېوادونو په زرګونو مجهز پوځیان د هغسې امن په راوستو کې عملاً ناکام دي. نن طالبان نه شته خو ورسره امن هم نه شته. که طالبان لاړل نو په عوض کې یې ناامني. جنګ سالاري. په زرګونو بهرني او پښتون آزاري راغلل. که طالبان بې واکه شول نو پر ځای یې د مخدره موادو کښت. غلا. وژنې. تښتونې. اخلاقي انحرافات او اجتماعي فساد واکمن شول.

هو. طالبان په ختیه پښتانه وو. هرڅه چې یې لومړۍ ورځ ویلي تر پایه یې هغسې هم کړي دي. هغوی پر خپل ننګ او مېلمه پالنې ټینګ ودرېدل

او په دې لاړ کې يې آن د ځانو په بيه قرباني هم ورکړه او د توري سپر شول. شر او فساد ياني شمال ائتلاف چې د طالبانو د کلکو ماتو له لاسه پتو غارونو ته پنا وړې و. نن امريکا او برتانيا بېرته له غارونو رابهر او مسلط کړل. هغوی چې د امريکا او برتانيا په توره واکمن شول نو اوس د خپلو تېرو ماتو غچ له پښتنو څخه اخلي او هر ځای په تېره بيا په شمال کې يې مځکه پښتنو ته سور اور ګرځولې ده. خو دې ته هم بايد متوجه اوسي چې که پښتنو دا ځل د طالبانو په نوم هغوی تر بدخشانه وځغلول ممکن بل وار يې په بل نوم تر ګورستانه وځغلوي. حمزه شينواری څه ښه وايي:

چې بې تا چا ته تيت نه شي ننګيالی زما ژوندون کړه
زړه زما دې مسلمان وي تفکر مې د پښتون کړه
زه دې وچ هډوکی شپېلم خو ملت مې دې سلطان وي
دا زما د سخن سيوری په مانا کې همايون کړه.

# اخځونه


۱. پوهاند عبدالحی حبیبي: د افغانستان تاریخي پېښلیك (لومړی ټوك). کابل ۱۳۵۳ لمریز.

۲. سید قاسم رشتیا: افغانستان در قرن نزده. دریم چاپ. کابل. سلواغه ۱۳۴۶ لمریز.

۳. میر غلام محمد غبار: افغانستان در مسیر تاریخ. تله ۱۳۴۶. کابل.

۴. قاضي عطا الله خان: د پښتنو تاریخ (لومړی ټوك). کابل ۱۳۵۳.

۵. آریانا دایره المعارف (جلد سوم). کابل اسد ۱۳۳۵.

۶. عزیزالدین وکیلي پوپلزایي: احمدشاه وارث و مجدد امپراطوري افغانستان (جلد اول). کابل ۱۳۵۹.

۷. عبدالروف بېنوا: هوتکیان. کابل ۱۳۳۵.

۸. سر اولاف کیرو: پښتانه. ژباړن الحاج شېر محمد کریمي. پېښور ۱۳۷۸.

۹. میر محمد صدیق فرهنګ: افغانستان در پنج قرن اخیر (لومړی ټوك) مشهد- ایران ۱۳۷۱.

۱۰. ملا فیض محمد کاتب: سراج التواریخ (جلد اول) کابل. چاپ اول. ۱۳۱۱ق.

۱۱. بروس ریچارډسن: د لستوني مار. ژباړن نثار احمد صمد. ډیلي. جوزا ۱۳۷۷.

۱۲. ډي پي سنګال: هند او افغانستان ۱۸۷۶-۱۹۰۷ (په انګرېزي) نوی ډیلي. ۱۹۶۲.

۱۳. افغانستان په شلمه پېړۍ کې (د پوهنیز سیمینار د لیکنو ټولګه) جرمني. کولن ۱۳۷۸ (پېښور چاپ).

ډاکټر طارق رشاد

# "په بشري ټولنه کې د پښتو او پښتنو سره د بشري حق په توګه باید پښتو وشي"

موږ افغانان چې له نړیوالې بشري ټولنې څخه ځان بېل نه ګڼو. د بشریت په نیکمرغیو کې زموږ نیکمرغي او د بشریت په بدمرغیو کې زموږ بدمرغي ده. خو لکه څنګه چې د هر انسان د پېژندلو لپاره د هغه د نوم او کړو وړو اړتیا شته د ملي پېژندګلوۍ لپاره هم د هغه د نوم، کړو وړو، ژبې او فرهنګ د پېژندلو اړتیا شته. ځکه دا یو تاریخي واقعیت دی چې د یو تاریخي انتخاب په عملیه کې رامنځ ته شوی او دغه پېژندګلوي د دوی د ټولنیزې پېژندګلوۍ او هویت د پایښت او ودې لپاره خورا حیاتي ارزښت لري اودا مخکې تر څېړنې قضاوت نه دی چې تعصب راوپاروي بلکې دا یو رښتیني تاریخي واقعیت دی په تېره بیا په هغه ټولنو کې چې ګڼ توکمیز جوړښت لري، بې له دې چې اختلافات راوپاروي باید هغه په رښتیني توګه څرګند شي څو هر یو خپل انفرادي حق وپېژني چې د ټولو حقوق بې له توپیره سره مساوي دي خوپه توکمیز ډول بیاد هر توکم حق د هغه د شمېر په اندول دی ځکه هره ډله بیا د انفرادي یا ځانګړو حقوقو

ټولګه ده چې د لويو ډلو د انفرادي حقوقو ونډه ډېره او د کوچنيو ډلود انفرادي او ځانګړو حقوقو ونډه د هغو د شمېر په اندول لږ ده. د دغه ټولنيز جوړښت اندول هم بايد پر علمي بنسټ. د ډيموکراسۍ پر لوړ فرهنګ او د هېواد پالنې او ورورۍ پر روحيه او يووالي ولاړ وي. مشر ته د مشر او کشر ته د کشر په سترګه وکتل شي څو د ملي ټولنې اوملت جوړونې رښتينې عمليه په عادلانه توګه تر سره کړي.

خود سياسي، ټولنيز- اقتصادي پرمختګ لپاره دغه لاندې پړاوونه په ترتيب سره لازم دي:

۱- د دولت جوړېدل او ټينګېدل.

۲- د ملي ټولنې جوړېدل او د ملي يووالي منځ ته راتلل.

۳- اقتصادي ودې ته پام کول.

۴- ډيموکراسي او عامو خلکو ته په سياست کې برخه ورکول.

۵- د ملي شتمنيو عادلانه وېشل.

په ګڼ توکميزو ټولنو کې بياد ملي ټولنې جوړېدل چې هېواد پالنه (Patriatism) د هغه بنسټيز رکن دی بيا تر ټولو بنسټيز کار دی او د دې ملي ټولنې د جوړېدلو لويې ستنې په لاندې ډول دي:

۱- پر ملي هويت باندې موافقه او د هغه تعميم.

الف: تاريخي واقعيت.

ب : د قومونو شمېر.

ج : ملي ژبه: په تيوري او عمل کې ژبه د ملي هويت په ټاکلو او ملي ټولنې په جوړېدو کې لوی او ځرګند رول لري.

۲- د هېواد د ټولو وګړو لپاره په عمل او نظر کې قانوني مساوات (په فردي توګه)

دغه ملي ټولنه د تعصب. بدبينۍ. د فردي او يا ډله ييزو حقوقو په غصبېدلو نه شي رامنځ ته کېدای.

په تېره بيا چې اوسنۍ نړۍ کې چټك پرمختګ روان دى او غوارې تولـه نړۍ، د بشريت. ساينس او تخنيك په مزي وپيي. نو دا خبره هم پـه کـار ده چې څوك ځان خپله او هم په نورو سم وپېژني. پـه دغـه جريـان کې نـه څوك ورك شي او نه څوك سپك شي. چې د ټولنو د جوړښت پـه پېژندنـه کې يـود ټولنې جينټيکي اړخ او بـل ايتنيکـي اړخ دى: چې جينتيـك د نسـلي او طبيعي ځانګړتياوو سره اړه لري خو ايتنيکي بيا د کلتور يا تاريخي جريانو محصول دى چې په جنيټيکي لحـاظ د افغانسـتان خلـك عمومـاً پـه دوو نژادي ډلو پورې اړه لري.

۱- سپين نژاد د قفقاز د انسان په نوم هم يـادېږي: د افغانسـتان ټول اريايي الاصله خلـك لکـه پښتانـه. تـاجك او نورسـتانيان پـه هغـه کې شـامل دي. پښتانـه ډېر پـه ختيـځو. جنوبـي. جنـوب لويديـځو. شـمال لويديـځو اوشمال سيمو (کندز. بغلان. بلـخ. جوزجان. فاريـاب. سمنګان) اود کـابل پـه شاوخوا سيمو کې استوګن دي. تاجکان اکثر پـه شمال ختيـځ. شـمال لويديځ د کابل شاوخوا او د افغانسـتان په نورو سيمو کې خواره واره پراتـه دي.

۲- ژېړ نژاد چې د مغلي انسـان پـه نـوم هـم يـادېږي: د افغانسـتان پـه ژېړ نژاد کې ټول مغلي، ترکمن، ازبك، ترك او تاتار قومونـه شـامل دي چې ډېر يې د افغانستان په مرکز. شمال. شمال لويديز او ځينې نـورو ښارونو کې استوګن دي.

په افغانستان کې پر پښتو او دري سربېره ۳۴ ژبې نورې هم پـه دې ډول دي: ازبکـي. ترکمنـي. بلـوڅي. اورمـړي. پـاميري ژبـې لکـه روښانـي. شغناني. واخاني (واخي). ارشري (آروشـوري). اشکاشـمي. سـنګليچي. زيباکي. بـارتنګي. پـراچي. مونجـاني. کـردي. لويديـځې داردي ژبـې يـا نورستاني ژبې (کاتي. وايګلي. اشکوني او پراسوني) براهـوي. منځنـى اردي ژبې لکه پشـه يـي. کليشـه يـي او کهـواري. شوماشـتي. وتـه پـوري.

کوربالي یا نرساتي. ګوار باتي. جتي. مغلي. قزاقي. قرغزي. سرتي یا ترنجي. آذري، دهندوانو او سیکانو ژبې (لهندا یا ملتاني. سندهي یا شکارپوري، پنجابي).

ژبې بیا په جینتیکي او طبیعي ځانګړتیاوو اړه نه لري ځکه ژبه په ربنتیني تو ګه یوه ټولنیزه، فرهنګي او اکتسابي پدیده ده چې د یو لړ اختیاري وینو- اوریدنو او حتی اوس د لوستنې او لیکنې د سمبولونو ټولګه او د یو ولس تر منځ د ژبپوهانو له نظر یا انده د پوهېدلو او پوهولو وسیله ده نه فطري او طبیعي پدیده. ځکه هر څوك د چاپیریال ژبه زده کوي، که په چاپیریال کې ژبه نه وي په طبیعي او فطري ډول ژبه نه زده کېږي. ځکه د خبروکولو استعداد په چاپیریال پورې اړه لري چې د انساني ټولنې په وسیله رامنځ ته کېږي.

اروانباد لوی استاد علامه پوهاند حبیبي بیا ژبه هغه رغونه بللې چې د هغه په وسیله هر ولس خپلې غوښتنې بیانوي او یا پر ژبه جاري وینا ته وایي چې په عربي لسان او لغت ورته وایي چې د یوناني د "لوغوس" او د انګرېزي د Language سره ورته والی لري. څرنګه چې ولسونو او ملتونود تاریخ په اوږدو کې توپیر موندلی همدا ډول د دوی ژبو هم توپیر موندلی‌او هر ولس د ځان لپاره ځانګړې ژبه پیدا کرېده چې ددوی د پوهېدلو وسیله شوې ده او اوږد تاریخ لري چې "پروفیسور اډیلنګ" یې د جوړښت او پرمختیا له امله پر دوو ډلو ویشي:

I - کښته ژبې: چې الفاظ یې لنډ او یوه هجا وي او د نورو خپلواکو الفاظو په نښلولو سره کړ (فعل) ځینې جوړېږي لکه د جنوبي افریقا. د امریکا انډین (سره پوستانو). ایسکیموګانو. ختیځې آسیا او چین ژبې.

II - لوړې ژبې: د الفاظو هجاوې یې ډېرې دي او د پرمختللو ژبو څخه شمېرل کېږي چې دغه ژبې هم په دوه ډوله دي:

۱- اوښتونکې ژبې: چې د اشتقاق (ترنګونو) وړتیا لري او په کلماتو

(وييونو) پورې يې مختاړي (سابقه يا Prefixes) او وروستاړي (لاحقه يا Suffixes) موښلي چې دا ژبې هم په دوه ډوله دي:

الف: آريايي ژبې: چې اروپايان دغه ژبوته هندو اروپايي (Indo-European) وايي چې دا نوم د لومړي ځل لپاره د ډاکتر توماس يونګ (Dr. Thomas- Young) له خوا پر کښېښول شو. خو پر ۱۸۳۳م کال بيا بل ژپوه کلاپروت (Klaproth) هندو جرمانيك (Indo-Germanic) نوم ورته غوره کړ. چې دا ژبې هم دوې څانګې لري:

a) شمالي څانګه: لکه لاتين (Latin). يوناني (Grecque). سلتي (Celtique). سلاوي (Slave) او توتونيك (Teutonique) ژبې.

b) جنوبي څانګه: د آسيا آريايي ژبې دي لکه سنسکريت چې ويدا په ليکل شوي، زند چې اوستا په ليکل شوي چې ځينې بيا اوستا خپلواکه ژبه ګڼي،پښتو، فارسي، کردي او استيني.

ب: سامي (Semitique) ژبې چې پخوانيو متمدنو قومونو ويلې لکه: بابليان، آشوريانو، فنقيانو اودا ژبې هم لاندې څانګې لري:

a) آرامي ژبه: د بابل زړه ژبه ده چې سرياني او کلداني يې څانګې دي.

b) عبري ژبه: چې تورات او انجيل په ليکل شوي او اسرائيلو آرامي او کلداني سره ګډه کړې ده.

c) عربي ژبه: چې ددغه څانګې مشهوره ژبه ده او قرآن عظيم الشان هم په دغه ژبه دی، سوريـنامي، موريتانياني او حبشي ژبې هم ددغه څانګې دي.

۲- نا اوښتونکي ژبې: چې بنسټ يې کورټ بدلون نه مومي او اصول يې بې اوښتلو پاتې کېږي. خو دځينو ادواتو په نښلولو اشتقاقېږي يا ترنګونه ځينې جوړېږي چې دغه ادوات هم ځانته ځانګړې معناوې لري چې دا هم بېلې څانګې لري لکه:

الف: توراني ژبې: لکه ترکي اوداسې نور.

ب : مغلي ژبې: لکه ازبکي (چې کډه ده)، اویغوري، تنقاسي، غراني...

ځینې پوهانو بیا آریایي (Indo-European) ژبې د سیتم (Cetum) او سینتم (Centum) پر دوو ډلو ویشلي دي چې (۱۰۰) یې انډول ټاکلی دی چې په سنسکریت کې (۱۰۰) عدد ته (Cetum) او په لاتین کې (Centum) ورته وای چې په ځینو ژبو کې یې بیا (س) توری په (هـ) اوښتی دی خو ټاکونکې خبره د (ن) توری دی، هغه ژبې چې د (۱۰۰) عدد په ویلو کې (ن) توری لري هغه سنتم او غربي (لویدیځې) آریایي ژبې دي او بله ډله چې د (۱۰۰) عدد په ویلو کې (ن) توری نه لري هغه سیتم او شرقي (ختیځې) آریایي ژبې دی لکه:

| د سیتم ډله | د سینتم ډله |
|---|---|
| سنسکریت - سیتم | لاتیني - سنتم |
| پښتو - سل | فرانسوي - سنت |
| پارسي - صد | یوناني - هیکاتون |
| هندي - سو | انګریزي - هنډرید |
| روسي - ستو | هالندي - هوندرد |
| | هسپانوي - سیین |

لومړی: باختري ژبې: چې په دوو ډلو وېشل کېږي:

الف: جنوبي باختري ژبې: لکه ساکي، پښتو، اورمړي او پامیري ژبې.

ب : شمالي باختري ژبې: لکه سوغدي، یغنوني، خوارزمي، الیاني اوسیتي.

دویم: آریاني (ایراني) ژبې: چې دا هم پر دوو ډلو وېشل کېږي.

الف: خبولي: لکه زړه پارسي، منځنۍ پارسي، نوې پارسي، تاتي، بختیاري، کومزاري.

ب : شمالي (میدي): لکه کوردي، بلوڅي، تایشي، غلیاني.

خو تر اوسه دا څرګنده نه ده چې لومړۍ آریایي ژبه کومه. څنګه او څه

ډول وه او څومره وخت ژوندی وه چې دا نورې ژبې څنې جوړې شوې دي چې ډاکتر "کوستاولوبون" دغه ژبه "آريك" بللې ده چې اوس ورکه ده. ځينې بيا د آريك ژبې ژوند له ۴۰۰۰ څخه بيا تر ۲۵۰۰ کاله مخکې تر ميلاد اټکلوي.

کله چې يوه لهجه (ګړدود) په يوه ژبه اوړي لږ تر لږه د ۱۰۰۰ کالو اړتيا ده. خو که له هغې ژبې څخه نورې ژبې زيږي نو دا لړۍ نوره هم اوږدېږي.

خو د ژبو د پوړتنيو وپشنو سره سره بيا پښتو چا د ديبانو ژبه بللې ده. چا سامي ژبو ته ورکش کړې ده. چا په هندو ايراني ژبو پورې تړلې ده. چا د هندو ايراني ژبو د سترې کورنۍ په هندي څانګه پورې تړلې ګڼلې چايې په ايراني څانګه پورې، چا بيا پښتو اصلاً د ساکانو يا سيتيانو ژبه بللې ده او چا د هندو ايراني ژبو تر منځ يوه خپلواکه ژبه او د پيوستون کړۍ ګڼلې ده چې دغه نظريې په لاندې ډول دي:

## هغه نظر چې پښتو د ديبانو ژبه ګڼي:

د تذکره الملوك مؤلف وايي چې ځينې روايتونه پښتو د ديبانو ژبه ګڼي.

## هغه نظريات چې پښتو د سامي ژبو له کورنۍ څخه ګڼي:

هنري راورتي (H. Raventy) ليکي: "د پښتو ژبې د افعالو (کړنو) او ضمايرو له خصوصياتو (ځانګړتياو) او ځينو نورو مشخصاتو څخه داسې ښکاري چې دا يوه عجيبه او لرغونې ژبه او له هرې معلومې ژبې څخه توپير لري." او دا هم ليکي: "پښتو زما په خيال د سامي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري." خو بل ځای بيا ليکي: "نن له اباسين څخه سم دستي لوېديځ پلو ته يوه ژبه ويل کېږي چې د عباراتو او جوړښت له پلوه له هرې معاصر ژبې څخه توپير لري او په غالب ګمان له زند. پهلوي او عبري

(Hebrew) څخه راوتې ده او دا ژبه پښتو... ده."

(سرویلیم جونز) ویلي دي: "پښتو کلداني ژبې ته ډېره ورته ده."

خو ډېرو پوهانو د پښتو سره د سامي ژبو اړیکي رد کړي دي. خو دا چې ولې پښتو ژبه ځینو د سامي یا عبري په تړاوکې ګڼلې لامل به یې دا وي:

۱- مفغن (پښتو شوې) عربي کلمات چې تر اسلام وروسته پښتو ژبې ته ورننوتي دي.

۲- له پخوا وختونو څخه د یهودو میشتېده زموږ په سیمو کې لکه هرات، غور. بلخ او نورو ځایونو کې.

۳. د اریایي مدنیت اړیکي په ویدي زمانه کې له سامي مدنیت سره چې ویدي ولس له سامي بابلیانو سره اړیکي درلودې.

۴- پراورشلیم داسپه کورنۍ د پاچهانو له ډلې څخه د ائـورت اسـپه (Aurt Aspa) یاکي لهراسپ برید د هغه د سپه سالار "بوخت نرسیه" (مغرب شکل یې بخت النصر دی) په وسیله چې د هغه په نتیجه کې د یهود ولس قبیلې سره خپرې شوې او یو شمېر یې د یرغمل په توګه غور. غزني. کابل. کندهار اوشاوخوا سیمو ته راوستل شول.

۵- د سپوږمیز (قمري) مهالویش موجودیت چې د سامي مدنیت نښه ده.

۶- د "پاشت" لغت موجودیت په عبري ژبه کې چې د پاشلي په معنا دی او وایي چې پښتو هم له هغه څخه اخیستل شوې ده.

هغه نظریات چې د سامي ژبو سره د پښتو اړیکي ردوي

پروفیسور کلاپورت (Prof. Kleporth) ختیځپوه په ۱۸۱۰م کال کې د اسیایي ادبیاتو د ارشیف په لومړي ټوك کې داسې ولیکل: "د پښتو او سامي ژبو تر منځ نه په کلماتو کې ورته والي شته او نه په ګرامري جوړښت کې."

منستيوراټ الفنستين (M.R. Elphinstone) په ۱۸۱۴م کال کې د پښتو او کلداني ژبو ورته والی ردوي او ليکي چې ده دوه سوه اتلس پښتو کلمې د يو شمېر نورو ژبو له معادلو کلمو سره پرتله کړې. خو له دوی نه يوې هم له عبراني او يا کلداني سره ورته والی نه لاره."

(جان ملکم) د فارس په تاريخ کې ليکي: "د عبري او پښتو يا د افغانانو د معاصرې ژبې تر منځ د نژدېوالي هېڅ څرك نه لګېږي."

(برنارد ډورن) په ۱۸۶۳م کال کې وليکل: "پښتو ژبه له عبري يا کلداني ژبې سره نه د ګرامر له پلوه ورته والی لري او نه د لغاتو له پلوه." او د پښتو منتخباتو په سريزه کې يې دا خبره وکړه چې "پښتو له هېڅ سامي ژبې سره تړاو نه لري." (بيګستېر) په ۱۸۴۸م کال کې (د هرې ځمکې انجيل) کتاب کې داسې ليکي چې پښتو "د سامي ژبو هېڅ خصوصيات نه لري."

## هغه نظريات چې پښتو آريايي ژبه ګڼي:

پروفيسور کلاپورت (Prof- Kleporth) په ۱۸۱۰م کال کې ليکي: "پښتو بې له شکه د هندو- جرمانيك (Indo-Germanique) ژبو د سترې کورنۍ يوه څانګه ده."

د ژبو د څېړنو ډېر لوی عالم "پاټ" پښتو په غوڅه توګه آريايي ژبه وګڼله.

(لوونتال) په دې اړه ليکي: "پاټ چې دده په کچه ستر دفق الغته عالم نه دی تېر شوی، يوه شيبه هم دا ومنله چې پښتو د هند و اروپايي (Indo-European) ژبو په کتار کې ونه دروي."

پروفيسور ډورن (Prof-Dorn) چې په پيترزبورګ کې اوسېده. په ۱۸۴۷م کال يې (Achrestomathy of the Pushtu) خپور کړ. کله چې يې د پښتو ژبې اړيکي د عبراني (Hebrew) او چالديك (Chaldic) ژبو سره رد کړې. پښتو يې د هندواريانې په لويه کورنۍ کې له اندوتوتونې (Indo-

Teutonique) ژبو له ډلې څخه ګڼلې ده.

منستیوراټ الفنستین (M.R.Elphinstone) سره له دې چې د پښتو ژبې ریښه په څرګند ډول نه راښیي خو دا وایي چې: "ځینې لغتونه یې دزند (Zend) او پهلوي ژبو سره نژدېوالی لري، خو په ځینې الفاظو کې د کردي (Kurdish) ژبې سره چې د هندو جرمانیك ژبو له ډلې څخه ده ډېر ورته والی لري."

## I- هغه نظریات چې پښتو د هندو اریاني ژبو د هندي څانګې څخه ګڼي:

رابرت لیچ په کال ۱۸۳۹م کې چې په لویدیځ کې د پښتو ګرامر طرحه خپره کړه، د هغه په سریزه کې یې د پښتو او سنسکریت د ږغونو د ساده پرتلېز چلند (Comp-arative Phonography) څخه وروسته داسې ولیکل چې: "د دغو دوو ژبو ږغونه ښیي چې پښتو د سنسکریت بڼه لري."

ډاکټر رودلف هورنل (Dr. R. Hoernel) په خپل اثر "د ګادي ژبو پرتلېز ګرامر" کې لیکي چې د هند د شمالي غربي پولو تر وروستیو برخو پورې پر اکرت ژبې ویل کېږي: خو له دې ځایه هاخوا پښتو او کافرمي ژبې پرتې دي او لیکي: "ترومپ (ډاکتر ارسنت ترومپ Dr. A. Trump) په هغو مقالو کې چې د پښتو او کافري ژبو په اړه یې لیکلې دي له ګادي سره د دغو ژبو نژدېوالي ته پاخه کړي... مګر خبره له دې نه وړاندې ځي او دغه ژبې په تېره بیا پښتنو د ګادي آبي تاکونکي ځانګړتیاوې لري" (هونل) د ځینو ګادي ژبو سره د پښتو او نورستاني ژبو یو شمېر خصوصیات او ممیزات په ګوته کوي او لیکي: "له دې نه څرګندېږي چې ګادي پر اکرت. پښتو او کافري ژبې په لرغوني زمانه کې ښخي سره نژدې وې او حتی یوه ژبه یې جوړوله. وروسته سوراسیني ژبې د ګادي او د دغو ژبو تر منځ واقع شوې



"په بشري ټولنه کې د پښتو او..."

او مګادي ژبه يې وروسته ورو د ختيځ په لور پورې وهلې."

فرانسوي ختيځپوه جميز دارمستېټر (James- Darmesteter) چې د پښتو ملي سندرې (Chants Papulairesdes Afghan) اثر يې خپور او هم ډېر ملي شعرونه يې په "پښتونخوا هاروبهار" کې راټول کړي دي. په ۱۸۸۷م کال يې په لومړي سر کې پښتو د هندي ارياني ژبو په هندي ډله پورې وتړله، خو وروسته يې خپل نظر ته بدلون ورکړ او داسې يې وويل چې: "پښتو له هندي لهجو څخه نه ده"

## II- هغه نظريات چې پښتو د هندو ارياني ژبو له ارياني څانګې څخه ګڼي:

شيلي ډيور پر ۱۸۵۳م کال په خپل اثر کې چې "د مقايسوي فلالوژي اجمال" نومېږي، د ارياني ژبو په بحث کې ليکي چې د افغانستان ژبه يعني پښتو هم په همدې څانګه پورې اړه لري خو ځان ته يې په ځانګړې او ابتکاري طريقه پرمختيې ورکړې ده."

پروفيسور ميولر (Prof- M- Muller) پر ۱۸۵۵م کال په خپل اثر "په ختيځ کې د جګړې د مرکز ژبې" کې وليکل "افغاني يا د پښتو ژبه... د خپل ګرامر په لحاظ د فارسي ژبو له ډلو سره تړلې ده" او په بل اثر "د افغانانو ژبه" Veberdies Prachoer Afghanan کې چې په ۱۸۶۲م کال کې خپور شو، پښتو يې د ارياني ژبو په ختيځې ډلې پورې تړلې وګڼله او په دې ډول يې د "زند" Zend سره تړاو ورکړ.

پاټ په کال ۱۸۳۳م کې اروپايي ژبې په پنځوکورنيو ويشي، پښتو او فارسي دواړه په دوهمه کورنۍ پورې تړي.

ژبپوه سرجي. اي. ګريرسن (G.A. Grierson)، پښتو ژبه د ارياني ژبو په ختيځې ډلې پورې تړلې ګڼلې او په دې اړه داسې ليکي: "له هغو ژبو

څخه چې موږ يې Non-Parsic بولو او د میدې ژبې اطلاق هم پرې کېدای شي د پامیر ژبې دي لکه غلچه (Ghalchah) او بدخشي (Badakhshi). دغسې هم اورمړي (Ormuri) او بلوڅي. له دغو ژبو څخه پښتو هم د افغانستان د يوې مهمې برخې او ډېرو ګاونډيو قبايلو ژبه ده... چې د ارياني ژبو په Non-Parsic او ختيځه کورنۍ يعنې "زند" Zend پورې اړه لري.

## III هغه نظريات چې پښتو د هندي او ارياني ژبو د ځانګو تر منځ خپلواکه ژبه ګڼي:

ډاکټر ارنست ترومپ (Dr. A. Trump) چې پر ۱۸۷۳م کال يې پښتو ګرامر وليکه. پښتو ژبه د هندي او ارياني (Indo-Aryan) ژبو تر منځ د پيوستون کړۍ بولي او په ښتيني Indo-Aryan ډله کې يې ګڼي او ليکي: "پښتو کلمات سيده (مستقيماً) له ګاونډيو پراکرت لهجو (ګړدودو). په تېره بيا پنجابي او سندهي څخه مشتق شوي دي. د صرف او ترکيب د عمليې د جوړښت له نظره سندهي ته خورا ورته ده: پښتو په تېره زمانه کې د متعدي کړونو (افعالو) له نظره د سندهي سره بشپړ يووالی لري او يوازې د سندهي ژبې پر بنسټ تشريح کېدای شي. مګر پښتو هيڅ ډول کومه د پراکرت لهجه (ګړدود) نه ده. بلکې يوازې خپلواکه ژبه ده چې د هندي ارياني ژبو څخه د ارياني ژبو کورنۍ ته د بدلون لومړنی پړاو ښيي. ځکه نو د دواړو ځانګړتياوې او مميزات په کې څرګند دي: خو بيا هم د پراکرت ځانګړتياوې ډېرې په کې څرګندې دي. دپښتو ژبې دا ځانګړتيا د هغې له جغرافيايي موقعيت سره اړخ لګوي." او هم ليکي: "پښتو په لومړي سر کې له هندي او ارياني ژبو څخه بېله شوې ده... خو ځواکمنه او پياوړې ژبه ښکاري." چې دغه نظر پروفيسور فون شپيګل (Prof. Von. Spiegel) او

پال تیډسکوي هم تائیدوي.

هانري ولټر بیلیو (Henery Walterbelew) چې په ۱۱۸۶۸م کال کې د بنګال پوځي افسر و او د پښتو ګرامر یې لیکلی د پښتو ژبې په اړه داسې لیکي: "پښتو اصلاً د سنسکریت خور ده او دا چې د هند او ایران تر منځ وګړي پرې غږېږي په پیړیو پیړیو د پارس اثر هم پرلوېدلی.. خو دغه ژبې خپل ځانګړي قواعد ساتلي دي."

پروفیسور اډېلنګ (Prof- Adelung) پښتو ژبه ځانته مستقله او خاصه ژبه او هم ډېره اصیله،ممتازه او وتلې ژبه وګڼله.

شیلي ډیور وایي: "پښتو ځانته په یوه ځانګړې او ابتکاري طریقې انکشاف ورکړی دی."

فرانسوي ختیځپوه جیمز دار مستېټر (James Darmestcter) پر ۱۸۸۸م کال د پښتونخوا د شعرهاروبهار اثر کې پښتو او زند په پوره تفصیل او دقت سره پرتله کړي او پای کې دې نتیجې ته ورسېد چې پښتو له زند سره دومره نژدې اړیکي لري لکه نوي فارسي چې د زړې پارسي سره لري، نو ځکه یې پخوانی نظریه د نوو حقایقو په رڼا کې بدله کړه او پښتو یې په قاطع ډول د هندي او ایراني ژبو د لویې ډلې د ایراني ډلې په ختیځه ځانګه پورې تړلې وګڼله اودا یې په ډاګه کړه چې پښتو زند ته نژدې یوه بله ژبه ده؛ خو پښتو د شمالي هندي ژبو عناصر هم په خورا خلاص لاس او پراخه پیمانه اخیستي دي.

جورج مارګسټرن د پښتو ژبې د تاریخي پرتلیزې څېړنې په برخه کې د دارمستېټر نظر بشپړ تائیدوي: خوپه عین وخت کې پښتو په ختیځو آریایي ژبو کې د ساکانو لرغونې ژبې ته دومره نژدې بولي چې ګوندې د ساکا لهجه (ګړدود) ده.

خو ددې ټولو خبرو څخه دا څرګندېږي چې د هندي- اریایي ژبو تر منځ د پیوستون کړۍ ده او په تاریخي دلایلو پښتو ژبه له اصله باختري ژبې او

یا آریك ژبې څخه خپلواکه راوتلې او د زند او سنسکریت ژبو خور ده او په بنستیزه ختبه کې چې پوره خپلواکي لري د سیمې د لرغونو ژبو یو شمېر مواد په یو یا بل ډول له ځانه سره اخښلي او په ځان کې ساتلي دي او له خپلو ژبنیو ړغونو سره یې سمون ورکړی دی.

سره له دې چې مسلمانی، د عربي ژبې او کلتور له لارې تولو عجمي تولنو او همدارنګه په یوه کچه د پښتني تولنې د وجود هرې ذرې ته د سیاسي، تولنیز او روزنیز ځواك له لارې ځان رسولی دی. خو بیاهم د دې تولو بهیرونو د غښتلي تمرکز له منځ څخه سره له دې چې عربي کلمات زموږ په ژبه کې سیدان دي. پښتو ژبې خپله تاریخي سلامتي روغه رمتبه ساتلې، ځکه نو د پښتو ژبې مورني بنستونه د ملي ساتنې او ژغورنې لپاره په رښتینې تو ګه خپل تاریخي رول لوبولی دی. خو پښتو ژبه له عمومي یا ملي یووالي سره سره هم په ړغونو او هم د کلماتو په برخه کې بېلابېل لهجوي (ګړدودیز) توپیرونه موندلي دي، دا توپیرونه په ځینو ځایو کې د قبیلې او په ځینو ځایو کې د سیمې په سطحه دي.

هغه رول چې پښتو د پښتنو په پیدایښت او پښتنو د پښتو په پایښت کې لوبولی دی داسې ځرګندېږي چې "ژبني تولنې" له "ایتنیکي پېژندګلوی" سره یو ځای د تاریخي پرمختیا په ګڼو بهیرونو کې یو د بل سره د یو وجود په څېر غبرګ پړاوونه وهلي دي. ځکه نو ژبې ته په مجرد اصالت کتل بې بنسټه خبره ده، که ژبه اصله کېږي په خپل ولس اصله کېږي او که پایښت کوي نو دا هم د هغې د ولس په پایښت پورې اړه لري او همدارنګه ژبه بشپړه اغېزه لري، ځکه نو د پښتو تاریخي واقعیت د پښتنو په تاریخي موجودیت کې باید ځرګند شي.

بل د ولسونو د پېژندلو په علمي بنسټونو کې چې د تاریخ لپاره خورا ارزښت لري، د ژبو پرتله کول د پرتلیزې لغتپوهنې (ویپوهنې) (Comparative Philology) پر بنسټ دی. نو لکه څنګه چې پښتو ژبه

هندو- اروپايي (Indo-European) ژبه ده. پښتون ولس هم د يو خپلواك ولس په توګه د دغه ولسونو سره نژدې اړيکي لري.

خو د آريايانو د لومړي ټاټوبي (آريانا ويجه) په اړه هم نظريات توپير سره لري چې ځينې يې د بالټيك غاړه بولي. ځينې يې د تور سمندرګي شمال ګڼي. بله ډله يې د خزر د سمندرګي شمال ختيځې غاړې بولي او ځينې بيا د آريايانو اصلي ټاټوبي پامير او د آمو سرچينې ګڼي. خو په هر ډول د نړۍ په ډېرو ځايونو کې اوس دوی ميشت دي او "ايران قديم" داويستا په وينا دغه لېږد څلور زره کاله مخکې تر ميلاد ګڼي او وايي چې دوی د سپين توکم خاوندان وو.

د ماري کلود وژ رژ ويلونو د (Villenoud) په وينا: "دري. څلور زره کاله مخکې تر ميلاد د هندوکش پر دواړو غاړو د اندوس او Mesopotani مدنيتونه خپاره وه او بيا وروسته آريايان دې سيمې ته راغلل او له دې ځايه جنوب او لويديز ته ولاړل.

کيمبرج هسټري آف انډيا بيا د آريايانو راتګ د آمو غاړو ته تر ميلاد (۲۵۰۰) کاله مخکې ګڼي.

پرسي سايکس ليکي چې آريانا ويجه د آمو او ايګزارت په منځ کې پرته ده چې پامير او بدخشان ته نژدې ده.

خو په هر ډول زموږ په سيمه کې د لېږد په نتيجه کې مرکزي آريايان چې د بالهيکا. بخدي يا بلخ په شاوخوا کې اوسېدل پر دريو ډلو وويشل شول:

۱- باختري ډله چې وروسته د Parth په نامه هم يادېدله. د اباسين (انډوس) له څنډو. د آمو او د اوسني ايراني خراسان تر دښتو پورې ميشت شول او د دغه مرکزي هېواد مشهورې برخې بلخ. تخارستان. هرات. اراکوزيا. کابل. ګندهارا. سګستان او خراسان وې او د دې ډلې مهمه برخه بيا (بخت= پکهت= Pakthas= پښتون) وه چې ۱۴۰۰ کاله مخکې تر ميلاد په "ويدا" وروسته په "ريګويدا" کې ډېره او بيا وروسته په اويستا کې

د Pashta په نوم يې يادونه شوې ده او تر ميلاد ۵۲۰ کاله مخکې بيا يوناني مورخ هيرودوت (Herodote) د پکت. پکتي او پاکتويس يا Pactyces په نوم ياد کړي دي،چې تر اوسه يې د بخدي. بخدا. بخد. بخت. پکهت او پښت د نوم زيښه يې پښت پر پښت په پښتون قوم او پښتو ژبه کې ساتلې ده.

۲- ايراني ډله: د هريوا (هرات) پر خوا له خراسان څخه تېر د پارس خاوره يې ونيوله او اوسنی ايران يې جوړ کړ. چې دغه لېږد مخکې تر ميلاد څورلسمه پېړۍ اټکل کېږي.

۳- هندي ډله: د خيبر له لارې تر اباسين تېر. د اباسين او ګنګا تر منځ ميشت شول. دغه لېږد هم تر ميلاد مخکې څورلسمه پېړۍ اټکل کېږي.

ځينې بيا دغه پر څلورو ډلو ويشي لکه هندي. ايراني. مرکزي يا باختري او داردي (لکه نورستاني) او وايي چې هندي آريايان نسبت ايراني قبايلو ته څو پېړۍ پخوا په (۲۰۰۰ ق م) کې ولېږدېدل. ځکه نو د باختري ژبو خپلوي د هندي ژبو په نسبت د ايراني (پيرسيکو) سره تر ميديکو زياته ده.

ځينې په دې باور دي چې دغه سيمه کې آريايان د لږ شمېر سميتانو سره هم ګډ شوي دي.

خو په هر ډول ددغه سيمې خلك د تاريخ په اوږدو کې د اريايانو. افغانانو. پښتنو او پټانانو (پتهانانو) په نوم او د شمالي هندوستان خلکو بيا د روهيله په نوم بللي. چې په ملتاني ژبه د غرني په معنی دی.

د مير محمد صديق فرهنګ په اثر "افغانستان در پنج قرن اخير" کې راغلي دي له لسمې پېړۍ راوروسته پښتون د افغان او د هغو ژبه د افغاني په نوم ياده شوې ده.

خو د آريايي يا آرين کلمې په اړه جرمني (Geiger) د خپل ژبې پر بنسټ داسې وايي چې "آره" اصل (په هالندي ژبه آرد Aard ورته وايي) او "آرين"

اصیل (په هالندي اردین Aarden ورته وایي) په معني دي چې په پښتو کې هم په دغه معنی شته لکه شاعر چې وایي:

شیخ متي چې خلیلي و
دی لـه آره لـوی ولي و

او Mexmuller سنسکریت پوه د دغـه ژبې پر بنسټ "آر" د کښت او کرهنې په معنی بولي (په هالنډي ژبه کې آرده Aarde د مځکې په معنی) چې په پښتو کې هم په دغه معنی شته لکه د کندهار د سیمې وروشه چې وایي: (آره، آره، لور پر غاړه) .

د افغان کلمې په اړه زموږ ډېر ښه مورخ اروانباد علي احمد کهزاد وایي: د "افغان" کلمه د سنسکریت د "اسواغانه" (Asvaghana) یعني د آسانو د سپرو څخه اخیستل شوي او اروانباد کاندید اکاډیمسن محمد ابراهیم عطایي د ځینو لیکوالو په وینا د "افغان" کلمه د "مهابهاراته" له "اسواکا" (Asvaka) سره پرتله کوي یعني د اسانو سپاره خو د "افغان" د کلمې د ډېرو او هر اړخیزو معلومات په اړه د لوی استاد علامه پوهاند حبیبي د "افغان او افغانستان" (تاریخي اسناد د دغو کلمو پر لرغونتوب) مضمون دی د آریانا مجلې د ۱۳۴۸ لمریز کال ۳ ګڼه کې او د "نام افغان و افغانستان در تاریخ دوره اسلام" د کابل مجلې د ۱۳۱۹ لمریز کال ۱۰ ګڼه کې، یا "افغان نوم په تاریخ کې" (وږمه مجله. ۱۳۴۲ لمریز کال، ۱-۲ ګڼه) کې او یا د "افغان او افغانیت" رساله د ۱۳۱۷لمریز کال د کندهار چاپ وکتل شي. او د ښاغلي پوهاند ډاکټر حبیب الله تږي د "پښتانه" اثر په دغه اړه ډېر معلومات ورکوي چې هم په دغه لیکنه کې له هغه څخه ډېره ګټه ترلاسه کړې ده.

د پښتون په اړه مخکې معلومات ورکړل شول خو د ختیځپوه الف. ټي. ایچ ګریفت په انګریزي ژباړه کې داسې راغلي دي: "په ویدا او په تېره بیا ریګویدا کې "پکتها" د پښتنو د پاچا یا مشر په توګه او "پکهت" د

پښتون قوم په توګه څو ځایه راغلي دي.
ښاغلی کاندید اکادیمسن محمد انور نومیالی لیکي: "پښتانه په سیمه کې د فعال موجودیت له کبله نورو ولسونو دوی "اواګنه". "افغنه". "افغان". "سلیماني"، "اوغان"، "اوغو"، "پتهان" او "روهیله" په یو شمېر ښو او بدو ملي نومونو یاد کړي دي. لکه څنګه چې پښتانه د ایتنیکي پلوه او تاریخي انتخاب په حکم یوه خوا له پارسي کلتور او بله خوا له هندي کلتور سره په ګاونډیتوب کې راغلې دي چې یوه "افغان" او بل "پتهان" ورته ویلي دي.
پښتانه د ځانګړي ایتنیکي هویت د لویې پرګنې د ګڼو جنیتیکي، تولنیزو، کلتوري او سیاسي شرایطو د التقايي بهیرونو څخه راوتي او د تاریخي ثبات یوې ټینګې او پخې درجې ته رسېدلي دي او په دې ارزي چې د بشري ټولنې د بېلابېلو هویتونو د جوړښت او بشپړتیا د قانون پر بنسټ د یو پوره، بشپړې، کلاسیکي اوښې بېلګې په توګه وپېژندل شي او په دغه پېژندګلوۍ کې چا د بني اسرائیلو سره تړلي. چا د قبطیانواو فرعونانو له نسله ګڼلي، چا د مغلو په نسل پورې تړلي. چا ارمنیانو ته ورنژدې کړي. چا د ګرجیانو سره تړاو ورکړی‌او چا بیا آریایان او د هندو اروپایي کورنۍ د هغې سترې څانګې چې هندو اریاني نومېږي غړي ګڼلي او دغه نظریات هم په لاندې ډول دي:

## هغه نظریات چې پښتانه د بني اسرائیلو له نسله ګڼي:

دغه نظریات ډېر د کورګانیانو له درباره خپاره شوي دي. د "افغنه" او "قیص عبدالرشید" افسانه چې پښتني انساب څنې راوتي دي واقعیت نه لري.

ابوالفضل په "آئين اکبری" کې چې له ۱۵۹۷ څخه تر ۱۵۹۸م کال پورې ليکل شوی داسې وايي: "افغانان ځانونه د اسرائيلو اولاده گڼي" او ډېر ليرې نيکه يې "افغان" نوميده چې درې زامن يې درلود "سړبن. غرغښت او بيټنی" اوداهم وايي چې: "غلځي. لودي اونيازي د يوې دوديزې وينا پر بنسټ له بلې پښې څخه دي."

اخونددرويزه په "تذکره البرار و الاشرار" چې له ۱۶۰۳ څخه تر ۱۶۱۳م کال پورې ليکل شوې افغانان د مهتر يعقوب اولاده چې د اسرائيلو په نامه يادېږي گڼي او وايي "د اسرائيلويو ډېر لوی مشر طالوت نومده. له طالوت څخه دوه زامن پاته شول چې يو يې (آصف) نوميده او بل يې (افغان)، د افغانانو طايفه د همدې افغان اولاده ده.

نعمت الله هروي په "تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني" کې چې له ۱۶۱۲ څخه تر ۱۶۱۳م پورې ليکل شوی دی ليکي چې "ملك طالوت" دوه زامن درلودل، يو "برخيا" او بل "ارميا" د "برخيا" زوی "آصف" او د "ارميا" د زوی نوم "افغنه" و چې افغانان ددغه "افغنه" اولاده ده. او کله چې بوخت نرسيه (معرب شکل يې بحت نصر) د ائورت اسپه يا لهراسپ سپه سالار شام ونيو او بيت المقدس يې وران کړ او يو شمېر بني اسرائيل يې غور، غزني فيروز کوه او د کندهار شاوخوا سيمو ته فرار کړل او کله چې خالد بن وليد مسلمان شو د افغنه اولادې ته يې ليك ولېږه او د هغو ستر مشرقيص د پيغمبر حضور ته ورغی او پيغمبر ورته وويل "قيص عبري نوم دی. څرنگه چې موږ عرب يو نو ستا نوم به وروسته له دې عربي او (عبدالرشيد وي" او عبدالرشيد د خالد بن وليد سره په يوشمېر جگړو کې په مېړانه وجنگېد او پيغمبر ده ته د مېړانې په خاطر د "بتان" لقب ورکړ چې وروسته "پټهان" شو. او "بتان" هغه تير ته وايي چې کښتی پر تکيه وي. ده درې زامن درلود: يو سړبن بل بيټني او بل غرغښت خو کرلاڼي د قيص عبدالرشيد د ديني زوی له پښته دی.

افضل خان خټک، حافظ رحمت خان، زردار خان او قاضي عطاالله خان هم پښتانه بني اسرائيل بللي دي.

په غربي ليکوالو کې سرويليم جونز په ۱۷۸۶م کال کې دا خبره کړې چې د اسرائيلو لس قبيلې وروسته له يوځه مودې سرګردانۍ يو هېواد ته چې "ارسريت" نوميده ولاړې او ممکن هلته ميشت شوي وي او پښتو ژبه کلداني ژبې ته ورته ګڼي او همدارنګه دغه ليکوال د لومړي ځل لپاره د لاتين، يونانيانو جرمانيک ژبو سره د سنسکريت خپلوي ثابته کړه او يو شمېر نورو لويديځوالو هم دده په ملاتړ دا خبره منلې ده لکه جونز، جورج روز، الکزاندر برنز (چې افغانان دې د "برنسي په نوم پېژني چې پر ۱۸۴۱م کال له خپل ورور سره په کابل کې ووژل شو) دده په سفرنامه کې دا خبره راغلې ده او امير دوست محمد خان هم دا خبره ورسره منلې چې پښتانه د يهودو له پښته دي خوامير دوست محمد خان الکزاندر برنز ته داسې وويل چې "موږ د خپل ورور کونډه کوو او خپلې لور ته ميراث نه ورکو ولې به يهود نه يو" دا يوه ټوکه وه (ځکه يهوديان د خپل مذهبي اصولو پر بنسټ د خپل ورور کونډه نه پرېږدي چې بل څوک وکړي او لور د ميراث مستحقه نه ګڼي).

ويليم مورکرافټ (۱۸۱۹-۱۸۲۵م کال) پښتانه يهودانو ته ورته ګڼي.

چارلز ميسن انګرېزي سياح (ګرځندوی) پښتانه اسرائيل بللي دي او د پښتنو څښې د يهودانو ښځو ته ورته ګڼي.

جورج روز د "افغانان، لس قبيلې او د ختيځ پاچاهان" په نوم په ۱۸۵۲م کال کې يو کتاب ليکي او وايي "د يهودو لس قبيلې افغانستان ته تللې او پښتانه د همدغو لسو قبيلو اولاده ده او دا هم وايي دا څه عجيبه خبره نه ده چې پښتنو دې خپله اصلي عبراني ژبه بايللې وي.

هنري والټربيليو (Henery Walter Belew) يو کتاب لري "د افغانانو په باره کې يوه نوې پوښتنه يا دا چې پښتانه رښتيا هم اسرائيل دي او که

بل څوك "او دوه نور کتابونه هم لري يو يې د افغانستان د قوم پېژندنې مطالعه ده او بل يې د افغانستان طوايف دي. بيليو وايي چې په طبقات ناصري کې راغلي دي چې د غور د شنسباني کورنۍ د واکدارۍ په وخت کې په هغه ځای کې يو ولس اوسېده چې بني اسرائيل نوميدل او ځينو يې له شاوخوا هېوادونو سره ډېر تجارت درلود. دا چې بيليو د طبقات ناصري په وينا ليکي چې په غور کې بني اسرائيل اوسېدل او د نباغلي پوهاند ډاکټر حبيب الله تږي په وينا بيا "دا چې بيليو د طبقات ناصري په حواله ليکي چې غور کې بني اسرائيل اوسېدل هلته داسې نه دي راغلي. هلته يوازې داسې راغلي چې په غور کې يو يهودي چې د امير ينجي ملګرى و. چې د هغه څخه يې د بني اسرائيلو د ميشته کېدو غوښتنه وکړه". خو بيليو ځينې پښتانه بني اسرائيل ګڼي او ډېر نور يې بيا په نورو ډلو پورې تړي لکه برهمنانو. راجپوتانو. يونانيانو. جټانو. هپتاليانو. ساکانو يا سيتيانو. مغولانو. ترکانو. عربانو. ارمنيانو او داسې نورو. خو ډېر يې په راجپوتانو پورې تړي او ډېر قياسونه او حدسيات يې د پرتليزې او تاريخي مطالعې له نظره بې باورې راپيدا کوي.

هنري راورټي (H. Raverty) هم پښتانه د يهودانو له نسله ګڼي او دی د سدوزو د قبيلې د يو تاريخ په وينا چې "تذکره الملوك" نومېږي ليکي. د يهودانو په دايره المعارف کې هم راغلي دي چې پښتانه د خپل دود پر بنسټ ځانونه د بني اسرائيلو د لسو ورکو شوو قبيلو اولاده ګڼي.

دا چې دغه ختيځپوهان د بني اسرائيلو "افغنه" يوه قبيله په غور او يا ځينې سيمو کې ګڼي. ممکن د دې خبرو څخه دوی داسې نتيجه ترلاسه کوي چې د اسلام په راتګ سره د هغه ګډو اړيکو په حکم چې د سامي کلتوراو د دوی تر منځ موجودو په دغه سيمه کې لومړی دوی مسلماني مني او د دغه دين مخکښان کېږي چې وروسته په سيمه کې د پښتني لويې ايتنيکې پرګنې سره د دريو فرهنګونو ايزو ګلاس په دې ډول رامنځ ته

کوي:

۱- دغه قبیله د اسلام د مخکښ او فاتح په توګه خپل ملي نوم "افغان" ژوندی ساتي.

۲- د اسلام دین ټول دعقیدې په توګه مني او د نظامي- سیاسي برلاسی لپاره اعتقادي شعار هم ګرځي.

۳- پښتو ژبه او پښتني کلتور د یوې پراخي پرګنې او اکثریت په توګه تر یو ځایه د ځان کوي.

## هغه نظریات چې پښتانه قبطیانو او د فرعونـانو لـه نسله ګڼي:

ابوالفضل په "آئین اکبري" (۱۵۹۷- ۱۵۹۸م کال) کې لیکي: "ځینې وایي چې افغانان قبطیان دي او کله چې اسرائیل له بیت المقدس څخه مصر ته ولاړل. دغه خلك هندوستان ته راغلل او بیا وروسته دلته... خو دا هسې یوه خیالي افسانه ده."

فرشته په خپل تاریخ کې لیکي: په مطلع الانوار کې چې منلي لیکوال لیکلې او ما ته د دکن د کاندیش په ښار ګوتي کې لاس ته راغی. لوستي دي چې افغانان فرعون الاصله قبطیان دي. کله چې موسی پیغمبر هغه کافر (فرعون) ته ماته ورکړه او په سره سمندرګي کې ډوب شو. ډېرقبطیانو د یهودانو دین ومانه. خو نورو یې چې سرتمبه وو. رښتیني دین ونه مانه او له خپل هېواده ولېږدېدل اوهندوستان ته ولاړل. په پای کې د سلیمان په غرونو کې میشت اود افغانانو په نامه یاد شول.

فرید الدین احمد هم په "رساله انساب افغانه" کې وایي: په داسې معیاري آثارو کې لکه تاریخ افغاني. تاریخ غوري او نورو کې داسې راغلي چې اکثر پښتانه اسرائیل دي. خو ځنې یې بیا قبطیان دي".

انګریز مورخ جان ملکم د پورتني اثر په وینا وايي: "افغانان یوه برخه ځانونه د مصر د قبطیانو له نسله او بله برخه ځانونه د اسرائیلو له نسله ګڼي".

## هغه نظریات چې پښتانه د مغلو له نسله ګڼي:

د محمود کتبي تاریخ "تاریخ مظفر" (چې ځینې یې د حمدالله قزویني د "تاریخ ګزیده" جز ګڼي او په ۸۲۳ سپوږمیز (هـ ق) کال کې یې لیکلي داسې لیکي: "عماد الدین محمود... د دارابجرد په سیمه کې د هرې طایفې عسکر راټول کړل او اوغاني او جرمايي (جرما د اوغان څنګ کې ښيي) مغلو ته یې هم بلنه ورکړه".

د میر خواند په "روضته الصفا" کې هم د آل مظفر د پېښو د بیان په ترڅ کې افغان او جرمایان د مغلو په ډله ګډ شوي دي.

ډورن (Prof-Dorn) هم د مخزن افغاني خبره کوي.

عبدالرزاق سمرقندي افغانان او جرمایان له ترکانو سره ګډ کړي دي او لیکي: "امیر سیورغتمش دا باور درلود چې سرګردانه قبایل او ترک افغانان به ورسره یو ځای شي".

## هغه نظریات چې پښتانه د ارمنیانو له نسله ګڼي:

پولنډي کروزنسکي چې له ۱۷۲۰ تر ۱۷۲۵م کال پورې په اصفهان کې اوسېده، د پښتنو د برې او د صفوي دولت ماته یې پخپلو سترګو لیدلې ده (د هوتکو د تاریخ یوازینی د باور وړ منبع ده) د افغانانو په اړه لیکي: "ځینې مورخین په دې عقیده دي چې دا ولس هغه وخت له ارمنستان څخه

راوتی دی چې د شیروان ولایت د البانیا په نامه یادېده او خلك یې البانیان بلل کېدل... د شیروان او کره باغ په سیمه کې د لویو لاړو ساتونکی "اغونیخ" بولي چې په ارمني ژبه داغوانانو مشر دی او د ګیلان پر پوله... ارمنیان ځانونه "اغوان لیك" ګڼي او په دې ډېر ویاړي او دا هم لیکي چې: "ګوډ تیمور (افغانان) له شیروان څخه داسې هېوادته وشړل چې د فارس او هندوستان تر منځ پروت دی". او هم "البان" په "اغبان" بیا په "اغوان" بدل شوی او دغه نوم رومیانو پر ارمنیانو اېښی دی چې په لاتیني "غره" ته "البه" وایي او "البانیا" یعني غرنی هېواد.

جورج کیپل په خپله سفرنامه کې، چې په کال ۱۸۲۴م خپره شوه داسې لیکي: "د شیروان په ولایت او شاوخوا سیمو کې ځایي خلکو د خپل اصل او نسب په باره کې داسې پوښتنې راځخه کولې چې په یادونه ارزي او دا ځکه چې له عام ذهنیت سره اړخ لګوي او هغه دا چې د لرغوني البانیا (شیروان) د یو سیمې خلك د هند د تاتارانو هغه قبایل جوړوي چې د افغانانو په نامه یادېږي". او بل ځای لیکي: "لرغونو البانیانو خپل هېواد ترکانو ته ورخوشی کړ... او دوی خپله د افغانانو هغه ملت جوړ کړ چې ارمنیان یې خپل ورونه ګڼي".

هنري والټر بیلیو یو ځای افغانان د اصل او نسب په لحاظ له ارمنیانو سره تړي او حتی د "افغان" کلمه هم د ارمنیانو د "اغوان" اوښتې بڼه بولي: سره له دې چې پښتانه له لرغوني یونان مورخ هیرودتس څخه څه ناڅه یوه نیمه پېړۍ اوله لرغوني یوناني جغرافیه پوه سترابون څخه څه ناڅه ځلورنیمې پېړۍ پخوا په غور کې اوسېدل. دغه دوو تنو لیکوالو په خپلو آثارو کې د غور او شاوخوا او هم د لرغوني آریانا په نورو برخو کې د پښتنو موجودیت یاد کړی او د پښتنو د اوسنیو قبایلو سره یې د نومونو ورته والی لکه "اپاروتي" او "اپریدي" موجود دی. خو د افغان د وراشي په اړه څه شك ورته پېښ دی او وایي: "عربان مخکې له دې چې د خپلو بریو په لړ کې

"په بشري ټولنه کې د پښتنو او..."

افغانستان ته راورسېږي، د "اغوان" یا "اوغان" له نامه سره دارمنستان د غزنیو خلکو په مفهوم بلد وو. نو کله چې د پښتنو غزنی سیمې "غور" ته راورسېدل. پښتانه یې هم "اوغان" یا "افغان یعني د غزنیو خلکو په نوم یاد کړه. خو بیلیو دا امکان هم نه ردوي چې د غور پښتانه خپلو ګاونډیانو د عربو له وررسېدلو څخه مخکې "افغانان" بللي دي او بیا عربانو هم په همدې نامه یاد کړي دي او دا هم وایي: "سړی دې نتیجې ته هم رسېږي چې د غور اوسېدونکي اصل له ارمنستان څخه راغلي "اغوانان" وو او له یهودانو او د غور له ځایي اوسېدونکو سره یې یوه ګډه او واحده ټولنه جوړه کړې وه".

خو د ګوډتیمور د یرغلونو په وخت کې په نني افغانستان کې پښتانه یو آباد ولس و او تیمور څو ځلې یرغلونه پر کړي دي چې ددغه یرغلو په وړاندې د درېدو سره ډېر ځنې وژل شوي هم دي. تر دغه پېښې مخکې اسنادو کې لکه د البیروني. عبدالجبار- عتبي. ابن اثیر او نورو آثارو کې او د غزنویانو د وخت د ځینو شاعرانو په شعرونو کې دا ښیي چې پښتانه له ګوډ تیمور څخه څو سوه کاله مخکې د نني افغانستان له بېلابېلو سیمو څخه نیولې بیا د اباسین تر غاړې پورې میشت او آباد وو. د سلطان محمود غزنوي په پوځونو کې د "دلزاك" په نامه یو پښتني غښتلي ټولګي ګډون درلود چې د سومنات جګړو ته یې له ځان سره بوتله او هم د غلځو په نامه یو شمېر پوځي ټولګیو (واحدونو) د غزني په امپراتورۍ کې ګډون درلود چې دا خبره بیلیو په ۱۸۸۰م کال کې لیکلې ده.

## هغه نظریات چې پښتانه د ګرجیانو سره نژدې ګڼي:

کلیرات (Clairaut) لیکي: "یو ګرجي چې جوزف نومیده ویلي دي چې افغانان په دې عقیده دي چې د نوح پیغمبر زوی "یافث درې زامن درلودل

چې نومونه یې ارمن. اغوان او کردون وو او ارمنیان. اغوان او کرجیان په ترتیب سره د همدوی اولاده ده او اغوان بیا وروسته له ارمنستان څخه سلیمان غرونو ته لېږدېدلي او دا اوسنی افغان ولس یې جوړ کړی دی.

پورتني نظریات په اصل کې ټول یا په دودیزو ویناوو او یا په عادي مشاهداتو (لیدونو) ولاړ دي.

اصولي او دقیقې څېړنې چې د پښتنو د تاریخ. ژبې او ټولنیزو ځانګړتیاوو په اړه د نولسمې پېړۍ له لومړیو څخه رادې خوا ته شوې دي. د هغه په نتیجه کې پورتني نظریات رد شوي: ځکه نوې څېړنې پښتانه د اصل او نسب او کلتوري چال چلند پر بنسټ آریایان او د هندو اروپايي کورنۍ د هغې ستړې ځانګې غړي بولي چې د هندواریاني په نامه یادېږي.

## هغه نظریات چې پښتانه او په هندو اروپايي لویې کورنۍ کې د هندواریاني ځانګړې غړي بولي:

منستوارت الفنستېن په ۱۸۱۴م کال په خپل اثر "د کابل سلطنت" کې لومړۍ هغه دودیزه وینا چې پښتانه بني اسرائیل ګڼي دا ډول ردوي: دا روایت چې ساول (ملک طالوت) د ابراهیم پیغمبر پنځه څلوېښتم پښت ګڼي او قیص بیا د ساول اوه دیرشم پښت بولي. دا دوه ټکي دا ډول ردوي لومړی ټکی د انجیل او تورات سره هیڅ اړخ نه لګوي او دوهم ټکی یې اوه دېرش پښته سپاړس سوه کاله نه کېږي.

الفنستېن د جونز دغه دلیل چې د افغانانو او یهودانو د دود او دستور تر منځ نژدېوالی یا شباهتونه ښودل شوي ردوي او وایي: "دغه ډول شباهتونه د بېلابېلو ولسونو د ټولنیز ژوند په ټاکلي پړاو کې معمولي دي که دا ټکي د قومونو تر منځ دلیل وي نو بیا کېدای شي چې تاتاران. عربان. جرمنیان او روسان یو شي".

الفنستین دا نظریه هم ردوي چې پښتانه اصلاً قفقازیان دي او لیکي: "له یوه نهٔ زیاتو اروپایانو دا عقیده څرګنده کړې ده چې افغان د قفقازیانو یوه قبیله او په ځانګړې ډول د ارمنیانو له پښته دي، خو خپله پښتانه هیڅکله هم ځانونه د ارمنیانو له نسله نه ګڼي".

جان ملکم د فارس په تاریخ کې بیا هغه روایت ردوي چې وایي پښتانه بني اسرائیل دي او لیکي: "هیڅ کوم داسې ډبر لیك (کتیبه) نه دي پیدا شوي چې دا عقیده تائید کړي چې پښتانه د یهودانو له پښته دي".

د لومړي ځل لپاره د پښتو په اړه ډېره ژوره څېړنه لوی ختیځپوه او د بشري علومو لوی عالم برنارد ډورن کړې ده. ده د خواجه نعمت الله هروي "تاریخ خانجهاني و مخزن افغاني" په انګرېزي ژباړلی او په ۱۸۳۶م کال یې په لندن کې خپور کړ. د پښتنو په اړه داسې لیکي: "دا چې فارسي ژبي مورخین پښتانه د یهودو له نسله ګڼي دا پرته له یوې خبرې څخه د کوم بل شي ثبوت نه شي کېدای او هغه دا چې دا لیکوالان روایات. پرته له دې چې ماهیت یې څرګند کړي، د خپل دود پر بنسټ. د مسلمو حقایقو په توګه ثبتوي".

ډورن وایي: پښتانه له کوم بل ملك نه افغانستان ته نه دي تللي، بلکې لکه څنګه چې سرولیم جونز وایي "د لرغوني پارو پامیزاد (د مرکزي افغانستان او شاوخوا سیمو) اصلي او ځایي اوسېدونکي دي".

ډورن هغه روایت او نظریات هم ردوي چې پښتانه ارمنیان بولي او وایي که سړی د ارمني اغوانانو تاریخي سوابق د "سیتت مارتین" په هغه اثر کې ولولي چې "د ارمنستان خاطرات" نومېږي نو ژر به په دې قانع شي چې ارمني اغوانان او پښتانه یا افغانان یو شی نه. بلکې دوی کورټ بیل ولسونه دي.

ډورن چې پښتانه د هندو اروپایي ولسونو د ستري کورنۍ غړي بولي. په عین وخت کې یې یو ځانته لرغونی ولس ګڼي او لیکي: "زه دا خبره منم

چې افغانان په د هغې سترې کورنۍ غړي وي چې جرمنيان، هنديان، سلوانيان او يونانيان پورې اړه لري. خو لکه څنګه چې موږ د دې لپاره هيڅ تاريخي ثبوت نه لرو چې وښيو يونانيان يا جرمنيان د هنديانو له پښته دي. دغه ډول هم دا په تېنګه نه شو ويلای چې افغانان د لرغوني فارسيانو يا هنديانو اولاده ده".

ډورن دا خبره هم کوي چې پښتانه، نه د ايرانيانو له پښته دي او نه د هنديانو، بلکې دا د دغو دواړو ولسونو تر منځ يوخپلواك قوم دی.

د ډورن او جان ملکم نظر په دې اړه څه ناڅه يو دی. جان ملکم وايي چې د افغانانو "له عادتونو داسې ښکاري چې دوی له فارسيانو، تاتارانو او هنديانو نه بېل خلك دي".

جورج روز په ۱۸۵۲م کال کې ليکي: "پښتانه د يوه خپلواك ولس په توګه په هغو سيمو کې ژوند کوي چې ټول روايات يې له پخوانيو وختونو څخه د همدې تاټوبي بولي. دوی د فارس پاچهان وو او په کلونو کلونو يې پر هند واكداري کړې ده" او همدارنګه "د ختيځ پاچهان" يې ګڼي.

که موږ د بشري ټولنو لومړيو وختونو ته ولاړ شو او د "مورګان" د اټکل سره سم د "يونالوايي" په پړاو کې د کورنۍ رامنځ ته کېدل وګڼو په پښتنو کې دغه (کورنۍ) چې (کوړمه) او (کړدۍ) هم ورته ويل کېږي په کهول يا کول چې يوسفزو کې د (کندي) په نوم هم يادېږي په لويې کورنۍ بدلېږي او اريايانو د کوچيتوب په وخت کې کهول ته "کولا" ويل چې د ژوند بنسټ يې ګاڼه او د هغه مشره به ښځه او "پتي" وه چې وروسته پرمختګ کوي او د نارينه واك رامنځ ته کېږي او د څو کهوله (کوله) څخه "ګرامه" يا "ويسه" جوړېږي چې په پښتنو کې د "خيل" او "زي" نسبي وروستاړي (لاحقي يا Suffixes) لري چې د قبيلوي نظام بنسټيز جوړښت او درجې ښيي او د پښتنو په ټولنيزه مطالعه کې ځانګړي اتنوګرافيکي کلمات دي چې وروسته "قبيله" (ټبه) رامنځ ته کوي چې لوی ټولنيز واحدونه دي چې د

نسبي ګډون په پولو کې لیرې د "خیل" او "زي" په ترکیب. ګڼ ګروپونه تر یو ځانګړي پلرني نامه لاندې راټولوي یعنې د خېل او زي د وروستي واحد په ستره کړۍ کې سره راټولېږي چې د بریتانیکا دایره المعارف د خپلو ماخذونو پر بنسټ د پښتنو د قبیلو د شمېر او استوګنې په اړه لیکي چې پښتانه "له شپیتو (۶۰) قبیلو څخه جوړ دي چې ټاکلي سیمې یې نیولې. "خو ممکن د اوسنیو لېږدېدنو په نتیجه کې ټول په ټاکلو سیمو کې ونه اوسي. وروسته د دغه قبیلو د یو ځای کېدو څخه "قوم" منځ ته راځي چې د پرمختګ او ایتنیکي یووالي غښتلي سمبول او د قبیلو ټولنه (اتحادیه). کانفدریشن او یا ولس دی چې ګڼ شمېر قبیلې د یو ټولنیز واحد په کړۍ کې تر یو ټولنیز. اقتصادي. کلتوري او سیاسي ګډون لاندې سره راټولوي چې د دولت تر موسسې ځان رسوي او دغه قومي اړیکي د غښتلو ټولنیزو او کلتوري پیوندونو بنسټ اېږدي.

لکه څنګه چې جینټیک د نسلي او طبیعي ځانګړتیاوو سره اړه لري او ایتنیک بیا د کلتوري یا تاریخي جریاناتو محصول دی. خو د پښتون ایتنیکي ټولګي د تاریخي او جاري شواهدو له مخې داسې ښکاري چې زیات جینټیکي عناصر یې د ځان په ایتنیکي وجود کې حل کړي او د ملي یووالي درجې ته رسولي دي چې ختیځ یې په لرغوني زمانه کې اخښل شوي ده او له ایتنیکي پلوه یې ذاتي خپلواکي د ځان لپاره تینګه ساتلې ده چې له پخوا څخه د ظلمونو له مرکزونو څخه فراره او د ختیځ استبداد له دولتونو څخه بېزاره پرګنو د دوی په ... ونډیتوب کې پناه موندله او د دوی د ژوند لاره یې غوره کوله.

خو د ښاغلي کاندید اکادیمسن محمد انور نومیالي په وینا: ایتنیکي هویت یو "تاریخي واقعیت" دی چې د یو "تاریخي انتخاب" په عملیه رامنځ ته شوی. ځکه نو د ټولنیز تاریخ واقعي څېړنه د ټولنیز هویت د پاینښت او د دې لپاره خورا حیاتي ارزښت لري او د دې تر منځ د ثبات او بدلون انډول

هم باید موجود وي. که چېرې ثبات بدلون ته مجال نـه ورکوي او بدلون لـه یوه مخه ثبات له منځه وړي نو هلته د بشپړتیا ځای انقراض او نفي نیسي.

خو د دې لپاره چې دغه اندول وساتل شي نولازمه ده لاندې توکو ته پام وشي:

۱- د "ثبات" کوم عناصر باید انتخاب شي.

۲- د "بدلون" کوم عناصر په "ثبات" کې وده وکړي.

۳- هغه "تاریخي تېولګه" چې کوم "ثبات" ساتي او کوم "بدلون" مني.

۴- هغه "تېولنیز واك" چې د "ثبات" او "بدلون" د عناصرو "شعوري انتخاب" کوي. هغه خپله کومو موازینو تـه پاملرنـه کـوي او "تاریخي انتخاب" د کوم تېولنیز دریځ پر پله دروي.

اوس چې ایتنیکي هویتونه او ملي واحدونه په سیاسي واحدونو بدل شوي نو ځکه تر بل هر وخت نن د "شعوري انتخاب" رول پیاوړی دی.

پښتانه چې د ځانګړي ایتنیکي هویت د لویې پرګنې په توګه. د اریایي حوزې په مرکزي ټاټوبي کې یې د تکوین او تثبیت لرغوني پړاونـه تیر کړي او د ګڼو جینتیکي تېولنیزو. کلتوري او سیاسي شرایطو د التقایي بهیرونو څخه راوتي او د تاریخي ثبات یوې ټینګې او پخې کچې ته رسېدلي. په دې ارزې چې د بشري تېولنې د بېلابېلو هویتونو د جوړښت او بشپړتیا د قانون پر بنسټ د یوې پوره. بشپړې. کلاسیکي او ښې بېلګې په توګه وګڼل شي: چې د "ثبات" عناصر یې هر وخت د "بدلون" تر عواملو غالب دي او دا چې پښتنو د "پښتونولي" په نوم د لرغوني زماني ځرګندې بېلګې ژوندۍ ساتلې او پاللې دي ددغه "تاریخي ثبات" نتیجه ده.

د پښتنو ایتنیکي تېولګه د یـو بشپړ او ګانیزم په توګه تش د منفردو وګړو ډلـه نـه ده بلکې یـو تېولنیز- اقتصادي سیستم دی چې د مادي او معنوي عناصرو له تاریخي جوړښت څخه د اوږدې زماني په دوران کې د تشکل او پرمختیا پر لار منځ ته راغلي چې د دې اورګانیزم واحدونه وکړي

نه بلکې لویې قبیلې دي او د هرې یوې تشکل او تکامل د خورا ډېر وخت زېږنده دي چې د خپل ټولنیز بهیر په دوران کې یې له "ویدایي" د وسنا کلتور سره مشترکې چارې پاللې چې ویدي سندرې د پښتنو د شپنو سندرو ته ورته دي.

د اوستا "اهورمزد" د پښتنو د "اورمړ" تاریخي ریښه بلل کېدای شي او د پښتني ټولنې عناصرو د سیمه ییز او وګړنیز اشتراك په وجه په بشپړاو یا قسمي ډول په زردشتي کلتور کې غښه تاریخي ونډه اخیستې ده.

د ګندهاریانو له خپرېدو سره چې د پښتنې تکوین عناصر دي د بودیزم خپرېده هم یو ځای اټکل کېدای شي او هم د ګندهاري هنر او فرهنګ رول په بودیزم کې د پام وړ دی.

د پښتنو په ایتنیکي څېړنو کې د مسلمانۍ او پښتونو تر منځ اورګانیك پیوستون موجود دی. مسلماني چې د پښتني ټولنې تر هره ګوټه رسېدلې او د پښتون زړه ته یې لار پیدا کړې. نو پر اعتقادي ځانګړتیاوو سربېره یې په کلتوري او سیاسي چارو کې د دوی د یووالي او پیوند لپاره د ملي اړیکو ټولنیزې ځانګړتیاوې هم اخیستې دي. د دیانت او قومیت ګډون په دغه ایتنیکي هویت کې اورګانیك پیوستون ته ځان رسولی دی.

په ټولنیز تاریخ کې چې مضمون یې ژوندی قوم یا ولس دی چې د یو تاریخي محصلې په څېر رامنځ ته شوې او د نورو په وړاندې له خپل تاریخ څخه ربښتینی استازیتوب کوي، د ټولنیزو- اقتصادي پړاوونو لړۍ یې یو په بل پسې باید وڅېړل شي. چې په دې اړه بناغلی کاندید اکاډیمیسن نومیالی داسې لیکي: "د تولید د اشتراکي روابطو په حساب د پښتنو په ټولنیز تاریخ کې دوه ډوله ټیپك کمونونه د مطالعې وړ دي:

١- کلیوالي کمون (چې پر ځمکه ولاړ دی): چې د مشترك ځمکې په کرهڼه او پالنه کې د ازادو کروندګرو له خوا منځ ته راغلی (ډېرې بقایا وې یې تراوسه هم د ځنګلو. غرونو او سیندونو ګډ ملکیت دی).

۲- کوچي کمون (چې پر مالدارۍ ولاړ دی): چې د نسبي پیوندونو، ګډو څړځایونو، د تلو راتلو دودیزې لارې او د داسې نورو تولنیزو او اقتصادي لارو چارو اشتراك دی (چې په پښتنو کې ډېر پیاوړي او ریښې یې تر اوسه هم پاتې دي).

د تولید پیاوړی چوپاني طرز که په خپل وخت کې د پښتنو لپاره د ژوند د ځواك سبب وګرځېد خو د "ثابتې علاقې" په وجه د ډېرې اوږدې زمانې په دې ځانګړې ژوند کې یې د "تاریخي ثبات" ډبرین خوی هم واخیست چې د بل هر راز "بدلون" له لوري څخه یې د ده مخ راوګرځاوه.

پښتنو په دغه وخت کې د کوچیتوب د ځانګړتیا پر بنسټ د سیل په شان کمزوري لاندې کړې او له زوره څخه د تېښتې ډینامیك استعداد ترلاسه کړي دي، ځکه یې نو وکولای شول چې له طبیعي او هم ټولنیزو پېښو څخه په بیړه ځانونه تر یو حده وژغوري او وروسته د انضباطي او سوقیاتي ځانګړتیاوو پر بنسټ د سیمې د سترو امپراتوریو په جوړېدو کې د پښتني ټولګیو (واحدونو) پوځي رول هرچاته څرګند کړي، ځکه د ناڅاپه پېښو سره د دوی نابېره مخامخ کېدونو، د تل لپاره د دوی جګړه ییزه روحیه ژوندۍ ساتلې او هم یې د کوچیتوب په حالت کې هیڅ کله سیاسي پوله د ځان لپاره نه ده منلې او نه یې په رسمیت پېژندلې ده. دوی د تل لپاره په پراخه سیمه کې د طبیعي پولې په روحیه ژوند کړی دی. قبیلوي، طایفوي او عشیروي پیوندونه چې د دوی د ملي روزنې مهمه برخه جوړوي په ټولنیز شعور کې ژوندي ساتلي او ګاونډیو رټل شوته یې هم پناه ورکړې ده.

خو د طبقاتو ځای د ټیټو او پاسوټولنیزو پوړیو په حساب خیلو نه او قبیلي ډکوي. په دې ډول لاسي کارونه او کسبونه دوی ته شرم ښکاره شول چې د ښاري اقتصاد څخه د دوی د لیرې پاتې کېدو یو لامل دغه کلتوري روحیه وه ځکه یې نو د نظامي ارستوکراسۍ (پوځي اشرافیت) لاره غوره کړه.

بناغلی کاندید اکاډیمیسن نومیالی دا هم لیکي چې کله د یو تن تولیدي محصولات د هغه د استهلاك تر اندازې زیات شول. استثمار منځ ته راغی یعني اضافه تولید د خصوصي ملکیت بنسټ کښیښود. په دې ډول مریتوب رامنځ ته شو او مریتوب هم په لاندې ډول دوه مرحلو کې ښیو:

۱- کورنی مریتوب "بابایي مریتوب" یا د چوپړ لرغوني مریتوب (Partriachal Slavery) په خیل کې دننه پر ازادو غړو سربېره د جګړې بندیان یعني مریان هم شامل وو. د خیل په ټولیو کې مریان د کار عمده طاقت نه بلل کېدو: یوازې د کورنی په چوپړ پورې محدود وو او پښتنو د خیل د انکشاف په جګه مرحله کې د کمون هغه پخه او ثابت شکل ته چې کهول نومېږي ځان ورساوه او هغه یې وساته. چې د بابایي نظام (Patriarchalism) په نوم ښه افاده کېږي.

۲- د کار مریتوب یا کلاسیك مریتوب (Classical Slavery): لکه په لرغوني یونان او روم کې (ځینې بیا له دې مرحلې وغورځېدل او فیوډالي ته ورتېر شول لکه پښتانه).

د یوسفزو د "وېش" ترمینالوژي په خپله د یو ټاکلي ټولنیز- اقتصادي جوړښت عیني تاریخي مقولې دي او پر هغه انتقالي مرحله هم رڼا اچوي چې د پښتنو یوه ستره قبیلوي اتحادیه (ټولنه) د کوچي کمون له جګې مرحلې څخه د فیوډالیزم کلیوالي ټولنې ته تېرېږي.

څرنګه چې په پښتنو کې له اقتصادي پلوه هغه غښتلي وسایل نه دي راپیدا شوي چې ټول پښتني واحدونه د سیاسي ویشنو او طبیعي انزواګانو له پاشلي او ویشلي حالت څخه راوباسي او د پانګوالی په تیز دوران کې یې واچوي چې یو د بل سره د ژوند په ټولو چارو کې ګډ شي. نو ځکه د پانګوالي په حال کې چې تراوسه په نطفه کې ده د فیوډالي ځانګړتیاوې او د فیوډالیزم په مرحله کې یې د مریتوب د مرحلې ځانګړتیاوې او په دې ټولو کې بیا د کمون د بېلابېلو درجو ځانګړتیاوې او خصوصیات په یوه

واحده ایتنیکي ټولګه کې یو د بل په غېږ کې ژوندۍ پاتې دي او د دغه لامله پښتون د بشپړ یووالي درجې ته تر اوسه لا هم نه دی رسېدلی.

له نولسمې پېړۍ څخه راپه دې خوا چې د انګرېز او روس داغیز غټ سیاسي بهیرونه په سیمه کې یو د بل سره مخامخ کېدو ته نږدې کېدل، په وروستۍ لسیزه کې یې د پښتنو په منځ کې د "ډیورند" کرښه راکش کړه او د پښتون ملت په تاریخي پیوستون کې یې د بېلتون طبیعي چړاخو (فاصلو) ته سیاسي لاره خلاصه کړه او وروسته دا بېلتون په دې بده اغېزه وکړه چې پښتانه لا د ملي یووالي له پلوه د پیاوړي رشد پړاو ته نه وو رسېدلي. نو په دې وسیله یې لـه یـوه غښتلي سیاسي او اقتصادي تمرکز څخه بې برخې کړل او د دې په نتیجه کې یې هغه ګډ ملي احساس لـه زوره واچاوه چې لـه کمزورۍ سره یې سیمه ییز او قبیلوي جریاناتو له نوي سره څخه په هر ګوټ او هـره تـره کـې ډېر زور واخیسـت او د ټولـو ملـي. تـاریخي. ټولنیزو. اقتصادي، کلتوري او اعتقادي ګډو مشترکاتو سره په دریو سیاسي حوزو لکه افغانستان. قبایلي سیمو او پاکستان (پښتونخوا) وویشل شول. چې د ټولنیزو- اقتصادي اوکلتوري- سیاسي ځانګړتیاوو لـه کبله هم د دوی تر منځ لږ او ډېر توپیرونه راغلل: هغه هویت چې پـه افغانستان کې اوسي پـه اکثریت ډول فیوډالي خوی او خصلت لري. هغه چې په ازاده قبایلي حوزه کې دي د پاتریارکلیزم د دورې کموني ځانګړتیاوې لـري او هغـه چـې پاکستان (پښتونخوا) کې ژوند کوي د کاپیټالیزم (پانګوالي) له موازینو او موسساتو سره په ښارونو کې ډېر بلد شوي دي.

که افغانستان بیا پر پښو ودرېږي او پښتانه. په پښتني او رښتینې افغاني روحیه هغه کې ټاکونکي رول د خپل رښتیني شمېر پـه اندول ولري او لکه څنګه چې وعدې شوې هغه ترسره شي او دا ټولنیز- اقتصادي شعارونه د ملي ټولنې د جوړېدو سره مله او په انفرادي سرابنیو او د پښتنو په مخالفت بدل نه شي. نو ښایي د قبایلي او پښتونخوا پښتانه د افغاني

پښتنو د اباديو او ښاديو د ليدو سره د خپلو غوښتنو د پوره کېدو په هيله دي خوا ته رامات او د خپل بنسټيز پيوستون اړيکي به په سياسي پيوستون کې نورې هم ټينګې کړي.

د پښتنو تر منځ د سيمې پرله پورې والی د "تاريخي انتخاب" هغه طبيعي ښېګڼو چې پر نورو عواملو سربېره يې دوی ته د پايښت او ټينګښت په برخه کې بنسټيز رول لوبولی دی. په راتلونکې زمانه کې هم داسې ښکاري چې د ژوند دغه ځانګړتيا به د "شعوري انتخاب" له اصله سره سم تر ډېره وخته خپل ارزښت وساتي.

خو د پښتنو د موجوديت او حق لپاره د ملي تمرکز او يووالي مسئله په هر ډول حالاتو کې لازمه او ضروري ده. که دغه اړتيا ته چا پام ونه کړ نو به هر وخت د اکثريت په حالت کې هم دواړه اقليت (لږه کې) په تول د ارزښت څښتن نه شي او غير له هغه‌به د نورو لپاره د خپل موجوديت په سياسي افتخار کې پای ته رسېږي.

پښتو چې د پښتون سره د قبيلوي نظام په ټوله دوران کې خوله په خوله تللې ده او د هغه نظام ټولنيزې. اقتصادي. کلتوري. ادبي او د سياسي ژوند ټولې اړتياوې يې ورپوره کړي دي. خو کله چې پښتون د دولت جوړېدو مرحلې ته رسېدلی دی د سيمې د غالبو او خپرو ژبو تر غښتلې کلتوري اغېز لاندې راغلې او د دولتي ارستوکراسۍ په سطحه يې پښتو په شا کړې ده او پښتو له سپين پښتانه سره يوځای دولتي دربار ته يې لار نه ده موندلې. که د واکمن پښتانه تاريخ وکتل شي نو دا نتيجه څنې راوزي چې د واکمنۍ په دريځ کې يې د "مصالح علياى کشور" تر رويايي ايجاب لاندې په نظر او عمل کې خپله پښتو په درې کاڼي طلاقه کړې ده. همدا وجه ده چې د پښتون د اکثريت ثقل هيڅ کله او هيڅ چېرې د پښتو په کيفيت کې کوم رول نه دی لوبولی او پښتون د خپلې پښتو سره بې پښتو شوی دی. چې يوازې له هغه سرشمېرنو څخه چې د افغانستان په اوسنيو

جغرافيايي حدودو کې د نړيوالو موسسو او اشخاصو له خوا تر سره شوې دي دا په ډاګه کېږي چې هغه په لاندې ډول دي:

په ۱۹۹۲م کال د نيدرلند (هالند) هېواد کې د (Alle landen van de wereld) يا (د ټولې نړۍ هېوادونه) په نوم کوم تاريخي- جغرافيايي اثر چې د نيدرلند د علمي مرکز له خوا خپور شوی. په (۱۶) مخ کې د Afghanistan تر سرليک لاندې وروسته له اوږده تاريخي او جغرافيايي بحث څخه داسې ليکل شوي دي:

De grootste bevolkingsgroep (60%) wordt gevermd door de Pasjetanen. Zij beschowen zichzelf als de echte Agghanen.

ياني: د افغانستان د نفوسو لويه ډله (۶۰%) پښتانه دي. چې دوی ځانونه ربښتيني افغانان ګڼي.

په نيدرلند کې بل اثر د (Werld Atlas voor hat Gezin) يا (د کورنۍ لپاره د نړۍ اطلس) په نوم چې په اويايمو او اتيايمو کلونو کې څو ځله خپور شوی داسې راغلي دي:

De bevolking bestaat voor ca. 60% uit Afghanen, Wier tal, het Pasjtoe, de officiele landstaal is.

ياني: د نفوسو ۶۰% په شاوخوا کې افغانان، چې بنسټيزه ژبه يې پښتو ده، دغه ژبه رسمي- ملي ژبه ده (البته په اساسي قانون کې نه په عمل کې.)

خو لکه مخکې چې مو وويل پښتني ټولنه د يو بشپړ اورګانيزم په توګه تش د منفردو وګړو ساده ټولی نه دی بلکې هغه تړلي سيستم دی چې د مادي او معنوي عناصرو له تاريخي ترکيبه څخه د اوږدې زمانې په نسبي ثبت کې د تشکل او تکامل پر لاره باندې په اورګانيک ډول منځ ته راغلې ده. ځکه نو "پښتون" چې د هرې ترې او هرې ختې وي ځان پښتون ګڼي او د دې تر څنګ د خپلې ژبې ملي نوم "پښتو" پيوند له ځانه سره لري چې په کلتوري يووالي باندې يې څرګند دلالت کوي او دغو دوو نومونو د ټولنيزو



"په بشري ټولنه کې د پښتو او..."

دودونو او خويونو يو شمېر کلتوري نرخونه او ازربښتونه هم په ځان کې ساتلي دي او "پښتونولي" کلمه هم په ملي سويه د استعمال وړ ده چې د حقوقي، اخلاقي، جزايي، سياسي او اجرائيوي نورمنو او نرخونو هغه ټولې برخې په کې دي چې د دوديز نظام په خپلواك ملي هويت کې د ټولنيز ژوند اړتياوې پوره کوي، دغه ترم د بريتانيکا دايره المعارف په سويه په نړيوالو محافلو کې هم منل شوی دی. هرڅومره چې د پښتنو ټولنيزې اقتصادي اړيکې پرمختيا مومي د کوچنيو نسبي او سيمه ييزو پولو او همدارنګه له لهجوي (ګړدوديزو) توپيرونو او هم د قبيلوي او سيمه ييزو دودونو او تعاملاتو له کلتوري توپيرونو څخه راوزي او خپل ملي هويت تثبيتوي.ځکه نو "پښتون" په بشپړ ډول هغه کلتوري ټولګه ده چې "ژبه" او "ايتنيکي" هويت" يې سره سمون لري. "پښتون" او "پښتو" يو د بل سره په تاريخ کې تړلي دي او د "ثبات" په نتيجه کې يې خپلې دوديز نظام په بشپړه توګه تر ننه رارسولی دی او "پښتونواله (پښتنواله)" چې په نړيوالو معتبرو اثارو کې هم له پخوا څخه په دغه نامه تسجيل شوي دي، د عامې رايې، د نظر او عمل په ټولنيزه ورشو کې د تقنيني، قضايي او اجرائيوي ټوله هغه عناصر يو ځای په ځان کې لري چې د بشري ټولنې د نظم لپاره ټولنيز تاريخ زېږوي.

"پښتون" چې د خپل جوړښت د اوږده تاريخ له سرو او تودو، لوړو او ژورو څخه راتېر شوی او د يو ايتنيکي واحد په توګه د افغانستان، د ازادۍ قبايلي تراډي او پښتونخوا په دريو سياسي پولو کې په ځايي يا کوچي ډول اوسي، عيني موجوديت پيداکړی دی: چې لازمه ده، ترهرڅه وړاندې خپل "عيني موجوديت" د "عيني واقعيت" په سطح د امکان تر حده د سالم تعقل پر بنسټ وپېژني او د "شعوري انتخاب" په چارو کې سم لوري په مخه واخلي. ځکه نو د ټولنيزې اقتصادي پرمختيا په زمينه او اوسنی سياسي وضعي په نتيجه کې بايد د پښتنو بېلابېلې قبيلې له سياسي پلوه د پښتنو د ملي يووالي يوې جګې سطحې ته ورسول شي.

پښتنانه چې له ژبې څخه نیولې تر سیمې پورې. د تاریخ ګډو کلتوري،مادي او معنیو مشترکاتو د یو ملت په هویت کې پرله پسې ساتلي دي. د هغه په اړه اروابناد سید رسول رسا دا ډول لیکي: "پښتو کلمه په دوه معناوو ده: (پښتو) پښتانه خپلې ژبې ته وايي او پښتو پښتانه خپل سیرت ته وايي. د دنیا په هیڅ قوم کې ملي ژبه د ملي سیرت په معنی نه استعمالېږي... کله (پښتون) کلمه هم د ملي کردار لپاره استعمالوي" او دا هم لیکي چې د یو (نمونه پښتون) لپاره د دې صفتونو موجودیت لازم دی "یعني دا چې میلمه دوست وي،توورزن وي، د پښتون د ننګ محافظ دې وي، د حمیت خاوند دې وي او د غیرت پاسبان دې وي او پوخ دوست او پوخ ملګری دې وي او د پخې او قوي ارادې مالك دې وي او ژبه دې پښتو وي..." خو د (عام پښتون) په اړه د نورو خبرو تر څنګ لکه پیسې چې د لاس خیرې ګڼي او داسې نور. دا هم لیکي: "ښه لښکري دي خو ښه سپاهي نه دي، پښتون ضابطه نه مني او د ضابطې د ترسیورې نه ځان ازادول غواړي، پښتون ښه فاتح دی خو ښه منظم نه دی، لښکري وکړي، ملکونه فتح کړي خو انتظام ته چې خبره راشي بیا ورکې نه وي... پښتون غصه ناك او تند مزاج دی... پښتون خپله بې عزتي نه شي برداشت کولای. په عزت او د خاندان په عزت هرڅه بايللو ته تيار دی.پښتون په بدل ژوند دی... پښتون د رسم او رواج پابند دی. په عزیزولۍ کې لاندې راتلل نه خوښوي... خپلې قضیې، تنازعې او جګړې په جرګه فیصله کوي... چټاکي ورکي نه شته او هم دغه د پښتون د بدبختۍ سبب دی. خو د دې مطلب دا نه دی چې ګڼي پښتون مشر. کشر نه پېژني... یا یو کار ښه کول غواړي یا نه کول غواړي... او پښتون په اصل. نسل او پښتو ډېر فخر کوي..."

د کادید اکاډیمسن نومیالي په وینا که ایتنیکي هویت له یوې خوا تاریخي محدودیت دی. خو له بلې خوا بیا تاریخي واقعیت دی.

که تاسو له دغه محدودیته ځان راباسئ او له دغه واقعیته تېرېږئ. بل



"په بشري ټولنه کې د پښتو او..."

مو د ځاني محدوديت او واقعيت په خاطر ددغه محدوديت او واقعيت په هينداره کې ويني. ښه به دا وي چې تاسو خپله ځان ددغه ربښتيني واقعيت په هينداره کې ووينئ نه د بل د محدوديت په چوکاټ. څو د بشريت په پراخه ورشو کې ځانونه وپېژنئ او نورو ته يې ورپېژنئ او په دغه جريان کې نه ورک شئ او نه سپک شئ.

په دغه هيله مو د پښتو. پښتانه. هغوی اندول. د پښتو او پښتونولی کلتوري ارزښتونه او نرخونه او د تاريخ په اوږدو کې د دوی ونده څرګنده کړه. خو اوس هم که پښتون وغواړي دکار او زيار دومره سيك لري او هغه سياسي بلوغ ته رسېدلي دي چې تر څو بل څوك دلته ساه کاږي نو دی به هم هرومرو په خپل تاتوبي کې چې له هرې ترې او هرکاني او بوټي سره يې اوږده تاريخي اشنايي لري. يا په راحت او يا په زحمت خپل تولنيز پاينبت ته په خپل ايتنيکي رنګ.اندول او ژبه ادامه ورکوي اود خپل طبيعي او ملي حق دفاع به هرومروکوي. چې دغه طبيعي او ملي حق په نړيواله بشري تولنه کې بشري حق او په پښتنو کې پښتو ده.

په پای کې خان خوشال خان وايي:

چې مغل وته مې وتړله توره
درست پښتون مې وعالم وته څرګند کړ

# اخځونه


۱- حبیبي. لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی: د پښتو ادبیاتو تاریخ. لومړی ټوک. کابل پوهنتون. پر ۱۳۲۵لمریز کال.

۲- تره‌ی. پوهاند ډاکټر حبیب الله: پښتانه. په ۱۳۷۷لمریز کال په جرمني کې د پښتني فرهنګ د ودې د ټولنې له خوا. په پېښور کې د دانش کتاب چاپولو د موسسې له لارې خپور.

۳- نومیالي. کاندید اکاډیمیسین محمد انور: د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي. په ۱۹۹۷م کال په مسکو کې خپور.

۴- اریڼزی. ښاغلی احسان الله: د نړۍ هیندارە. لومړی ټوک (اسیا) په ۲۰۰۰م (۱۳۷۰ لمریز) کال د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا د مرکز له خوا په پېښور کې خپور.

۵- مبارز. ښاغلی عبدالحمید: تحلیل واقعات سیاسي افغانستان (۱۹۱۹-۱۹۹۶م) په پېښور کې خپور.

6- The atlas of languages. The orgin and development of languages throughout the word.
Aut : Comnie
Ed : Facts on file

7- Alle landen van de wereld. 1992 Nederland.

8- Wereld Atlas voor het gezin. 1970-1990 Nederland.

۹- د طارق رشاد شخصي یادښتونه.

۱۰- ځینې اثار چې په لیکنه کې یې هم کله کله نومونه راغلي دي.

۱۱- ببلابېل افغاني لیکوال: د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې. په ۱۹۹۹م (۱۳۷۸لمریز) کال په جرمني کې د پښتني فرهنګ د ودې د ټولنې له خوا خپور.

اسوشیت پروفیسور داکتر کبرا مظهری مایار

# سقوط رژیم شاهی و آمدن دولت جمهوری در افغانستان

(۱۳۵۲-۱۳۵۷هـ ش/ ۱۹۷۳-۱۹۷۸م)

آمدن محمد داوُد به صحنه سیاست بحیث صدر اعظم در زمانی بود که دموکراسی و هر نوع آزادی زمان سردار شاه محمود خان رو برو به شکست گشته بود، همچنان بار دوم که در افغانستان با تغییر و تبدیل پی در پی پنج حکومت دهه اخیر سلطنت محمد ظاهر شاه پروسه دموکراسی نو باشکست مواجه شد و انارشیزم دولتی منجر به کودتای سال ۱۳۵۳/۱۹۷۳هـ ش گردید، محمد داوُد بار دوم به صحنه سیاست بحیث رئیس جمهور آمد.

سطر چند از اولین بیانیه رادیویی محمد داوُد که ساعت هفت ۲۶ سرطان ۱۳۵۲هـ ش مطابق ۱۷ جولای ۱۹۷۳م از امواج رادیو افغانستان انتشار یافت که در آن علل و ضرورت آمدن دولت جمهوری افغانستان وتغییر رژیم چنین توضیح گردیده است.

"بنده در طول مدت مسئولیتهای مختلف در خدمت وطنم همیشه در جستجوی هدف بودم که برای مردم افغانستان مخصوصاً طبقات محروم و نسل جوان مملکت ما یک محیط مثبت و واقعی نشو و نمای مادی و

معنوی میسر گردد. و در آن همه افراد وطن ما بدون تبعیض و امتیاز در راه تعلی و عمران وطن خود سهم گرفته و احساس مسئوولیت نماید". [۱۰]

محمد داود در بیانیه خود رژیم شاهی را انتقاد کرده و در باره یی وضع نابسامان و ماهیت اصلی دولت محمد ظاهرشاه چنین گفته است:

"همه تبلیغات دروغی در ظرف ده سال نتوانست حقایق تلخ را که عبارت از انحطاط و شکستگی مطلع وضع اقتصادی، وضع اداری و وضع اجتماعی و سیاسی مملکت باشد، از انظار ملت افغانستان و دنیای خارج بپوشاند، خلاصه دموکراسی یعنی حکومت مردم یک انارشیزم و رژیم سلطنت مشروطه بیک رژیم مطلق العنانی مبدل شد و هر کدام ازین قدرتها بجان همدیگر و بجاَن مردم افتادند و پیروی از فرمول "تفرقه انداز و حکمرانی کن" آتشی را در سر تا سر مملکت افروختند تا بتوانند در سایه این فضای ملوث و تیره و تار پر از بدبختی و فقر و فلاکت و مقاصد شوم مادی و ممکن سیاسی خود را حاصل نماید." [۲] بعد از سقوط رژیم شاهی و بمیان آمدن دولت جمهوری در افغانستان بتاریخ ۲۷ جولای ۱۹۷۳ میلادی (هفته اول ماه اسد ۱۳۵۳ هـ ش) توسط سه فرمان پایه و اساس قوه های تقنینیه، اجرائیه و قضائیه دولت تعین شد پارلمان تعطیل گردید. و صلاحیت پادشاه برهبری جمهوریت انتقال یافت محکمه عالی تشکیل و قدرت قضای جدید که در راس آن شورای عالی قرار داشت اعلان گردید. سیاست خارجی دولت جمهوری افغانستان به اساس بیطرفی، عدم انسلاک در پیمانهای نظامی، صلح خواهی و دوستی با همه ملل جهان بدون هر نوع تبعیض در مورد ممالک خورد و بزرگ دور و نزدیک تعقیب میگردید و اساسات منشور ملل متحد را مبنی بر صلح بشری احترام می گذاشتند. [۳]

---

[۱۰]: New York Timse, July 18,1973:
و اصلاح-انیس، روزنامه های دولت پایتخت کابل ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ هـ ش.

[۲]: اصلاح - انیس، همان ماخذ.

[۳]: اصلاح، روز نامه یی دولتی، همان شماره، همان مأخذ.

محمد داود خان سیاست خارجی را زیاد اهمیت میداد و روابط حسنه بارول خارجی را موفقیت دولت و توسعه یی امور اجتماعی افغانستان می شمرد، زیرا او مطمئن بود که بدون کمکهای خارجی ترقی کشور و تقویه یی اقتصادی افغانستان ممکن نیست. جمهوری افغانستان توازن در بین دوابر قدرت ایالات متحده امریکا و اتحاد جماهیر شوروی سوسیالستی را پالیسی خود ساخت و دست کمک گرفتن بطرف دولت ثروتمند اسلامی دراز کرد.[۴]

محمد داود پلان هفت ساله اقتصادی را در سال ۱۹۷۶م ترتیب و تدوین ساخت، کشور های هند، جاپان و چین در تکمیل چند پروژه کوچک پلان هفت ساله علاقمندی نشان دادند. اضلاع متحده امریکا و کشور های غربی قرار داد های تکمیل پروژه های را امضأ نمودند، کشور های خلیج مذاکره را برای تمویل تعدادی از پروژه های بزرگ پذیرفته بودند.

دولت افغانستان در بین سالهای ۱۳۵۲-۱۳۵۶هـ ش بیش از شش صدو پنجاه ملیون دالر در بانک مرکزی ذخیره نمود.[۵]

مناسبات افغانستان و ایران که در سال ۱۹۵۱م به سردی گرائیده بود با سال ۱۹۷۳م در زمان حکومت محمد موسی شفیق با امضأ نمودن قرار داد آب هلمند با ایران سبب دوستی و مناسبات حسنه در بین دو کشور همسایه گردید.

در زمان دولت جمهوری محمد داوُد خان شاه ایران وعده داد که دوبلیون دالر (2 Billion $) را در مدت ده سال به افغانستان کمک خواهد داد.[۶]

---

[۴] Ghaus. Abdul Sammad. The Fall of Afghhnistan: An Insiders Account. (Washingtan. 1988). Pp.83-109.

[۵] DEVENDRA SHARMA. AFGHAN-U.S Reletonship". (ph. D Thesis. J.N.U- School of Intenalional Studies. New Delhi< 1994). pp. 208-32

[۶] Thomas T. Hammond. Red flag Over Afghanistan. (Boulder. 1984) . pp-39.

همچنان قرار داد تحویل راه آهن توسط دولت ایران صورت گرفت که از کابل تا ایران و از راه ایران تا امکانات اتصال افغانستان "با کشور های دیگر جهان ممکن می ساخت.[۷]

بغرض ترقی کشور و رفع مشکلات امور اجتماعی به سال ۱۹۷۵ میلادی دولت افغانستان اعلام نمود که در اگست ۱۹۷۶/۱۳۵۶ هـ ش قانون اصلاحات ارضی تکمیل خواهد گردید و مالیات مترقی زمین زراعتی وضع خواهد شد.[۸]

در قسمت اصلاحات ارضی بدون در نظر داشت عواقب آن به اقدامات عجولانه دست زدند و زمینهای دولتی را به یک تعداد مردم توزیع کردند که از آنجمله "۳۹۳۰ فامیل در پروژه وادی هلمند و ۱۲۶۰ فامیل در ولایت ننگرهار و ۱۷۲ فامیل در غوربند صاحب زمین گردیدند.[۹]

در راه عمران کشور و ساختن جامعه مرفع به اصلاحات آبیاری زمینهای زراعتی پرداختند و با تمام مشکلات که در سر راه آنها قرار داشت توانستند که سیستم آبیاری را که خیلی ابتدائی و به شیوه یی قرون وسطی بود به شیوه جدید و اصلاحی در آورند، استعمال کود کیمیاوی، تخمهای اصلاح شده بذری، سامان آلات مدرن زراعتی و تراکتور ها بیک تعداد دهاقین توزیع گردید، اکثراً زمین های افغانستان که در زمان شاه توپوگرافی و کارستر نشده بود. حکومت جهت رفع این نقیصه داخل اقدامات جدی و عملی شد.[۱۰]

---

۷ Louis Dupree. "Afghanistan 1977 :Does Trade plus Aid Guarantee: Development" American Universities field staff Reports. South Asia Series Vol. 21 no. 3. August 1977. (hanovar) . pp . 4.

۸ Vladimif Glukhoded. "Economy of Independent Afghanistan" In : Afghanistan pastand present. (Moscow. 1981). no. 3. Pp. 234.

۹ Kabul Timse. 12 November. 1974:

۱۰ : حسن شرق کرباس پوشهای برهنه پا، (دهلی جدید ۱۹۹۱م) صفحه ۱۲۵-۱۲۶.

همچنان دولت جمهوری افغانستان غرض تقویه اقتصادی کشور، پشتنی تجارتی بانک، بانک ملی افغان، بانک انکشاف زراعتی، بانک ذهنی تعمیراتی و بانک انکشاف صنعتی را ملی ساخت.[11]

در ساحه تعلیم و تربیه و ریفورم اصلاحی معارف نیز تغییراتی بوجود آمد و بخاطر تشویق و ترغیب دانش اموزان و نظم و دسپلین تعلیمی اقدامات قسماً سودمند گرفته شد، به مرکز گرفتن مدرسه های آزاد بعضی قسمتهای شهر کابل اقدامات صورت گرفت، و مدرسه های آزاد تعلیمات مذهبی را لغو و در چوکات رسمی وزارت تعلیم و تربیه شامل ساخت، شاگردان فعال و لایق را با دادن هدیه های مادی و بورسهای کثیرالمدت خارجی تشویق میکردند.[12]

بغرض تشویق و پرورش اذهان شعرا و نویسندگان مدیریت توزیع جوایز در چوکات وزارت اطلاعات و کلتور (فرهنگ) را تقویه و ترغیب کرد و همچنان شعرأ و نویسندگان اجازه داشتند تا با گرد همايي های شخصی و کنفرانسهای حکومتی آزادانه در مشاعره ها و مباحث اجتماعی و علمی حصه بگیرند، سیمینار های بین المللی با بودجه دولتی انسجام می یافت.

در قسمت چاپ آثار جوانان کشور اقدامات نسبتاً خوب صورت گرفته و به نشر و طبع کتب قشر جوان توجه گردید و همچنان بغرض پخش و نشر هر چه بهتر و قایع روز اولین دستگاه رادیو تلویزیون در سالهای ۱۹۷۷-۱۹۷۸م در افغانستان بوجود آمد.

بغرض روشن ساختن اذهان عامه و تثبیت شخصیت و مقام زن در اجتماع (مصادف با سال بین المللی زن ۱۹۷۵) کمیته گردهمایی زنان آگاه افغان بنام (کمیته امور انسجام زن) در چوکات وزارت اطلاعات و کلتور (وزارت فرهنگ) در پایتخت شکل گرفت. تعداد اعضای آزاد این کمیته در مرکز و ولایات کشور به هزاران زن میرسید و اعضای مرکزی این

---

[11] The Quartarly Economi. Review. Pakistan- Bangladesh-: Afghanistan. (London. 1975) no. 3. pp. 17.

[12] Afghanistan. Afghanisgan`s Republic Annuall. 1957 (Kabul. 1975).: pp. 246.

کمیته به ۳۵ زن میرسید که در بخشهای مختلف امور اجتماعی زنان وظایف سودمند به نفع زنان افغان انجام میدادند. و همچنان اعضای کمیته وظیفه داشتند که به دهات و شهر های دور و نزدیک کشور غرض تبلیغ به نفع زنان رفته و به ساختن مجالس و کنفرانسهای علمی بپردازند و مضامین علمی، تحقیقی خود را پیرامون مسأله زن به سمع مردم برسانند. یکی از اقدامات مفید این کمیته تأسیس شعبه یی بنام (محکمه فامیلی) در چوکات وزارت عدلیه بود که مناقشات فامیلی را غور و بررسی میکردند و به حل قضایای فامیلی میپرداختند.

همچنان این کمیته مجله ای بنام کهول (خانواده) را در سال ۱۳۵۵ هـ ش انتشار داد که در باره حقوق شرعی و مدنی زن و آزادی های منطقی زن و همچنان در باره تاریخ و زندگی زنان مطالب سودمندی را انتشار میداد.

این کمیته گر چه دایمی نبود و از نظر کمیت عمر یک ساله و کوتاهی داشت ولی از نگاه کیفیت مصدر خدمات چشمگیر و چندین ساله گردید.

در زمان ریاست جمهوری محمد داوُد احزاب سیاسی و نشرات آزاد وجود نداشت، اعضای حکومتی و دولتی محمد داوُد حزب انقلاب ملی را در سال ۱۹۷۷م مطابق ۱۳۵۶ هـ ش بمیان آورد و لویه جرگه خُود ساخته دولت حزب انقلاب ملی را یگانه حزب سیاسی افغانستان اعلام کرد.[۱۳] لویه جرگه ایکه در سال ۱۹۷۷م توسط دولت خواسته شده بود (۱۳۰) اعضای فرمایشی خود دولت در لویه جرگه اشتراک داشتند و توسط آنها قانون اساسی را تصویب کردند که طرفداری از تمرکز قدرت یک نفر یعنی شخص محمد داوُد میکرد.[۱۴]

لویه جرگه ییکه اعضای آن بنام انتخاب انتصاب شده بودند لطمه یی بزرگی به شخصیت معنوی محمد داوُد خان و محبوبیتش در بین مردم افغانستان وارد ساخت، چنانچه محمد نعیم برادر محمد داوُد خان در باره این لویه جرگه سال ۱۳۵۵هـ ش /۱۹۷۷م گفته بود که:

---

[۱۳] Enadi. Hafizullah. State Revolution and Super power in: Afghanistan. (New York< 1990). Pp. 69.

[۱۴] Ibid. pp. 69-70.:

"این سوهانی است کیه اعتبار و عمر زمامداری برادرم را میخورد".
محمد داود خان بخاطر استحکام و بقای دولت خود مرتکب اشتباهات سیاسی گردید. حزب خلق و پرچم را در دولت شریک نمود و شخصیتهای ملی و کدرهای سیاسی را به زندان افگندند و تعدادی از انها را از بین برد.[15]

## عوامل عمده سقوط دولت جمهوری محمد داود خان:

۱- سفر محمد داو د به عربستان سعودی (مکه معظمه) نزدیکی و مناسبات افغانستان با پاکستان، ایران و عربستان سعودی سبب تبلیغات ضد محمد داود از طرف دولت شوروی و احزاب چپ گردید که محمد داود را متهم به وابستگی غرب و عناصر ارتجاع می پنداشتند.

۲- محمد داود خان به دعوت دولت شوروي (۱۳ اپریل ۱۹۷۷م) به اتحاد شوروی سفر کرد که از مذاکرات بین محمد داود خان و بریژنف نزاکت به وجود امد مبنی بر خواسته بریژنف بر محمد داود در باره کشور های عضو ناتو در افغانستان، بریژنف طی صحبتهای خود محمد داود خان را مخاطب ساخته شکایت کرد که:

در پروژه های سازمان ملل متحد و دیگر پروژه های کمکی چند جانبه که در افغانستان کار میکند شماره کار شناسان کشور های عضو ناتو بطور قابل ملاحظه افزایش یافته، حکومتهای گذشته اجازه نه می‌داند که کار شناسان عضو ناتو در قسمتهای شمال افغانستان مستقر شود، اتحاد شوروی این اکتشافات را خطر ناکْ وخیم میداند و از حکومت افغانستان میخواهد که کار شناسان عضو ناتو را که جز و جاسوسان گماشته شده برای پیشبرد مقاصد امپریالیسم هستند بیرون کنند.[16]

داود خان با صدای سرد و خشک به بریژنف جواب داد که:

---

[15]: Hafizullah Emadi. opit. pp.66-s7.

[16]: A.S. Ghaus. opcit. pp. 178-80

"آنچه همین حالاً بوسیله رهبر اتحاد شوروی گفته شد هرگز مورد قبول افغانها قرار نخواهد گرفت، از نظر افغانها این اظهارات دخالت صریح در امور داخلی افغانستان است، مه هرگز اجازه نخواهم داد که به ما دیکته کند که چگونه مملکت خود را اداره کنیم و چه کسی را در افغانستان استخدام نمایم. اینکه چه گونه و در کجا کار شناسان خارجی را استخدام کنیم انحصاراً و کاملاً حق دولت افغانستان خواهد ماند. افغانستان اگر لازم باشد فقیر خواهد ماند اما در عمل و تصمیم گیری خود آزادی خود را حفظ خواهد کرد." [۱۷]

۳- تغییر و تبدیل اشخاص باتجربه و باصلاحیت نظامی و بمیان آوردن نظامیان بی تجربه و بی کفایت برایکه قدرت در اردوی دولت، برخود خصمانه با احزاب دست راست و تصفیه دستگاه دولتی از عناصر دست چپ، اختلاف طفلانه همکاران و اعضای حکومت و دسته بندیهای برخی از اعضای انقلاب ملی و بسا عوامل دیگر مبنی برا غراض شخصی و سیاسی داخلی و خارجی که سبب سقوط دولت جمهوری افغانستان گردید، و بعد از یک سال از مذاکره یی بریژنف درست در همان ماه اپریل ۱۹۷۸ میلادی اتحاد شوروی توسط فریب خوردگان داخلی پلان کودتاه هفت ثور **۱۳۵۷** هـ ش را غرض انتقام از محمد داوُد خان عملی ساخت.

سید جمال الدین افغانی دانشمند بزرگ شرق "که نفوذ کلامش از جبل الطارق تا جاوه گسترده بود در آن عصر تنها مرد آسیا بود که فکر مبارزه دسته جمعی مشرقیان را علیه مغربیان متعرض استعمارگر پرداخت." [۱۸]

که در سخنان سید در نظر علمای تونسی حکم "کتاب" را داشت. طلاب مسلمان هندی او را "میپرستیدند" پیشوایان نهضت آزادی هندوستان، از هند و مسلمان او را به بزرگی ستوده اند، و تجدد خواهان عرب پایه اش را

---

[۱۷]: Ibid.

[۱۸]: رضا براهنی، قصه نویسی، (چاپ سوم تهران ۱۳۶۲ هـ ش) صفحه ۴۹.

به "پیامبری" رسانیده اند. این جنبه بین المللی سید را هیچکدام از اندیشه گران خاور زمین مطلقاً بدست نیاورده اند.[19]

این شخصیت بزرگ و بین المللی در باره یی خطر که از جانب روی متوجه افغانها میباشد چنین فرموده است.

دولت تزاری روس چشم طمع بسوی سر زمین غنی و حاصلخیز هند دارد ولی مستقیماً بالای هند حمله کرده نمیتواند و در راه رسیدن به هند نیازمند به کمک پارسیان و افغانان اند، زیرا این دو کشور چون در استوار و مشکل بزرگ بر سر راه رسیدن روسها به هند قرار دارند و دولت تزاری روس بدون عبور یکی از ین دو کشور ها آب های گرم هند رسیده نمی تواند و در راه رسیدن به هند روسها باید ایرانیان و افغانان را در همه مسایل حربی و صلح آمیز شریک و رفیق خود سازند، روسها به باز ساختن دروازه های ورودی هند وقتی موفق میگردند که پارسیان و افغانان را در غنایم که از هند بدست خواهد آورد به خود شریک سازند و اگر چنین نکنند پارس و افغانستان مانع بزرگ بر سر راه روس قرار خواهند گرفت.

روس ها میدانند که بدون سهیم ساختن این دو کشور نمیتوانند که از غنایم و مزایایی منابع هند مستقیماً بهره برند، لذا روس همیشه خواهد کوشید تا توجه و اعتماد افغانان را به خود جلب کنند، افغانان و ایرانیان باید متوجه خطر و نزاکتهای سیاسی باشند و با همدیگر دست دوستی و اتحاد و هند و از مسایل جزوی و فرعی، قومی، لسانی و مذهبی که سبب ضعف و کوچک نشان دادن مقام و منزلت دین مُبین اسلام و حیثیت مسلمین است بپرهیزند و متوجه دشمن مشترک باشند، دشمن که در پی فرصت است تا هردو کشور را به نفع خود استعمال و متضرر سازند.

سید جمال الدین افغانی نگاشته است که:

در پلان توسعه طلبی روس سرزمین هند نیز شامل است و روسها خواهند کوشید که از طریق دوستی و نزدیکی به افغانها و جلب اعتماد آنها از راه سرزمین شیران داخل خاک هند گردد.

---

[19] فریدون آدمیت، اندیشه های میرزا آقاخان کرمانی، (چاپ دوم تهران ۱۳۵۷) صفحه ۳.



پښتنو قبیلویت پرېږدئ...!

روسها تلاش خواهند کرد تا در افغانستان دولتی به میان آید که به نفع آنها باشد تا به راحت هند را اشغال سازند.[20]

همچنان امیر عبدالرحمن خان نزدیکی به انگلیس و دوری از روسها را توصیه نموده و چنین نگاشته است:

"روسها آرزومند اند تا به افغانستان دوستی و مناسباتی داشته باشند که بتوانند با عبور از افغانستان هند را اشغال نمایند از آن رو روسی ها در افغانستان به یک حکومت دست نشانده و از هر نگاه ضعیف و بی پایه در میان ملت افغانستان ضرورت دارند و هرگاه روس از راه افغانستان هند را اشغال نماید هیچ دلیل برموجودیت و استقلال افغانستان باقی نخواهد ماند"

در زمان صدارت محمد داوُد خان از سال ۱۳۳۲ هـ ش در عرصه یی مناسبات سیاست خارجی با اتحاد شوروی تحولات بمیان آمد و سیاست دوری از روس به سیاست نزدیکی به روس تبدیل گردید.

در بین سالهای ۱۹۵۹-۱۹۶۳م و از آن به بعد نیز محصلین افغانی که غرض تحصیل علوم به شوروی میرفتند در پهلوی تحصیلات علوم دولت سوسیالیستی نام نهاد شوروی به آنها مفکوره و ایدیالوژی کمونیستی تیپ روسی را صادر میکردند. علاوه ازین در زمان قبل از دوره حکومت سر دار محمد داود اغلب مشاورین نظامی دولت و حکومت افغانستان از ترکیه بودند ولی بعد از به میان آمدن حکومت محمد داوُد خان مشاورین نظامی حکومت افغانستان روسها بودند.[21]

برخی از مبصرین سیاسی عقیده دارند که سیاست نزدیکی به روس در زمان ریاست جمهوری محمد داوُد و سعت بیشتر پیدا نمود و اما بعضی اشخاص صلاحیتدار سیاسی زمان محمد داوُد ادعا دارند که:

---

[20]: سید جمال الدین افغانی، العره الوثقی، ترجمه قاضی عبیدالله (کابل- ۱۳۵۵ هش) صفحه ۲۲۸-۲۳۲.

[21]: Wilhelm Dietl. Bridgeh Head Afghanistan. (New Delhi. 1986). pp.: 33.

محمد داوًد خان یکی از نصایح امیرعبدالرحمن خان مبنی بـر حفـظ سیاست بیطرفی را دقیقاً توجه نمود و حکومت وی سیاست غیر جانبداری در بین دوابر قدرت اتحاد شوروی و ایالت متحده امریکا را کاملاً در نظر داشت.

یک تعداد مورخیـن افغانی و خارجی سبب نزدیکی به روس را تغییر وضع سیاسی در کشور های همسایه، مجبوریت های اقتصادی افغانستان و فشار های سیاسی غیر مستقیم ابرقدرت ها بخصوص شوروی و تاثیرات ایدیـالوژی سوسیالیستی شـوروی بـر اغلـب جوانـان و قشـر بـا سـواد افغانستان میدانند.

برخی از مبصرین سیاسی بر این عقیده اند که:

زوال دولت سلطنتی و به میان آمدن دولت جمهوری در افغانستان نه تنها اینکه سبب پرانگیختـن ممالک همجوار در منطقه گردید، برخـی از ممالک خورد و بزرگ جهان را نیز به وسوسه انداخت که به مرور زمان رفته رفته سبب تشویش و برانگیختن حس بد بینـی همسایه شمالی مخصوصاً سرد مدار خود خواه شوروی آقا و.ا. بریژنف گردید.

محمد داوُد خان یک شخص ملی و نشنلست بود نه یـک شخص سیاسی که همین نکته یعنی عدم دانش سیاسی سبب به میان آمدن تـراژیدی هـای بعدی در افغانستان شد.

نداشتن یک پلان منظم و وسیع سیاسی او یکطرف و تشـویش روسـها از طرف دگر سبب به میان آمد کودتا ۷ ثور ۱۳۵۷هش در افغانستان گردید، چه روسها از همان روز آغاز به میان آمدن دولت جمهوری افغانستان و از بین رفتن رژیم شاهی به تشویش افتـادند و مطمئـن بودند که افغانـها یا تحت زعامت محمـد داود و یـا تحت زعـامت شخصیت ملی دیـگر خویش پیشـرفتهای علمـی، اجتمـاعی ۰۰۰ و تخنیکـی خواهنـد نمـود. روسـها پشرفتهای مادی و معنوی افغانستان و فهم و دانش آنها را مغیر مقاصد و بـه ضـرر خواستـه هـا و اهـداف سیاسـی خـود میدیدنـد و از همـان آغـاز جمهوری افغانستان در پی تخریب آن برخاستند و از ۲۶ سرطان ۱۳۵۲هـ ش تا ۷ ثور ۱۳۵۷هـ ش طرح و پـلان کـه در طول پنـج سالـه ساختـه بودنـد

عملاً پیاده نمودند و با یاری ذوق زدگان جنبش سوسیالیستی دست به تراژیدی تاریخی زدند، خانه و کشور افغانان را ویران ساختند و ملت غیور افغان را بسوی نابودی و فلاکت کشیدند که هسته و شالوده یی آن در مان صدارت سر دار محمد داود گذاشته شده بود که این ویرانی رفته رفته و به مرور زمان ظاهراً تحت نام بشر دوستی و انسان پروری به اصطلاح Internationalism سبب بدبختی مردم افغانستان گردید. و کشور افغانها به قبرستان سیاه و تاریک مبدل گردید و فرزندان بی گناه کشور در خاک و خون کشیده شدند.

اضلاع متحد امریکا و اتحاد شوروی ظاهراً دو قطب آشتی ناپذیر و غیر متجانس بر روی "اهداف غیر متجانس یکی بخاطر رسیدن به آبهای گرم جنوب و دیگری برای ذوب دریا های شمال" افغانستان را تخته خیز قرار میدهند و در راه رسیدن به اغراض شان دو غول بی شاخ و دُم جهانی ثروت زیاد و اسلحه یی که تا آن زمان در هیچ نقطه یی جهان استعمال نه شده بود بدسترس دو جناح مخالف بنام وطنفروشان و و طنپرستان قرار میدهند.

چنانچه "اضلاع متجده امریکا تا سال ۱۹۸۷م به میزان (۶۵۰۰۰) شصت و پنج هزار تن سلاح مختلف النوع کشنده بدسترس مجاهدین افغانی گذاشت."[۲۲]

و اتحاد جماهیر شوروی سوسیالیستی غالباً چند برابر آن سلاح را غرض نابودی و تخریب افغانستان بدسترس دولت کابل گذاشته و افغانستان ضرابخانه اسلحه پکت نظامی وارسا و پکتهای نظامی ناتو و سیاتوو دیگر کشور های اسلامی و غیر اسلامی گردید، که با تأسف برخی از ممالک زیدخل تا امروز اسلحه یی کشنده و تباه کن را بدسترس گروپهای متخاصم و درگیر در جنگ داخلی افغانستان قرار میدهند.

---

[۲۲] : استیوکول، اسرار پنهان "جنگ سرد" امریکا در افغانستان فاش شد، آئینه افغانستان، (نشریه دوماهه مهاجرین افغانی در امریکا)، (سال ۱۹۹۲م) شماره ۲۵-۲۶، صفحه ۶۵.

به گواهی تاریخ پر افتخار افغان، مردم شجاع و فرزندان دلیر این مرز و بوم باستانی همه متجاوزین خونخوار و قدرت استعماری جهان از اسکندر یونانی و چنگیز گرفته تا انگریز را به زانو در آورده اند. افغانها در سالهای اخیر از اولین روز تجاوز مسلحانه قوای روسی افغانها در برابر ابر قدرت توسعه طلب شوروی وقت با حماسه آفرین ها حیرت آور طلسم قدرت شوروی سابق را در جهان در هم کوبید و با دادن در حدود دو ملیون شهید و صدها هزار معلول و معیوب و بیش از پنج ملیون مهاجر خارج از کشور و به ملیونها انسان آواره و مهاجر در داخل و خارج کشور، قشون ویران ساز کمونیزم تفننی روسی را به شکست افتزاح آمیز مواجه نمود، که آزادی اغلب ممالک اروپای شرقی از یوغ استعمار روسی و شکستن حلقه های ممالک مستعمراتی روس حاصل مبارزات بر حق افغانها است، که به سبب آن دگر گونیهای بنیادی در خود شوروی به وجود آمد.

ولی بدبختانه که در داخل افغانستان جنگ خانمانسوز داخلی خاتمه نیافت و بیش از بیش به شعله های آتش جنگ افزوده شد. بی دانشی و بی علمی توده های بیسواد و احساس مقام پرستی و کرسی طلبی برخی از گروپهای متخاصم و در گیر در جنگ از یکسو و از سوی دگر مداخله غرض آلود اجنبیان سبب ویرانی کامل افغانستان شده است، بعضی از ممالک همسایه وهموار که غرض حفظ مصالح خود در راه برسر کرسی نشاندن دولت موردنظر خود در افغانستان تلاشهای بی شرمانه دارند، سرنوشت و مساله مرگ وزندگی خون آلود افغانها مظلوم و بی دفاع را نادیده میگیرند که در نتجه دست اندازیهای بیگانگان و جنگهای طولانی و تحمیلی صادر شده سبب بدبختی، آواره گی، کشتار دسته جمعی، ویرانی، تباهی کشور غریب و عقب مانده افغان گردیده و دستان یکدیگر به خون یکدیگر سرخ شده است.

فرزندان افغان تحت هر نام و عنوان که باشند نیرو و انرژی افغانستان است که در خاک و خون کشیده می شوند، کشور شان نابود میگردد و نهضت و تمدن نسبی ایشان صدها سال به عقب زده می شود.

اگر روس به دروغ لاف بشر دوستی میزد و ادعای انسان دوستی میکرد

و بنام رفیق زیر لوای سرخ داس و چکش بنام انترناسیونالیسم پرولتاریا و خدمت به جامعه بشری انسانهای بی گناه میهن ما را از بین برد ملتی را به خاک و خون نشاند، برخی از ممالک اسلامی بخصوص ممالک اسلامی همجوار وهمسایه گان مسلمان ما زیر لوای سبز الله اکبر بنام "برادر" و گاهی بنام اسلام و گاهی بنام صلح، خون ملت مظلوم افغان را ریختنند و میریزند و به غرض دریاف لقمه یی ناچیز توده یی بزرگ رابه خاک و خون یکسان ساختند و دارند میسازند که به سبب فتنه اجنبیان و جنگ آموزان مکتب توسعه طلبی کشور های ذیعلاقه با همکاری مشتی از مزدوران و اجیران فروخته شده با یاری توده های عامی و بی خبر خانه و کاشانه افغانها بیرحمانه خراب شده میرود و بدست افغان- افغان را از بین میبرند و توسط عده محدود های تمسخر آمیز چوکی طلب (تیشه به ریشه) خود ایشان میزنند که به سبب تشبث اجنبیان و حس خود خواهی برخی از سردمداران حلقه های سیاسی - دارایی های مادی و معنوی کشور نه تنها اینکه طعمه حریق توپ و تانک و بمب و ماین گردید، دارایی های معنوی و فرهنگی کشور نیز به تاراج رفت و رفته میرود و به سبب مداخلات و دست اندازیهای بیشرمانه اجنبیان مداخله گر، کشور افغان و ملت افغان روز به روز بسوی نابودی و بر بادی کامل کشیده می شود و دشمنان تاریخی افغانستان نمی گذارند که افغانها خود مالک سر نوشت خود باشند و در باره حیات و ممات مردم و کشور خود تصمیم قاطع اتخاذ کنند.

زرین انځور

# نوی افغانستان
# او د نویو کلتوري هڅو لپاره وړاندیزونه

افغانستان د خپل تاریخ د یوه نوي پړاو په درشل کې دی. سره له دې چې زموږ د پنځه ویشت کلن وروستي تاریخ بېلابېلو پړاوونو د هېواد او خلکو لپاره له ځانه سره نوې نوې بدمرغۍ لرلې دي. خو اوس هیله کېږي چې راتلونکی افغانستان، داسې یو نوی افغانستان وي چې د امن، سولې، عدالت، آزادۍ او دیموکراسۍ تر څنګ د ټولنیز، سیاسي او اقتصادي پرمختګ له نویو پروګرامونو سره یون پیل کړي او په همدغه یون کې د هېواد د کلتوري هراړخیزې بیا رغونې لپاره کار پیل شي. د همدغې کلتوري بیا رغونې په بهیر کې به د نړۍ د نویو چټکو پرمختګونو په پام کې ساتلو سره د کلتوري بهیر د لاپیاوړتیا او پراختیا لپاره کار کېږي.

افغانستان د تاریخ له یو ډېر نازک دوران څخه تېرېږي. له بې دولتۍ څخه د دولت پر لوري. له بې نظامۍ او ګډوډۍ څخه د یو نظام او سیستم پر لوري. له ټوپک سالارۍ او قوماندان سالارۍ څخه د ولس سالارۍ پر لوري. له زر سالارۍ او زور سالارۍ څخه د قانون سالارۍ پر لوري او له

کړکیچ او کډوډۍ څخه د ټینګکار او ثبات پر لوري دا د "تېرېدنګ" هغه پړاو دی چې که ولس هوښیار و او نړیوال نیت او ملاتړ د افغان ولس د ربښتینو هیلو خوا ته و، بې له شکه چې په پایله کې به یې افغانستان یو نوی، سمسور، خپلواك، پر خپلو پښو ولاړ، با عزته او پیاوړی هېواد وي. چې په نوې پیل شوې نړۍ کې به د نړیوال کلي یو داسې کور وي چې هم به یې خپل استوګن هوسا وي او هم به د نړۍ د سیالۍ او ورورۍ جوګه وي. خو که خدای مه کړه دغه لاره هم کږه شوه او بیا د تېرو ترخو تجربو په څېر، ټوپك او ټوپكوال د دې ولس پر برخلیك واكمن شول او نړیوالې ارادې هم لکه د پیل په څېر، یوازې د یوه ټوپکمار اړخ پر واکمنۍ راضي شول. دغه کړېدلی ولس به له نویو ستونزو سره مخامخ شي. اټکلونه دا دي: هیلې زیاتې دي چې دغه دویمه د تشویش څپه بریالۍ نه شي او د هېواد حالات ورو ورو د ثبات. عدالت او دیموکراسۍ پر لوري پرمختګ وکړي.

په یوه سمسور او نوي افغانستان کې د ادبي- کلتوري هڅو په باب. سر له اوسه موږ ته سوچ په کار دی. موږ باید همدغه له پیل څخه په هېواد کې د نویو ادبي- کلتوري هلو ځلو لپاره پروګرامونه ولرو. له دقیقو طرحو پرته به مو هره ادبي- کلتوري هڅه تصادفي یا عاجله او سملاسي بڼه ولري چې د راتلونکي منظم او پرله پسې اغېزناك كار لپاره به هیلې نه وي ورسره یوځای شوي. له همدې کبله د کلتوري اړخونو د بېلابېلو برخو فرهنګیالو او فرهنګپالو ته لازمه ده چې هم د خپلو خپلو برخو د راتلونکي په فکر کې وي او هم د ټول هېواد په کچه د کلتوري بیا آبادۍ. پیاوړتیا او ځلا لپاره پروګرامونه ولري.

تېرو شل پنځه ویشتو کلونو ته په پاملرنه. له بده مرغه. د هېواد ټول کلتوري جوړښتونه نړېدلي دي. په وروستیو لسو کلونو کې (تر ۱۹۹۲ ع کال راوروسته) خو هر هغه څه هم د ټوپکوالو او پر واك مینو د سیالۍ د جګړو په لمبو کې په ایرو بدل شوي دي. چې له پخوا مات و ګډ راپاتې وو.

له هغه ځایه چې د یو خپلواك او د سیاسي نظام لرونکي هېواد په توګه، د افغانستان په هکله خبرې کېدی شي، د اوږدې مودې په لړ کې، کلتوري هڅې هم د دولتونو او حکومتونو تر ملاتړ او نفوذ لاندې وي. دا د هغه وخت د حالاتو او غوښتنو په رڼا کې. یا هم د ټولنیزې او سیاسي کلتوري ودې او دغه راز په دې اړه د حکومتونو د غوښتنو په رڼا کې. د څېړنو یوه مهمه موضوع ده. خو په وروستیو شل پنځه ویشتو خونړیو کلونو کې د حکومتونو دغه اغېز، د ناوړه ایډیالوژیکي اغېز په بڼه، د فشار او اختناق تر حده رسېدلی او یو ډول فکري استبداد په کې په هر اړخ کې راڅرګند شوی دی. موږ د دغو دوو لسیزو د فشار او اختناق بېلابېل ډولونه د کمونیستي نظام، وروسته د جهادي نظام(!) او تر ټولو وروسته د طالبي نظام په بڼو کې لیدی شو. دلته نه یوازې دا چې کلتوري هڅې د حکومتونو او نظامونو تر اغېزې لاندې وې. په بشپړه توګه د دوی د فکري چوکاټونو، دستورونو او حکمونو په توګه تر سره کېدلې. د دغو نظامونو په سیاسي، نظامي او جغرافیایي حدودو کې د واکمن نظام یا واکمن حالت د اغېز جال پر هرڅه خپور و. په داسې حالاتو کې د حکومتونو او حکومت ډوله ادارو له اغېز او ملاتړ پرته، کلتوري هڅې د ځینو منفردو اشخاصو او د داسې کسانو د هڅو په برکت. په یو څه کتله یې او ډلییزه توګه. یا په پټه او یا هم په ښکاره توګه را تر سترګو کېدی شي؛ خو حقیقت دا دی چې دا ډول هڅې د هغو حالاتو په رڼا کې زیاتې ځلنده نه وې. یا ښه دا ده چې وویل شي، واکمنو چنداني ځلا ته نه پرېښودې.

اوس چې افغانستان د خپل تاریخ یوه نوي پړاو ته ورداخلېږي. اوس چې په هېواد کې د سولې، امن او سوکالۍ نوې هیلې د راټوکېدو په حال کې دي، اوس چې د هېواد د هر اړخیزې بیا رغونې لپاره ملي اراده. له نړیوالې ارادې سره یوځای کېږي او اوس چې په افغانستان کې د یوه مرکزي نظام او ملي واکمنۍ د جوړښت د امیدونو غوټۍ راسپړېږي. دا بې

له شکه داسې یو حالت دی. لکه افغانستان چې یو ځل بیا راژوندی کېږي، یو ځل بیا راټوکېږي، یو ځل بیا رازېږي.

د هېواد په دغه بیا رغونه یا بیا راټوکېدنه کې. د ادبي- کلتوري برخو راژوندي کېدلو، رغونې او بشپړتیا ته بنسټیزه پاملرنه په کار ده. په دغه لړ کې دغو څو ټکو ته مخکې له مخکې د ټولو پاملرنه لازمه ده:

۱. د نوي افغانستان، کلتوري- ادبي هڅې په داسې وخت کې پیلېږي چې نړۍ، د یوویشتمې پېړۍ په درشل کې نوی ګام اېښی دی. یوویشتمه پېړۍ، له سترو بریاوو او سترو ګواښونو سره راپیل شوې ده. نړۍ له یوې خوا شلمه پېړۍ له نویو پرمختګونو. سترو انساني غوښتنو او بریالیتوبونو سره تر شا پرېښې او له همداسې سترو هیلو سره یوویشتمې پېړۍ ته ورداخله شوې ده. له بلې خوا یوویشتمه پېړۍ، دا دی له سترو ګواښونو او چلنجونو سره هم مخامخه ده. دا په حقیقت کې د هیلو او نهیلیو تر منځ. د بري او ماتې تر منځ، د نېکمرغۍ او بدمرغۍ تر منځ. د ګواښونو او چلنجونو متضاده لړۍ ښکاري، په داسې حالت کې چې موږ د کلتوري هڅو نوې لړۍ پیلوو، باید دغو ټولو هیلو او ګواښونو ته په برابره توګه غور وکړو او مخکې له مخکې ورته ځانونه هوښیار کړو. اوس موږ په داسې یوه پېړۍ کې د خپل ولس د ژوند بېړۍ ورګډه کړې ده چې لږه بې غوري مو له سترو بدمرغیو سره لاس او ګرېوان کولای شي او آن چې د تېرې "شلیزې" بدمرغۍ په یوه نوي او خطرناك حالت کې راتکرارولای شي: خو که بېدار او هوښیار یو. داسې سترې بریاوې ګټلی او ترلاسه کولی شو چې هېڅکله به مو نه وي ترلاسه کړي. په دغه پېړۍ کې ډېره ګرانه ده چې د معجزو په تمه شو. یا دا چې بریاوې به هم ګنې په تصادفي توګه ترلاسه کړو. نه داسې نه شي کېدی. اوس هرڅه د ځانګړیو او دقیقو پروګرامونو له مخې ترسره کېدی شي او که موږ داسې پروګرامونه ونه لرو او یا مو تدبیر ورته ونه لاره. ګټه مو ناشونې ده او بریا مو هم ناشونې.

کله چې موږ د یوویشتمې پېړۍ په دغه پیلامه کې. خپلې کلتوري هڅې پیلوو. هر ګام او اقدام مو باید مخکې له مخکې حساب شوی او پروګرام شوی وي. یوویشتمه پېړۍ له موږ څخه د پاشلو او تصادفي هڅو پر ځای د منسجم پلان شویو هڅو غوښتنه کوي.

۲. اوس تېوله نړۍ د اړیکو او تفاهم په مزیو سره پېیل شوې ده. د نړۍ د اړیکو دغه ډول پېیلو له نړۍ څخه یو ګډ کور جوړ کړی دی. له نړۍ څخه د یو ګډ کور د جوړېدلو موضوع. موږ ته زېری هم له ځانه سره لري او ګوانښونه هم. موږ نه شو کولای او نه زموږ لپاره لازمه ده چې ځان له نړۍ څخه ګوښه کړو. زموږ ولس یو ځل د دغه ډول ګوښه کېدو مزه څکلې ده او لا اوس یې هم هغه مزه په خوله کې ده.

موږ اوس له نړۍ څخه ځان نه شو ګوښه کولای او نه مو دا کار په ګټه دی. موږ ته لازمه ده په دې غور وکړو چې په دغه نژدېوالي کې. څنګه او څومره ګټه کولای شو؟ کوم کوم شي باید په هېڅ بیه له لاسه ورنه کړو او هغه څه چې زموږ نیمګړې برخې دي. څنګه یې نورې پربېږدو او یا یې بشپړې کړو؟ که موږ په دې کار کې بریالي شو. نو د نړۍ په دغه ستره نژدېوالي کې ګټه کولای شو او که نه نو پوره تاوان هم رارسېدی شي.

له نړۍ څخه د یوه واحد کلي جوړېدل. نړۍ د پرله پسې اړیکو په مزي سره تړي او دا یو نېک کار دی. خو د دې تر څنګ له ځانه سره ګوانښونه هم لري. د نورو پر مختللیو کلتورونو اخیستل او اغېز د ګټو تر څنګ. ګوانښونه هم له ځانه سره لري. اوس نو موږ باید د خپلو ژبو او کلتور سمبالښت ته تر پخوا څکه زیاته پاملرنه وکړو چې پخوا د اغېز او هغه هم د ناوړه اغېز امکانات لنډ- تنګ وو او نن دغه امکانات ډېر زیات پراخ شوي دي.

۳. د نوې دنیا نوې تخنیکي پرمختګونه داسې په بیړه روان دي چې کله کله ورته هغه د چا خبره عقل هم کار نه کوي. د نړۍ په سره نژدې کېدو

کې، دغه چټک تخنیکي پرمختګ ستره ونډه لرلې ده. اوس نو موږ دې ته اړ یو چې هم کلتوري بیا رغونه د همدغو نویو تخنیکي وسایلو پر بنسټ په پام کې ولرو او هم نوې کلتوري پیاوړتیا ته د همدغو وسیلو په ملګرتیا ځانونه ورسوو.

اوس د چاپ او خپرونو د وسایلو چټک پرمختګ، کمپیوټري اسانتیاوو او پرمختګونو، د مطبوعاتو په ډګر کې ډېر ستر بدلون راوستی دی. اوس نو په ډېر لږ وخت کې په زیات تیراژ او ښه کیفیت سره د یوې موقوتې خپرونې او یا د کوم کتاب او رسالې د چاپ امکانات شته. په هېواد کې د چاپخایونو په ترمیم او بیا جوړونه او دغه راز د نویو مطبعو په جوړښت کې باید دغه نوی طباعتي بدلون په پام کې ولرو. نه دا چې د لنډې چارې او یا د سملاسي ګټې لپاره، د پاکستان په بېلابېلو چاپخایونو کې کارېدلي او ان له کاره لوېدلي وسایل، د سوداګرو یا حکومتي مؤسسو له خوا راونیول شي چې نه یې د چاپ کیفیت غوره دی او نه خپله د چاپ د چارو راتلونکو سوداګرو ته دایمي ګټه رسولای شي.

د چاپ تر څنګ د برېښنایي خپرنیزو وسایلو په برخه کې هم لوی بدلونونه رامنځته شوي دي. همدغه چټک پرمختګ له مطبوعاتو څخه د څلورم ځواک په جوړولو کې مرسته کړې ده. راډیویي او تلویزیوني خپرونې اوس په ډېرې چټکۍ او پوره اغېز سره تهیه کېدی او خپرېدی شي. راتلونکی نوی افغانستان به هیله ده د کمونیستي، جهادي(!) او طالبي دورانونو په څېر نه وي چې د دوی له خوښې پرته پر هرڅه بندیز وي. اوس به د کورنیو خپرونو تر څنګ پرېمانه بهرنۍ خپرونې هم د سپوږمکیو په مرسته او د سټلایټ له لارې د هر افغان کور ته ځان رسولای شي. هېڅوک نه شي کولای چې د دغو خپرونو پر مخ د خپل کور دروازې وتړي. ځکه چې هغه پر ټولو دروازو او بې له اجازې هم راتلای شي او هغه خپرونې داسې تهیه کېږي چې څوک ورته د سترګو دروازې هم نه شي تړلای. د بېلابېلو

هېوادونو، بېلابېلو کمپنیو او شرکتونو او د بېلابېلو موخو د دغو خپرونو پر وړاندې آیا موږ څه تدابیر لرو که نه؟ آیا موږ کولای شو په ملي کچه داسې خپرونې، خپلو خلکو ته وړاندې کړو چې له بهرنیو ګڼو خپرونو سره سیالي وکړای شي؟ آیا موږ د خپل ولس لپاره داسې نشرات او داسې پروګرامونه وړاندې کولای شو چې هغوی یې د نورو خپرونو پر ځای په لېوالتیا سره وګوري؟ دا ټول هغه چلنجونه دي چې زموږ په وړاندې پراته دي، که موږ له اوسه تدبیر ورته ونه لرو. د دې امکان شته چې د نورو کلتورونو اغېز، زموږ د خپلې کلتوري پیاوړتیا امکانات رامحدود کړي.

له دې څخه چې راتېر شو. نن سبا انټرنیټ په داسې یوه هراړخیزه وسیله بدل شوی دی چې دا دی ټوله دنیا یې خپله کړې ده. نږدې ده چې دغه وسیله، نړۍ له یو واحد کلي څخه په واحد کور بدله کړي. موږ ته په کار دي چې په دغو اغېزناکو وسیلو کې د خپل هېواد، خپل کلتور، خپلې ژبې، خپل ملي پېژاند او هویت د ځلولو لپاره پرله پسې هلې ځلې وکړو او له دغه ډول نویو وسایلو څخه اغېزناکه ګټه واخلو.

دا ټول هغه ټکي دي چې موږ مجبور یو د نوي افغانستان په ادبي- کلتوري پیاوړتیا کې غور ورته وکړو او د خپلو راتلونکو هڅو لپاره یې په پام کې ولرو.

د دې لپاره چې په افغانستان کې ادبي- کلتوري هڅې په ښه او اغېزناکه توګه تنظیم شي او د دغو هلو ځلو د پیاوړتیا لپاره د دقیق پروګرام له مخې کار وشي، په دولتي او انفرادي یا ډلییزه توګه د دغو برخو د مسؤولینو، چارواکو اود دغو بېلابېلو ځانګو د لېوالو لپاره ځینې ټکي د وړاندیزونو په بڼه وړاندې کېږي:

۱. سره له دې چې په راتلونکي کې به زیاتې کلتوري هلې ځلې په غیر حکومتي بڼه د منفردو شخاصو، ډلو، سازمانونو، ګوندونو، ټولنو او انجمنونو له خوا ترسره کېږي او سوداګریز یا تجارتي اړخ به یې هم زیات

ځلند وي، خو د افغانستان حکومتونه په دې لړ کې ستر مسؤلیتونه لري.

هر راتلونکی افغان حکومت مکلف دی چې د افغانستان کلتوري ودې ته ځانګړې پاملرنه وکړي. زموږ په څېر د یوه هېواد لپاره دا ناشونې ده چې له حکومتي مرستې، ملاتړ او هڅو پرته، کلتوري بیا رغونې او یا ځلونې او پیاوړتیا ته بنستیز کار وشي. د اشخاصو، افرادو، ډلو او سازمانونو، دغه هڅې سره له دې چې د دیموکراسی له مخې غوره او د تایید وړ دي، خو د یوه لوی هېواد په کچه داسې دي لکه په سمندر کې یو ځاځکی. زموږ په څېر د یو وروسته پاتې، جګړه ځپلي او کنډواله هېواد خبره خو به یوې خواته پرېږدو، حقیقت دا دی چې ډېر پرمختللي هېوادونه هم، د خپل هېواد کلتوري ودې ته پاملرنه خپله دولتي، ملي دنده ګڼي. د جرمني په څېر له اقتصادي پلوه یو پرمختللی هېواد، چې په اوس وختونو کې په هرڅه کې د سپما هڅه کوي او خپل هر "سینټ" حسابوي، د جرمني ژبې او کلتور لپاره په خپل کور او بهر کې "بې حسابه" لګښت کوي. ټول پرمختللي هېوادونه د خپلو ملي ژبو او خپل کلتور لپاره کار او زیار خپل ملي مکلفیت بولي.

د افغانستان راتلونکو حکومتونو ته هم لازمه ده چې دافغانستان د ملي ژبې، رسمي ژبو او د لږکیو د ژبو د روزنې او پالنې او د کلتوري هراړخیز پرمختګ لپاره یو دقیق ملي پروګرام تنظیم کړي او د یوه ملي مکلفیت له مخې دې کار ته پاملرنه وکړي. په دولتي کچه په کلنیو او څو کلنو پروګرامونو او پلانونو کې دې ملي مکلفیت ته غور وکړي او تل ورته د کلنۍ پانګې او بودجې یوه د پاملرنې وړ برخه ځانګړې کړي.

دولتونه او حکومتونه مکلف دي چې په دقیقه توګه د افغانستان لپاره یوه کلتوري تګلاره او ستراتیژي وټاکي، له یوې هراړخیزې او نوې کلتوري ستراتیژۍ پرته به کلتوري بیا رغونه، غوړېدنه او پیاوړتیا ناشونې وي.

۲. د دولتي او حکومتي ملاتړ، مرستې او هڅونې لپاره لازمه ده پر

ولس تدبیر هم ټینګار وشي. هغه ولسونه به په راتلونکي نړیوال کلي کې له نورو سره د سیالۍ جوګه وي چې خپلو کلتوري ارزښتونو ته په دقیقه توګه غور وکړي. که ولسونه هرڅه او هغه هم په همېشنۍ توګه یوازې حکومتونو ته پرېږدي، ښایي حکومتونه په یوازې ځان دغه ستر ملي- کلتوري رسالت تر سره نه کړای شي.، یا ځنډ او تعطل په کې وکړي. یا له عدالت څخه کار وانخلي. په داسې حالاتو کې ولسي ټینګار او فشار، حکومتونه د خپل ولس کلتوري غوښتنو ته په ځواب ویلو مکلفوي، ولسواکي او دیموکراسي همدا مانا لري.

۳. موږ کولای شو چې د ادبي- کلتوري هڅو په ښه خلا او پیاوړتیا کې د دیموکراسۍ پیاوړتیا ته هم کار وکړو. په یوه هېواد او ولس کې له کلتوري ودې او پیاوړتیا پرته، ولسواکي په دقیقه مانا وده او پیاوړتیا نه شي کولای. موږ که له یوې خوا دیموکراسۍ ته د دې لپاره اړتیا لرو چې د کلتوري هراړخیزې ودې لپاره لارې چارې چمتو شي او امکانات ورته برابر شي، چې له داسې امکاناتو پرته دغه وده په سمه توګه نه شي رامنځته کېدی. له بله پلوه، تر هغو چې ولس د فرهنګي ودې پر لاره نه وي سم شوی او یون یې نه وي پیل کړی، د دیموکراسۍ د ارزښتونو سمه پېژندنه نه شي کولای. له دې کبله موږ په نوي افغانستان کې دې ته اړ یو چې دغه دواړه بهیرونه په یوه وخت کې، خو په هوښیارۍ او تدبیر سره پیل کړو. ځکه چې په دواړو برخو کې پوره ځنډ راغلی او اوس نو په دې برخو کې بېړنیو هڅو ته اړتیا ده.

۴. موږ په داسې حالاتو کې چې، له بده مرغه د دغو خونړیو کلونو جګړو، پر هرڅه د بدمرغۍ تور ځادر غوړولی دی. دغو اوږدو جګړو نه یوازې دا چې کلتوري وده ناشونې کړې او ډېر څه یې له بېخه نړولي دي، د دې ولس ډېر کلتوري ارزښتونه یې هم له منځه وړي دي. د دغو کلتوري

ارزښتونو سمبالونه سملاسي پاملرنې ته اړتيا لري. د دغو اوږدو کلونو په جګړو کې، زموږ د واحد ملت د ملي يووالي اډانې ته هم. په تېره بيا د غيرو په لسمه سخت تاوان رسېدلی دی، زموږ د ادبي- کلتوري برخو ټول کار کوونکي، ليکوال، څېړونکي، هنرمندان او نور بايد د دې اډانې په بېرته کوشېرولو کې. پرله پسې هڅو ته چمتو وي. موږ په اوسني پړاو کې د هنري- کلتوري ارزښتونو تر څنګ دغو ملي ارزښتونو ته هم پاملرنه لازمه ګڼو: له همدې امله بايد هوښياريو او د ديموکراسۍ تر عمومي شعار لاندې، د ملي يووالي پر ضد هرې ناوړې هڅې ته خپل ملي تدبير ولرو.

۵. د افغانستان د کلتوري ودې په تاريخي مطالعه کې سړی دې پايلې ته رسېږي چې په دې برخه کې که کومه توجه هم شوې ده، تر ډېره ځايه يوازې د هېواد په پايتخت- کابل پورې منحصره وه. دغه خبره هم په حکومتي کچه د پاملرنې وړ ده او هم په عمومي ولسي کچه. له دې وروسته، لکه څنګه چې د اقتصادي پرمختګ او پروژو په برخه کې ټول هېواد ته په يوه ډول کتل په کار دي، دغه راز د کلتوري پروګرامونو او پروژو په برخه کې هم بايد د ټول هېواد متوازنې او عادلانه ودې ته پاملرنه وشي.

۶. لازمه ده چې په راتلونکي کې د حکومتي کلتوري مؤسسو او ادارو تر څنګ، خپلواکو ادبي او کلتوري ټولنو او سازمانونو ته غور وشي. د داسې خپلواکو سازمانونو شتوالی د وخت ضرورت دی او بايد د قوانينو په چوکاټ کې د هلو ځلو اجازه ولري. حکومتونه مکلف دي چې د داسې خپلواکو ټولنو او سازمانونو په جوړېدو کې د افغانستان له خلکو سره مرسته وکړي، خو له خپلې خوا پرې کوم څه تحميل نه کړي. يوازې د هېواد قوانين به يې د کار حدود ټاکي او داسې به نه وي لکه د کمونيستي او جهادي دورانونو دا ډول سازمانونه چې هرڅه به د واکمنو په خوښه ترسره

کېدل او پر هر څه د کینو او یا بډیو ایډیالوژیو جال خپور و.

په راتلونکي کې حکومتونه باید مکلف وي چې له داسې ټولنو سره مرستې وکړي خو د خپل نفوذ پر ټولنو یې بدلې نه کړي.

۷. په راتلونکي کې به بې له شکه چې د کلتوري هڅو ډېرې برخې هم د بازار او مالي ګټې په پام کې ساتلو سره کار کوي. اقتصاد او تجارت به د کار اصلي موخه وي. د غربي نړۍ زیاتې هلې ځلې هم په دغو تجارتي بنسټونو ترسره کېږي. موږ هم له دې پرته بله چاره نه لرو خو امېد دی چې د سوداګرۍ او ګټې تر څنګ د خپلو ملي کلتوري ارزښتونو سمبالولو او پاللو ته هم په سر سري نظر ونه ګورو.

د کتاب خپرولو او توزیع، د آزادو مطبوعاتو، راډیویي او تلویزیوني خپرونو، سینمایي هڅو او نورو بېلابېلو ادبي، هنري او کلتوري هڅو بېلابېلې برخې به آزاده او تجارتي بڼه پیدا کوي. زموږ هوښیار شتمن هېوادوال باید په دغو برخو کې هم له دې وروسته خپلې پانګې واچوي او په تېره بیا همدا اوس چې هر څه باید نوي پیل شي.

۸. حکومتونه باید د راتلونکو قوانینو په چوکاټ کې چې نوي به جوړېږي او نافذېږي به. په دې مکلف وګڼل شي چې د هېواد له لیکوالو، هنرمندانو او ټولو فرهنګیالو سره د هغوی د ژوند د سطحې په ښه کولو کې پوره مرستې وکړي. د شخصي او اقتصادي تحفظ ډاډ ورکړل شي او په قوانینو کې یې حقوق او امتیازونه څرګند شي. له دوی سره مرسته او د دوی ملاتړ به د هېواد د کلتوري ارزښتونو د ملاتړ تر حده مهم وي. د دې تر څنګ باید دوی خپله داسې صنفي ټولنې او انجمنونه ولري چې له دولت او نورو مؤسساتو سره په شخړو او ستونزو کې ملاتړ وکړي.

د افغانستان د کلتوري خلا لپاره د وړاندیزونو او تدبیرونو لړۍ یوازې په دغو وړاندیزونو پای ته نه شي رسېدای: که موږ دغه وړاندیزونه نور هم

ووغزوو، ښايي خبره ډېره اوږده شي او ځينو کسانو ته دغه سپارښتنې له حده زياتې وبرېښي، له همدې کبله د وړانديزونو دغه لړۍ همدلته پرېږدو. خو لازمه ده په څرګنده توګه وويل شي چې په افغانستان کې د يوه دقيق او هر اړخيز کلتوري پروګرام او د تدابيرو له يوې پرله پسې لړۍ پرته چې د اهميت او ارزښت له مخې به يو؛ په بله پسې دوام پيدا کوي، کلتوري رغونه، پياوړتيا او پرمختګ ناشونی دی، هيله ده ټول پوهان او کارپوهان په دې برخه کې خپل وړانديزونه سره شريك او خپلې هڅې ګړندۍ کړي.

# د افغانستان د بیا ودانولو په اړه

کله چې د ۲۰۰۱م کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې پېښو دا حقیقت رابرسېره کړ چې په افغانستان کې ناکرارۍ او د هغې ناخوالې یوازې د هغه هېواد په پولو کې دننه زیاتې نه شي تم کېدی بلکې نوره نړۍ هم له ځانه سره ناکراره کولای شي. نو هغه وو چې د امریکا متحدو ایالاتو او نورو ملګرو هېوادونو ورسره په افغانستان کې د طالبانو د حکومت د ختمولو په خوا کې د افغانستان د بیا ودانولو ژمنه هم وکړه. د افغانستان دننني ناکرار حالت عمده دلایل نور کېدای شي، مګر له دې حالت څخه د ایستلو یوه لاره یې په هېواد کې دننه اقتصادي استقرار رامنځ ته کول دي. د تېرو دوه نیمو لسیزو بهرنیو او کورنیو جنګونو د افغانستان اقتصاد ویجاړ کړی او اقتصادي فعالیتونه یې په ټپه درولي. د افغانستان اقتصادي او ټولنیزې زېرمې هم یا ویجاړې شوي او یا یې له ملکه تېښته کړې، چې په نتیجه کې افغانستان نن د نړۍ له غریبو څخه غریب هېواد شمېرل کېږي.

د سپتمبر د یوولسمې په پېښو پسې سمله لاسه کله چې غربي نړۍ د طالبانو او د هغوی د عربي مېلمنو د راپرځولو په تکل له هرې خوا، سمندري، هوايي او ځمکنۍ پوځونه راوخوځول په خوا کې یې دړېیو نړیوالو ادارو یانې نړیوال بانك، د ملګرو ملتو د پرمختیا اداره او د آسیا پرمختیا بانك ته وظیفه پرغاړه کړه چې د افغانستان د بیاودانولو لپاره یوه کړنلاره تیاره کړي. ددې مضمون تر لیکلو چې د سپتمبر د یوولسمې له پېښو څخه تراوسه شپږ میاشتې تېرېږي نوموړو ادارو په مختلفو هېوادونو لکه پاکستان، جرمني، بلجیم او جاپان کې د افغانستان په اړه کنفرانسونه رابللي چې په نتیجه کې یې د افغانستان د بیا ودانولو په اړه د لومړنیو اړتیاوو یو لست ترتیب کړي او د هغو د رفع کولو لپاره یې د راتلونکو دړېیو کالو لپاره له نړیوالو څخه د څلورنیمو ملیاردو امریکایي ډالرو وعده ترلاسه کړې ده. مګر لکه څرنګه چې توقع کېده چې باید اوس په افغانستان کې د بیا ودانولو کارونه پیل شوي وای، نه دي پیل شوي. او داسې برېښي چې پیل کېدل یې په نژدې وختونو کې کېدونکي هم نه دي.

د بیا ودانولو په اړه د خورا ورو ځنډېدونکو کړنو ځو لاملونه وړاندې کېږي. یو دا چې لاتراوسه په افغانستان کې سوله ځای نه دی نیولی او د سولې په نشتوالي کې به څنګه په عملي اقدام لاس پورې شي. دا دلیل یو څه کمزوری په دې دی چې د بیا ودانولو کړنې پر اقتصادي مثبت بدلون سربېره د سولې او کرارۍ په ټینګښت او پایښت کې بنسټیز رول لوبوي. کله چې د بیا ودانولو د پروژو له لارې په هېواد کې د کار زمینه برابره شي. ډېر هغه ټوپك ګرځوونکي چې له بېکارۍ او د یوې خېټې مړۍ لپاره د جنګي ډلو په لیکو کې ولاړ دي د اجوره لرونکو کارونو لپاره ټوپکونه له اوږو

ښکته کوي او په دې ډول د جنګي ډلو لیکې چې د سولې او کرارۍ په مخ کې غټ خنډونه دي ضعیفه کوي.

دویم دلیل دا راوړل کېږي چې درې نړیوال موسسات چې د افغانستان د بیا ودانولو کارونه ورپه غاړه دي د افغانستان د عبوري حکومت لاربښوونې او مخکې کېدو ته سترګې په لار دي. مګر عبوري حکومت لا تراوسه خپل دغه رول نه دی لوبولی. په خواشینۍ سره د نړیوالو موسساتو دغه توقع د عبوري حکومت له توانایي څخه پورته ده. دوی ښه پوهېږي چې د عبوري حکومت د اکثرو لوړ رتبه غړو عملي او مسلکي ناتوانایي دا نه ایجابوي چې دوی دې د بیا ودانولو په کارونو کې مخکښ رول ولوبوي او که وېې لوبوي هم. نتیجه به یې یو ناسالم پلان وي د محدودو نغدي منابعو ضایع وي او بس. نو له دې کبله د بیا ودانولو پر لوري د خورا کرار حرکت اصلي دلیل د بیا ودانولو د پلان نه لرل دي او د نه لرلو غوره علت یې هم د افغانستان په موقتي حکومت کې او هم په مسوولو نړیوالو موسساتو کې د فني او مسلکي اشخاصو نه لرل یا کمبود دی. د دې مشکل په رفع کولو کې یو ارګان هم خپل مسوولیت لا تراوسه په ښه توګه نه دی ادا کړی.

افغانستان له حده وتلی ویجاړ دی. مګر کومې مرستې چې د ۲۰۰۲م کال د جنوري په میاشت د توکیو په کنفرانس کې نړیوالو وعده وکړه د اړتیاوو او غوښتنو په پرتله ډېرې کمې دي. ددې لپاره چې د نړیوالو محدودې مرستې په اغېزناکه توګه پر اړتیاوو او مهمو پروژو ووېشل شي د افغانستان د بیا ودانولو لپاره یوې بشپړې ستراتیژیکي اقتصادي او پرمختیایي کړنلارې ته اړتیا شته.

د یوې بشپړې ستراتیژیکي اقتصادي او پرمختیایي کړنلارې د کبنلو لپاره باید د افغانستان د تېرو اقتصادي او پرمختیایي کړنلارو. د هغوی د ناکامیو او بریالیتوبونو او همدارنګه د نورو همدوله هېوادونو له ازمېښتونو او تجربو څخه ګټه واخیستل شي.

مګر په عین حال کې باید په نظر کې وي چې د یوې کړنلارې ناکامي یا بریالیتوب په بل کوم هېواد کې یا په خپله په افغانستان کې مګر په بل وخت کې ددې مانا نه لري چې نوموړې کړنلاره به له عین تقدیر سره مخ شي.

دا په دې چې د یوې اقتصادي او پرمختیایي کړنلارې نتیجه یوازې د اقتصادي اصولو پیروه نه ده. بلکې د یوه هېواد په جغرافیایي موقعیت. سیاسي او اجتماعي جوړښت او ستونزو پورې هم تړلې. نو له دې کبله د افغانستان د بیا ودانولو پلان جوړونه باید د داسې کارپوهو په اوږو پریوځي چې نه یوازې په فني او مسلکي معلوماتو مجهز وي. بلکې د افغانستان د ټولنې او محیط په اړه هراړخیز ژور معلومات ولري. خوشبختانه د افغانستان په ټولنه کې دغسې رسېدلي اشخاص ډېر دي. که چېرې مسوول نړیوال موسسات چې په راس کې یې د ملګرو ملتو دفتر دی او همدارنګه د افغانستان موقت یا عبوري حکومت له افغاني فني او کارپوهو اشخاصو څخه د افغانستان د بیا ودانولو یو مستقل غیر سیاسي. غیر ګوندي کمیسیون چې ملي بڼه ولري جوړ کړي او د افغانستان بیا ودانولو پلان جوړونه او لارښوونه دوی ته ورحواله کړي. دا به دافغانستان د بیا ودانولو پر لوري لومړنی مثبت. مهم اغېزناک ګام وي.

په اوسني حالت کې د بیا ابادولو په اړه دوه ستر چلنجونه او هغوی ته د حل د لارې پلټنه د پاملرنې وړ دي. لومړی دا چې په

هېواد کې موجوده توليدي زېرمې او همدارنګه د هېواد بدني نيرو څنګه په خورا چټکۍ سره په کار بوخت شي؟ دويمه دا چې په هېواد کې دننه او بهر کډوال څنګه تشويق شي چې خپلو پلرنيو سيمو ته چې د جنګ له پيل څخه يې دمخه هلته استوګنه درلوده ستانه شي؟ د لومړنۍ ستونزې حل له دوو وجوو د ارزښت وړ دي. يو دا چې د دې لپاره د هېواد په نورو اباداوونکو پروژوې کار پيلولو ته چمتو شي، لومړی تر هرڅه ضروري ده چې وکولای شي لږ تر لږه خپلې لومړنۍ اړتياوې لکه خوراکي مواد په هېواد کې دننه توليد کړي. بله دا چې د هېواد زلميان چې د بېکارۍ له لاسه يې کسب او کار د توپک استعمال ګرځېدلی، په کارونو وګمارل شي.

د دويم چلنج حل ياني خپلو پلرنيو سيمو ته د کډوالو ګرځېدل له دې کبله د ارزښت وړ دي چې له يو هېواد څخه د باندې او دننه زيات کډوال له اطرافو څخه راغلي مګر اوس په ګوندېو هېوادو کې يا په هېواد کې دننه په ښارونو کې روږدي شوي او د ښارونو ځينې اسانتياوې به يې دې ته وهڅوي چې خپلو سيمو ته ستانه نه شي، بلکې په ښارونو کې راغوند شي او څرنګه چې د هېواد په ښارونو کې کافي توليداتي مرکزونه نه شته. چې د دوی نيرو په کار واچوي، نتيجه‌به يې د نيرو ضايع او د بېکارۍ له کبله د بدامنيتۍ رامنځته کېدل وي.

نو د دې ستونزې د حل لپاره بايد په کليو او بانډو کې چې د کرهنې له کبله د هېواد د اقتصاد د ملا د تير حيثيت لري او د هېواد څه له پاسه په سلو کې ۷۵ وګړي په کار بوخت ساتي: داسې شرايط تيار شي چې ستانه شوي کډوال د ښارونو او اطرافو تر منځ دومره توپير احساس نه کړي. چې په هر حالت کې د ښار ژوند د اطرافو تر ژوند غوره وګڼي.

نــو پــه لنـډه تــوګه ويــلای شــو چــې د پورتنيــو دوو د پـــاملرني وړ ستونزو (يـانې د بدنـي نـيرو پـه چټکـۍ سـره د بوختولـو او همدارنـګه خپلو پلرنيـو سيمو تـه د کډوالو د ګرځېدلـو) حـل پـه هېواد کـې د کـرنې د رغولـو، پراختيـا او پرمختيـا پـورې تړلـي او څرنـګه چـې اکـثره کرنـه په اطرافو کې صورت نيسي. د بيا آبادولو لنـډ مـهالي پـروژې بـايد پـه اطرافـو متمرکـزې وي، د اطرافـو بيـا ابـادول پـه حقيقـت کـې د کرنــې د زېرمــو د رغولــو، فعــالولو او ودې ورکولــو ســره مــترادف دي چـــې لاندېنۍ پـروژې يـې تـر زيـاتې انـدازې احاطـه کـوي:

د اوبـو لګولـو د سيسـتم لکـه بندونـو. کــارېزونو. لښتيــو رغـول او پراخـول، د تخمونـو، کيميـايي سـرې، دوا شـيندنې او نـورو د کرنــې د الاتــو پــه برخــه کــې مرســته يـــا يــې د پېرېدلــو لپـــاره د قرضـــې د پروګرامونـــو او سيســـتم جـــوړول، د مـــاينونو پـــاکول. اطرافـــو تـــه د سـرکونو ترميـم او پراخـول. چـې څمکـه لرونکـي او بـزګران وکـولای شـي خپـل محصـولات پـه اسـانۍ او ارزان قيمـت ښارونـو تـه د پېرېدلـو لپـاره انتقـال کـړي او همدارنـګه پـه اطرافـو کـې اوسـېدونکي څانونـه لـه ښارو څخه لـيرې احسـاس نـه کـړي.

پـه اطرافـو کـې د تولنـيزو مرسـتو لکـه د عـامې روغتيـا مرکزونـو ښوونځيـو او داسـې نـورو رغولـو او يـا ودانولـو تـه يـوازې د تولنـيزو مرسـتو پـه صفـت ونـه کتـل شـي. بلکـې نوموړې مرسـتې اطرافـو تـه د خلکـو پـه جذبولـو کـې ارزښتنـاك رول هـم لوبـوي. پـه پـای کـې د يـوه نـاپېيلي ودان. کـرار او خوشـحاله افغانسـتان پـه هيلـه.

محمد انعام واك

فروري - ناروې

# د بن تړون
# دریم قوت او د مذهبي بنسټپالنې ماتې

د دموکراسۍ لسیزې (۷۳ - ۱۹۶۴) د افغاني ناسیونالیزم د پخلي په یوه خام سیاسي کلتوري چاپېریال کې په لوی لاس د "کمونیزم" او "سیاسي اسلام" (اسلامي بنسټپالنه) د ایډیالوژیو سیاسي ودې لار پرانیسته.
د ایډیالوژیو په وسلو سمبال کمونستي او اسلامي تنظیمونو د خپل منضبوط او ښه رهبري شوي سازمان په لرلو سربېره. بهرنۍ اقتصادي- سیاسي پلوي هم درلوده. کمونستي سخت دریځي په ۱۹۷۸ او اسلامي بنسټپالنه په ۱۹۹۲ کې سیاسي قدرت ته ورسېده.
د دې لسیزې بل سیاسي تشکیل "دریم قوت" دی چې د "افغان ملت" ګوند په بڼه کې یې په ډېرکمزوري سازماني او تشکیلاتي توګه تبارز وکړ.
دریم قوت د خپل سازماني تشکیل له پیل پیل نه تر ننه نه د یوې عاملې مشرۍ او نه د یوه سازماني نظم او ضبط خاوند شو.

د افغان ملت د ګوند د "مشرۍ" دايمي ستونزې، سست سازماني تشکيل، له روس سره په جګړه کې کمونستي- اسلامي پوځي- سياسي فشار، له پاکستان سره د دې ګوند سياسي مخالفت او په اتيايمه لسيزه کې د پاکستان په "افغان پاليسۍ" د دې ګوند اعتراض ټولو او ټولو د دربيم قوت په جوړولو کې د دې ګوند د عامل رول مخه ونيوه.

په اتيايمه لسيزه کې په افغان شوروي جګړه کې له بنسټپالنې سره د لوېديځ درنو پوځي- سياسي مرستو او بنسټپالنې ته د جګړې د مشرۍ سپارلو دا ګوند په ځانګړي او درېيم قوت يې په عمومي توګه کمزوری وساته: له "افغان ملت" نه د باندې د درېيم قوت د يو شمېر کوچنيو حلقو او سياسي ډلګيو شته والی په خپل وار دا ګوند او ټول درېيم قوت ويشلی دی.

د "روحانيت" ځينو محافلو (مثلاً قادريه) د معتدل اسلام په بڼه کې له يوې خوا له اسلامي بنسټپالنې سره د خپل عقيدتي- سياسي تاوتريخوالي او له بلې خوا له سلطنت سره د نژدې اړيکو په درلودلو سره په ۹۲ - ۱۹۷۸ دوره کې د خپل "اشرافي روحانيت" ستنې د درېيم قوت په ځای کې ودرولې.

د نوي يمې لسيزې په وروستيو کې پاکستان هڅه وکړه چې د پخواني افغان پاچا په وړانديز د طالبانو "د پوځي قوت" شاته يوه پياوړې "سياسي جبهه" هم جوړه کړي. د پاکستان د دې سياسي هڅو څه ښکاره نښې د "روحانيت" د چوپړ خولې په سياست کې له ورايه ښکارېدې.

د پاچا په ټيم کې د شمال ائتلاف زيات نفوذ په لوی لاس نوموړی "روحانيت" او "افغان ملت" د پاچا له "درېيم قوت" نه لېرې او په خپلو کې يې سياسي نژدې والی او آن سياسي خپلوۍ ته ورتېل وهل. د طالبانو په پلوۍ د پاکستان دې "افغان پاليسۍ" او د پاچا د شمال ائتلاف د "پرې

لوبولو په غته کې دریم قوت تویته او په ځانګړي ډول افغان ملت ډېر تاواني کړ. له شمال ائتلاف سره د پاچا سیاسي نژدې والی‌نه یوازې "افغان ملت" او "روحانیت" له هغه نه بېل کړل. بلکې یو زیات شمېر افغان روښانفکران یې په رڼا ورځ د مذهبي بنسټپالنې په خوا ودرول. د دې ملي تاوان ګټه د مذهبي بنسټپالنې او شمال ائتلاف په جېب کې ولوېده. پاچا هم په دې تاوانونو او تویته کونو کې پړ دی.

د پاچا په ټیم کې د "افغان ملت" مخالف "ستمي" عنصر او له روحانیت سره "نژدې والی" هغه د پاچا له دریم قوت نه بېخي وایست.

ویلای شو. له څه لنډې سیاسي ګټې اخیستنې نه پرته. په "روحانیت" کې د "افغان ملت" جذب او تحلیل په اوږده موده کې د یوه "سازماني" دریم قوت د کمزوري کول او یوه "غیر سازماني "اشرافي" دریم قوت د پیاوړي کولو پایلې لري.

د خپل غیر انقلابي طبعیت له مخې د کمونیزم او سیاسي اسلام په څېر د عمل د کومې انقلابي تیورۍ په نشتوالي سربېره. دریم قوت د ریفورم کومه پخه کړنلاره هم نه لري. د کړنلارې دا نشتوالی په ملي. سیمه ییز او نړیواله کچه د دریم قوت د خام پخلي او یا نه پخلي نتیجه ده.

د ناپییلو هېوادونو نړیوال غورځنګ او د سوسیال د موکراتانو په اصطلاح نړیوال پیوستون په نړیواله کچه یو داسې سازماني پېوستون منځ ته رانه ووست چې په سیمه ییزه کچه ورته ملګري سیاسي قوتونه وزېږوي.

په لنډ ډول ویلای شو چې:

د شلمې پېړۍ دویمه نیمایي څه ناڅه توله په افغانستان کې د ټولنې له کلتوري او ټولنیزو ارزښتونو سره د "ایډیالوژۍ" په جګړه او لاس اچونو کې تېره شوه. دې کار د ملي ایډیالوژۍ د پخلي بهیر ډپ او په دې ډول ملي ایډیالوژي او دریم قوت په یوه سازماني بڼه کې پاخه نشول.

له دې ټولو ستونزو سره سره دریم قوت د ټولنې د کلتوري- سیاسي

عکس العمل سره جوخت د کمونیزم او اسلامي بنسټپالنې په ضد راپورته شو. په ۹۲ - ۱۹۷۸ دوره کې درېیم قوت یو کمزوری سیاسي قوت و. په نوي یمه لسیزه کې د سیاسي قدرت د وېش په سر د اسلامي بنسټپالنې د ټوټه کېدو په نتیجه کې درېیم قوت بالفعل سیاسي موقف ونیوه او په ۲۰۰۰ - ۱۹۹۸ دوره کې یې د پخواني پاچا د مشرۍ لاندې د مذهبي بنسټپالنې له مخالف جنګي قوت "شمال ائتلاف" سره سیاسي ائتلاف وکړ:

شمال ائتلاف او د ګلبدین حکمتیار "حزب اسلامي افغانستان" چې د کابل ښار د څه ناځه ۷۵.۰۰۰ ملکي کسانو د وژلو او د ټول کابل ښار د ورانولو پوروړي دي. د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د تروریستي سیاسي پایلو نه یوازې په افغانستان کې د بنسټپالنې لس کلن حاکمیت پای ته ورساوه. بلکې له شمال ائتلاف سره یې د درېیم قوت سیاسي ائتلاف په پوځي ائتلاف هم بدل کړ. د دې پېښو په پای کې د شمال ائتلاف غټ پوځي-سیاسي اعتبار ترلاسه او دې اعتبار په خپل وار د شمال ائتلاف او درېیم قوت تر منځ د خواو اندول د شمال ائتلاف په ګټه بدل کړ.

د بنسټپالنې او نړیوال تروریزم په وړاندې د امریکې د پوځي کمپاین په نتیجه کې د بن تړون د ۲۰۰۱ کال په ډسمبر کې په افغانستان کې یو "بشپړ" نه، بلکې یو "نیمګړی او مختلط" درېیم قوت سیاسي قدرت ته ورساوه.

## د بن تړون:

له څه ناځه لسو کلونو کورنۍ جګړې وروسته د تېر کال په ډسمبر کې نړیواله ټولنه په دې وتوانېده چې د جرمني د بن په ښار کې د افغانستان لپاره د سولې یو تړون لاسلیک کړي.

د بن د غونډې اصلي خواوې د پاچا د مشرۍ لاندې "درېیم قوت" او د

هغه ائتلافي ملګري "شمال ائتلاف" و.

د بن تړون په غته کې په افغانستان کې د يو مثبت سياسي بدلانه پيلامه ده. خو. د دې تړون له ځينو منفي اړخونو نه يوه هم د افغانستان د قومي جوړښت خبره ده:

پښتنو د افغان اکثريت قوم په توګه (په سلو کې ۶۳٪)(۱) په غونډه کې د خپل ځان نيمايي (۳۶٪)(۲) ځاى درلود. د ژبې له مخې پښتانه غونډې ته له سره رابلل شوي نه وو(۳). تاجکو په قومي او ژبني بنسټ غونډه خپله کړې وه.د ختيې له مخې د ځان (۱۲٪)(۴) درې برابر (څه ناڅه ۳۲٪)(۵) او په ژبني بنسټ په سلو کې سل غونډې ټول ګډون کوونکي هم ودي وو(۶). هزاره ګانو په افغان نفوس کې د خپلې فيصدۍ (۹)(۷) نه دوه برابره (۲۰٪)(۸) او ازبکو هم په افغان نفوس کې له خپل شته والي (په سلو کې ۶)(۹) نه څه زيات (۸٪)(۱۰) ځاى خپل کړي وو.

د بن د تړون بل منفي اړخ د افغان دولت او ټولنې د بيا رغونې بهير ته په سرسري کتلو د پردې تر شا يو شمېر کوچنيو کسانو ته د غټو دولتي پوستونو وېشل وو. دې کار يو زيات شمېر افغان روښانفکره او سياستوال شکمن کړل.

د بن تړون له دې ډول تکتيکي او تکنيکي ستونزو سره سره په غته کې په افغانستان کې د اسلامي بنسټپالنې د حاکميت په ځاى د يوه ملي حاکميت د جوړېدو يوه ستونزمنه لار پرانيسته.

دې تړون پر طالبانو سربېره د بنسټپالنې نور پاتې شوني هم د سياسي قدرت له محور نه لرې کړل. شمال ائتلاف يې ټوټه او د شمال ائتلاف د نظار شورى ته يې دمهم پوځي- سياسي موقف په ورکولو په خپل وار د شمال ائتلاف سياسي مشريزه (جمعيت اسلامي افغانستان) وويستله. دې وېش د نظار د شورى د روسي پلوه "ستمي - پرچمي" "اصلاح طلبانو" او د

-برهان الدین رباني د دوه ګوني "اخواني - ستمي" شخصیت تر منځ د بېلتانه کرښه راښکله.

د یوه ملي حکومت د جوړېدو په لار کې د بن د تړون پرېکړې په څو محرونو کې د څېړنې وړ دي:

په افغانستان کې د یوه ملي - انتخاباتي حکومت د لومړي ګام په توګه اوسنی "موقت" حکومت د بنسټپالنې د غیر افغاني کلتور "حل و عقد شورې" نه. بلکې افغان سیاسي کلتور لویې جرګې ته ورته یوې نړیوالې جرګې (د بن تړون) جوړ کړ. دحل و عقد شورې چې په ۱۹۹۲ کال کې یې برهان الدین رباني او په ۱۹۹۵ کال کې یې د طالبانو مشر ملا محمد عمر امارتونه جوړ کړل. په ۱۹۹۲ کال کې برهان الدین رباني یو شمېر "ملایانو. اخوانیانو. وهابیانو او پرچمیانو" او په ۱۹۹۵ کال کې ملا محمد عمر درې زرو ملایانو په ترتیب سره رئیس جمهور او امیر المؤمنین وټاکه.

د بن د تړون د رژیم ګام په توګه به "عبوري حکومت" د افغان سیاسي- کلتوري لویې جرګې له خوا جوړېږي.

## د سیاسي قدرت عنعنوي مثلث :

عبوري حکومت به افغان اساسي قانون جوړ او هغه به په لویه جرګه کې تصویب کړي. د انتخاباتو د اصل له مخې به د آزادو انتخاباتو په نتیجه کې انتخابي حکومت جوړ او د درې ګونو قواو (اجرائیه. مقننه. قضائیه) تفکیك به د سیاسي قدرت عنعنوي مثلث جوړ کړي. له خپل ظهور څخه تر ۱۹۶۰ لسیزې پورې د "اسلام" مقدس دین په افغان سیاسي قدرت کې د وندې او په افغاني ټولنه کې له شتو سیاسي- ټولنیزو کلتوري واقعیتونو و په غنه کې له افغان ناسیونالیزم سره د سیاسي ګوزارې او جوړښت بېل بېل پړاوونه وهلي دي. له دولتي سیستم نه آزاد د قدرت د دوو ټولنیزو



د بن تړون د رژیم قوت او...

ستنو په توګه په ټولنه کې د "مذهب" او "تصوف" او په دولت کې د "حنفي فقهي اصولو" په بنسټ د ولاړو دريو ګونو شرعي محاکمو او سترې محکمې (Judiciary - قضايه قوه) په بڼه کې اسلام په افغان دولت کې د خپل سياسي ستنې په درولو اکتفا کړې ده. د قدرت همدې دريو ګونو ستنو اسلام ته په افغانستان کې "معتدله" بڼه ورکړې وه. دې اعتدال په خپل وار د افغان ناسيوناليزم او د اسلام د مقدس دين تر منځ په معاصر افغانستان کې سياسي قدرت "عنعنوي مثلث" جوړ کړی و.

دا خو په شپېتمه لسيزه (۱۹۶۰) کې و چې اسلامي بنسټپالنې په ټولنه او دولت کې د "اسلام" کلتوري او سياسي موقف کم وباله.

بنسټپالنې له تيوريکي پلوه له شپيتمې او له عملي پلوه له اتيايمې لسيزې (۱۹۸۰) نه "سياسي اسلام" يا "اسلامي بنسټپالنې او داډيالېزم" نسخه وړاندې کړه. په دې ډول "بنسټپالنې" له افغان ناسيوناليزم سره د دښمنۍ مورچل پرانيسته. نو، د افغان سياسي قدرت په عنعنوي مثلث کې د يوه توکي په موقف باندې بيا اکتفا د اسلامي بنسټپالنې ماتې او د معتدل اسلام او افغاني ناسيوناليزم بريالیتوب دی.

## دموکراتي :

د شلمې پېړۍ د سياسي اسلام مشرانو سيد قطب، مولانا ابوالاعلي مودودي او امام خميني يو هم د موکراسي د خلکو د حاکميت د اصل په توګه نه مني. په اسلامي امارت کې د ملايانو، اخوانيانو، وهابيانو او نورو ورته سخت دريځو په حاکم رول باندې د اسلامي بنسټپالنې د عملي تينګار له مخې په ۹۷ - ۱۹۹۲ دوره کې په کابل کې د رباني - حکمتيار د حکومت غټ غټ پوستونه په سلو کې ۵۸,۲ اخوانيان، وهابيانو او پاتې عادي دولتي پوستونه په اصطلاح منځ مهالو تنظيمونو ته سپارل شوي

وو[11]. همداراز د طالبانو په دولتي ډوله تشکیل کې د ۱۹۹۵ کال نه وړاندې د ملایانو فیصدي په سلو کې سل وه. په ۹۸ - ۱۹۹۵ دوره کې یوازې او یوازې د بهرنیو چارو په وزرات کې دا سلنه له سلو نه څه ټیټه (۸۳) وه. خو، په پاتې دولتي تشکیل کې دا سلنه په سلو کې سل وه[12]. نو. په افغانستان کې له ټولو نه د ستر ډموکراتیك سازمان (لویې جرګې) له خوا د اساسي قانون تصویب، پارلماني سیستم او انتخابات دبستپالنې د ډکتاتوري حاکمیت په وړاندې د درېیم قوت ډموکراتیك بریالیتوب دی.

دا ډېره مهمه ده چې د بن د تړون د سیاسي پایلو په تل تل کې د بنستپالنې سیاسي ماته مجسم او بشپړه شي:

له روان افغان سیاست نه د مذهبي بستپالنې د "اخواني" پاتې شویو ایستل د دریم قوت "بالفعل" او له دې بهیر نه د "ستمي" زړو ایستل د دې قوت "باالقوه" دنده ده.

د بنستپالنې د دې التقاطي پاتې شونو سقوط به د هغې په اوږو بارسکتاریزم په لوري پړاو کې ډېر کم ځانه او بیا به یې "پیاوړې" ملي بهیر د ملي پیوستون په بتیې کې ویلې کړي خو؛ د ملي پیوستون مسوولیت (دننه په دولت او له هغه نه د باندې) د تبلیغاتي او ایډیالوژیکي مبارزې له مخې د ملي- مترقي ډلو، ټولنو او روښنفکرانو او په قومي بنسټ له بل هر قومي ګروپ نه زیات زیات د هېواد د اکثریت قومي ګروپ پښتنو په غاړه دی. دا اکثریت چې په لوی لاس د یوې نړیوال سیاسي توطئې ښکار شو.

له نړیوالې اسلامي بنستپالنې او په جنوب کې له پاکستان ISI نه نیولې د شمال تر سکتاریزم پورې ټول په دې توطئه کې لاس لري. خو. دې اکثریت ونشو کولای له مذهبي بنستپالنې سره د خپل طبعي بېلتانه کرښه تازه کړي.

لویدیځ یو ځل په اتیایمه لسیزه کې پښتانه په لوی لاس په "اخواني اسلامیزم" او بیا یې په نوي یمه لسیزه کې د طالبانو چې "عنعنوي اسلامي

بنسټپالنې" پورې وتړل.

د تېر کال په وروستيو کې د امريکې د پوځي کمپاين په نتيجه کې د طالبانو له ماتې نه وروسته لوېديځ د پښتنو د خوشالولو له پاره په کال کې د يوه نيمګړي درېيم قوت د حکومت د کمزورې مشرۍ پګړۍ د پښتنو په سر کېښوده. دا په خپله د طالبانو د سياسي واقعيت او ايډيالوژيک هويت نه د لوېديځ بې خبرې وه. ځکه چې طالبان په ايډيالوژيک بنسټ هم پښتانه وو!!!

د افغان دولت د مشرۍ خبره خو په افغانستان کې د پښتنو د قومي اکثريت په بنسټ برسېره د پښتنو د دولت جوړونې او دولتي تجزيې برخ او بنسټ هم لري.

د اسلام له ظهور نه وړاندې په مرکزي اسيا، غور، جنوبي آسيا او ملتان کې محلي پښتانه حکومتونو د معاصر افغانستان د "دولت" او "تولتې" منډمات کړي دي. دا خو پښتون نشنليزم و چې په اتلسمه پېړۍ کې د پښتني ارزښتونو سره سره يو لړ نورو غير پښتني ارزښتونو مثلاً د "اسلام" مقدس دين او "دري" ژبې هم د دوو ايډيالوژيکو او کلتوري پديدو په حيث د افغان ناسيوناليزم په وده کې لاس ورکړ. د اسلام مقدس دين د يو ايډيالوژيک زور په حيث د ملي پيوستون په لار کې د قومي سرحدونو په څه ناڅه ماتولو او په يوه افغان بټۍ کې د هغو د ويلې کولو په لار کې له افغان ناسيوناليزم سره مرسته کړې ده.

ويلای شو د طالبانو سقوط د طالبانو او پښتنو تر منځ د "اجباري پيوند" په له منځه وړلو سره په ټوله مرکزي او جنوبي اسيا کې د پښتنو لپاره ډېرې مهمې سياسي پايلې وزېږولې. خو. هغه پښتانه چې د طالبانو سقوط د پښتانه حکومت سقوط ګڼي د هغوی په وړوکې د بنسټپالنې شکه ګډه ده.

## پاچا:

په ختيه پښتون خو په كلتوري لحاظ تاجك پاچا (٧٣ - ١٩٣٣) په افغانستان كې د غټ سياسي توان خاوند دی. له سياسي پلوه د پاچا د پلار محمد نادرخان د سلطنت (٣٣ - ١٩٢٩) له پيل نه د "افغانيت". "اسلاميت" او "تمدن" يو (نامتناسب) تركيب د دولت د ايډيالوژۍ په توګه دخل شو. د محمد ظاهر د پاچاهۍ په ټوله دوره كې دا تركيب تعقيب او بيا چې كله د سلطنت په وروستيو كې د پاچا لاس پياوړی شو: نو په دې درې اصولو سربېره دموكراسۍ (٧٣ - ١٩٦٤) د يوه مهم اصل په توګه د دولت په پوړتنۍ ايډيالوژۍ كې ځای ونيوه(١٤). همدلته ده چې (خامه) ملي ګرايي او (له وخت نه مخكې) دموكراسي د پاچا د سلطنت ميراث ګڼل كېږي(١٥).

د پاچا سلطنت څلوېښت كلنه دوره د افغان ناسيوناليزم په درېيم بشپړتيايي سياسي پړاو كې پرته ده خو. د ده د سلطنت د "دموكراسۍ لسيزې" د افغاني ناسيوناليزم د پخلي له پاره منفي پايلې درلودې.

د پاچا څلوېښت كلنې پاچاهۍ او د هغه "پښتنې" ستې له هغه نه يوه درنده سياسي څېره جوړه كړې ده. ګني هغه نه د افغاني ناسيوناليزم د كومې دورې او نه د خپل غورنيكه امير عبدالرحمن (١٩٠١ - ١٨٨٠) په څېر د افغان دولت او ټولنې معمار دی. پاچا د افغاني ناسيوناليزم د پخلي په روان بهير كې د خپلو څلورو ترونو د سيوري لاندې د عمر په ١٨ كلنۍ كې دولتي سياسي مشرۍ ته ورسېد.

د پاچا سياسي قوت او نفوذ په ٩٧ - ١٩٩٤ دوره كې طالبانو اغوا او د هغه له محبوبيت نه په ګټه اخيستلو يې په غلا غلا په جنوب ختيز او لوېديځ افغانستان كې خپل نفوذ ټينګ كړ. شمال ائتلاف هم له ١٩٩٦ نه

راپېدې خوا لګيا دي دا غلا کوي.

په افغانستان کې د اسلامي بنسټپالنې د خطرناکې پياوړتيا تروريستي پايلو نړيوالې ټکې له افغان ملي ټکو سره غوټې کړې. خو. دې پېښو افغان پروسه دومره ګړندۍ کړه چې په ډېرې وارخطايي يې د يوه "غير ايډيال" يا "نيمګړي" درېيم قوت حکومت جوړ کړ.

د پاچا او شمال ائتلاف د تېر کال د وروستيو مياشتو "د سياسي ائتلاف" په عام ډول افغانان او په ځانګړي ډول پښتانه شکمن کړل. همداراز په افغانستان کې د دولت او ټولنې د کلتوري بيارغونې په اړه د پاچا په وجود کې بياهم په غټه کې د يوې اوږدې مودې ستونزه پاتې کېدونکې ده.

د پاچا "سياسي" شخصيت د هېواد د سياسي ستونزې بالفعل حل او د هغه "کلتوري" شخصيت په خپله يوه بالقوه کلتوري ستونزه ده. "ستونزه دا ده چې د نننې درېيم قوت" غير ايډيال توکي" چې په قومي لحاظ "اقليمي" او په سياسي لحاظ "ستمي - پرچمي" بنسټ لري، پښتون "قومي اکثريت" يو "کلتوري اقليت" ګڼي. د دې "کلتوري اقليت" سرچينه په ځانګړي ډول په خپله "پاچا" او په عمومي ډول د پښتنو "ژبني" کمزوري ده. خو له دې سره سره د بنسټپالنې په وړاندې د افغاني ناسيوناليزم د جبهې د بيا پرانستلو لپاره نن سبا د يوه ملي سمبول په توګه په ختيځ په همدې پښتانه او په کلتوري لحاظ غير پښتانه پاچا کې تر بل هر چا زيات بالفعل سياسي استعداد پروت دی.

د پورتنۍ کلتوري ستونزې سره سره د پاچا د وينې او ژبې التقطي شخصيت د سره بېلو شويو افغان قومي ګروپونو په يو ځای کولو کې بالفعل رول لوبولی شي. د پاچا له دې بالقوه استعداد نه بالفعل ګټه اخيستل د افغان ناسيوناليزم په مهارت پورې اړه لري. پاچا هغه سره راټوله شوې ډېرش کلنه انرژي ده چې ازادول يې ځانګړې ملي ګټې لري.

په لنډ ډول ويلای شو چې:

د پاچا "دوه ګوني سياسي - کلتوري شخصيت" او "زړه ستبه" د نننی افغان بحران باالفعل سياسي حل او د سبا ورځې باالقوه ستونزه ده. نو:
پاچا د افغاني ناسيوناليزم د بيا رغونې "يوازينی" خو"يوازې" بنسټ اېښوودونکی کېدای شي.

## فدرالي غوښتنې او د بن تړون:

ايډيالوژي په خپله کمونستي بڼه کې په اتيايمه لسيزه کې د افغان مقاومت د وېشلو او کمزوري کولو له پاره د سکتارسيتي تمايلاتو په پياوړي کولو د فدرالي غوښتنو بنسټ جوړ کړ.
بنسټپالنې هم د دې لارې په نيولو په ۹۶ - ۱۹۹۲ دوره کې هېواد په ځلورو سياسي - قومي برخو ووېشه. اسلاميزم د طالبانو په پړاو کې د خپلې ماتې تر وخته پورې په سلو کې د افغانستان د خاورې د ۹۰ برخې په نيولو دا قومي - سياسي وېش دوو برخو ته راټيټ کړ.
سکتاريستي تمايلات او فدرالي غوښتنې په تيوريکي لحاظ آن د دموکرسی په لسيزه کې زرغونې شوې. خو. په نوي يمه لسيزه کې د شمال ائتلاف د دوو مهمو غړو په توګه د ازبکو "جنبش ملي اسلامي افغانستان" او د هزاره ګانو "حزب وحدت" په ګډه د هزاره جات (کرمان) د خودمختار ايالت جمهوريت. لوېديځ خودمختاره ايالت جمهوريت (هرات). د شمال د خودمختاره ايالت جمهوريت (مزار شريف) او د جنوب د خودمختاره ايالت جمهوريت (کندهار) په "ځلورو ټوټو" باندې د يو موټي افغانستان د وېشلو په دود په ۱۷ فصلونو او ۲۷۲ مادو کې د فدرالي سيستم اساسي قانون جوړ کړ(۱۶).
په افغان شوروي جګړه کې له روسانو سره د "شورای نظار - جمعيت اسلامي افغانستان" پټو پوځي- سياسي تړونونو د فدراليزم سياسي

بنستبونه پیاوړي کړل.

ایراني شیعه اسلامیزم په افغانستان کې د خپل ایدیالوژیك - سیاسي نفوذ له پاره د تویته کونې او فدرالیزم په اړه په افغانستان کې د وېشلو سیاسي اسلام له دوارو "شیعه" او "سني" ډلګیو سره نبنتي دي.

ایراني شیعه ییزم په اتیایمو او نوي یمو لسیزو کې له افغان هزاره شیعه ګانو سره د ځمکنیو پولو په لګولو کې په پاتې راتللو سره د سني سیاسي اسلام په مرسته دا پروژه وغزوله.

د یوه غیر افغاني "اداري - سیاسي" واحد په توګه د "امارت حوزه جنوب غرب" د نامه لاندې له ۱۹۶۰ لسیزې نه وړاندې افغان اداري - سیاسي وېش بیا رامنځ ته کول په غتبه کې د افغاني ناسیونالیزم او په ځانګړې ډول د افغان مرکزي دولت نه منل دي. د افغان بحران پیاوړي جنګي اقتصاد، د ملي پوځ تالا والا کېدلو. تاوده تنظیمي بازار او قوماندان سالارۍ د سکتاریستي او فدرالي غوښتنو د تیورۍ مټ پیاړۍ کړ. خو. د کورني عامل په توګه په ټول افغانستان کې ۶۳٪ خپاره پښتانه اکثریت په افغانستان کې په قومي لحاظ د فدرالیزم ملا ماته کړې ده. خو. نن سبا په زور باندې له شمال او لوېدیځ نه د طالبانو په نوم د پښتنو وهل او را ایستل کېدای شي، سکتاریزم او فدرالي غوښتنې پیاوړې کړي.

د امریکې او ایران د دښمنۍ په وجه په لوېدیځ افغانستان کې له بنستپالنې سره د مرستې په دود لوېدیځ سکتاریزم نن سبا له غټ نړیوال ګوابښ سره مخ دی. خو. د امریکې او شمال ائتلاف د سیاسي- پوځي نږدې والي له کبله دا ګوابښ په شمال افغانستان کې چوپه خوله دی. په کار دا ده چې افغاني ناسیونالیزم په افغانستان کې د ملي پیوستون او د هېواد د اداري- سیاسي یو والي په خاطر دا نړیوال ګوابښ شمالي افغانستان ته هم وغزوي.

ویلای شو چې د بن تړون "بشپړ" تطبیق به نه یوازې د پیاوړي جنګي

اقتصاد په ماتولو قوماندان سالارۍ ماته کړي. بلکې د یوه "ریښتیني" ملي پوځ جوړول به له یوې خوا د هېواد د اداري - سیاسي یووالي په تامینولو د پیاوړي مرکزي دولت ملا او له بلې خوا به د سکتاریزم او فدرالیزم لاسونه وتړي.

## ملي وسله وال ځواک :

د بن تړون لومړۍ ضمیمه د ملي وسله وال ځواك په جوړولو او د دې ځواك تر جوړولو پورې په افغانستان کې د نړیوال سوله ساتي پوځ په ځای په ځای کېدو باندې ټینګار کوي. له اسلامي بنسټپالنې او سکتاریزم نه پرته افغان ولس د بن تړون د دې ضمیمې ملاتړ کوي.

د پیاوړي جنګي اقتصاد د عواقبو په توګه نوی منځ ته راغلی "قوماندان - فیوډال" او "قوماندان - پانګه وال" قشر له "سکتاریزم" او بنسټپالنې" سره په ګډه د یوه ملي پوځ په ځای په تنظیمي او قومي بنسټونو باندې ولاړ غیر ملي پوځ په جوړولو په افغانستان د دولت او ټولنې د بیا رغونې په وړاندې یو شیطاني محور جوړ کړی دی.

## لنډیز:

د بن تړون له خپلو تکتیکي او تکنیکي ستونزو سره سره. په غټه کې په افغانستان کې د طالبانو په بڼه کې د اسلامي بنسټپالنې د حاکمیت په ځای د یوه ملي حاکمیت د جوړولو لار پرانیسته.

دې تړون د طالبانو له سقوط نه وروسته. نه یوازې د سیاسي قدرت له محور نه د مذهبي سخت دریځی "اخواني پاتې شوني" لرې کړل. بلکې له یوې خوا یې د شمال ائتلاف د نظار شورى ته د سیاسي- پوځي موقف په ورکولو د شمال ائتلاف سیاسي مشریزه ووېشله. له بلې خوا یې شمال

ائتلاف هم تویته کړ:

په افغانستان کې د "معتدل اسلام" او "افغاني ناسیونالیزم" د سیاسي بیا جوړ جارې په دود به د افغان سیاسي قدرت د عنعنوي مثلث بیا جوړېدل افغان سیاست له بنسټپالنې نه پاك کړي.

## سپارښتني:

- درېیم قوت باید موقت او عبوري حکومت په دوو تکتیکي پړاوونو کې ځان جوړ او په پای کې له خپل ځان او خپلې ستېې نه د یوې سیاسي اډیالوژیکي هستی په جوړولو د یوه ایډیال او ریښتیني ملي قوت د بنسټ ډبره کېږدي.

## ۱. درېیم قوت او بنسټ پالنه :

خلك د سولې او امنیت په خاطر د پیاوړي دولتي حاکمیت غوښتونکي دي. بنسټپالنه نور نه شي کولای خلك د اسلام او کفر په نوم. د امریکایي یا نړیوال سوله ساتي پوځ په وړاندې د "مجهاد" په نوم او یا په بل نوم په دومره اسانی خپل کړي. خو: که خلك د افغانستان د فزیکي بیا ودانولو په اقتصادي- تولیدي پروژو کې جذب او په را روانه بیړنی لویه جرګه او راتلونکو انتخاباتو کې د مذهبي بنسټپالنې د "زور" او "زرو" مخه ونیول شي. نو: په دې صورت کې به افغان اسلامي بنسټپالنه له اعتدال او افغان ناسیونالیزم سره په جوړ جاړي کې له "تروریزم او "کودتا" نه "ریفورم" او "ډیموکراسی" ته په خپل تکتیکي په شاتګ سمې ته راوګرځول شي. ګني دا بنسټپالنه به ډېر زر ځان جوړ او بیا به وسله را واخلي.

## ۲. درېیم قوت او شمال ائتلاف (ستمیان) :

د نننې غیر ایډیال درېیم قوت "ستمي" توکي نه شي کولای د خپل "محلي" طبعیت له مخې د درېیم قوت "ایډیالوژیك" زړه جوړ کړي. دومره

ده چې د بنسټپالنې په وړاندې په لنډمهال کچ یو تکنیکي پوځي سیاسي رول لوبولی شي. خو: د یوه لاس خلاصي او خپل چاري پوځي- سیاسي عنصر په توګه به د شمال ائتلاف زیات پاتې کېدل (مثلاً په عبوري مرحله او د موقتې دورې په بیړنی لویه جرګه کې) روان افغان ملي جریان له درنو ملي ستونزو او ناکامی سره مخ کړي.

## ۳. دریېم قوت او (سلطنت او روحانیت):

افغان ملي جریان یا دریېم قوت یو "مسلمان" خو غیر روحاني او غیر مذهبي جریان دی. وطنپال روحانیون او دیني عالمان د دریېم قوت مهم جوړوونکي توکي دي. خو: "روحانیت" او "مذهب" نه شي کولای دریېم قوت په خپله جوړ او رهبري کړي.

له عمل نه تیوری ته منده. له سیاسي تبارز نه ډار او په "سلطنتي مانفسیت" د ټولو ملي ستونزو د حل لټول نه شي کولای حتی په آرامو او نورمالو شرایطو کې هم دریېم قوت له خپلو سیالانو سره یوې ډموکراتیکې مقابلې ته چمتو کړي.

دریېم قوت باید د "سلطنت" او "روحانیت" له مؤسساتو نه د "ملي کتې اخیستنې" او په هغوی کې د "ویلې کېدنې" تر منځ کرښه راکاږي.

دا خو د پاچا ننني ژوندی سیاسي موقف دی چې دریېم قوت یې په اوږو بار دی. خو. دا چې د پاچا لمسی او زوی هېڅکله هم د خپل نیکه او پلار ځای نه شي نیولای. نو: پاچا هم یوه تکتیکي مرحله ده.

په کار ده په خپله دریېم قوت او د دې قوت نړیوال مرستیالان او جوړوونکي په ګډه د پاچا په ژوندانه کې د راتلونکي سیاسي خلا د ډکون لپاره همدا نن د یوه ایډیال او "بشپړ" دریېم قوت د سیاسي. قومي او ایډیالوژیکو توکو په امتزاځ پوځ فکر وکړي.

# اخځونه


1. Wok Foundatin for Afghanistan, "The Ethnic Composition of Afghanistan", KOR, P. 27, Peshawar, 1999.

۲. د دعوت جریده. ۱۳۳ - ۱۳۲ پرله پسې ګڼه. ۱۳۸۰ کال. د مرغومې میاشت. دویم مخ او زما خپله څېړنه.

۳. دویم اخځ

۴. لومړی اخځ

۵. دویم اخځ

۶. دویم اخځ

۷. لومړی اخځ

۸. دویم اخځ

۹. لومړی اخځ

۱۰. دویم اخځ

۱۱. انجنیر محمد انعام واك. دریم قوت. ۱۱ مخ. واك فونډېشن د افغانستان لپاره. ۱۳۷۸ لمریز کال. پېښور.

۱۲. مولف

13. The State, Religion and Ethnic Politics: Afghanistan, Iran and Pakistan. Introduction: A. Banuazizi and M. Weiner (eds.), P. 9, Syracuse, Syracuse University Press, 1986.

۱۴. انجنیر محمد انعام واك. دریم قوت. پورتنی اخځ. ۳۲ مخ.

۱۵. محمد حسن کاکړ. ربا او دفاع. د محمد حسن سهاك مقاله: بحثی پیرامون نفوس کشور. ۵۴ مخ. ۱۹۹۹ کال. پېښور. د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا د مرکز چاپ.

ډاکټر رحمت ربي زيرکيار

# "حکومت کُشاد" او ملي حاکميت

که تقدير دې د زمري په خوله کې ورکا
د زمري په خوله کې مه پرېږده همت
(خوشال بابا)

اوس په افغانستان کې طالبان له القاعدې سره لاړل. شمالي اتحاد له روسانو سره راغی. پخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهر شاه د ستميانو او ګيلم جمانو معنوي پلار شو. خپلواکي له امريکايانو سره متيزه شوه او دموکراسي د پراخ بنسټ جنګ د جنګ سالارانو بزکشي (وزلوبه) شوه. په دې ډول په ټول افغانستان باندې د يوه مجموعيت په حيث هر اړخيز يرغل وشو. د دغه يرغل لومړي پړاوونه ښيي چې په نتيجه کې به يې (خدای مه کړه) د پښتو او پښتنو جنازه اخيستل کېږي او په افغانستان کې به د ملي تولنې د جوړولو شمزۍ ماتېږي؟! د ملا تير چې مات شي پوښتنې نه تينګېږي.

هغه مهال چې په افغانستان کې د جهادي ګوندونو پراخ بنسټه جنګونه پيل شول . د "حکومت وسيع القاعده" غورو دربو هم رواج وموند. په جنوبي کليفورنيا کې د افغانانو په يوه سياسي غونډه کې يو چا پوښتنه

وکړه چي "حکومت وسیع القاعده" څه ته وایي؟ د افغانستان یوه پخواني وزیر ځواب ورکړ چي دغه ډول حکومت ته په کابلی فارسي که "حکومت کُشاد" وایي. د اغېزمن ملي حکومت پر ځای. پراخ بنسټه حکومت یو ځل بیا را منځ ته شو چې رنګ یې په خوند نه پوهېږي او خوند یې په رنګ شرمېږي. دا هم د هغو ګوزارونو له جملې څنې دي چې په افغانستان کې د ملي تولنې په جوړېدلو باندې شوي دي.

۱- انګرېزانو د افغانستان په وجود کې د ډیورنډ استعماري کرښه تېره کړه. پښتانه یې ووېشل او افغانستان یې د بحر له غاړې نه وتمباوه. دا و په افغانستان کې د کلکې ملي تولنې په رامنځ ته کېدلو لومړی کلک ګوزار.

۲- شوروي روسانو په افغانستان باندې په ۱۹۷۹ کې پوځي یرغل وکړ او په افغانستان کې یې د قومي لړه کیانو څینې کړی دې ته ولمسولې چې د پښتنو په ضد فعالیت وکړي. د دغو اقلیتي کړیو وظیفه دا وه چې د ملت پر ځای "ملیتي" چغه توده کړي او د افغانستان تجزیې ته لاره هواره کړي دا و په افغانستان کې د ملي تولنې په رامنځ ته کېدلو دویم ګوزار.

۳- په ۱۹۹۲ (ثور ۱۳۷۱) کې د ثور د درېیمې کودتا له لارې پرچمي- ستمي کړیو ته قدرت ور وسپارل شو. د پرچمي- ستمي کړیو پښتون دښمنه سیاست په افغانستان کې د ملي تولنې په رامنځ ته کېدلو باندې درېیم ګوزار و.

۴- د طالبانو په پنځه کلن پېر کې (سپتمبر ۱۹۹۶-اکتوبر ۲۰۰۱) پرچمي-ستمي کړی له مستی نه ولوېدلې. سرك الطوایفي رنګه شوه او په نتیجه کې یې افغانستان له تجزیې نه وژغورل شو. خو د طالبانو منحط او سپېره سیاست په افغانستان کې د ملي تولنې د سازولو لپاره هېڅ ډول پلان نه لاره. دا و د ملي تولنې په رامنځ ته کېدلو څلورم ګوزار.

۵- کومه عملیه چې د (۲۰۰۱) کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې د تروریستي ډاکورا وروسته د امریکې په مټ په افغانستان کې په مجموع کې د اتحاد شمال د حکومت لپاره پیل شوې ده. د ټول افغانستان لپاره

بد عواقب لري. دغه ډول نامطلوب سیاست په واقعیت کې په افغانستان کې د ملي ټولنې په رامنځ ته کېدلو باندې هغه غټ ګوزار دی چې د ډیورند استعماري کرښه به پرې شرمیږي او دموکراسي به په کې یرغمل کېږي. زه ظلم. تېری او جنایت د هر چاله خوا چې وي هر چېرې چې وي او په هره بڼه چې وي رټم او غندم. د همدغه دریځ له مخې زه د (۲۰۰۱) کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې (۲۰ وږی ۱۳۸۰) تروریستي ډاکې غندم او رټم او د زرګونو قربانیانو پاتې شونو ته یې د زړه له کومې خواشیني څرګندوم. دغو زړه بوږنوونکو تروریستي ډاکو د امریکې د حکومت لپاره د دې اخلاقي زمینه برابره کړه چې په افغانستان کې شیطاني کړی او د ګبین کټې ماتې کړي. په دغه عکس العمل کې د بې ګناه افغانانو زېږول او وژل د رټلو او غندلو وړ دي او په افغانستان کې د سولې او ولسواکۍ ټینګښت ته کلك تاوان رسوي.

په (۱۹۸۹) کې شوروي پوځونه له افغانستان نه په ماتې ووتل. د برلین دېوال ونړېده او ورپسې د شوروي کمونیزم امپراتوري رنګه شوه. دلته وینو چې امریکا خپل لومړي هدف ته ورسېدله. په ۱۹۹۲ کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو پلان شنډ شو. سپېڅلی جهاد د ناسپېڅلي بري خوراك شو. د آسیا په زړه کې د قدرت تشه پیدا شوه او د جنګ سالارانو پراخ بنسټ جنګونو زور ومیند. امریکا په خپلو هڅیو کوږکه شوه له افغانستان نه د ګبین کټې جوړه شوه او د نړۍ له هر ګوټ نه په کې اسلامي افراطیان د ګبین د مچیو په شان ورننوتل. په (۱۹۹۳) کې د رباني د مشرۍ لاندې د کابل د رژیم سترې محکمې فتواه ورکړه چې د ښځو ښوونځي "د زنا او فحشا مرکزونه دي." خو امریکې او ملګرو ملتونو څانونه راندہ او کانه نیولي وو.

په (۱۹۹۶) کې د مسعود-رباني اداره له کابل نه وتښتېدله او طالبانو یې ځای ونیوه. خو امریکې او ملګرو ملتونو د طالبانو د قدرت له لومړیو شپېو راهیسې د طالبانو په ضد دریځ ونیوه او د تښتېدلې رباني استازی یې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دولت د استازي په څېر وساته. دغه

سیاست په افغانستان کې د داخلي جنګ له اوږدېدلو سره مرستندوی شو.
طالبان د خپلې زماني انسانان نه وو. دوی نه د بین المللي اړیکو په ارزښت پوهېدل او نه یې د افغانانو خیر غوښتونکو مشورو ته غوږ نیوه. هر څومره به چې امریکې او ملګرو ملتونو د طالبانو سیاست ته پاتکونه اچول. هغومره به طالبان د بن لادن سیاسي خیرات ته اړ کېدل. هغومره به یې له امریکې سره غلیمي پړسېدله. هغومره به امریکه لاپسې قهرجنه کېدله او د طالبانو د راپرزولو لپاره به یې شمالي اتحاد (د پرچمیانو. ستمیانو او ګیلم جمانو جبهه) د خپل نازولي معتدل قدرت په څېر معرفي کاوه. په دې ډول ناپوهو طالبانو او قدرتمنې امریکې دواړو د سیاست شیطاني کړۍ
(Vicious Circle) جوړه کړه چې مرکز یې بن لادن و.

د (۲۰۰۱) کال د سپتمبر د یوولسمې نېټې له ترویستي ډاکو سره جوخت. د امریکې حکومت خپلې ملي ګټې په دې کې ولیدلې چې په افغانستان کې مرګوني شمالي اتحاد په سرساموونکې بیړه را ژوندي کړي. د الې په څېر یې استعمال کړي. کابل ته یې ورننباسي او په افغانستان کې د "موقت امریت" عسکري او امنیتي چارې ور وسپاري. د دغې بېزوګۍ اداري د وزیرانو اکثریت هغه اشخاص جوړ وي چې د پرچمیانو او ستمیانو د ګډې جبهې نازولي دي که د موقت امریت کیفي اړخونو ته یو برسېرن پام وکړو. وبه وینو چې په عمل کې د وګړو په ډېره کیانو (پښتنو) د لږه کیانو واکمني ورتپل شوې ده او د افغانستان ملي ژبه (پښتو) په عمل کې په حکومتي راشې درشې کې تحریم شوې ده. د امریکې حکومت مسوولیت لاره چې د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره په افغانستان کې د بن لادن ډله ړنګه کړي او د طالبونو رژیم رانسکور کړي او په ضمني ډول افغان ملت هم د بن لادن او طالبانو له منحط او مستبد حاکمیت څخه خلاص کړي.

خو د امریکې حکومت د دې حق نه لاره چې په مظلوم افغان ملت باندې د جنګ سالارانو پراخ بنسټ حکومت و روتپي او سوکه سوکه بیا د پراخ بنسټ جنګ او د افغانستان د تجزیې لپاره زمینه برابره کړي.

په بن کې (دسمبر ۲۰۰۱) د امریکې په مټ رامنځ ته شوی موقت امریت Interim Authority په کمې لحاظ ډېر او په کیفي لحاظ خورا ډېر د شمال اتحاد څېرې ته ورته دی. نه د ټول افغانستان څېرې ته.

د دغه لنډ مهال امریت په جوړښت کې په واقعیت کې د هغه غولوونکي قوم شمېرنه منعکس شوې ده چې د امریکې د مرکزي استخباراتو(CIA) له ذوق سره سم د CIA په کتابونو کې د افغانستان لپاره لازمه لیدل شوې ده. په کال (۲۰۰۰) کې د CIA په احصائیه کې پښتانه په افغانستان کې اته دېرش سلنې (۳۸%) اټکل شوي دي او ژبه یې پنځه دېرش سلنې (۳۵%).

باید ووایم چې په نورو منابعو کې هم د افغانستان د وګړو او قومونو شمېرنې په اټکلونو ولاړې دي. خو د CIA په شان سپین سترګي یې نه ده کړې. تر نن پورې په ټولو معیاري کتابونو کې چې ما لوستي دي. د واك فونډیشن قوم شمېرنې دقیقې او باورمنې دي:

The Ethnic Compositon of Afghanistan. Asix – Year Servey and Research project Conducyted from 1991 – 1996 by Wak Foundation for Afghanistan. 1998.

دلته یې د معلوماتو په راټولولو باندې شپږ کاله خوارۍ کړې ده او د مسلکي متودونو په کارولو کې یې کلتوري واقعیتونو ته پاملرنه کړې ده.

بروس ریچارډسن یو تکړه امریکایي محقق دی د افغانستان په اړه پاخه معلومات او ګڼ شمېر لیکنې لري. Richardson چې پښتانه په افغانستان کې تر ټولو غټ اکثریت ګڼي د CIA په معلوماتو شکمن شوی دی:

"But is this [CIA's ] data reliabel? Dr is this data seif – serving. a cover for U.S. support for minority rule in Afghanisatan ?" (Bruce Richardson. "Post – Tliban Afghanistan" in Afghanistan Mirror. Nr.87. January 2002. Pp.10-12).

د واك فونډیشن د معلوماتو له مخې. پښتانه په افغانستان کې د ژبې په بنسټ پنځه پنځوس سلنې (۵۵%) اکثریت جوړوي او د وینې په بنسټ څه له پاسه دوه شپېته سلنې (۶۲.۷۳%) اکثریت جوړوي. باید معلومه شي چې CIA په کوم کال کې (۱۹۹۹ - ۱۹۸۰) په افغانستان کې د پښتنو احصایې ناڅاپه په غټه کچه بدلوي. ما له درې تنو افغانانو څخه

هیله کړې ده چې د CIA د کلنیو احصائیو کتابونه (۱۹۸۰-۱۹۹۹) په واشنګټن ډي سي کې د کانګرس په کتابتون کې وګورې. ځکه هلته د معلوماتو له مخې د هر کال نسخه ساتل شوې ده. کله چې یې کال معلوم شو نو بیا به وګورو چې په همغه کال کې په افغانستان کې څه پېښې شوې وو چې د پښتنو سرونه یې خوړلي وو؟!

د لویې جرګې د "خاص مستقل" رابلونکي هیئت د غرو جوړښت هم د موقت آمریت د غړو جوړښت ته ورته دی او ناشونې به نه وي چې د لویې جرګې غړي به هم داسې جوړښت ولري چې د اهلیت او افغانیت په ستنو باندې به ولاړ نه وي؟

د امریکې واکمنان کولی شي چې د خپل حکومت له خوا خپلو افغاني ګوډاګیو ته ګلم جمانو. تجزیه طلبانو. پاټکیانو. د جنګ له جنایتکارانو او د بشریت ضد له جنایتکارانو ځینې د افغان ملت اتلان جوړ کړي.

موقت امریت او "انتقالي امریت" (Transitional Authority) باید ځانونه وپېژني او د لیوني چرګ په شان بې وخته اذانونه ونه کړي. موقت امریت او انتقالي امریت په خپل جوهر کې موقت او اضطراري جوړښتونه دي او له خپل جوهر سَره سم باید "موقت" کارونه سر ته ورسوي. نه تلپاتې! کله چې د ټول ملت د اکثریت په ملاتړ تلپاتې نظام را منځ ته شي او د خپلواك دولت ځانګړتیاوې ولري. نو بیا به د شواهدو په مټ حقیقت لټول کېږي: غل به له اتلَ څخه او خادم به له خاین نه توپیر کېږي او د جنګ جنایتکاران او د بشریت ضد جنایتکاران به محکمه کېږي. د راتلونکو غمیزو د مخنیوي لپاره دا مهمه ده چې خپلواك افغانستان خپل نا اهله زوزات ناوزلي ونه ګڼي. بلکې سزا ورکړي او په دې ډول راتلونکي نسل ته وښیي چې په خپلواك ولسواك او عادل افغانستان کې هېڅ یو ملي خیانت پټ نه شي پاتې کېدلی او هېڅ یو ملي خاین بې جزا نه شي پاتې کېدلی.

موقت امریت او انتقالي امریت باید په بانك نوټونو کې د هغه چا د تصوریونو له چاپولو نه ځان لرې وساتي چې د تېرو اوه ویشت (۲۷) کلونو په اوږدو کې یې له (۱۹۷۵) راهیسې د افغانستان په سیاست کې وسله وال

رول لوبولی وي. د دې په ځای به روغه دا وي چې د تېرو لسو (۱۰) کلونو په منځ کې (۲۰۰۲ - ۱۹۹۲) د کابل د ویجاړ شویو شمېر عکسونه په بېلا بېلو نوټونو کې چاپ شي. دا کار به د افغان ملت له خورا غټ اکثریت سره چې په لیك لوست نه پوهیږي ورځنۍ مرسته وکړي چې د افغانستان د نااهله زامنو ورانکارۍ یې په فکر کې ژوندۍ پاتې شي.

پښتو باید په نوي اساسي قانون کې د یواځینۍ ملي او رسمي ژبې په څېر خوندي شي. "رسمي" په دې مانا چې په حکومتي چارو کې به چلېږي او "ملي" په دې مانا چې په ملي کچه (عمومي) چلن ولري. یعنې په ملي کچه یې عمومیت پیدا کړی وي چې تعمیم هم ورته ویل کېږي. د یوې ژبې ملي کېدل یا عمومي کېدل ناشوني دي. خو دا چې همغه ژبه ټولنیز اعتبار Social Prestige ولري. په افغانستان کې د شاهي دورې په وروستني اساسي قانون (۱۹۶۴، ۱۳۴۳ لمریز) کې پښتو او فارسي دواړه رسمي ژبې ښودل شوې وې (۳مه ماده). او د ملي ژبې پښتو په پرمختګ او زیات استعمال ټینګار شوی و (۳۵مه ماده). خو کوم برکت یې ونه کړ ځکه چې پاچا، د پاچا کورنۍ د پاچا شاعرانو. د پاچا هنرمندانو. د پاچا صدر اعظمانو او د صدر اعظمانو وزیرانو ... له دولت نه فارسي ټولنه جوړه کړې وه او په عمل کې د اساسي قانون په ضد له پښتو سره په تبعیض کې لګیا وو.

ما څو کاله وړاندې لیکلي وو چې "بې پښتو ارګ د پښتنو مرګ دی!" که خپلې ژبې ته خدمت تعصب وي. نو بیا خو د اروا ښاد استاد محمد صدیق روهي په وینا، په نړۍ کې هېڅوك نه شي موندلی چې تعصب ونه لري. په اساسي قانون کې باید زیاته شي چې په افغانستان کې هېڅوك (که سردار خیل وي او که ولس خیل وي. که پښتون وي او که غیر پښتون) نه شي کولی چې د ولسمشر. لومړي وزیر. معین. لوی درستیز. جنرال. قاضي القضات. والي او د افغانستان د سفیر مقام ته ورسېږي. خو دا چې په پښتو پوهېدنه راپوهېدنه (افهام او تفهیم)کولی شي. له دې کم لګښتې او اسانې لارې د پښتو ټولنیز اعتبار په مټ په تعمیم کې اسانتیا راتلی شي.

په بله وینا. تر څو چې پښتو د دولت په لوړو مقامونو کې په عمل کې رسمي شوې نه وي. د ممتازې طبقې رسمي راشې درشې ځنې به محرومه وي. ټولنیز اعتبار به یې بایللی وي او تعمیم (عمومي کېدلو) ته به یې پاتیك اچول شوی وي. له پښتو سره تبعیض یوه دولتي موسسه ییز: عملیه ده چې په کړنو (روش. سلوك) را څرخي. نه په تشه وینا. د بېلګې په ډول. یو څوك سل ځله چغه وباسي چې "مرګ بر تبعیض لسانی!". خو یو ځل نه وایي چې "مړ دې وي ژبنی تبعیض!" په عمل کې په افغانستان کې د افغانانو په دولت کې له افغاني (پښتو) سره تبعیض کوي. یعنې په عمل کې په خپل سلوك سره. ښیي چې ژوندی دې وي له پښتو سره تبعیض او تل دې وي د فارسي امتیاز. سپین سترګي دوه مختوب باید پای ته ورسېږي او ورورولي په حساب او متقابل احترام وچلېږي.

چاچې په دوارو موقت آمریت او انتقالي آمریت کې لوړ رتبه حکومتي مقامونه لرلي وي. باید د هغه حکومت په لوړرتبه مقامانو کې کار ونه کړي چې د نوي اساسي قانون له مخې به د لومړي ځل لپاره را منځ ته کېږي. دغه شان چاچې په دوارو. موقت آمریت او انتقالي آمریت کې لوړ رتبه حکومتي مقامونه لرلي وي. باید په هغه قانونیه څانګه (ولسي جرګه. مشرانو جرګه) کې غړیتوب ونه لري چې د نوي اساسي قانون له مخې به د لومړي دورې لپاره رامنځ ته کېږي. د دې کار ګټه دا ده چې جنګ سالاران او د بهرنیو قدرتونو نور نازولي به یو څه دمه وکړي. او پر ځای به یې د ملت نور اشخاص یو څه مجال ومومي چې د سیاسي مشروعیت د پر له پسې بحران شیطاني کړۍ ما ته کړي او د ملي حاکمیت د خوځښت په بهیر کې روان شي. دغه شان باید په انتخاباتو کې د یوه شخص یا یوې ډلې لپاره بهرنۍ مرستې (که مادي وي او که معنوي. که حکومتي وي. ګوندي وي او که شخصي وي) غیر قانوني وګڼل شي. په نوي اساسي قانون کې باید اضطراري وضعه تعریف شوې وي. موده یې ښودل شوې وي او یا مقیده شوې وي او د دولتي نظام له نورو اُرګانونو سره یې اړیکي مشخص شوې وي. د ساري په ډول. په اضطراري وضعه کې پارلمان نه رنګېږي او د

اساسي قانون د تفسير محکمه (Supreme Court) کړاندي يعني فعاله پاتې کېږي.

شهرت ننګيال ليکي چې که د طالبانو په واکمنۍ کې به ستري محکمې طالبانو ته د "پوهاندۍ فرمانونه" ورکول. د موقت آمريت مشر حامد کرزي صاحب بله نادره دا وکړه چې پر خپل تره (استاد رباني) يې د اکاډميسن علمي رتبه ولورولــه." (دعوت. ۱۳۲-۱۳۳ پرلـه پسې ګڼه ۲۰۰۱ دسمبر، مرغومي ۱۳۸۰. مخونه ۳۹-۴۰) وروسته لـه دې چې کرزي ته واك وروسپارل شو. برهان‌الدين رباني يې خپل "تره" وګاڼه. دغه ډول بې خرته او ښانګوري تېروتنې ښيي چې موقته اداره د تفکر جرګې (Think Tank) ته کله اړتيا لري چې د افغانستان لـه خپلواکو چارپوهانو څخه جوړه شوې وي او د موقتي ادارې مشر ته مشورې ورکوي.

دا حق بايد لـه خپلواك افغانستان سره خوندي وي چې لـه يرغلګرو څخه د جنګ تاوان وغواړي او د جنګ جنايتکاران او د بشريت ضد جنايتکاران (هر څوك چې وي او د هر هدف لپاره په هره بڼه چې يې دغسې جنايتونه کړي وي) محکمې ته راولي.

موقت آمريت او انتقالي آمريت بايد د يوه خپلواك دولت ځانګړې تياوې پېدا کړي او د افغانستان د ملي ګټو په بيه هېڅ بهرني هېواد تـه کوم ځانګړی امتياز ورنه کړي.

د موقت آمريت د رامنځ ته کېدلو عمليه او د غړو جوړښت يې ښيي چې دموکراسي په کې په معکوسه ډول منعکسه شوې ده. د امريکې پـه مټ پـه قومي اکثريت باندې د قومي اقليتونو د ائتلاف ورتپل شوې واکمنـي د دموکراسۍ او سياسي اخلاقـو لـه موزينو سره ټکر لري. د دغه ډول ناروا سياست اوږدول د افغانستان ملي هويت ورانوي او په افغانستان کې ملي يووالی او د ښتونې ملي ټولنې جوړېدلو ته پاتك اچوي. په افغانستان کې بايد عقل او دموکراسي واکمن شي. نه ټوپکيان. د موکراسي پـه وروروليـ چلېږي او وروروليـ پـه حساب په افغانستان کې د داخلي جنګ يـو اړخ رنګول. خو بل اړخ يې غښتلی کول او د قدرت په ګدۍ کېنول هغه ناروا

اقدام دی چې د موکراسي به پنچر وي. سوله او ثبات به شنډ وي او سیاسي اخلاق به یرغمل کوي. باید پـه ګرنـدي ډول ملي اردو او امنیتي ماشین او وریسي نور دولتي مقامونه د جنګ سالارانو له حاکمیت ځنې راخلاص شي او وسله ورځنې راټوله شي. د کور په غل باندې د کور د ساتنې اعتبار کولو ته سرې پاګل سیاست ویلی شي. پاګل سیاست نه په عملي سیاست کې ځای لري او نـه پـه اخلاقـي سیاسـت کـې. د افغانسـتان پخوانـی پـاچـا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه هم د پاګل سیاست په سترنج کې یو سر تېرې پیاده دی. پخوانی پاچا له یوې خوا اپین دی چې پښتانه بې حسه کوي او له بلې خـوا یـوه کلتـوري موسسـه ده چـې ملـي ژبـه پښتولـه منـځه وړي. اعلیحضرت په خپله ځلوېښت کلنه ټولواکۍ کې پښتـو پـه ارګ کې تحریم کړې وه او په خپله کابو دېرش کلنه جلاوطنۍ (۱۹۷۳-۲۰۰۲) کې یې هم پښتو په روم کې له خپل دفتر ځنې شړلې ده. د اعلیحضرت کمال په دې کې دی چې که بل هېڅ نـه شي کولی. دغـه دوه وظیفې د اتحاد شمال په حاکمیت کې په مېړانه سره اجرا کولی شي. زه چې د اعلیحضرت مېړانې ته کسم. د حافظ شیرازي دا شعر را په یادېږي:

پدرم روضه رضوان بیک خوشه گندم بفروخت
نـا خلف بـاشم اگر منش بـه جوی نفر وشم

مطلب دا چې پخوانی پاچا "کوټ کوټ دلتـه کوي او هګۍ هلتـه اچوي" ملي ګران باید په افغانسـتان کې رواني عملیې ته کلك پام وکړي. لږ تر لږه باید په هر څه کې له هر چاسره سـرونه ونـه خوځوی او افغانسـتان کې د ملي یووالي، سولې، سوکالۍ او دموکراسۍ د راوستلو او ټینګولو لپاره د یوه واقعي مشرتابه پـه لټـه کې شي چې ملي، سیاسي او علمي سرېتوب ولري.

نبي مصداق

# ازبک سالاري په افغانستان کې

په نولسمه پېړۍ کې په داسې حال کې چې په افغانستان د سدوزيو او محمدزيو تر منځ لومړنۍ کورنۍ جګړې د ۱۸۳۵ - ۱۸۱۹ کلونو تر منځ روانې وې. ازبکانو د افغانستان په شمال کې څلور محلي حکومتونه جوړ کړل چې د "څلورو ولايتو" حکومتونو په نوم يادېږي. دا حکومتونه په کندوز، شبرغان، ميمنه او سرپل کې جوړ شول. خو مزار او تاج قرغان هم دوه نور حکومتونه وو چې د بخارا د امارت تر ولکې لاندې وو، خو هېڅکله يې هم د پورتنيو څلورو حکومتونو په شان آزادي نه درلوده.

د بخارا اميران پوهېدل چې د افغانستان دا برخې د لوی احمد شاه (۱۷۷۳ - ۱۷۴۷) او د هغه د زوی تېمورشاه (۱۷۹۳ - ۱۷۷۳) د حکومتونو برخې وې، خو څرنګه چې د درانيو قدرت په ضعف کې و. نو د افغانستان په دې برخو کې يې خپله سلطه ټينګه کړې وه. له بلې خوا کابل او هرات چې د سدوزيو په لاس کې وو. د بخارا دا برلاسي يې نه منله. ضمناً دا هم يو حقيقت دی چې ازبک خوانين. د خپلمنځي بې اتفاقيو له امله

هېڅکله هم د شمال یانې بخارا او جنوب یانې کابل مخې ته نه شول درېدلای.

یو انګرېز لیکوال چې په ۱۸۴۵ کې یې د ازبکانو دا حکومتونه په خپله‌لیدلي داسې لیکي:

"هغه جزیي او بې مورده رقابتونه چې د دوی (ازبکو خوانینو) ترمنځ موجود دي. له عقل څخه لیرې ښکاري. په عوض د دې چې دا رقابتونه کم کړي. هغوی د خپل مهارت او استعداد تر نهایي درجې پورې. د دغو خپلمنځي کړاوونو ته لمن وهي. چې نتیجه یې دایمي او همېشنۍ جګړې وي". [فریره ۱۹۷۱ - ۱۲۳ - ۱۲۲ مخونه]

مخکې له دې چې د پورتنیو څلورو ازبکو حکومتونو او خوانینو په اړه معلومات وړاندې کړم. غواړم د ازبکانو د غلامۍ یا مرییتوب پر تجارت باندې لنډ معلومات ولیکم.

د ازبکانو شمېر د واک د معتبرې احصایې پر اساس ۶,۱۰ فیصده یا ۱,۰۹ ملیونه اټکل شوی دی.([1]) [د افغانستان لپاره د واک مؤسسه ۱۹۹۹، ۷۱ مخ]. ازبکان له اوومې عیسوي پېړۍ راپه دې خوا د دې سیمې د دوو لویو دریابونو منځ او غاړو کې ځای پر ځای شوي دي. چې هغه سیر دریا او آمو سیندونه دي. همدا سیمه بیا وروسته د ترکستان په نوم یاده شوه. د افغانستان برخه. کله هم د قطغني او کله هم د افغاني ترکستان په نوم یاده شوې ده.

---

[1]- بل لیکوال ویلبر په ۱۹۵۰ په کال خپل کتاب "افغانستان" په ۴۹ مخ کې د ازبکو شمېر د ۷ او ۸ لکو تر منځ ګڼي. پژواك د افغاني منابعو په قول هغوی د نفوس ۵ په سلو کې شمېري. فلچر د خپل کتاب "افغانستان..." په ۱۶ مخ کې په ۱۹۶۵ کې د هغوی شمېر ۸ لکه: ګرګارین ۳۵ مخ. یو تر یونیم ملیونه. دوپري ۶۱ مخ. ۱۹۸۰ کې یو ملیون. سمیت او نور د افغانستان ژباب خپل کتاب. ۷۷ مخ کې هم یو ملیون ګڼي.

ډېر هغه ازبکان چې نن په افغانستان کې دي. د ګوډ تېمور (۱۴۰۵ - ۱۳۷۰) د عسکرو او قوماندانانو له اسلافو څخه دي. ګوډ تېمور چې یوه پښه یې له زېږېدو څخه عیبي وه. که څه هم سني مسلمان و. خو د هغه ظلم او وحشت تر چنګېز هم. د افغانستان د خلکو لپاره. سخت تمام شو. ګوډ تېمور په غزني. کندهار او هرات کې کله منارونه جوړ کړل. ټولې کتابخانې یې خپل پایتخت "ثمرقند" ته له هر بل تاریخي آثارو سره یو وړل. بې له افغاني کسبه کارانو نه. چې هغوی یې د خپل پایتخت د جوړېدو لپاره ثمرقند ته ولېږل. متباقي ټول نفوس یې چې له لاسه کېده. له تېغه تېر کړل. د سلېمان غرونو پښتنو یې سخت مقاومت وکړو او له همدې کبله د هغه له ډېرو سرسختو دښمنانو څخه یو قوم هم پښتانه وو. [ګرګارین. ۱۹ مخ].

د افغانستان د څلورو ولایتونو یا حکومتونو. حکمرانانو. تر ټولو ډېر ظلم پر محلي هزاره ګانو او تاجکانو باندې کړی دی. یو انګرېز لیکوال د دې تجارت پرده داسې پورته کوي:

په ۱۹ پېړۍ کې د قومونو فیوژن (خورېدل) پېښ شول. چې له دې کبله په قومي عداوت او دښمنیو بدل شول. داسې دښمني په تېره بیا د هزاره او ازبکو په منځ کې ډېره شوه. غالب قوم به د مغلوب نفر د غلامانو په صفت نیول او هغوی به یې د مریيو په ډول. د مریيو په بازارونو کې خرڅول چې یو دا ډول بازار په کندوز کې و. له هغه ځایه مریی به هند ته د تجارت په ډول وړل کېدل او یا به هم د مرکزي آسیا د تاتار د آسونو په مقابل کې مبادله کېدل او یا به هم دا غلامان په ځمکو او یا په کورونو کې د مزدورانو په ډول استعمالېدل. [هارسن ۱۹۳۹. د ۸۲ او ۱۲۷ مخونو تر منځ]

خو سربېره پر کندوز چې له هزارجات څخه لیرې دی. د سر پل او میمنې د حکومتونو خوانینو هم د هزاره ګانو د مریيتوب تجارت کاوه.

ګرګارین چې د هزاره ګانو د مریيتوب په تجارت باندې ډېره څېړنه کړې او وايي چې د غلامۍ دا تجارت خورا لوی و او یوازې ازبکانو په کې برخه

درلوده. نور افغانان که پښتانه دي او که تاجك د غلامانو تاجران نه وو او نه يې هم دا تجارت کاوه. د مريیتوب دا تجارت امير عبدالرحمن [۱۹۰۱ - ۱۸۰۰] کې منعه کړ او کله چې هزاره گان يې د نورو په شان د خپل سلطنت په لومړيو ۱۶ کلونو کې. چې په داخلي جنگونو کې تېر شوي وو. راوستل. پښتانه تجاران يې تشويق کړل چې له هزاره گانو سره تجارتي اړيکې ټينگې کړي او هغوی له انزوا څخه راوباسي او هم د هغوی د اقتصاد په پیاوړتیا سره مجبور نه شي چې د خپل فاميل غړي. چې له خوراك او پوښاك څخه يې عاجز وو. په مريیتوب خرڅ نه کړي. دا تجارت ټول بارتري و او په هزاره جات کې تر ۱۹۳۰ پورې هم په پيسو تجارت نه کېده. پښتنو تجارو به چاى. بوره. رخت او د کور او پخلي سامان د هزاره گانو د غوړيو. پوستکو. د آسانو د زينو. تغر. لمڅيو او داسې نورو باندې بدلاوه. ډېر ځلې به پښتنو په قرض ورسره تجارت کاوه چې بيا به يا هزاره بيپار ورك او يا به هم منكر و ممکن د هزاره او د پښتنو ځينې غلط فهمې له هماغه وختنه پيل شوې وي د هزاره وو او پښتنو د تجارت بازارونه وروسته لاهم لوى شول. سمت او نور ۱۹۷۳. ۷۶ مخ کې ليکي چې په ۱۹۶۰ کې ۶۰ زره پښتانه په هزاره جات کې. په تجارت بوخت وو او همدا پښتانه وو چې هزاره گان يې له عصري تجارت او راکړې ورکړې سره آشنا کړل. د هزاره گانو د مريیتوب مهم دليل هم دا دی چې هزاره جات يوه غرنۍ سيمه ده د کر او کرنې ځمکې کمې دي. د خلکو لپاره لوی مشغوليت مالداري ده ځکه هم د خوراکي موادو د کمبود له امله ډېر فاميلونه دې ته اړ کېدل چې خپل زامن يا لوڼې د مريیو په بازارونو کې خرڅ / خرڅې کړي.

گرگارين د نورو منابعو په قول د هزاره گانو پر مريیتوب داسې ليکي:

د ۱۹ پېړۍ په منځ کې د ځينو هزاره قومونو په مقابل کې ازبکانو له تعصب څخه کار اخيست. يو داسې بانفوذه کس هم د کندوز والي

مرادبېګ و. برنتر د افغانستان او بخارا په سفرنامه کې لیکي چې ازبکان د غلامۍ لوی تاجران دي. په ۱۸۶۰ ومېږي د خپل کتاب ۲۱۳-۲۱۲ مخونو کې لیکي چې دري ژبي جمشېدیان او هزاره شعیه ګان د غلامۍ لپاره نیول کېدل. جان ګرۍ د امیر عبدالرحمن خان ډاکټر لیکي چې "څو لحظې مخکې په کابل کې یو هزاره ماشوم د نیم کرون په بیه واخیستل شو او هماغه سړي د دې ماشوم مور په ۱۵ سلنګه (چې د یوه پوند سترلنګ ۳/۴ برخه کېږي) هم واخیستله". یوه بله منبع وایي چې شعیه هزاره ګان د تایمنیانو او ازبکو تر منځ د تېرېکو. کارتوسو او آسانو په مقابل کې خرڅېدل. هالډیچ د خپل کتاب (د هند دروازې. ۲۵۳ مخ) کې لیکي چې د افغانستان په ترکستان کې داسې فامیل نه شته چې یو یا دوه هزاره غلامان ونه لري. [ګرګارین. ۱۹۶۹. ۳۴ مخ].

د هزاره ګانو د مرییتوب تر دې لنډې څېړنې وروسته اوس غواړم د ازبکانو پر حکومتونو او خواینو باندې یو څه ولیکم.

## ۱: میمنه:

میمنه په ۱۸ پېړۍ کې تر ټولو ازبک مېشتو حکومتونو خورا لویه او مهمه وه. چې د مرغاب له سینده تر بلخ او په جنوب کې تر سرپل پورې یې وسعت درلود. خو تر ۱۸۱۴ وروسته سرپل خپله آزادي له میمنې څخه ترلاسه کړه. ځکه چې په هغه وخت کې د میمنې وارث لس کلن آله یار خان شو چې (۲۹ - ۱۸۱۴) پورې یې په میمنې حکومت وکړ خو وروسته بلخ. شیرین تګاو. قلعه ولي او مرغاب هم د مضرب خان په دوره کې (۴۵ - ۱۸۳۱) د میمنې له سلطې څخه ووتل. میمنه د هرات. بلخ. بخارا او کابل په څلور لارې باندې پرته ده. مهم تجارت یې له مالونو څخه محصول اخیستل او هم په هزاره ګانو او جمشېدیانو باندې د غلامۍ تجارت و.

سربېره پر دې له هغه پياده او مالونو څخه چې د دوی له لارو به تلل يا نقلېدل. د "قمچيني پلو" په نوم يو بل محصول هم اخيستل کېده. د ميمنې استقرار وروسته له دې چې ايران. هرات په ۳۸ - ۱۸۳۷ کې محاصره کړ او په تېره له افغان او انګليس له لومړۍ جنګ څخه (۴۲ - ۱۸۳۹) چې بخارا هم پر بلخ حمله وکړه په خطر کې شو. متعاقباً د هرات سدوزني والي د ايرانيانو تر شکست وروسته د ټولو ازبکو د حکومتونو الحاق له هرات سره اعلان کړ. نو د مضرب خان تر مړينې مخکې ميمنه د سدوزو تر اداري لاندې راغله او د پښتنو له دود سره سم وروسته د مضرب خان له مرګ نه (۱۸۴۵) ميمنه د هغه زامنو ته ورپاتې شوه چې يو شېرخان او بل يې حکومت خان نومېده. حکومت خان د هرات د والي يارمحمدخان په مرسته خپل ورور له قدرت څخه ليرې کړ او په خپل يې ځای ونيوه او له ۱۸۴۷ څخه تر ۱۸۶۲ پورې د سدوزو په خوښه په قدرت کې پاتې شو. يارمحمد خان وروسته له ميمنې څخه غوښتل اندخوی. سرپل. آقچه او شبرغان هم تر خپل تصرف لاندې راولي. خو کله چې خبر شو دا درانيو مشرانو غور. هرات او بکوا ونيوله. له خپل عزم څخه منصرف شو. (رشتيا ۱۹۹۰. ۲۰۰ مخ) د يار محمد خان عسکر له اندخوی او آقچې څخه په بېرته راتګ کې د زرګونو په شمېر تلف شول. خو ميمنه. اندخوی او شبرغان د هغه د ژوند تر پايه په ۱۸۵۱ کې د هرات د حکومت برخې وې. (نول ۱۹۹۷. ۷۷ مخ)

د يار محمد خان تر مرګ وروسته هرات او دا ازبک نشينان د دوست محمد خان په دويمه دوره کې (۱۸۷۸ - ۱۸۴۳) په کابل پورې مربوط شول.

تر تېمورشاه وروسته دوست محمد خان لومړی پاچا و چې په خپل ۲۰ کلنه دوهمه دوره کې يې ټول افغانستان که څه هم په سرسري ډول سره

متحد کړ. د هغه لومړۍ دوره (۱۸۳۹ - ۱۸۳۵) د لومړي افغان روانګي په جنګ سره معطله شوه.

امیر دوست محمد خان خپل ۲۰ ورونه او ۵۲ اولادونه د افغانستان په ټولو برخو باندې مقرر کړل او په دې ډول یې ازبک سالاري ته په افغانستان کې خاتمه ورکړه.

## ۲. تاجقرغان :

د دې ځای اصلي نوم خلم و. خو لوی احمد شاه بابا وربانديې د تاجقرغان نوم کېښود. څرنګه چې د هندوکش د شمال او جنوب پر لویه لاره پروت دی نو تاجقرغان تل نظامي او اقتصادي اهمیت درلود. له همدې کبله هم (۱۸۱۹ - ۱۷۹۳) پورې د احمد شاه بابا تاجقرغان بالاخره د سدوزو تر نظارت لاندې د یوه محلي ازبک خان ته وزتسلیم شو چې قلچ علي نومېده، خو بیا هم د جمعې ورځې خطبه به د کابل د پاچا په نوم ورکول کېده. قلچ علي ډېر ژر ایبک او غوري. چې په اوسني کهمرد او سیغان پورې مربوط دي له تاجقرغان سره یوځای کړل. (الفنستون. ۱۹۶۹. ۷۴ - ۴۷۳ مخونه) هغه د بخارا له امیرحیدر سره هم ښې اړیکې درلودلې او هم یې د میمنې او کندوز له ازبک سالارانو سره دوستي وکړه. قلچ علي ۲۰۰۰ عسکر درلودل او د تاجقرغان د کال عاید په هغه وخت کې ۱۹۵۷۵ پونډه سټرلنګ اټکل شوی و (الفنستون. ۴۷۵ مخ).

په ۱۸۵۹ کې قلچ علي بلخ او امام صاحب هم له تاجقرغان سره یوځای کړل.

د قلچ علي تر مرګ وروسته (۱۸۱۷) د هغه دوو زامنو: میر بابا او میرولي په خپلمنځی جګړو کې تاجقرغان او نور ملحق شوي ځایونه له لاسه ورکړل.

## ۳. مزار شریف او بلخ:

د مزار شریف اهمیت تر ۱۵ پېړۍ وروسته چې ګومان کې د ه حضرت علي رضی الله عنه به هلته ښخ وي. مخ په زیاتېدو و او په ۱۴۸۱ کې یوه لویه مقبره د تېموریانو له خوا هلته جوړه شوه (نول ۱۹۹۷. ۷۸ مخ). تر هماغه وخت راپه دې خوا د مزار آرامګاه یانې "قبر" له نوم سره "شریف" هم ورزیات شو.

د مزار شریف "متوالي" که څه هم د آمو د سیند د هغې غاړې د شیباني ازبکو تر اداري لاندې و. خو په راتلونکو ۲۰۰ کلونو کې هغوی پوره اختیار داره وو. څو تنو انګلیسي مؤرخینو (برنز. فریر او هارلن) چې په هغه وخت کې له شجاع الدین د مزار له حکمران سره ولیدل وایي چې مزار د نورو ازبك نشینانو په شان یوه آزاده اداره وه او په خپله شجاع الدین له متمولو ازبك سالارانو څخه و. زر تنه عسکر یې درلودل او د قلچ علي تر مرګ وروسته یې د مزار آزادي اعلان کړه.

دا ازبك سالاران تر هغه چې د سدوزو او یا هم د بخارا د امیرانو په زړه وو په خپلو سیمو کې هرڅه چې یې غوښتل کولای یې شول. خو کله چې هغو به په خپل منځ او یا د حکومتونو په خوښه نه وو نو بیا له خپلې عهدې څخه لیرې کېدل. د مثال په ډول کله چې د بلخ والي احسان نقیب چې د نقشبندیه د طریقې یو مشر و د کندوز له میر مراد بېګ سره د "هژده نهر" د اوبو په سر چې بلخ ته یې اوبه ورکولې مخالفت پیدا شو. نو د بخارا امیر نصرالله پر بلخ باندې په حملې سره دا ښار کاملاً وران کړ. احسان نقیب د حکومت غړی او د بلخ مخور یې تول د بندیانو په ډول له ځانه سره بوتلل او د بخارا جېلونو کې یې واچول.

بلخ چې عربو ورته د ام البلاد یانې د ښارونو مور نوم ورکړی و په خپل دوه زره کلن تاریخ کې ډېر ځلې په داسې حملو کې وران شوی دی. که څه هم د احسان نقیب زوی چې د اقچه والي و د تاجقرغان د والي په مرسته په ۱۸۴۰ کې بلخ بېرته ونیوه. خو بیا لکه چې مخکې وویل شول. بلخ او دا نور ازبک نشینان ټول د امیر دوست محمد خان له خوا فتحه شول.

## ۴. کندوز:

په کندوز کې چې تر ټولو لویه ازبک سالاري روانه وه. محمد بای لومړی په استاق کې نفوذ پیدا کړ او بیا د هغه زوی میر مراد بېګ له ۱۸۴۰ - ۱۸۱۷ پورې د کندوز والي په حیث پاتې شو. مراد بېګ د قلچ علي یو صاحب منصب خو وروسته له دې چې تالقان خان آباد او کندوز یې ونیو. د قلچ علي له خوا د قطغن د امیر په صفت وپېژندل شو.

په ۱۸۲۰ او ۱۸۳۰ کلونو کې د میر مراد بېګ سیمه د هندوکش له شمال څخه د آمو له سیند د هغې خوا تر کلاب. قرغان تبه او قوبادیانو پورې وسیع ده. د هغه عسکرو به تل پر بلخ. بخارا او مزار شریف باندې حملې کولې چې ډېر خلک له دې ځایونو څخه میمنې ته په تښتېدو مجبوره شول. (نول ۱۹۹۷. ۸۰ مخ).

حتی په لوېدیځ کې په خپله د قلچ علي سیمه په یو یا بل ډول د امیر مراد بېګ تر سلطې لاندې راغله. د میر مراد بېګ له هیرې نه د قلچ علي زوی چې د تاجقرغان. ایبک او کندوز والي و له کابل سره ښې اړیکې ټینګې کړې. له بلې خوا میر مراد بېګ غوښتل چې بدخشان هم تر خپل تصرف لاندې راولي. بدخشان په ۱۷۵۱ لوی احمد شاه له افغانستان سره یوځای کړ او له هغه ځایه یې دوه ځلې د قزاقانو له غوښتنې سره سم پر چینایانو حملې وکړې او هغوی یې له قزاقستان څخه ویستل.

د بدخشان والیانو چې د بارکزیو او سدوزیو د خپلمنځي مخالفتونو له امله په بدخشان کې جلا ولایت درلود. په ۱۸۲۹ کې د میر مراد بېګ د عسکرو له خوا له شغنان سره یوځای ونیول شو.[۲] میر مراد بېګ د بدخشان حکمران د بندي په ډول ونیو او د دې ولایت پایتخت فیض آباد یې له خاورو سره برابر کړ. سربېره پر دې شل زره بدخشي کورنۍ یې کندوز او حضرت امام ته فراري کړلې.

په کندوز کې چې د ملاریا د غوماشو له لاسه هر کال زیات خلک تلف کېدل. د بدخشان دا نیول شوې کورنۍ په کې ځای پر ځای شوې تر څو دا ښار د دې نیول شویو بندیانو په لاس آباد او جوړ شي. په خپله میر مراد بېګ او حکومت به یې د اوړي د غوماشو د مستۍ په وخت کې خان آباد ته تلل.

میر مراد بېګ د مرکزي آسیا د پخوانیو حکمرانانو او امیرانو په شان یو مطلق العنان پاچا و. دوه تنه انګلیس لیکوالانو چې مورکرافت او تربېک نومېږي د ۱۹ پېړۍ په نیمایي کې د کندوز او د هغه له دربار لیدنه کتنه کړې او خپل خاطرات یې داسې لیکلي دي:

"هغه صوفه چې دربار به وربانديې کېده درې فوټه جګه وه. په دربار کې به میر مراد بېګ کیڼ لاس ته پر تخت ناست و. په منځ کې به ۳۰ - ۴۰ پورې درباریان ناست وو چې پښې به یې د دېوال لوري ته غزولې او سرونه به یې میر مراد بېګ لوري ته ټیټ نیولي وو او ځمکې ته به یې کتل. پر ځمکه به یو شمېر زیات اردلیان په داسې حال کې چې ملاوې به یې غبرګې

---

[۲]- د بدخشان د نیولو پورتنۍ سنه نول ورکوي. نورو سیلانیانو او لیکوالو نورې سنې ورکړې دي:
برنز ۱۸۳۴ . ۳۰۲ مخ کې (دویم ټوک). ۱۸۲۰ کلونو کې ښيي. کرومیره ۱۹۸۲ . ۵۴ مخ کې ۱۸۲۹ ښيي. جارج محاسن ۱۹۷۴ . ۱۰۰ مخ (دریم ټوک) کې د حاجي خان کاکړ له خولې د بدخشان نیول د ژمي ۱۸۳۲ او ۱۸۳۳ کې ښيي.

او سرونه به يې مراد بېګ لوري ته تيښ وو. دړېدلي وو. مير په خپله د وربښمو پر بالښت باندې چې له تولو نه به لوړ و. ناست و. مراد بيګ برعکس د ختيځ په آداب معاشرت به په داسې حال کې چې د وربښمو په يوه بالښت تکيه کړې وه. ښځې به يې چې غټې لاړدې موزې يې په پښو وې د درباريانو په لور غزولې وې. (مورکرافت او تربک ۱۸۴۱. ۲۲ - ۴۲ مخونه).

ډېر خارجيان او سيلانيان چې د هغه دربار يې ليدلی. په ښه ژبه هغه نه يادوي. لعل په ۱۸۳۲ کې ليکي: مراد بېګ له عدالت اوترحم سره آشنايي نه درلوده. (لعل ۱۹۷۷. ۵۹ مخ)

وډ ليکي: هغه يوازې د تنظيم ښاغلي مشر و (وډ ۱۸۴۱. ۲۱۶ مخ).

مراد بېګ د عادي خلکو پر وژلو او تکولو سربېره هغه محلي واليان هم چې په خپل کار کې به وروسته راغلل وژلي دي. د مثال په ډول هغه دوا خان والي محمد رحيم بېګ چې يو تاجك و. په دې چې موافقه شوې پيسې يې ورته ونه رسولې. ووازه. (وډ ۱۸۴۱. ۳۰ - ۳۲۹ او ۹۱ - ۳۹۰ مخونه).

مراد بېګ به فتحه شوي کسان د غلامانو په ډول نيول او د هغوی کورونه به يې سوځول. مير مردا بېګ د نورو ازبکانو په شان له نيول شويو ځايونو څخه د پيسو پر ځای غلامان غوښتل چې په دې ډول د سيغان او کهمراد تاجك حاکمان مجبوره وو چې د هرو ۳۰ کورنيو په سر يو غلام هغه ته ورکړي. ضمناً مراد بېګ د دره صوف او سر پل ازبك حاکمان هم تشويقول چې پر هزاره جات باندې د مرييو د نيولو لپاره حملې ترسره کړي. هغه شل زره کورنۍ چې له بدخشان څخه زيات يې په کندوز کې واچول شول. څرنګه چې هغوی له يوې خوا له زياتې ګرمۍ او په تېره بيا د ملاريا د غوماشو په مقابل کې مقاومت نه درلود. تول يې د درېيو کلونو په موده کې د ملخيو په شان مړه شول.

د افغانستان په شمال او لوېديځ کې نور ازبکان چې د خپل قدرت ورځې يې په شمار کې ليدلې د لومړي ځل لپاره له کابل او بخارا څخه د مراد بېګ په مقابل کې مرستې وغوښتلې. خو امير دوست محمد خان د خپلو ۲۰ ورونو په مرسته ۱۸۳۸ کې مراد بېګ دې ته اړ کړ چې له سيغان او کهمراد څخه خپلې قواوې وباسي او په دې ډول يې غوښتل چې باميان ونيسي. د افغانستان دا مرکزي سيمه يې له هغه وژغورله.

د مير مراد بېګ زياتې سيمې په سر کې د قلچ علي زوی مير ولي ته ورسېدې. خو کله چې دوست محمد خان وروسته تر درېيو کلونو فراري ژوند په هند کې بېرته افغانستان ته راغی مير ولي يې د هغه له عسکرو سره د آمو نه دريابه تېر کړ او د افغانستان دا برخه يې هم له مرکز سره يوځای کړه.

## لنډيز:

له دې پلټنې څخه څرګنده ده چې د مريتوب تجارت په هزاره ګانو او جمشېديانو باندې د ازبکو له خوا کېده او هغوی به د ګوډ تېمور له خوا او ممکن تر هغه به پخوا هم د فتحه شويو خلکو په مقابل کې دا چال چلند کېده. بله دا چې دا ازبك سالاران په دې چې په کابل او د افغانستان په جنوب کې په خپله د سدوزيو په منځ کې مخالف وو او د ازبکانو دا برخې په شمال ختيځ. مرکزي او شمالي برخو کې له مرکزه لېرې پرتې وې هغوی تر ګو کلونو پورې له موقع څخه په استفادې سره خپلې حکمرانۍ جوړې کړې او حکمروايي يې چلولې. خو په حقيقت کې هغوی. نه د کابل او نه د بخارا په مقابل کې درېدلای شول او همدا دليل و چې له ۱۸۵۰ نه وروسته دا ازبك سالارې په افغانستان کې ختمه شوه. ازبك حکمرانانو معمولاً د خپلو ازبکانو په مقابل کې هغومره ظلم چې پر نورو يې کاوه. نه کاوه. ځکه هم له هغوی څخه به يې بېرته مقرر کړل. خو محصول او باج به يې فاتح ته ورکاوه. د نورو په مقابل کې که هزاره. جمشېدي او يا هم د بدخشان. سيغان او کهمرد تاجکانو وو. دې حکمرانانو له هر ډول تشدد او تېرې څخه استفاده کوله چې ځينې مثالونه يې په دې مقاله کې ذکر شول.

که د عشق لاره اغزنه وي هر ګور
د عاشق په پښو څپلۍ دي داور

په دې مهال او درشل کې افغانستان- پښتون- افغان له يوه نړيوال لوی تکړ سره مخامخ دي. ملي خپلواکي. ملي يووالی. هستي او هڅوب په دَو کې دي. د تومن (وطن) ساتنه نوم او پېژندون د يوه پوه ويښ ځوان يا ځوانانو چاروالو کار دی. چې تکړ په تکړ په شاه ووهي (مادي معنوي) ماغزه وځوځوي مغزن او پاخه وي.
دين، تاريخ، هڅوب او پښتونوالي موږ ژغورلی شي. که دا نه وي نو کله چې توپان واوړي ودې ګوري چې د زمانې سېلاب چېرته غورځولی دی؟ ځکه دوی خو اراده نه لري. ماغزه لاس او پښې يې نه دي چلېدلي.

## په افغانستان کې د پښتنو شمېر:

په ۱۹۱۹م کال کې چې د امان الله خان د پاچاهۍ پيل و دا خبره کېده چې د افغانستان وګړي دولس مليونه دي. تر ۱۹۶۰م پورې همدا خبره کېدله. بيا په پلان وزارت کې ځينې اټکلي شمېرنې وشوې چې له اوه لس مليونو څخه تر شلو پورې ويل کېده.

امریکايي سرچینې پښتون دومره ښودلی:

| | |
|---|---|
| 1979 funk (     ) wag nalls new Incyclopidia | 50% |
| 1973 The world book Incyclopidia | 60% |
| 1991 The world Almanac and book of focts. | 50% |

وروسته ۱۹۸۰م کې داسې ویل کېده چې خلك مهاجر شوي سم شمېر څرګند نه دی. بیا ستمیانو په مبالغه کې تر څلوېښت او پینځه دېرش ویل. چې د دوی خپل فکر و. اوس امریکايي خبري سرچینې څلوېښت په سلو کې ښیي. بیا هم تر یوې سمې احصایې به پاتې وي.

د جهاد په دوره کې د وسلې په وېش کې پنځه اویا ویل کېده چې دغه احصائیه اوس هم په نظامي آمریتو کې لیدل کېږي او دا خبره مو د نظامي آمرانو له خولې څرګنده کړې ده.

د لویې جرګې او نورو انتخاباتو په حالت کې پخپله دغه حقیقت څرګندېږي پخوا د افغانستان په هر مورد کې دا خبره نه وه ټول افغانان وو. په مرکز کې د ښوونځیو زده کوونکي یا اداري مامورینو کې یا هر سهمیه چې وي، که د پښتنو شمېر څلوېښت یا پنځوس په سلو کې وي او حقوق ورکړل شي بیا به هم تر پخوا ډېر ښه وي.

د مثال په توګه که په پوهنتون کې څلور زره محصلین وي دوه زره به پښتانه وي پاتې به تاجك، هزاره، ازبك، ترکمن، پشه یي، بلوڅ او نور وي.

خوك که دا فکر کوي چې روس، امریکا، انګلیس... په عمل کې پښتانه وځپي دوی به ورك او ناتوانه شي یا به د کردانو په څېر بې خاورې شي که د الله رضا نه وي داسې به نه کېږي.

د میرویس کور له فریاده مستغني دی
چې وارث د ابدالي وي په ځان نه مري

همېش خلیل

## نوی دولت او دهغه عواقب:

د ۲۰۰۱ م کال د دسمبر په ۲۲ د حامد کرزي په مشرۍ د شپږو میاشتو لپاره یوه لنډ مهالي حکومت په کار پیل وکړ.

په کندهار کې کرزي، گل آغا او نورو د طالبانو مخالفت د یوه بل مضمون له مخې وکړ چې په کار نه و. محمد ظاهر شاه چې په څلوېښت کاله پاچاهۍ کې یې یوسړی نه و وژلی د ده په مهال کې امنیت ټینګ و موږ هم پر ده مین وو څو ده د شمالي اتحاد سره براو وکړ. ډېر طالبان او پښتانه مړه شوله هېواده دوړې د امریکا الوتکو پورته کړې اوه زره بندیان د امریکې لوېې په جزیرې کې واچول شول. شمالي ټلوالې ته نولس چوکۍ ورکړی شوې ملي حاکمیت، دین او کلتور ته را پاڅېدلي افغانانو له عاجز بې آزاره پاچاه سره یو ځای د تاریخ د بدلېدو په نیت ملا وتړله.

یا به جوړ شي دا وطن د افغانانو
یا به بدله دنیا شي په بیابان هم

(پیاوړی- ۱۹۸۰)

دا د شهید عبدالقدیر پیاوړي په کورنۍ وردګ یو الهام ډوله شعر دی.

د دښمن غوړونه خلاص کړه ای پیاوړیه
دې تصمیم تـه رسېدلـي عیـاران هم

که نوی دولت هغسې چې پلان شوی پر مخ ولاړشي داسې حکومت به وي چې په عسکري قوت پولیس به تکیه لري د ضرورت په وخت کې د انګلیس د مشاورینو په مشوره پوځ حکومت کوي چې دا به:

مرتبه به دې د مچ او د میږي شي
زړه پـه غوړو غـوښو مه تړه همای

عرب، پاکستان، چیچنیا او نور طالبان. څوك چې دوی ته خارجي وایي د اسلام نفی دي او موږ د اسلام په برخه کې تاریخي رسالت لرو. غزنوي.

غوري، ابدالي، سید جمال الدین، محمود طرزي او امان الله خان.

یعقوب صفار د عربو ژبه او نفوذ هغه مهال چې ملي حاکمیت ته خطر و په یوه میاشت کې ځواب کړو موږ یې تاریخ لرو.

دوی تاریخ ته نه ګوري چې د مچانو او مېږیانو حیثیت لري. دوی د همای حیثیت نه شي درلودلی غوږ او غوښې تر هر څه پورته بولي دا شرمېدلی تاریخ شمالي تلوالې ظاهر شاه او د ده قوم تر لاسه کړ. ما د اکتوبر په ۲۴ کال ۲۰۰۱ د بي بي سي له لارې همدا خبره وکړه چې تاریخ کې بد نومی شول کوم بل تدبیر په کار و.

مخکې تر دې چې په ۱۸۳۹م انګلیسان. افغانستان ته ننوزي شاوخوا حالات یې په خپله ګټه جوړ کړي وو. په حقیقت کې په شرق کې رنجیت سنګ او د پنجاب په شمال کې بخارا په غرب کې ایران و. کوم هیئت چې د انګلیسانو افغانستان ته راغلی و برنس موهن لال او یو دکتور و. دوی د افغانستان شمال ته تللي وو. امیر نصرالله بهادر د بخارا سره یې کتلي وو یا په بل عبارت په دغه حمله کې یې سپکان، ایران، بخارا ملګري و ځوک د هرات ځوک د بلخ او کندوز او ځوک د پېښور په نیولو کې وو که مرګ غواړې کندوز ته لاړشه. دا متل د برنس زده و. دوی د افغانستان د قومونو لکه تاجك، هزاره، ازبك په باب معلومات درلودل او د کار خلك یې په نښه کړي وو.

وروسته پېښور دوی په خپله ونیوه بلخ او هرات یې هم بخارا او ایران ته پرېښودل او افغانستان ته یې دا قدرت پرې نه ښود چې په مرکزي آسیا او ایران کې خپلې سیمې تر لاسه کړي. تل د یوه لاس پوځي حکومت په فکر کې و. پېښور هم پاتې شو.

کابل، کندهار غزني جلال آباد کې یې خپل عسکر د افغانستان په عسکري ودانیو کې ځای په ځای کړل.

شاه شجاع چې فکر کاوه چې واك به وروسته ده ته پرېږدي دا تفکر غلط و دی بې واکه تېولواك و. مېرمن سيل خپل کتاب کې او مېرزا عطا محمد په خپل کتاب کې شاه شجاع په خپل کتاب کې حالات ليکل. دوی په همغه مهال کې خپل يادداشتو نه بشپړ کړي وو. چې هغوی په ډېرو حقايقو پوهېدای شول مګر په افغانستان کې ځيني انتظامات د احمد شاه بابا له دورې پاتې و، لکه ميزايل تېپك. تو پونه دا لاهغه مهال دی چې هر څه وطني و- نه خارجي.

د ليډي سيل کتاب مير عبدالرشيد بېغم د شبخون افغان تر عنوان لاندې او يونس مراد د پښتنو يرغل په نامه په پښتو واړاوه. د انګليس په عسکرو کې رسام هم و چې د بازار، ښار. غازيانو رسمونه يې ايستل چې هغه هم پاتې دي او ډېر معلومات تر لاسه کېږي د همغه وخت کالي، وسله او ودانۍ ښيي.

دا به موږ ته وښيي چې مخکې د غربيانو له راتك نه موږ سم کالي. وسله کورونه او انتظام درلود او دغه مفکوره به له موږه واخلي چې هر څه به بهرني وي. او هرو مرو به يو خارجي هېواد موږ ته هر څه راکوي زموږ عقل لاس او پښې به ساکت وي؟!

## ملي پاڅون ۱۸۴۲ نوامبر:

په ۱۸۳۹م کال پاتنجر په هرات کې سياسي نماينده و چې روسانو خپوا ته عسکر ولېږل او همدغه يې غوښتل. مګر انګليسانو دغه موضوع خپله پلمه کړه چې افغانستان ته عسکر ولېږي. د ۱۸۴۱م کال په ژمي کې د غزني او کلات غلځيانو د کابل. کندهار. کويټې لاره بنده کړه چې جنرال نات يې مشر و. کله چې امير دوست محمد انګليسانو ته تسليم شو همدغه په دې معنی و چې د شاه شجاع ورځې لنډې وې مکناټن د قبايلي

خلکو تنخواه نه ورکوله. د لارو ساتل د کابل لویدیځ او ختیځ کې یو بل مصرف و چې د کمپنۍ مصرف یې ډېر کړی و .

له بله پلوه برنس او نورو انګلیسانو په عیاشي لاس پورې کړی و ملا عبدالشکور چې د شاه شجاع لومړی وزیر و مالیه ډېره کړه او د خلکو شکایتونه یې نه اورېدل میاشتنۍ تنخواه هم مامورینو ته نه رسېده لنډه دا چې ټولو عواملو یوه ملي پاڅون ته زمینه برابروله چې شاه شجاع صلاحیت او واك نه لري.

په همغه سبا چې ملي پاڅون پیلېده هم د برنس په کور کې محلي ښځې پرتې وې چې په درانه خوب کې وې مجاهدینو ونیولې ځای په ځای یې مړې کړې. دلارو ساتل په کال کې یو اشاریه پینځه ملیون انګلیسي پونډو ته ورسېد) انګلیسانو د افغانستان ساتل په اقتصادي مخه ګرانه پریوته لندن کمپنۍته وویل یو داسې افغان ته چارې وسپارئ چې هم افغانان یو څه قانع کړي شي او هم د انګلیس د سیاست څاروان او دا سړی تسلیم شوی امیر دوست محمد و.

بیا هم خلك د احمد شاه بابا له کورنۍ زړه توری نه دي خو په دې کورنۍ کې یو غښتلی سړی نه و پاتې د احمد شاه بابا پنځم شپږم نسل اوس هم شته مګر دوی په دې مسایلو خبر نه دي یوازې خپلې شپې تېروي.

افغانانو له شاه شجاع د انګلیسانو وتل غوښتل او له ده یې کرکه نه درلوده حتی تر ده وروسته یې فتح جنګ د ده زوی پادشاه کړ او محمد اکبر خان د همدغه پادشاه وزیر و چې په وزیر مشهور دی.

قبایلي مشرانو خپل یووالی ټینګ کړی و او خپل تصمیم ته رسېدلي وو. الفستون سپین ږیري او ناروغ و مکناټن چې د هند د خدمت لویه جایزه یې اخیستې وه، د ده پر ځای وټاکل شو. دی په دې پوهېده چې غلځي قبایل که مرسته ونه کړي د جلال آباد او کندهار لارې بندیږي. چې

بیا به په یوې یا دوو میاشتو کې د دوی هر څه ختم شي. نو دوی هڅه وکړه چې د قومونو له مشرانو سره خبرې پیل کړي.

د ملي مشرانو نومونه چې لومړی جګړه یې ګټلې وه: په دې مهال داسې شاعران وو چې ملکه ویکتوریا انګلیسانو په پلوي یې شعرونه ویل. مګر د هغو شعرونه څوك نه لولي.

یو افغان روحاني عالم او شاعر:

۱- همان "شیر جنګی" امین الله خان

۲- همان عبدالله خان (یل تیغ)

۳- عبدالسلام "دلیر"

۴- خان ګل خان تره خیل شیر مست

۵- شیر غرال

۶- یل پیل زور

بهمـــا از سـر سران فرنګ　　　قرن در قرن استخوان بخشی

عیني شاهد روحاني حاجي پایمنار فرمایي!

برآمـــد ســـر پشـــته چـــون اژدهـــا
عنـــان کـــرد ســـوی فرنـــګی رهـــا
ز تـــوخ و هوتـــک هـــم رکـــانیګروم
شـده جمـع لشـکر ز هـر مـرز و بـوم
هـــم از فرمـــل و زرمـــت وانـــدوی
رســـیدند لشـــکر در آن داوری

د دغه جنګ وسله. لوژیستکی ترتیب چې ښودل وطني او افغاني و چې هغه مهال یو شی بهرني نه و.

زموږ هیله دا ده چې نـوی نسـل هغـه ټول وڅېړي او خپـل قـوم تـه ووایـي چې له ځانـه خبریږ! تـر نولسمې پېړۍ هر څه زمـوږ خپـل و ځان مو پخپله خراب کړی د غرب په میوو بې خوده شوي یوو.

ليكوال: ډاكټر فاروق اعظم
ژباړن: نثار احمد صمد

# افغانستان: اُميدونه او ايرادونه

لومړي- اميدونه: افغانانو د بن د غونډې له نتيجې نه سربېره پر ځينو جدي ملاحظاتو هر كلى وكړ. ځكه د دوى په اند هر سياسي بهير ضرور بايد له يو ځايه را پيل شوى واى. د دې ځان خوشالي بل دليل دادى چې ملګرو ملتو ته بايد واك سپارل شوى واى چې د افغانستان ستونزې ته يې يو عادلانه او جامع حل لټولى واى. سره له دې چې ښه يې په ياد دي چې دغه جوړښتون په تېرو لسوكالو كې د افغانستان د شخړې لپاره هيڅ كوم رغنده رول نه دى ادا كړى. افغانان د نويو شرايطو له مخې د ملګرو ملتو څخه د لاندينيو مرستو تمه لري:

الف- امنيت: اوږده تپل شوي خونړي جنګ خورا زيات افغانان د ثروت، عزت او ژوندانه څخه بې برخې كړل. دوى په نهيلي سره په هېواد كې امنيت غواړي تر څو خپل عادي ژوند له سره پيل كړي. بل دا چې هغوى ګڼ شمېر دې ته اړايستل وو چې خپل كورونه

پرېږدي او ځکه نو اوس پر نړۍ تیت او پرک دي. دوی همدارنګه په هېواد کې داسې مساعدو شرایطو ته اړ دي چې وکولی شي بېرته ورستانه شي او د یوبل جنګ له بهېرې پرته خپل ژوند ته دوام ورکړي. دوی هیله من دي چې جنګ سالاران بې وسلې او غواړي چې پر هېواد باندې قانون او نظم حکومت ولري. که امن نه وي نو نه به حکومت اغېزمن اجرات وکړای شي او نه به هم د هېواد بیا رغونه عملي شي.

ب- نماینده حکومت: افغانانو په تېرو درویشتو کالو کې دا فرصت نه دی لرلی چې ځانونو ته مشران پخپله وټاکي او یا هم دا حق ولري چې څوک دې یې رهبري کړي، بلکې ټول مشران یو په بل پسې ورباندې تپل شویدي. افغانانو او د هغوی کورنیو د واک په دې بدلیدو کې ستړې بدمرغۍ ګاللي دي. ځکه نو اوس افغانان د نړیوالې ټولنې څخه هیله من دي چې د یو داسې سیستم په راوستو کې یې لاسنیوی وکړي د کوم له مخې چې به خپل حکومت پخپله ټاکي او دواک یو سوله ییزه انتقال به په سترګو ویني.

ج - بیا رغونه: د هېواد تقریباً ټوله اډانه له منځه تللې ده. خلکو لږ فرصت لرلی چې د جنګ سالارانو سره له دریدو او تریاک کرنې پرته یې پخپله تنګه ګټلې وای. که نړیوال غواړي چې د تریاکو د کرلو ریښې له بیخه وکاږي او که موږ وغواړو چې افغانان دې نورنو د ځانونو ژوند په جنګونو کې نه لټوي. نو افغانانو ته باید دا زمینه مساعده شي چې د خپل هېواد په بیا جوړونه کې متې راونغاړي.

دوهم- ایرادونه:- ملګروملتو د افغانستان په اړه د بن غونډه بلـه کومې چمتوینې او هم د خپل پخوانې دریځ یعنې په افغانستان کې د یو پراخ بنسټه دولت د جوړښت پر خلاف راوبلل. ملګرو ملتو د تېرو دوولسیزو راهیسې په افغانستان کې دیو پراخ بنسټه حکومت

د جوړښت کريږي وهلې او د طالبانو او رباني دواړو دولتونه يې په دې غندلي چې پراخ بنسټه نه وو. د حيرانتيا ځای خو دادی چې کله ملګرو ملتونه د بن غونډه په لاس ورغله نو آن د طالبانو او رباني تر کړنو يې لا هم کارونه خراب کړل. د بن غونډه اصلاً د څلورو ډلو څخه جوړه شوې وه. دا پوښتنه چې ولې صرف دغه څلور ډلې رابلل شوې وې: تر ننه بې ځوابه پاته ده. ښايي ملګرو ملتو به ځکه يوازې همدا څلور ډلې رابللې وې. تر څو هره يوه د افغانستان د ګاونډيو د ګټو استازيتوب وکړي لکه عيناً ملګرو ملتو په تيرو دوولسيزو کې کړيدي. دغه څلور واړه ګروپه اصلاً پر دو محورونو باندې راڅرخي چې هغه د شمال ائتلاف او روم دی. شمال ائتلاف ځکه د زيات اکثريت څخه برخمن دي چې د روم ګروپ هم د هغوی پلويان دي. د دې غونډې ستره نيمګړتيا چې اوږده منفي عواقب به رامنځته کړي. هماغه د پښتنو واقعي محروميت و چې د افغانانو اکثريت تشکيلوي. په بُن کې د شمال ائتلاف مشري يونس قانوني. د قبرس مشري همايون جرير. د روم مشري ستار سيرت او د څلورمې ډلې مشري حامد ګيلاني کوله. له دوی تولو څخه يو يې لا هم پښتو ن نه دی، آن د تاجکانو په حيث د لومړيو دوو ډلو مشران لا د عين ولسوالۍ څخه هم دي. له دې نه علاوه، د غونډې د ۲۸ برخوالو څخه صرف اووه کسه يې پښتانه وو. لويې څوکۍ مثلاً د دفاع، بهرنيو، کورنيو، امنيت، اطلاعات او کلتور، لوړو تحصيلاتو، پلان جوړلو، بيا ودانولو، سوداګرۍ، کرنې او نور وزارتونه ټول شمال ائتلاف او يا د هغوی ملاتړو ته ورکول شوي. شپږ خورا مهم وزارتونه د دفاع، بهرنيو، کورنيو او امنيت په شمول ټول يوه تنظيم ته او په هغه کې د يوې ولسوالۍ اوسيدونکو يعنې پنجشيريانو ته وسپارل شول. افغانان نه غواړي چې له هېواده يې يو بل لبنان جوړ

شي او ځکه نو د حکومت د ځوکیو ویش د توکمیز بنسټ له مخې په کلکه ردوي او لاژمو دریځونو لپاره ورکسان غواړي. دا خو همدا شمال ائتلاف و چې هر کله به یې د اقلیتونو د حقوقو لپاره کریږې وهلې او ځکه نو له دوی نه دا تمه ده چې د نورو د حقوقو درناوی وکړي.

د بن غونډې ته د روم ډلې په بللو سره داسې انګیرل کېده چې په ختیځه پښتون پخوانی پاچا به د اکثریت پښتون ټبر نماینده ګي کوي حال دا چې د لږه کیو استازیتوب خو هسې هم د شمال ائتلاف په غاړه و. ملګروملتو د روم د ګروپ رابللو سره باید د افغاني ټولنې د توکمیز ترتیب انډول ساتلی وای. خو د پېغور له مخې باید وویل شي چې پخواني پاچا دې غونډې ته د شمال ائتلاف د پلوي د یوه غیر پښتون استازي په لېږلو سره نه یوازې دا چې په فعاله توګه د هغه ائتلاف ملا وتړله، بلکې پښتانه یې هم بې برخې کړل. همدا د پښتون اکثریت ټبر د حقه استازیتوب د بې برخې لامل و چې شمال ائتلاف ته زیات امتیازات ورکړل شول. افغانانو د ملګروملتو له استازي لخدار ابراهیمي څخه تمه لرله چې دا ناانډولي سمه کړي. خو هغه د دې نیمګړتیاوو د بشپړ درک سره سره بیا هم سترګې ورباندې پټې کړې. کله چې د بي بي سي خبریال په توکیو کې د خارجه وزیر ډاکټر عبدالله څخه پوښتنه وکړه چې د حکومت زیاتره ځوکۍ خو د یوې ولسوالۍ خلکو ته ورکړل شوې. هغه چې پخپله هم په همدې ډلې پورې اړه لري ځواب یې ورکړ چې: "هو. دغسې ډېرې نیمګړتیاوې شته چې باید سمې شي. موږ تراوسه په دې هکله بې تجربې یو او څه وخت ته اړیو چې هغه ټولې سمې کړو."

اکثریت افغانان د پورتنیو نیمګړتیاوو سره سره د بُن غونډه یو لاژم وخت کې د نوموړو نواقصو د سمون د یو ښېړني ګام په توګه

قبلوي.

الف - امنیت: د بُن غونډې هغسې اوځار جنګ سالاران او جنایت کار باندېونه واکمن کړل چې د بشري حقوقو د تېریو دوسیې یې په ملګروملتو او د بشري حقوقو په اړونده ټولو نړیوالو جوړښتونو کې خوندي دي. په پام کې و چې اکثریت دغه جنګ سالاران د بشریت پر ضد د خپلو جنایتونو په وجه د عدالت په نړیواله محکمه کې محاکمه شي. خو د دې ټولو سره سره افغانانو بیا هم د بُن غونډه په دې هیله ومنله چې هغه به د رنځور افغانستان لپاره که څه هم په ظاهره زهر دي مګر دارو به یې وګنې. په بن کې دا پرېکړه وشوه چې نوې اداره به ټول جنګ سالاران بې وسلې کوي او د افغانستان پوځ به بیا جوړوي. د ملګرو ملتو ځواك به د دې جنګ سالارانو ځای نیسي او د نوې افغان اردو تر جوړښته به د کابل او نورو لویو ښارونو امنیت ساتي. هغه به د منځمهاله حکومت اعتبار لوړوي. هېواد ته به د ملیونونو کډوالو د راتګ زمینه مساعدوي او په بهر کې به استوګن تکنوکراتان هڅوي چې د بیا رغونې په خاطر بېرته افغانستان ته ستانه شي. هو. نژدې ټولو افغانانو د همدې ارمان په خاطر د ملګروملتو د ځواك دراتګ ټینګ ملاتړ وکړو. که نوموړي جنګ سالاران واکمن وي نو نه به امنیت او کډوال افغانستان ته راشي او نه به هم د بیارغونې اصلي پروګرامونه عملي شي. خو له بده مرغه نه یوازې دا چې په کابل او نورو ښارونو کې د ملګروملتو پوځونو د جنګ سالارانو ځای ونه نیوه بلکې هغوی نور هم لګیا دي ځانونه ټینګوي. د کابل امنیت تر اوسه لا د شمال ائتلاف په اختیار کې دی حال دا چې د ملګرو ملتو ځواکونه د هغوی تر څنګ فرعي رول ادا کوي. ښایي شمال ائتلاف د ملګروملتو په ملاتړ ډېر ژر آن له کابله بهر نورو سیمو ته هم خپل

واك وروغځوي. علاوتاً دا هم واضح ده چې په همدې ائتلاف کې حتی يوه ډله همدا اوس لګيا ده چې د "افغان پوځ د جوړونې" تر نوم لاندې ټول هېواد بې وسلې کړي او د خپلې اوږدمهالې اجنډا له مخې ښايي نورې ټولې ډلې ټوټې ټوټې کړي. په يقين سره ممکن نور جنګ سالاران که جنرال دوستم، سيدکيان، اسماعيل خان، حاجي قدير، ګل آغا او نور د دغسې طرحو په وړاندې ودرېږي چې دغسې کار په نتيجه کې ممکن افغانستان د امنيت مخ هېڅ هم ونه ګوري.

د افغانستان د زياتو سيمو څخه پرله پسې راپورونه راځي چې هېواد په چټکۍ ډله ييزم او جنګ سالاريزم ته مخه کړې. عيناً لکه د ۱۹۹۲ څخه تر ۱۹۹۶ پورې چې يې په منګلو کې اخيستی و. په بغلان، کندز، غزني او کندهار کې خو ډله ييزه جنګونه همدا اوس بيا را پيل شويدي. له دې نه علاوه، په سرپل، جوزجان، فارياب او هرات کې په زرګونو پښتنې کورنۍ د قومي تصفيې د لويې برخې په توګه اړايستل کيږي چې د خپلو مېنو څخه ووزي. دا البته د امريکا او ملګرو ملتو لپاره يوه بله خورا جدي ستونزه ده. د کندهار والي ګل آغا او د افغانستان د جنوب لوېديځ سيمې نور کسان بيا بيا ادعا کوي چې د هرات والي اسماعيل خان د پښتون اکثريت تبر په زرګونو کورنۍ د ظلم له مخې مجبور کړي چې له هغه ځايه ووزي تر څو په دې ډول هزاره جات مستقيماً د ايران سره وتړي. په اسماعيل خان دا تورونه هم لګېدلي چې په افغانستان کښې د امريکايي پوځونو د شته والي پر ضد د هېواد په لوېديځ ولاياتو کې د ايران څخه را روانې پيسې او وسلې ويشي او غواړي چې د کرزي حکومت بې ثباته کړي. امريکايي چارواکي دا تورونه لګوي چې په هرات کې ملايانو ته ويل کيږي چې په مسجدونو کې دې داسې

وعظ وکړي چې امریکا یې کفارو په افغانستان تیري کړی او باید هغسې شعارونه ورکړي. عیناً لکه ایرانیان چې یې ورکوي یعنې "مرګ پر امریکا". "امریکا ستر شیطان دی" او نور. په ګردېز کې بیا د سیمه ییزه خوانینو تر منځ شخړه روانه ده تر څو د کابل څخه نوی ټاکل شوی والي پاچا خان ځدران پسې واخلي. په کندز کې د وزیر دفاع (جنرال فهیم) او د هغه د مرستیال (جنرال دوستم) د ځواکونو تر منځ د قلعه زال د نیولو په سر جګړه روانه ده. همدا راز په بغلان کې هم د کابینې وزیر سید کیان او د دفاع د وزیر د پلویانو تر منځ وسلوال اخ . ډب جاري دی. په لغمان کې بیا سیمه ییزه مشرانو د کابل چارواکو ته خبر داری ورکړی چې د هغوی په ولایتي چارو کې دې لاس نه وهي. په کنړ کې هم کټ مټ وضع روانه ده. دا ټولې پېښې پر داسې مهال روانې دي چې په توکیو کې افغانستان ته د بسپنه ورکوونکو دولتونو غونډه هم جریان لري.

په افغانستان کې امنیت. نظم او قانون پخپله د حکومت د برخه والو ډلو لخوا مخکې له دې چې هغه سره پټري شي په بیړه د ماتېدو په حال کې دی. اوس ورځ په ورځ داسې بریښي لکه د کابل نوي مشران چې په هېواد کې د خپل صلاحیت د عملي کولو په ژمنه کې بې وسه راغي. دا ټول دبیارغونې پراخ پلانونه د ګوابن سره مخامخ کوي او بنایي صنعتي نړۍ دې ته مجبوره کړي چې په افغانستان کې د خپل شته والي څخه په تېره بیا که د نړۍ په کومه بله سیمه کې د مشغولا بنه ځای ور پیدا شي. لاس واخلي. په لومړي لنډ مهاله حکومت کې برخمنې ډلې زیار باسي چې پر خپلو بې اتفاقیو او توکمیزه شخړو صرف د لوېدیځ والو د مرستې تر پاېښت پورې یو سرپوښ کېږدي. هره ډله د بلې سره هېڅ مینه نه لري بلکې ټول ممکن په راتلونکو میاشتو کې لږ تر لږه یو څه جګړې سره

وکړي تر څو نړیواله جامعه مجبوره شي چې مرسته وکړي. دغه ډلې په دې هم پوهه دي چې نړیوال بسپنه ورکوونکي به د دې جنګ سالارانو تر منځ حد اقل تشدد وزغمي. خو یوه څرګنده جګړه به هرو مرو د مالي مرستو بهیر بند کړي. که بالاخره دغسې نړیواله مرسته بنده شي، نو دغه جنګ سالاران به چې فعلاً د نوي حکومت پالسي ور جوړوي، ډېر ژر خپل پخواني عادت ته مخه کړي. اوس که څه هم د هغوی خپل منځي ډغرې د افغانستان د راتلونکې په هکله زیات اهمیت نه لري، مګر څرمه او ګاونډي څواکونه به په جګړه کې د خپلو مخکینیو کړنو پر اساس د دې جنګ سالارانو ننګه وکړي او په دې توګه به د هېواد سیاست بېلا بېل لوري ونیسي او هم به سیمه ییزه او نړیواله سیالي را ژوندۍ کړي.

د لنډ مهالي حکومت برخوالې ټولې ډلې نه یوازې دا چې خپل تر منځو سره دښمنان دي بلکې د هرې ډلې په دننه کې هم سخت مخالفتونه او سیالۍ وجود لري. د بېلګې په توګه. هغه ډله چې د امریکا په مرسته فعلاً د حکومت اتیا سلنه کنټرولوي. په خپل دننه کې سخته سره وېشل شوې ده. د دې ډلې مشر رباني او د هغه نږدې ملاتړي لکه داوُد، اسماعیل خان او سیاف د جنرال فهیم. یونس قانوني او ډاکټر عبدالله مخالف دي. رباني تېره لسیزه د شمال مشر پاتې شوی خو هغه بېله تشریفاتو بې ارزښته کړای شو چې د طالبانو د سقوط وروسته امریکا د هغوی پر ځای نوی رژیم نصب کړ. رباني او د ګوند نور غټان یې او هغه اشخاص چې تر ګوندیې د باندې مګر په نوي حکومت کې نه دي شامل او یا هغه دریځونه نه دي ورکړل شوي چې هغوی غوښتل. ټول دې ته دانګي تر څو لنډمهاله حکومت څومره چې یې وس وي هغومره یې بې کفایته او نا اهل وښیي. رباني چې تر اوسه لا په ارګ کې اوسېږي کرزي ته

دواك سپارلو څخه وروسته خپل په زړګونو پلويانو په ببلابېلو وزارتونو کې په داسې حال کې مقرر کړي چې پر مکتوبونو يې تر خپل لاسليك لاندې د ۲۰۰۱ کال د ډسمبر د ۲۲ مې څخه مخکنۍ نېټه ليکلې ده. ايران له مخکې څخه لاحزب وحدت او د رباني ډلې ته د روس د ننګې نه علاوه مادي او نغدي مرستې ورکوي تر څو د کابل اداره بې ثباته کړي او په اينده کې د امريکايانو پرضد چريکي جګړې ته ځانونه چمتو کړي. که د مختلفو ډلو تر منځ توکميزه شخړو ته همداسې لمن وهل کيږي او په هېواد کې نا امنيتي مخ پر ډېرېدو وي نو بنايي د بهرنيو مرستو لړۍ هم را ټيټه شي چې په نتيجه کې به نوی حکومت بې اغېزه شي څو چې بېرته به هماغه رباني واك واخلي.

روسان اوس هم افغانستان د خپل نفوذ په ساحه کې بولي او د امريکايانو څخه منظوري غواړي. روسانو په دې وروستيو کې افغانستان ته د افغانانو د بلنې نه پرته په داسې حالت کې سفرونه کوي چې لا د هغو افغانانو وينې نه دي وچې شوې چې همدا دوی بهولې دي. روسان په سيمه کې پياوړي ملګري لري لکه ايران، هند او د منځنۍ اسيا دولتونه. د مرکزي اسيا دولتونه که څه هم د روسانو سره د زړه مينه نه لري خو دا چې خپل مشران يې پخواني کمونيستان او ظالم ديکتاتوران دي نو ځکه د روسانو د ننګې څخه پر ته ژوندي نه شي پاتې کېدای . هغوی روسانو ته په څو دليلونو اړ دي. روسانو د لسمې پېړۍ ځوندې اوس هم نشي کولی چې مخ پر لوېديځه اروپا وخوځېږي او ځکه نو په دې قادر دي چې يوازې مخ پر ختيځ او جنوب بيله کومو لويو خنډونو ودانګي. امريکا خو د طالبانو او القاعدې پر ضد په خپلو عملياتو اخته ده او د دې ستونزې امنيتي او سياسي اړخونه يې ملګرو ملتونو ته چې نه پوهېږي

کوم لوري ته مخ کړي، پرې ايښې دي. که وضع همداسې روانه وي نو د روس، هند او ايران کمپ به ورو ورو په افغانستان کې د لوېديځ والو د ائتلاف پرتله هر څه د ځان کړي.

افغانستان د لوېديځ مشرانو د خوش بينانه ويناوو. ژمنو او کابل ته د سفرونو سره سره مخ پر هغه تياره روان دي چې په ۱۹۹۲-۹۶ کې ورسره مخامخ وو. څه چې له ورايه ښکاري هغه دا چې په افغانستان کې نه هغه سوله شته چې وعده يې شوې وه او نه هم کوم واقعي حکومت واکمن دی. د کرزي لخوا په افغانستان کې د ملګروملتو او زياتو ځواکونو د جدي او پرله پسې غوښتنې څخه دا ثابتيږي چې په هېواد کې د امنيت جدي ستونزه حکمفر ماده. بيوزله افغانان په دې ارمان دي چې ملګري ملتونه او امريکا به يې جګړه ځپلي هېواد ته د سولې او امن په راوستوکې خورا تينګ ګامونه واخلي او د يو نماينده حکومت د استقرار لپاره به لاره اواره کړي.

ب- نماينده حکومت: اوس اوس خو د حکومت ټول کليدي ځوکۍ د شمال ائتلاف د جنګ سالارانو په اختيار کې دي. کرزی د ملګرو ملتو د متوقعه روپيو نه پرته خورا لږ يا هېڅ صلاحيت هم نه لري. د شمالي ائتلاف جنګ سالارانو چې وضع انحصار کړې نو دا هم کولی شي چې په کرزي هغسې کارونه وکړي چې د دوی خوښه وي. هغوی همدا اوس کرزی تر فشار لاندې راوستلی چې د دوی پلويان د وزارتونو او دولتي بېلابېلو ځانګو په خورا مهمو دريځونو خصوصاً پوځ او پوليسو کې وټاکي. دوی به هرومرو نوموړی نور هم سره کنبيکاږي تر څو د ملګرو ملتو بسپنې او بوديجې همدوی ته ور انتقال کړي. کرزی به هر هغه څه کوي چې ورڅخه غوښتل کيږي ځکه هغه پوځي زور نه لري چې ملايې وتړي. په مرکز او ولاياتو کې

د ده لخوا د تاكل شوو كسانو سره مخالفت دا په ډاګه كوي چې هغه په رښتيا هم څومره صلاحيت لري. خو نوموړي بيا هم زيار باسي چې دا وښيي چې پخپل كار كې بريالى دى او پر هر څه پوره كنترول لري حال دا چې په واقعيت كې قطعاً داسې نه ده او په آينده كې به هم بسپنه وركونكي هېوادونه د هغوى د مالي مرستو د پايښت په خاطر صبر او زغم ته هڅوي.

په افغانستان كې لكه چې وويل شول نه امنيت شته او نه هم فعالې حكومتي ادارې، مګر ولس بيا هم دا ظالمانه شرايط په دې هيله منلي چې ښايي وضعه به ورو ورو عادي حالت ونيسي. ولس راتلونكې لويې جرګې ته په تمه دى څو د افغاني ټولنې ګرده حلقې برخه په كې واخلي. هغوى همداراز هيله من دي چې راتلونكې لويه جرګه به يو داسې براخ بنسټه حكومت جوړ كړي چې د يو غوره اساسي قانون له لارې سمسور او ديموكراتيك افغانستان ته لاره هواره كړي. له همدې كبله هغوى په دې تمه دي چې افغانستان به بيا باثباته او افغانان به وكړاى شي چې خپل ښېغمه ژوند مخته بوزي. خو د هغوى اميدونه هغه وخت خاورې شول چې كرزي د روان كال د جنوري په پنځه ويشتمه د هغه كميټې د غړو لست اعلان كړي چې لويه جرګه به راغواړي. ده وويل چې دا لست ټول تال ملګرو ملتو جوړ كړى او د ه په هغه كې قطعاً څوك ور داخل كړي نه دي. دغه لست آن له هغه څخه چې په بُن كې پېښ شول هم زيات غلط، يو لورې ته متمايل او غير نماينده دى چې نتيجه يې بېله شكه له مخكې څخه لامعلومه ده يعنې د افغانستان لپاره يوه خړه يا سپېره آينده. د دې لست څخه له ورايه ښكاري چې راتلونكى لنډ مهالى حكومت به د اوسني انتقالي ادارې ادامه وي او هغه به د يو داسې اساسي قانون مسوده جوړوي چې د راتلونكو نسلونو په خاطر

چې یې څنګه زړه وي هغسې د افغانستان آینده ته لوری ورکړي. پس له دې نه ثابتیږي چې ملګري ملتونه د افغاني کړکیچ لپاره د یو عادلانه حل هیڅ کفایت نه لري تر څو افغانان مخ پر یو عادي ژوند روان او یا یې په دې اړه تکل مدنظر ونیسي. که نه، ولې باید مخکنۍ لویې غلطۍ بیا تکرار شي او ولې باید په نړیواله کچه د یو نماینده حکومت د جوړښت پر وړاندې خنډونه ایجاد کړي. هر څوک دا یوه پوښتنه لري چې ملګري ملتونه ولې یو وار بیا د بُن له روغې جوړې څخه سرغړوي؟ له دې نه معلومیږي چې ملګري ملتونه جداً غواړي چې جنګ سالارانو ته پر افغانستان د همېشنې واک چلولو قانوني بڼه ورکړي او افغانان دې ته اړ باسي چې دغه باندونه او جنګي جنایت کاران پر ځانونو مسلط ولري. ملګري ملتونه یې داسې انګیري چې د یو نماینده حکومت لپاره ګویا د افغانانو هیله کوم واقعیت نه لري.

د سیمې په سطح د افغانستان اوسنۍ وضع چې د ملګرو ملتو زیږنده ده، بیله پاکستانه د نورو ټولو ګاونډیو لکه ایران، ازبکستان، تاجکستان، ترکیه، هند او روسیې ګټو ته د خدمت په حال کې ده. په کابل کې اوسنۍ اداره بیله شکه د پاکستان سره کلکه دښمني لري حال دا چې پاکستان، د افغانستان پر ضد د امریکا سره په ائتلاف ورګډولو او د خپلو ملګرو یعنې طالبانو د راپرځولو په خاطر یې امریکا ته خپله خاوره اطلاعات او استخبارات په اختیار کې ورکړل. پاکستان په افغانستان د امریکا دحملې تر شا ودرید خو له هماغه پیله یې د خپلو مسلمانو او ګاونډیو افغانانو پر مخ چې د دې بریدونو څخه د پناه په خاطر هلته د مهاجرت په لټه کې وو، پولې وتړلې. پاکستان امریکه ته د دې ټول امتیازونود ورکړو سره سره بیا هم په افغانستان کې حاشیې ته ټېل

وهل شوی حال دا چې ایران کوم چې د دې ائتلاف غړی هم نه دی او هم د افغانستان په چارو کې آزاد لاس لري. که ملګري ملتونه په افغانستان کې دیو پراخ بنسته او نماینده حکومت په جوړولو کې چې د پاکستان په شمول به د خپلو ټولو ګاوندیو سره ښه اړیکې ولري. خپل اوسنی بې خونده پالیسي ته دوام ورکړي نو پاکستان هم ښايي مجبوراً د خپل دغه ګوښه توب د ختمولو په خاطر د هغو هېوادو ډلې ته ورشامل شي چې په سیمه کې د امریکې د شته والي سره کلک مخالف دي. که امریکا کله هم له دې سیمې څخه ووزي. نو هغه مهال به افغانستان یو ځل بیا خپلو حریصوګاوندیو ته ور پاته شي. پاکستان په دغې یو حالت کې د هغسې چنو او خپلولو ښه طاقت لري لکه د ۱۹۹۰ لسیزې په منځ کې چې یې پلي کړی و. اوس نو که ملګري ملتونه د افغانستان په اړه ډېر ژر یوه داسې رغنده کړنلاره خپله نه کړي چې په هغې سره د بُن د غونډې او د لویې جرګې لپاره د ګومارلې کومیټې مربوط خپلې غلطۍ اصلاح نه کړي نو په هغه صورت کې ښايي افغانستان یو ځل بیا د سیمه ییزه سیاسي ډګر او ځکه به نو دې هېوادته امن کله هم راغبرګ نه شي.

ج- بیا رغونه: که اوسني جنګ سالاران همدغسې پر قدرت وي او په نړدې راتلونکي کې یو داسې نماینده حکومت چې هېواد ته سوله او ثبات راولي او هم مرسته والو هېوادو ته د هغوی د بسپنو حساب کتاب اړ کړي. تاسیس نه شي نو هغه مهال به صنعتي هېوادونه چې افغانستان ته مرستې ورکوي هم خپله دلچسپي پای ته ورسوي. مرسته ورکونکي هېوادونه باید جنګ سالارانو ته د یوې لنګې غوا غونډې ونه ګڼل شي چې د خپلو هېوادو د ټکس ورکوونکو پیسې به یې باندونه ښه چاغ کړي. هغوی به ونه غواړي

چې د دې جنګ سالارانو خېټې ډېره مودو ور ډکې کړې. او دومره يې قوي کړي چې بشري حقوق نور هم ور باندې دړې وړې کړې. احساسات هميشه پرواك نه شي پائيداى او سياسي ترجيحات عموماً بدليدونکي وي. افغانستان ته به تل لومړيتوب نه ورکول کيږي. جنګ سالارانو د طالبانو د حکومت نژدې ټول پرسونل په دې تور پسې اخيستي چې ګويا د طالبانو پلويان وو. هغوى نن نوموړې تشې ځوکى په خپلو پلويانو سره ډکې کړيدي. هغوى له دې نه علاوه. د خپلو پلويانو د زياتولو په خاطر دومره ډېر کسان ګمارلي چې په حکومتي ځوکيو کې څه خاص ضرورت ورته نشته. تاکنو کې نن يوه لويه سيالي روانه ده. د دې نويو مقرر شوو کسانو اکثريت يې نه يوازې دا چې کار نه لري چې ويې کړي بلکې هغوى يوې سالمې ادارې ته سخت زيانمن هم دي. بسپنه ورکوونکي هېوادونه به تر کله او ولې دغه پرازيتونه تغذيه کوي؟

خبره خو داده چې روانه وضع څومره چې ممکنه وي بايد ژر تر ژره بدله شي. دا وضع هله بدليدى شي چې سوله تامين وي او سوله بيا هغه وخت راتلى شي چې يو پراخ بنسټه او نماينده حکومت موجود وي. دغسې يو حکومت کولى شي چې د بيا رغونې پروګرامونه په برياليتوب سره پلي کړي او ټول هغه کسان چې همدا اوس د بېلابېلو جنګ سالارانو په قوماندو جنګيږي او هم هغه کسان چې په حکومتي ځانګو کې بېکاره ناست دي ور جذب کړي.

که افغانستان ته سوله او امن راغبرګ نه شي او افغانانو ته د خپل هېواد په بيا رغونه کې د کار کولو فرصت ورنه کړي. نو هغه مهال به هغوى بيله دې چې جنګ سالارانو ته لاس ورکړي. بله چاره ونه لري. هغه وخت به د ټوپك لرنه هغوى او کورنيو ته يې په جګړه ييزه حالت کې يو ډول امنيت ورپه برخه کړي او هم به يې عايداتي

منبع وي. له دې نه علاوه، څومره چې امينت او يو ولسي حکومت نه وي په هغه اندازه به افغانستان د بنسټ پالو لپاره يوه خوندي ځای وي. افغانان له آره بنسټ پال نه دي، بلکې له تروريزم څخه کرکه لري هغوی په خپل ټول تاريخ کې تروريزم ته مراجعه نه ده کړې. ۱۹۹۲ راهيسې هر افغان نړيوالې ټولنې ته کريږې وهلي چې د افغانستان په بياروغونه کې لاس ورکړي. هغوی په دې ټينګار کړی چې د کارونو منځته راوړل به افغاني ځوانان د جګړې څخه يو عادي او سوله ييزه ژوند ته راواړوي. مګر نړيوالې جامعې هېڅ ځواب هم نه دی ورکړی. افغانانو همداسې په تيرو شلو کالوکې د افغانستان د کرنې او مالدارۍ د بيا رغونې لپاره هېڅ نړيواله مرسته نه ده تر لاسه کړې. د اوبولګولو ټول سيستمونه وران شوي خو دا لږې رواني اوبه موجودې وې تر څو عنعنوي پيداوار لکه غنم، جوار يا مالوچ يې پرې کرلي وای. کروندګر او کورنۍ يې د اوبو د ورخ به لاکمښت سره مخامخ وو. ترياک يوازينۍ هغه پيداوار دی چې زياتې پيسې ګټي او لږ اوبه غواړي. لکه څنګه چې ليدل شوي ترياک په نسبتاً وچه غونډې مځکه او د تپو په لمنوکې د اوبو لګولو د عصري سيستم يا تکنالوجۍ څخه پرته کرل کېدای شي خو فقط د کال يې درې الی پنځه ځله باران ته ضرورت لري. افغانان ترياک نه خوښوي او هغه د اسلامي نظره ناوړه دي او خورا لږ استعمال لري. خو هغوی د ژوندي پاتېدو په خاطر بيله دغه کاره بله چاره نه لرله. ځکه هغوی د دې پيداوار په تم کولوکې د مرستې په غرض نړلوالې جامعې ته کلونه کلونه چيغې ووهلي خو چا هېڅ په باک هم رانه وړ. نړيواله ټولنه بالاخره د دې خورا لويې مسلې په اهيمت پوه شوله او نن غواړي چې په دې هلکه مرسته وکړي مګر له بده مرغه ملګري ملتونه په دې نه پوهيږي چې دغه نړيوال ارمان څنګه تر سره کړي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتو اوسنی تګلاره د افغانانو اونړیوالې ټولنې دواړو پر ضد روانه ده. د دې جوړښتون غېر واقعي دریځ د یو داسې پراخ بنسټه حکومت او مسئوولې اداري منځته راوړل، چې د هېواد د امنیت او بیا ودانولو پروګرامونه تامین کړي، په شك کې اچولی دي. زیات افغانان پوښتنه کوي چې ملګري ملتونه ولې دغسې کوي؟ ایا هغه بې کفایته ده او که د بل په اشاره ځي؟

دا زموږ د ټولو ګډه مسئوولیت دی چې په افغانستان کې دیوه پراخ بنسټه او نمانیده حکومت جوړښت لره د لارې د صافولو په خاطر له روانو بین المللي مساعدو شرایطو څخه څومره ژر چې ممکنه وي زیاته ګټه واخلو. ځکه دغسې یو کار بېله شکه د افغانانو په ګټه دی، د ګاوندیو په ګټه یې دی او د نړیوالې ټولنې په ګټه دی.

# پښتانه او يو موټی افغانستان

په دې خبره کې هېڅ شك نه شته چې د "بن" د تاريخي غونډې جوړېدل په افغانستان کې د بې شمېره او بې سارو ستونزو. غميزو. او شخړو په پای ته رسولو کې اغېزمنه پيلامه ګڼل کېږي. خو هغه څه چې د غونډې په وخت کې او د پيښې په شا او خوا کې د زيات شمېر افغانانو ځينې پوښتنې او غوښتنې رابرسېره کړې. د يادونې وړ دي.

تر ټولو غوره پوښتنه دا وه چې ولې نړيوال خبري آژانسونه او ميډيا د "بن" د غونډې په ورځو کې په افغانستان کې د مېشته مليتونو د شمېر مسله په وار وار څرګندوي؟ او بيا واې د پښتنو شمېر په هېواد کې دننه په سلو کې اته دېرش ښودل کېږي؟ زما او د زياترو افغانانو په اند په دغه شان حساسو شېبو کې د دغه راز اطلاعاتو. هغه هم ناسمو اطلاعاتو خپرول يو دښمنانه خو ځيرکانه چلند و. افغانان په دغو نازکو شېبو کې ملي يووالي ته او د ټول افغانستان يو موټيتوب ته ښه زياته اړتيا لري او هېڅ افغاني

ډله او يا نړيوال اړخ بايد د افغانستان د ځينو حساسو ملي مسايلو لکه ملېتونو. ژبو. قامونو او مذهبي ګروهو سره. بې ځايه او زيانمن تماس ونه نيسي. له بلې خوا څوك او څرنګه دا هڅې کوي چې دغه ډول سرخوږوونکي ناسم اطلاعات نړيوالو. د ملکرو ملتو ادارې او نړيوالو خبرې آژانسونو او ميډيا ته په لاس ورکوي؟ د دې پوښتنې ځواب په يوه کرښه کې دا دی چې د افغانستان بېلتون غوښتونکي. ستمي او د افغانستان او افغان له نامه. هويت او تاريخ سره دښمني ډلې په پوره ځيرکتيا دغه ډول تبليغاتي هاند کوي او موخه يې هم دا وه چې په کنفرانس کې په ځانګړې توګه د پښتنو او پښتو ژبې د لوړتيا او برلاسي مخه ونيسي. که نه نو ملي. سيمه ييزو او نړيوالو احصاييو او سرشمېرنو په ښکاره توګه څرګنده کړې چې پښتانه د افغانستان دوګړو په سلو کې له شپېتو څخه تر پنځه شپېتو برخه جوړوي. که څوك وغواړي په افغانستان کې يې د نفوسو په څرنګوالي پوه شي ښه به دا وي چې مغرضانه اټکلونه ونه کړي. افغانستان د ټولو افغانانو (پښتنو. تاجکو. اوزبکو. هزاره وو. نورستانيو. بلوڅو...) ګډ کور او د مينې جونګړه ده. خو که چېرې څوك احصائيه او رښتينې شمېرنه وړاندې کوي ښه به دا وي چې د هېواد او نړۍ معتبرو سرشمېرنو او پلټنو ته مراجعه وکړي. راشئ چې دلته د دغو پلټنو يو څو نمونې په ګډه سره ولولو.

"د کابل سلطنت بيان" د هغه يو په زړه پورې تاريخي اثر نوم دی چې انګليسي سفير مونټ ستوارت الفنستون ليکلي او پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ په پښتو ژباړلی. په دغه کتاب کې د دراني امپراتورۍ د ټولو سيمو چې د افغانستان له اوسنيو سيمو سربېره خراسان. ګيلان. مکران. سند. کشمير. ملتان او لاهور هم پر ګډوي. د دې ټولو سيمو نفوس ۱۴ مليونه اټکل کړی چې شمېرنه يې داسې ده:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| - پښتانه | ۴.۳۰۰.۰۰۰ | يا | ۳۱ | په سلو کې |
| - بلوڅان | ۱.۱۰۰.۰۰۰ | يا | ۷ | په سلو کې |

- د تاتار ټولي څانګي ۰۰۰،۲،۲۰۰ یا ۵ - ۸ په سلو کې
- فارسي ژبي ۰۰۰،۱،۵۰۰ یا ۱۱ په سلو کې
- هندي قومونه ۰۰۰،۵،۷۰۰ یا ۴۱ په سلو کې

فیض محمد کاتب د هېواد نومیالی لیکوال په سراج التواریخ کې د سدوزیانو په وخت کې د افغانستان د وګړو جدول په لاندې ډول کښلی:

- افغان ۰۰۰،۴،۵۰۰ یا ۳۰ په سلو کې
- ایرانیان ۰۰۰،۱،۵۰۰ یا ۱۰ په سلو کې
- تاتران ۰۰۰،۱،۵۰۰ یا ۱۰ په سلو کې
- هندیان ۰۰۰،۵،۵۰۰ یا ۳۸ په سلو کې
- نور قبایل ۰۰۰،۰۰۰،۲ یا ۱۳ په سلو کې

په دغو جدولونو کې هغه وګړي چې الفنستون ښودلي وو ۱۴ ملیونه شمېرل کېږي په داسې حال کې چې اتیا کاله وروسته دغه شمېر نږدې ۰۰۰، ۴.۳۵۰ تنو ته راښکته کېږي، څکه هندي قومونه په هندوستان پورې وتړل شول. دغه راز د ډیورند د تپل شوې کرښې له مخې څه د پاسه ۲۰ ملیونه پښتانه له افغانستان څخه بېل او د پاکستان په نامه په یو نوي هېواد وویشل شول. خو سره له هغې هم ۱۳ ملیونه پښتانه چې څه دپاسه په سلو کې ۴۰ وګړي جوړوي په افغانستان کې ژوند کوي. په همدې ډول ډېر بلوڅان، فارسي ژبي او تاتاران هم له افغانستان څخه بېل په پاکستان، ایران او نورو هېوادو وویشل شول.

له دې سره سره چې په ۱۹۱۷ کال کې په روسیه کې د اکتوبر د انقلاب په بري سره کمونستان په شوروي اتحاد حاکم شول او د دوی واکمني تر ترکستان پورې راوغزېدله، نو زیات شمېر تاجکان او ازبکان افغانستان ته راواوښتل او په افغانستان کې د تابعیت تذکرو په ترلاسه کولو سره یې د افغانستان د وګړو د ترکیب جدول ته بدلون ورکړ، خو بیاهم پښتانه د یو غوځ اکثریت په توګه په خپل پلرني هېواد کې راڅرګند شول. د هېواد له

ختیځو، جنوبي، جنوب ختیځو په او مرکزي سیمو څخه سربېره د افغانستان په شمال کې د پښتنو شمېر که رسمي ډول له نورو وګړو څخه ډېر نه وي نو یا ورسره برابر او یا ورڅخه ډېر لږ توپیر لري.

موږ دلته د موضوع د لنډیز لپاره له نورو معتبرو اسنادو، وثایقو سرشمېرنو او څېړنو تېرېږو خو یوازې د هغه جدول یوه برخه غوارو دلته رانقل کړو چې د هېواد نومیالي لیکوال او څېړونکي پوهاند عبدلشکور رشاد د "نړۍ وګړي" له کتاب څخه چې اس، اې، بروک لیکلی او د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ - ماسکو له خوا په ۱۹۸۱ کال کې خپور شوی.

- پښتانه ۸۰۰۰،۰۰۰ یا ۵۲،۹
- تاجك ۴۰۰۰،۰۰۰ یا ۱۹،۸
- هزاره ۱۴۰۰،۰۰۰ یا ۸،۶
- ازبك ۱۴۰۰،۰۰۰ یا ۸،۵

وګورئ رڼا او دفاع - لیکونکی او تنظیمونکی محمد حسن کاکړ - د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۹۹۹ له دې ټولو څرګندونو څخه موخه دا ده چې افغانان ټول سره ورونه دي، دوی څوك نه شي بېلولای، دوی د یو موټي افغانستان بچیان دي خو که څوك غواړي په رښتینو احصائیو او سرشمېرنو پوه شي لازمه ده چې واقعیتونه او ملي او نړیوال معتبر اسناد په پام کې ولري. پښتانه په افغانستان کې د زیاترو منابعو او سرچینو له خوا له پنځه پنځوس څخه نیولې بیا تر پنځه شپېتو پورې ښودل شوي وو. روسي، امریکایي، انګلیسي، فرانسوي، هندي، ایراني او په هېواد کې دننه (تر ۱۹۹۲ کال پورې) منل شوې رسمي سرچینې او په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو د اداري اسناد، څېړنې، شمېرنې او څرګندونې دا خبره غبرګوي چې پښتانه په افغانستان کې یو غوځ اکثریت دي او دوی د نورو قامونو سره په ګډه د یو موټي افغانستان د پایښت، لوړتیا او پرمختګ لپاره نه یوازې تاریخي سابقه او شته والی لري، بلکې د یو ژوندي او

متمدن قام په توګه يې د سيمې او نړۍ په تمدن کې پراخه او فعاله ونډه درلوده. (تاريخي اسنادو ته دې مراجعه وشي)

زما په عقيده هغه ناسم اطلاعات او په مجموع کې د بن د غونډې په شپو او ورځو کې د پښتو او پښتون په باب ناسم معلومات په اصل کې د پښتو ژبې يو شمېر دښمنانو د جمعيت په وجود کې خپرول او له هر هغه امکان څخه يې ګټه اخيسته چې هم په غونډه کې دننه او هم له غونډې د باندې په نړيوالو کې پښتو او پښتانه بې ارزښته ښکاره کړي او ورسره جوخت د پښتنو د احساساتو په راپارولو سره هغه پروسه له ناکامۍ سره مخامخ کړي چې نړيوالو او افغانانو د "بن" په غونډه کې راپيل کړې وه چې له نيکمرغه نړيوالو دا خبره په ډاګه کړه چې د لنډ مهالي حکومت مشر څکه بايد پښتون وي چې دا قام په افغانستان کې اکثريت دی. دا هغه موضوع ده چې په دې به هم وغږېږو. بله مهمه خبره دا ده چې پښتون په خپله بايد د يوه فعال عنصر په توګه ځان څرګند کړي. د بن په غونډه کې د لنډ مهالي حکومت لومړۍ څوکۍ اصلاً پښتون ته رسېدې يا په بله مانا ښاغلي حامد کرزي د پښتنو په استحقاق کې د دغه دولت د مشرۍ څوکۍ ترلاسه کړې کنه نو هسې خو ډېر کسان له هغې جملې ښاغلی عبدالستار سيرت هم دغه مقام ته کانديد و. اوس په ښاغلي کرزي پورې اړه لري چې څومره د يو موټي افغانستان په لاره کې د پښتنو حيثيت ساتي؟ د ټول افغانستان او افغاني قامونو د پياوړتيا ترڅنګ د پښتون قام د پياوړتيا او د پښتو د ملي او رسمي ژبې د لوړتيا او علمي کېدو لپاره عملي ګامونه اخلي؟

په دې اړوند چې په کابل کې د قدرت د سپارلو په غونډه کې شمالي ټلوالې حاکميت درلود او د ښاغلي داود جنبش د هماغې ورځې راډيويي رپورټ له مخې (د ټولو چارو کنټرول د شمالي ټلوالې په لاس کې و.) او يا چې هلته د احمدشاه مسعود د انځورونه ځړول شوي وو. يا د جمعيت هغه

ترانه چې په شعر کې يې څه ناڅه يو ځل هم د افغان نوم نه دی راغلی په غونډه کې واوړول شوه. دا په اصل کې د جمعيت د ډلې د موخو. نيتونو او افکارو څرګندوی دی نه د نوي حاکميت موږ. يوازې هغه وخت پرېکړه او څېړنه کولای شو چې که پښتانه هم دننه په نوي حاکميت او هم په ټول هېواد او نړۍ کې د سولې په دغه پروسه کې فعاله برخه واخلي او خپله ورتيا په افغاني ورورګلوۍ او نړيوالې سولې کې څرګنده کړي بې له شکه چې پښتانه به هم په لويه جرګه او هم په راتلونکو حکومتونو کې به اغېزمنه ونډه ولري. همداغه شان چې پښتانه د ترهګرۍ او مخدره موادو له قاچاق سره په کلکه مخالفت لري او د تېر کال د سپتمبر په يوولسمه نېټه په امريکا کې يې تر وروستي اعمال وغندل. په راتلونکي کې هم لازمه ده چې له نړيوالو سره په دې اړوند لازمې اړيکې ټينګې کړي. دا يو تاريخي چانس او اغېزمنه زمينه ده.

همدا اوس اوس په هېواد کې د يوې بيړنۍ لويې جرګې ضرورت او اړتيا رامنځته شوې. که چېرې د لويې جرګې څخه پښتانه کومه ځانګړې غوښتنه او تمه لري نو بل چاته دې نه ګوري دوی دې خپله فعاله شي. په ټولو وزارتخانو. موسساتو. دولتي ځانګو. ولاياتو. ولسواليو. ښوونځيو. پوهنځيو. کلو او بانډو او کورنيو کې په دغه با ارزښته چاره کې د ګډون او فعال رول په هکله ټول راوېښ کړي. که چېرې څوک د جمعيت له ډلې څخه د دې تمه ولري چې پښتانه دې د افغانستان تر ټولو لوی قام وبولي نو دا هسې يوه تېروتنه او خوب دی. هغوی که د "بن" د غونډې ژبه غير پښتو کړې وه. دا د دوی مرام او موخه ده. هغوی له دغو نازکو شېبو څخه په ناوړې ګټې اخيستنې. د بن په غونډه کې حساس پستونه اوزياتې څوکۍ ځانته وټاکلې. دا ځکه چې دوی د غونډې په پروسې حاکم وو. دا ځکه چې پښتانه يې په ميدان کې ګټې خو په سياست کې يې بايلي. زه له هېچا ګيله نه لرم زه له پښتون څخه ګيله لرم چې ولې سياست ته لږ ارزښت ورکوي؟

ولې نړيوالې اغېزمنې اړيکې هېروي، يوازې د ډېروالي ويل اکتفا او بسنه نه کوي پښتانه بايد د ملګرو ملتونو، نړيوالو سوله ساتو هېوادو، امريکا او روسيې په سياسي اړيکو کې حضور ولري او خپل دريځ په عملي توګه په نورو ومني. د پښتنو دغه راز نيمګړي او نيم ژونده عمل د دې سبب شوی چې غير پښتانه دا اصل خپل کړي او د بل په ملاتړ، لږکي په ډېره کيو حاکميت کوي. اوس پير د عملي او علمي زيار پېر دی که پښتانه خپله دا لارې چارې ونه مومي نو بې له شکه پښتو به خپل ملي توب او رسمي توب خدای مکړه له لاسه ورکړي. نننی ژوندی مثال يې دا دی چې د ښاغلي حامد کرزي په کابينه کې د پښتنو وزيرانو شمېر ډېر دی، که دوی او په خپله ښاغلی کرزی د دې اصل په رڼا کې چې افغانستان يو موټی هېواد دی، قامونه سره ورونه دي او افغانستان د ټولو افغانانو کور دی او پښتون قام په افغانستان کې د مشر ورور په توګه د يو خپلواك او سرلوړي هېواد په لور د نورو ورونو قامونو سره اغېزمن ګامونه پورته کوي. خپلې چارې تنظيم کړي بې له شکه چې سرلوړی به شي. هېڅ بل څوك به دا ونډه تر سره نه کړي پرته له پښتنو څخه او بل هېڅوك هم ځان په دې باب مکلف نه ګڼي نو ځکه خو له چا نه ګيله او تمه هم نه ده په کار. په دې باب هم زما نظر دا دی چې د پښتنو د قومونو مشران، سپين ږيري او په ځانګړې توګه د دوی روڼ اندو او پوهان دې په يو لوی او پراخ (تبليغاتي) کاراخته شي. دوی به په خپل دغه راز فعال ګډون او خوځنده برخې اخيستنې سره وکولای شي په راتلونکي حاکميت اغېزمن وي.

زما په عقيده هېڅ بهرنی طاقت د پښتنو دا حق ورڅخه نه اخلي او نه يې اخيستلای شي. هر قام په خپله کولای شي خپل برخليك وټاکي. پښتون به هم خپل برخليك په خپله ټاکي او دا په دې پورې اړه لري چې په خپله پښتانه د وخت په حساسيتونو، غوښتنو او پاليسيو ځان پوه کړي.

کله چې روسان افغانستان ته راغلل د دوی په ګوډاګي حاکمیت کې ډېر پښتانه د وزیرانو په توګه موجود وو او روسانو چې د پښتنو سره کومه دښمني کړې هغه یې په ښکاره توګه ویلې په تذکرو کې یې د پښتنو د زیاتره سیمو د اوسېدونکو نومونه تاجك او بل او بل ولیکل. غیر پښتنو روسانو ته نقشې او راپورونه ورکول او په غلطه یې پوهول چې پښتانه د ورانیو عاملین دي او د روسانو ټوله ضربه هم د پښتنو سیمه وه. دا ولې؟ دا ځکه چې پښتون وزیر او معین په خوب ویده وو. هغه یوازې خپلو مقامونو ته خوښ وو او بس. په راډیو، تلویزیون، مطبوعاتو او خبري رسنیو کې یا هېڅ پښتو نه وه او که وه هم لږه، خو هېڅ پښتون وزیر دا خبره د وزیرانو په شورا کې مطرح نه کړه او خپله یې هم کوم اغېزمن ولسي کار ترسره نه کړ. البته د ځینو په ګوتو شمېر کسانو خبره له دې امر نه وتلې ده. په لومړي سر کې روسان خاص د پښتنو ځپلو ته نه وو راغلي خو وروسته دا نور وو چې دوی ته یې د پښتنو د ړنګلو او وژلو نقشې ورکړې. اوس هم امریکایان یا نور غربیان افغانستان ته د پښتنو د ړنګلو لپاره نه دي راغلي خو که د پښتنو د بې غورۍ په نتیجه کې پښتانه ضد عناصر دوی ته هره ورځ د پښتنو په باب غلط راپورونه او ذهنیت ورکوي او پښتانه هم له دې امر څخه بې خبره پاتې شي نو بې له شکه هر پښتون به د ترهګر، طالب او یا بل مضنون انسان په توګه وژل کېږي او ټول ویاړونه به یې په اوبو لاهو شي.

تېرو تجربو وښودله چې په تېرو کلونو کې کارمل او کمونستانو هر غیر پښتون مجاهد او مخالف زغملای شوای چې پښتنو ضد روحیه به یې لرله او دا په دې معنی ده چې دوی ته سوسیالیزم مطرح نه وو بلکې د پښتون ځپل یې موخه وه. له بلې خوا شورای نظار او جمعیت هرهغه عنصر خپل ګاڼه چې پښتو ضد روحیه به یې لرله که هغه به کمونست هم و څه فرق یې نه کاوه لکه دوستم، بابه جان، دلاور، عظیمي، کاوياني. بریالی، مزدك او نور او دا د دې معنی لري چې دوی ته اسلام او اسلامي حاکمیت مطرح نه

وو. د دې خبرو پایله دا ده چې لاسونه د پښتنو په ضد سره یوځای کېدل نه د ایډیالوژیکي او سازماني اهدافو لپاره او چې خبره داسې ده نو د پښتنو دنده ده چې ځان پوه کړي او د خپل پایښت لپاره متې راونغاړي. دغه متې علم. پوهه. خیرکتیا او په سیاست او ډیپلوماسۍ ځان پوهول دي. په اغېزمنو افغاني او نړیوالو اړیکو کې عملي حضور او علمي تبلیغاتي کار او بس. خو یو موټی افغانستان به د دوی د چارو ستر او لوړ شعار وي. نه بېلتون پالنه.

محمد داود مومند

# د پښتنو بې غوري او د دښمنانو بدسګالي

هېوادپال ملت مل پښتون شاه خلمي ډاکټر جاوید وردګ له ما څخه د څه اوتو بوتو (د هغه هیله ژوره او کره لیکنه وه) د لیکلو هیله وکړه.

زما اوتې بوتې جذباتي او احساساتي دي. په سکروټو مې لاره ده. پښې مې سوځي او چیغې او سورې مې له خولې وځي. هغه څه چې وینم هغه به لیکم. تحقیقي. ژورې او کره لیکنې د پوهانو او محققانو کار دی.

زما په عقیده پښتون ملت د یوه زمري مثال لري. پښتون کام لکه زمری د برم. درونـد والـي. پیاوړتوب او غښتلتـوب سمبول او د خپـل سـتر. ویاړلي. پتمن لرغوني تاتوبي خان او واکمن دی. خو د دې زمري د پیشو او بیزو غونډې د تدلیس. تلبیس او مکـر چمونـه نـه دي زده. د ده پـه لـوی فطرت کې مکر او چم د ټیټو او سپکو خلکو کـار دی تر دې چې متاسفانه دا زمری تدبیر ته هم د شك او تردید په سترګه ګوري او ښایي مدبر ورته هم د پیشو غونډې مکار مخلوق برېښي.

توره او توریالیتوب، ننګ او مېړانه یقیناً د پښتونولۍ ښنستیز مظاهر دي، خاني او شمله تړل ځانله له پښتون سره ښایي، دا د ده د پلرونو او نیکونو او باباګانو میراث دی. خو له بده مرغه پښتون خاني او مشرتوب د واك پوهنې (سیاست) نه معمولاً بې برخې ساتي.

پښتانه د تورې او مېړانې د ډګر شنه زمریان دي، قربانۍ دوی ورکړي، سرې وینې د دوی تویې شي خو ګټلی واك په خپل لاس نورو ته وسپاري.

پښتانه د تورې مېړانې پت، عزت، سربښندنې او جګړې د ډګر اتلان دي، خو د واك او اقتدار ساتنې او روزنې یا په بله وینا د واك پوهنې (سیاست) په رمزونو نه دي پوه.

څه وخت چې ستر احمد شاه بابا د نوي لوی افغانستان تیږه کېښوده، د افغان لوی ټبر یې له څپلمه له هراته تر آمو پورې د افغانستان تر بیرغ لاندې راټول کړ او د هېواد ملي افغاني پښتو ژبه یې د دربار ژبه وګرځوله.

خو څه وخت چې دا لوی میراث بې کفایته او بې تدبیره او په پردي کلتور او ژبې مین تیمور شاه د لوی احمدشاه بابا له ګټل شوی میراث سره چې د افغان ملت ملي امانت دی د ملي مسئوولیت او ملي مصلحت نه لیرې عمل کېږي.

د هېواد نامتو تاریخپوه پوهاند محمد حسن کاکړ په دې هکله داسې لیکي: «په ښارونو کې کابل په خاص ډول د فارسي ژبې مرکز شو. په دغه ښار کې د فارسي کېدو عملیه له هغه وخت نه وروسته قوي شوه چې په ۱۷۶۹ کال کې تیمور شاه دوراني د پښتنو د امپراتورۍ مرکز له کندهاره کابل ته منتقل کړ... په وروستۍ دوره کې په کابل کې د سردار پاینده محمد خان بارکزي اولاده چې له هغې نه د یحیی سراج، خیابي، اعتمادي او طرزي کورنۍ پیدا شوې په لږ استثناء فارسي ویوونکي شول... څنګه

چې فارسي په عمل کې رسمي او دولتي ژبه وه او واکمنې کورنۍ هم فارسي ته مخه وکړه د فارسي له لارې یو څوك د کسب او کار او دولتي اعتبار او ښه ژوند خاوند کېدلی شو.

د پوهاند صاحب کاکړ په عقیده د تیمور شاه دراني په تصمیم کې چې مرکز له کندهاره کابل ته منتقل کړي یو عمده دلیل هم دا و چې تیمور شاه د فارسي ژبې د کلك تاثیر لاندې و.)

د پورتنیو حقایقو په رڼا کې وینو چې د بې ننګه او بې کلتوره دوراني تیمور شاه په دوره کې پښتو ملي ژبه چې د افغانستان د ملت د ۹۰ فیصده وګړو ژبه ده په دربار کې رټل کېږي او ایراني قزلباشو میرزایانو پارسو د دفتر او دیوان ژبه ګرځوي.

د ستر احمد شاه بابا د برم لوی انګړ د ده بې ننګو بېراګانو زامنو، لمسو، کړوسو او پردو ته پاتې شو. په دې هکله د تکړه او زړور لیکوال رحمت ربي "زیرکیار" لیکنه "په ارګ کې د احمد شاه بابا بې کماله لمسیان" تر عنوان لاندې مقاله په زړه پورې او د لوستلو وړ ده.

همدارازبا ایمانه، زړور او په پښتو مین شخصیت مرحوم استاد خادم هم په خپل یوه شعر کې د دې دورې کلتوري انحطاط ته د زړه په ککو وژړل.

په هېواد کې کلتوري انحطاط د لوی بیرا دراني تیمور شاه له دورې څخه د امیر شیر علي خان تر دورې پورې دوام کوي.

د تاریخ په شهادت داسې څرګندېږي چې امیر شېرعلي خان د یوه ژور ملي شعور او تفکر خاوند شخصیت و. دا ملي زعیم د پښتو ملي ژبې په اهمیت مستشعروه او د پښتو ژبې د نهضت یو انقلابي حرکت د ده تر زعامت لاندې پیل شو. پوهاند صاحب کاکړ په دې هکله داسې لیکي: (د

امیر شېرعلي خان د دویمې پاچاهۍ په دوران کې (۱۸۶۸ ـ ۱۸۸۰) پښتو د لومړي ځل لپاره د ملك رسمي او ملي ژبه اعلان شوه او په دغه حیث حکومت او دربار ته ننوتله. د پښتو لپاره دا یو انقلابي حرکت و. امیر شېرعلي خان حکومتي لوړ منصبونه د عنعنې پر خلاف غیر خانداني کسانو ته ورکړل چې په هغو کې نورمحمد فوشنجي. حبیب الله خان وردګ. عصمت الله خان. ارسلاخان جبارخېل. ملا شاه محمد کتب خېل او قاضي عبدالقادر خان یوسفزی یې ډېر مشهور کسان وو... په دې ډول د امیر شېرعلي خان د دویمې پاچاهۍ په دوران کې په نظامي او ملکي لوړو سطحو کې محمد زیي (بې کلتوره سرداران. مومند) له حکومتي منصبونو څخه محروم کړای شول او ځایونه یې هغو پښتو ویوونکي غیر محمدزو پښتنو ونیوه (چې د ملي شعور خاوندان وو. مومند) په معاصر وخت کې د لوی پښتون محمد ګل خان بابا توصیه د همداسې یوه ملي شعور او ترخې تاریخي تجربې په بناء ولاړ و. چې هغوی به فرمایل: "محمدزی کېږه مه."

که د اعلیحضرت نادر خان کورنۍ د لوی ملي زعیم امیر شېرعلي خان غوندې حکومت غیر خانداني او غیر محمدزي هغو پښتني رجالو ته سپارلی وی، چې په ملي شعور او تفکر سمبال وو. پښتو ژبه او پښتانه به دومره خوار او زار نه وای. (مومند)

پوهاند صاحب کاکړ د خپلې لیکنې په ترڅ کې لیکي: (حافظ نورمحمد د امیر شېرعلي خان د اصلاحاتو په هکله د اسنادو "یادداشت های تاریخ" په نامه د شمس النهار او د رسمي فرمانونو له مخې د آریانا مجلې په حواله داسې نقل قول کوي چې: "چون امیر شیرعلي خان به قوم و زبان ملی خود فخر داشت میخواست زبان این قوم که صلابت لفظی و معنوی را در خود جمع دارد عملی گردد و رواج یابد. از آن رو در دوره دوم حکومت خویش

در قطار سایر اصلاحات و موسسات وطن برای تعمیم و اشاعه زبان ملی بیشتر توجه مخصوص کرده بود." پوهاند صاحب کاکړ خپلې لیکلنې ته داسې ادامه ورکوي: "پښتو ته د همدغه ضرورت او خپله د امیر د ټوي ملي شعور په سبب وه چې د هغه لمسي سردار عبدالقادر افندي. سردار محمد ایوب خان غازي او زوی" لیکي چې: د امیر شېرعلي خان د امید ستړکې د پښتو کمو لغاتو. اصطلاحاتو. متلونو او متلي افادو ته ونیولې. چې هغه په یوې رښتینې ملي ژبې تکامل وکړي او د فارسي ځای ونیسي. د دغه منظور لپاره د پښتو کتابونه چاپ شول د پښتو قاموس د لاربنود په شان حتمي شو.

... دغه مشکور واکمن ځان ژر په داسې حال کې چې ادعا وکړي چې پښتو د هغه د وطنوالو ملي ژبه شوې ده. پوهاند کاکړ لیکي: هغه شخص چې له امیر شېرعلي خان سره یې د اصلاحاتو په تېره د پښتو ژبې د رسمي کولو په هکله اساسي مرسته کړې هغه قاضي عبدالقادر یوسفزی و. قاضي عبدالقادر عالم، شاعر. مصنف او مترجم و. په پښتو. اردو. عربي او انګرېزي ژبو پوهېده. څه وخت چې په پېښور کې د هغه مناسبات د انګرېزانو سره خړ پړ شول کابل ته راغی او امیر شېرعلي خان دی د افغانستان د پاچا مصاحب او نظامي منشي په حیث مقرر کړ او د ښوونکي (استاد) خطاب یې هم ورته کاوه. په واقعیت کې قاضي عبدالقادر نه یوازې د پښتو د عملي کولو او رسمي کولو بلکې په دولت او حکومت کې د اصلاحاتو د راوستلو په برخه کې د امیر شېرعلي خان لوی مشاور او مرستندوی و. دا چې ځینې کسان وایي چې امیر شېرعلي خان اصلاحات د هغه پلان له مخې عملي کړل چې علامه سید جمال الدین افغاني ورته تهیه کړي وو: حقیقت نه لري. (پوهاند کاکړ)

زما (مومند) په عقیده د امیر شېرعلي خان دوره د پښتو د نهضت د رنسانس یوه دوره وه او دوی ملي ستر زعیم او دغه راز جنت مکان قاضي عبدالقادر رحمت الله علیه چې د خپل عصر محمد ګل خان بابا و، ملي خدمات باید په طلایي کرښو ولیکل شي او د افغان راتلونکي نسلونه د هغوی په خدماتو باندې پوه او متشعر کړی شي.

له بده مرغه د هېواد دا طلایي دوره ډېره لنډه وه او څه وخت چې امیر عبدالرحمن وردګ ته رسېږي د دوراني تیمور شاه د دورې په څېر د کلتوري انحطاط دوره بیا شروع کېږي. پښتو ملي ژبه له دربار څخه بیا شړل کېږي

پښتو ملي ژبه له دربار څخه بیا شړل کېږي او ځای یې په دفتر او دیوان کې فارسي ژبه نیسي چې دا پالیسي د غازي امان الله خان تر دورې پورې دوام کوي.

د کلتوري انحطاط تر څنګ سیاسي انحطاط هم راغی او مخصوصاً د امیر عبدالرحمن په دوره کې د پښتنې سیمې لویه برخه د ډیورنډ غیر قانوني، اجباري استعماري یو جانبه معاهدې په نتیجه کې له لاسه ووته او په افغانستان کې د پښتنو اکثریت له ۹۰ فیصده څخه ۶۰ فیصده راټیټ شو. د پښتو د ډېرې پتنګ مرحوم استاد خادم د یوه انګرېزي لیکوال په حواله لیکي چې پښتانه د آسیا یو قوي نژاد دي که پښتانه یو موټی شي دوی به په ټولې آسیا باندې د حکومت خاوندان شي.

لوی احمد شاه بابا فرمایي:

چې د هند د ملکو فتحه مې نصیب شوه
اوس ایران لره په توغ په نغاره خم

د هندوستان د هغه وخت د نیمه قارې انقلابي شاعر او مفکر علامه

اقبال چې افغانستان او افغان ملت ته د شرق د امېدونو د ځانګو په سترګه کوري داسې وايي:

آسـيا يـک پيکـر آب گل اسـت
ملـت افغـان در آن پيکـر دل اسـت
از فســاد او فســاد آســيا
از کشــاد او کشــاد آســيا

ما (محمد داود مومند) د علامه صاحب پورتني شعر څو کاله دمخه په پښتو ژبه واړاوه چې د ملي مبارزې د سنګر پياوړي او زړور شخصيت جناب ډاکټر سيد خليل هاشميان له خوا د آيينې افغانستان د انقلابي مجلې په تندي باندې خپور شو.

لـه اوبـو او خـټو جـوړه آسـياه ده
دا افغـان ملت يې زړه او هم يـې ساه ده
ودانـي يـې ودانـي د ټولـې سـيمې
د زوال سـره يـې ختمـه هـم بقـا ده

انګرېزي استعمار خپله پښتون دشمنه پاليسي او د افغانستان د ملي وحدت او د تاريخي افغانستان د جوړېدو په خلاف تر آخره په ټينګه تعقيب کړ او د انګرېزانو خلف الصدق وارث حکومت يعنې پاکستان او د انګرېز پلوي ګوند مسلم ليك او د هغوی انګرېزي مشربه مشرانو (لکه محمد علي جناح او داسې نور) دا پاليسي تر نن ورځې پورې ژوندی وساتله.

انګرېز ولاړ خو د انګرېز بچی پاکستان راغی او انګرېزي مشربه سياسي اسلام راغی (د هندوستان د نيمه قارې لوی سياسي ليډر او اسلامي مفکر حضرت مولانا ابوالکلام آزاد په څرګنده د پاکستان د زېږېدو او مسلم ليکي سياسي انګرېزي مشربه اسلام مخالفت وکړ.)

دا يو څرګند تاريخي حقيقت دی چې د ټول هندوستان (د پاکستان په ګډون) د آزادۍ په برخه کې د پښتنو ونډه د خدايي خدمتګارانو په مشرۍ ډېره درنه (ديرش فيصده) وه. مسلم ليګ او محمد علي جناح خو د انګرېزانو مخالف و. هغوی د انګرېز پر عمليه په ملي مبارزه کې کومه برخه نه ده اخيستې. هندوستان خو کانګرس د ګاندي په مشرۍ او خدايي خدمتګارانو د پاچا خان صاحب په مشرۍ آزاد کړ. څه وخت چې هندوستان آزاد شو نو محمد علي جناح وويل زه اسلامي پاکستان غواړم. قرباني کانګرس او پښتنو ورکړه ګټه ترې مسلم ليګ ترلاسه کړه. مسلم ليګ. جناح او پاکستان د انګرېزي مشربه سياسي اسلام به د رښتينو پښتنو د حق خود اراديت نه مخنيوی وکړ. مسلم ليګ او د هغوی انګرېزي مشربه مشرانو په چارسده کې په پښتنو باندې کربلا جوړه کړه او د انګرېز د مدرسو ملايانو لکه قاضي حسين احمد او داسې نور تر نن ورځې پورې د پښتونخوا هسې د نوم مخالفت کوي او د پښتون کهول لپاره د اسلامستان نوم غوره ګڼي.
حضرت علامه اقبال د داسې انګرېز مشربه ملايانو په هکله وايي:

دين کافر فکر تدبير و جهاد
دين ملا فی سبيل الله فساد

دلته د يادولو خبره ده څه وخت چې حضرت علامه اقبال د غازي محمد نادر خان په دعوت افغانستان ته راغی هغه وخت د افغانستان د ملايانو او روحانيونو لوی مشر شيخ محمد عمر مجددي مشهور په نورالمشايخ علامه اقبال ته په يوه مجلس کې وويل:

(علامه صاحب ته د عالم اسلام يو لوی مفکر يې. نوښايي چې ډېره پرېږدې. نو علامه صاحب په ډېره حاضر ځوابۍ د حضرت او د انګرېزانو د روابطو په ارتباط ځواب ورکړ چې زه داسې ږيره نه پرېږدم چې د هغې په هر

تار کې يو انګرېز ناست وي.)

څه وخت چې په ۱۹۱۹ع کال د افغانستان انقلابي پادشاه او ملي زعيم اعليحضرت امان الله خان قدرت ترلاسه کړ. ده هم د لوی درشل امير شيرعلي خان غوندې غوښتل چې هېواد په کلتوري. سياسي. اقتصادي. صناعتي او مدني لحاظ د شرق يو پياوړی او غښتلی هېواد وګرځوي.

اعليحضرت امان الله غازي په ملي جامې اغوستلې او د پښتو ملي ژبې د رسمي او ملي کېدو لپاره يې د هغه وخت په اساسي قانون کې چې د نظامنامې په نامه يادېده د هېواد د ملي ژبې په حيث ځای ورکړ چې د "افغان" په نامه قيد شوې ده. چې دا خورا معقول کار و ځکه د هېواد نوم افغانستان دی او ملي ژبه يې افغاني (پښتو) ده.

د غازي امان الله خان يوه سياسي اشتباه دا وه چې څه وخت چې په پکتيا کې افغاني مجاهد قوتونه د غازي محمد نادر خان په مشرۍ د انګرېزانو د محاذاتو پر عمليه په پيشرفت کې وه. د اوربند اعلان وکړ او په دې توګه ترلاسه وتلې پښتنې خاورې د مجدد انضمام نه مخنيوی وشو. په هر صورت انګرېزانو د افغان ملت د ترقۍ او عظمت په لاره کې ملي مبارزه او مجاهده ونه شوه زغملی او يو ځل بيا يې له انګرېزي مشربه سياسي اسلام څخه زموږ د هېواد د تباهۍ او بربادۍ په لاره کې د يوې زهرجنې وسيلې په حيث کار واخيست او هېواد کې فاسد انګرېزي مشربه روحانيون او ملايان (چې د هغوی د ږيرې په هر تار کې يو انګرېز ناست و) د غازي امان الله خان د تکفير حکم صادر کړ او د يوه مشهور کوهستاني غله بچه سقاو لمن يې ونيوه.

دلته د يادولو وړ خبره ده چې د انګرېزانو د تبليغاتو د خنثا کولو او د غازي امان الله خان په حمايت کې د کوزې پښتونخوا د پښتنو ستر زعيم

پاچا خان صاحب په ټوله کوزه پښتونخوا کې په میټینګونو، جلسو، جرګو او تبلیغاتو پیل وکړ او یوه لویه چنده د اماني دولت سره د مرستې په عنوان راټوله کړه. خو له بده مرغه انګرېزي استعمار د انګرېزي مشربه سیاسي اسلام په پلمو او دسیسو دا ملي انقلابي نهضت شنډ کړ. د افغانستان د ترقۍ، برم، پراختیا او عظمت هیلې د انقلابي پاچا غازي امان الله په زړه کې تورو خاورو ته ولاړې.

د غازي محمد نادر خان په دوره کې د پښتنو ستر ملي زعیم مفکر محمد ګل خان مومند (مومند بابا) د کلتوري انحطاط د ژغورنې او د پښتو ملي ژبې د پیاوړتوب او تعمیم په منظور ځینې پروګرامونه (لکه د معارف او دربار پښتو کول) د دولت مشر ته څرګند کړل ځرنګه چې محمد نادر خان د ملي شعور خاوند یو شخصیت و، هغه د محمد ګل خان بابا وړاندیزونو ته په درنه سترګه وکتل او په دې هکله یې یو فرمان صادر کړ.

د محمد نادر خان تر شهادت وروسته (چې په هغې کې د روسانو لاس دخیل و) په دربار کې یو ځل بیا د ملي شعور او ملي تفکر کلکه خلا پیدا شوه. پر ارګ او دربار یو ځل بیا پردی کلتور حاوي شو. پښتو ژبه له دربار څخه وویستل شوه او د ستم ملي د نظر خاوندانو په دربار کې خاصې چوکۍ ترلاسه کړې له دې ډلې څخه علي محمد بدخشي د دربار وزیر شو او د سقاوي دورې پلوي او همکار استاد خلیل الله خلیلي د دربار مطبوعاتي مشاور وټاکل شو. خلیلي د برهان الدین رباني او ستمیانو د خوشالولو لپاره د جهاد په دوره کې یو کتاب د (عیار خراسان) په نامه ولیکه چې په حقیقت کې د هېواد تاریخ مسخ کول و. په دې کتاب کې خلیلي هڅه کړې ده چې له افغانستان څخه خراسان او له کلکاني غله بچه سقاو څخه عیار خراسان جوړ کړي.

ایران د خپل کلتوري تفوق او تعمیم لپاره په افغانستان کې ځرګند پلانونه درلودل. ایراني مجلو، اخبارونو، کتابونو، نشراتو، فلمونو، تبلیغاتو او مطبوعاتو د کابل نه وړوکی تهران جوړ کړی و. ایران د دې تر څنګ ځیني مذهبي موسسات هم تقویه کړل او په جمال مینه کې یوه لویه تکیه خانه د ایران په پیسو او مرسته جوړه شوه او د افغاني محصلینو د تعلیم لاره ایران ته پرانیستل شوه. هغو کسانو چې په ایران کې تحصیل وکړ او دکتوراګانې یې ترلاسه کړې وروسته په هېواد کې د ایران د ایجنټانو او جاسوسانو په څېر فعالیت کاوه او لا یې کوي. متاسفانه د ښاغلي حامد کرزي په موجوده کابینه کې هم د ایران ځیني جواسیس او پلویان د وزیر په سویه کار کوي او د هرات والي تورن اسماعیل چې طالبانو په خاینانه توګه خوشي کړ د ایران د منافعو د حامي په څېر پېژندل کېږي. ګلبدین حکمتیار هم د ایران د آخوندانو په منتر کې ایسار ښکاري.

پاکستان په منطقه کې د انګرېز د حقوقو او وجايبو د وارث په توګه له انګرېزي مشربه سیاسي اسلام څخه د پښتنو له حقه، ملي حقوقو. د غصبولو په منظور کار اخیست او اخلي. د جلال کوټ په یوه جرګه کې چې د سردار شاه محمودخان تر مشرۍ لاندې وشوه د شور بازار حضرت شیخ محمد عمر مجددي په خپله وینا کې د پښتنو د حقوقو په ارتباط په ځرګند د اسلامي ورورګلوۍ په پلمه د پاکستان په حمایت کې ودرېد. چې خلکو وویل د حضرت صاحب له خولې نه د کلدارو بوی راځي. څه وخت چې د افغانستان ملي زعیم محمد ګل بابا دې جرګې ته راورسېد په ملي او اسلامي دلایلو سره یې د شور بازار د حضرت خبرې رد کړې او هغه یې چپ کېدو ته مجبور کړ او حضرت چې په مجلس کې تشنج ولید له ډاره له جرګې څخه وتښتېد.

سردار شاه محمود خان هم د جرګې له تشنج څخه وارخطا شو او له محمد ګل خان بابا څخه یې هیله وکړه چې له صبر او حوصلې څخه کار واخلي.

پر ایران او پاکستان سربیره روسانو هم زموږ د ملت او ملي کلتور د تباهۍ پسې پښې لوڅې کړې او د مارکیستي ایډیالوژۍ تر څنګ یې د ستم ملي خاین باندونه په کلکه تقویه کړل. طاهر بدخشي په څرګنده د روسیې جواسیسو له ډلې څخه و. د ستمیانو لوی مشر علي محمد بدخشي د دربار وزیر و. د هغه مېرمن روسۍ وه چې غالباً له KGB سره یې ارتباط درلود او د KGB او دربار په منځ کې د ارتباط وسیله وه. برهان الدین رباني هم چې اصلاً پار دریایي دی او د طاهر بدخشي نژدې ملګری و د همدې ملي خاینانو له ډلې څخه شمېرل کېږي.

د یادولو وړ ده چې مفکر محمد ګل خان مومند د سردار محمد هاشم خان په کابینه کې د هېواد د ملي اقتصاد په ارتباط د هغه وخت د اقتصاد وزیر عبدالمجید زابلي له اقتصادي پلانونو سره خپل مخالفت څرګند کړ او هغه یې د وزیرانو په مجلس کې په سرمېزي باندې وواهه. محمد ګل خان مومند د حکومت له کلتوري او اقتصادي پلانونو سره د عدم موافقت په نتیجه کې د سردار هاشم خان د حکومت څخه استعفاء وکړه.

دلته باید په دې خبر یو ځل بیا تایید وشي چې مفکر محمد ګل خان مومند د افغانستان شمالي برخو ته د "پاردریا" د ازبکو. تاجکو او ترکمنو مهاجرینو د دیموکرافیك خطر په مقابل کې چې تعداد یې نیم ملیون ته رسېده د پښتنو لېږل او ځای په ځای کول د هېواد د سالمیت ژغورنې او ساتنې په لاره کې د یوه حیاتي پلان په توګه عملي کړ او هېواد یې له راتلونکي تجزیې او ستمي کنفدراسیون له خطر څخه وژغوره: د مفکر

محمد ګل خان مومند دا پالیسي وروسته د مرحوم شېرخان خروټي او په آخره مرحله کې د مرحوم غلام قادر خان مومند له خوا تعقیب شوه.

محمد ګل خان بابا له حکومت څخه تر استعفاء وروسته ځان اومې پارلماني دورې ته کاندید کړ چې د دولت له خوا یې مخنیوی وشو. دا کار وروسته د مرحوم شهید میوندوال په مقابل کې هم د سردار نور احمد اعتمادي د حکومت له خوا عملي شو.

بابا له خپل ډېر فقیرانه کرایي کور (میر غلام محمد غبار د بابا د اقتصادي حالت په ارتباط لوی دروغ ویلي دي) نه د یوه ملي ستر مفکر او لاربنود په حیث خپلې ملي مبارزې او د ملي تفکر تعمیم ته دوام ورکړ او په دې لاره کې یې تکړه وګړي د پښتو ژبې د خدمت او علمي کولو لپاره وروزل او وهڅول. له دې ډلې څخه استاد قیام الدین خادم. استاد رښتین. استاد حبیبي، استاد بېنوا، استاد الفت. استاد عبدالشکور رشاد. ژواك. جرار او داسې نور د یادولو وړ دي.

په دې دوره کې په پښتنو کې تکړه سیاسي او اداري رجال وروزل شول چې په مجموع کې د ملي کرکټر خاوندان وو خو متاسفانه د محمد زي توب د قشري لیډرشیپ د سیوري لاندې دوی د محافظه کارۍ او سیاسي او کلتوري جبن او ډار په خلاء کې پاتې شول او دوی به د کلتوري مسایلو په ارتباط کې د مفکر محمد ګل خان مومند د طرز تفکر نه له ډار او وېرې څخه ډډه کوله او له دې څخه په وېره کې و چې څوك دوی ته متعصب ونه وایي. هغه د فارسي ژبې وینا ده چې وایي: "جګر شیر نداري سفر عشق مکن" د همداسې یوه جبن په تیاره کې دوی هېڅکله موفق نه شول چې د پښتنو یا د پښتو ملي ژبې لپاره د یوه بنیادي خدمت او کلتوري تحول مصدر شي. د دوی پښتو او پښتونوالي اماتوري شکل درلود. د دوی

تقریرونه به په فارسي ژبه و او بس.

د دې اماتورانو د ډلې یو لوی مشر هم سردار محمد داود و چې پښتنو ورته په حقه د لېوني سردار لقب ورکړی و. ده په عمر کې یو تقریر هم په پښتو ژبه ونه کړ او په آخر کې یې د خپلې روسي کودتا په وسیله د وطن د تباهۍ او بربادۍ تیږه کېښوده. له بده مرغه په پښتنو کې اوس هم داسې بېړاګان شته چې سردار داود نه ګوساله سامري او د سومنات بت جوړوي او په هغه یې ایمان راوړی دی. تر هغه وخت چې پښتانه د داسې کاذبو او جادوګرو لیډرانو د طلسماتو په سحر او افسون زنداني وي د دوی په کور او تاتوبي به د سعادت، ارتقاء لمر راونه خېژي. د غازي محمد نادر خان نه د پاتې شوي بېړاګانو په دوره کې د پښتنو پر ضد سخت ستمي فعالیتونه شروع شول. دا فعالیتونه د تهران او مسکو په هدایت او مالي تمویل په وسیله پرمخ تلل. د پښتنو د تاریخ، د پښتنو د مشرانو، زعیمانو، شاعرانو او لیکوالو پسې د تخریب او اهانت سلسله روانه وه.

پښتو د دوزخ ژبه ګڼل کېده. استاد امیر حمزه شینواری په دې هکله لیکي:

وایي اغیار چې د دوزخ ژبه ده

زه به جنت ته د پښتو سره ځم

دیګانو به د پښتو ژبې د اهانت په منظور مقصد ته په استعاروي شکل "پښتو" نوم ورکړی دی.

د افغان غول کلمه په پارسو ژبو کې ډېره معموله وه. پارسو ژبو او دیګانو به په لاندې ډول د پښتو او پښتنو اهانت کاوه:

افغان ګفتم راشه

چپلی به پایش باشه

سوته... باشه

افغان تبرغان چمچه ... روغندان.

این کار افغانی شد.

د فارسي ژبي يو شاعر د پښتنو په هکله وايي:

گر خدا ناخواسته افغانی رود اندر بهشت
میکند جنات و تجری تحت ال انهار چور

تاجکانو په هزاره ګانو او ازبکانو هم صرفه ونه کړه: هزاره ګانو ته به يې هزاره موش خور" او ازبکانو ته به يې ازبك خام کله ويل.

هزاره ګانو بالمقابل خپل تنفر په لاندې وينا څرګند کړ:

اوغو خو اوغويه، هزاره خو هزاره يه، تاجك زن کيه؟

خو پښتنو د خپل لوی فطرت او عالي جنابۍ په رڼا کې د پښتو او پښتنو دښمنانو د سپك کلتوري تراوشاتو ته د انحماض په سترګه وکتل چې هغه د پښتو ژبې کره متل مصداق کلام بلل کېږي:

سپي غپېږي کاروان تيرېږي

د پښتو ژبې او پښتنو د سپکولو او کمزورولو په نړيوال کوښښ کې د ايران خطر تر ټولو زيات دی: ايران افغانستان د خپلې خاورې او تاريخ جز ګڼي. بدبختانه د حامد کرزي د کابينې يو وزير د ايران دا ادعا په څرګنده تاييدوي.

د برهان الدين رباني کلتوري قرارداد د ايران دولت سره په يوه همداسې خاينانه نظر باندې ولاړ و. د جمعيت ستم پرچم او شورای نظار د ستمي حامينو پروپاګندې نشراتي. تبليغاتي. راډيويي او تلويزيوني تبليغات په داخل او بهرنيو هېوادونو کې د ايران له خوا تمويلېږي.

د پښتنو مهاجرت او بې کوزه کول. د پښتنو د ملي هويت ختمول او د

پښتو ژبې د آثارو تاريخي کتابونو او منابعو له منځه وړل د همداسې يوې ناوړې پاليسۍ شيطاني سلسله ده. په دې لړ کې د افغانستان په اکاډمۍ کې د پښتو آثارو له منځه وړل د هغه خاينانه خطايستونو د دوام يوه ګړۍ ده چې د خارجي ايجنټانو مخصوصاً د فارس (ايران) د مزدورانو له خوا زموږ په هېواد کې عملي کېږي.

په افغانستان کې د يوه فدرالي نظام منځ ته راوړل، د افغانستان نوم په خراسان بدلول، د ملي بيرغ مسخ کول، په لويه جرګه باندې د مجلس کبير ملي نوم ايښودل، پوهنتون دانشګاه کول دا ټول د ايران د فاسدو هدفونو او په داخل کې د مزدورانو او معاش خورو د فعاليتونو يوه خاينانه ګړۍ ده.

نن ورځ د پښتنو د تحقيرولو، تضعيفولو، اقليت ګرځولو او اقليت ښودلو (۴۰ فيصده) لپاره په ملي او نړيواله سويه سيستماتيک حرکت روان دی.

دا حرکت طبعاً په خپل ذات کې د سرطان ښېښه حيثيت لري او زهرجن دی. د دې حرکت څرګندې ډلې د برهان الدين رباني د جمعيت، ستم، پرچم، شورای نظار او د ايران او نورو هېوادونو نورې مزدورې ډلې دي چې دې مزدورو ډلو ټپلو، عناصرو، وګړو او شخصيتونو د يوه نړيوال مظبوط حمايت او هدايت په اساس په همداسې يوه نامقدس هدف ته د رسېدو لپاره يوه نامقدس ائتلاف ته ملا تړلې ده.

دې کې شک نه شته چې ازبک ازبکستان لري، ترکمن ترکمنستان لري او تاجک ايران او تاجکستان لري. په دې کې شک نه شته چې ګاونډي هېوادونه په مالي، اقتصادي، صناعتي، سياسي، کلتوري، عمراني، تخنيکي او بشري لحاظ خورا پياوړي شوي دي او زموږ هېواد او ملت د نړيوالې او داخلي دسايسو په نتيجه کې ټوټه ټوټه شوی دی او طبعاً څرنګه چې ځينې سياست پوهان په انديښنه کې دي چې زموږ هېواد به د ګاونډيو

هېوادونو د قوي جاذبې لاندې خپل ملي هويت له لاسه ورکاندي خو زه د تاريخ په استناد په دې عقيده يم چې د ګاونډيو هېوادونو دسيسې او جاذبې به شنډې شي او دا داخلي او نړيوال شيطاني پلانونه به خنثا کېږي او دا افغان ملت به د آسيا په مخ باندې ان شاء الله د يوه لرغوني ملت په څېر مظبوط پاتې شي

دا افغانستان دی دا وطن به خراسان نه شي
لوز مې د پښتو ده پښتانه به غلامان نه شي

ډاکټر سید نصیر احمد

# د افغانستان د روغتیایي مرستو د سیستم بیا رغاونه

نن سبا د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونه او نړیوالې موسسې په دې هلو ځلو کې دي چې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې د افغانستان په بیا رغونه کې برخه واخلي، نو ښه به دا وي چې دا هلې ځلې زموږ د ویجاړ هېواد د بیا رغونې په ټولو برخو کې پیاوړې شي. زما په ګمان د یو هېواد په چارو کې د وګړو روغتیا او له خلکو سره روغتیایي مرسته هم خورا غوره ګڼل کېږي، ځکه نو د وګړو روغتیا ته باید پاملرنه وشي، خو باید څرګنده کړم چې زموږ په هېواد کې مخکې هم په دې اړه په بېلابېلو مودو کې هلې ځلې شوې دي او د نننۍ روغتیا پالنې بنسټ په (۱۳۰۲ل) کال کې اېښودل شوی دی او په پیل کې یې د روغتیا پالنې د یو ناپېیلي مدیریت په بڼه په کار پیل وکړ. چې په (۱۳۱۳ل) کال کې د روغتیایي ځانګو له پراختیا سره سم د روغتیا پالنې په ناپېیلي ریاست واوښت او په (۱۳۲۴ل) کال کې د عامې روغتیې وزارت جوړ شو. د روغتیایي چارو له اړتیا سره سم

روغتیایي څانګې نورې هم پراخې شوې او په (۱۳۴۳ل) کال کې د هېواد په هر ولایت کې سیمه ییز روغتیایي آمریتونه جوړ شول. چې روغتیایي کار کوونکي وکولای شي د وګړو د درملنې او د ناروغیو د مخنیوي چارې نورې هم ښې سمبال کړي. خو همدا ډول په (۱۳۱۲ل) کال کې د درملو یوه ډیپو هم جوړه شوه چې په (۱۳۱۸ل) کال کې د درملو تولیزه ډیپو ونومول شوه. چې له (۱۳۳۳ل) کال څخه یې د تصدي بڼه غوره کړه او له (۱۳۴۵ل) کال څخه دغه ډیپو د ګڼ شمېر درملو په جوړولو هم پیل وکړ. پرته له دغه ډیپو څخه افغاني سوداګرانو هم افغانستان ته د بېلابېلو درملو د راوړلو چارې سمبال کړې او په هېواد کې بهرنیو موسسو (هوخست. بایر او داسې نور) هم د درمل جوړولو فابریکې جوړې کړې او په (۱۳۴۳ل) کال کې د وینې بانک هم جوړ شو. په هېواد کې روغتیایي خپرونې هم له چاپه راووتې. په (۱۳۱۹ل) کال کې لومړی روغتیایي تولګه له چاپه راووته او په (۱۳۲۵ل) کال کې د "روغتیا مجله" جوړه شوه او په (۱۳۲۷ل) کال کې د "روغتیایي زېری" په نامه خپرونې هم خپل کار پیل کړ[۱]. باید یاده شي چې دغه ټولو هلو ځلو د افغانستان له وګړو سره بشپړه روغتیایي مرسته نه شوای ترسره کولای. خو بیا هم د روغتیا پالنې درې بنسټیزې (درملیزه. د ناروغیو د مخنیوي او روزنیزه) څانګې فعاله شوې وې او په (۱۹۷۰م) کال کې افغانستان (۱۸۱۹) روغتیایي کار کوونکي درلودل: (۶۶۹) ډاکټران. چې له هغوی څخه (۸۰) جراحان او (۱۱) بهرني ډاکټران وو. (۱۱۷) د ښځو ډاکټران. (۱۰۲) رنځورپال (نرس). (۱۰۵) زېږنپال (قابله). (۲۶۹) روغتیاپال (پرستار) او (۵۵۷) ستنې وهونکي (واکسینوونکي) وو. زموږ هېواد (۶۶) روغتونونه. (۱۶) لابراتوارونه درلودل او د خوبځیو شمېر (۲۳۶۰) و [۱۱] وروسته له دې هم د هېواد روغتیایي چارو په سمبالښت کې کار روان و او په (۱۹۷۸م) کال کې د (۱۶۰۰۰۰۰۰) ملیونو وګړو لپاره افغانستان (۷۱) روغتونونه درلودل. چې (۳۶۰۰) خوبځي په کې وو

او د ډاکټرانو شمېر تر (۱۰۲۷) پورې لوړ شو. خو (۸۴%) ډاکټرانو د کابل په ښار کې ژوند او کار کاوه [۱۳]. باید یاده شي چې د افغانستان لپاره دا روغتیایي مرسته خورا لږه وه. خو بیا هم هېواد د پرمختګ په لوري روان و. په هېواد کې (۴۲۰۰) ښوونځي جوړ شوي وو [۱۳] چې د وګړو په روزنه کې او د روغتیا په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره خورا غوره مرجعه وه او دولتي چارې ورځ تر ورځ پیاوړې کېدلې. مګر ناڅاپه د (۱۹۷۸م) کال د غوبي غوبل رامنځ ته شو او افغانستان د کمونستانو (۱۹۹۲ - ۱۹۷۸) ټوپکیانو (دویمه سقاوي) (۱۹۹۶ - ۱۹۹۲) او طالبانو (۱۹۹۶- ۲۰۰۱) د واکمنۍ په موده کې د بېلابېلو سیاسي او غیر سیاسي ډلو د ناوړو جګړو ډګر وګرځېد. چې دا لړۍ لاهم دوام لري. د دغې څلورویشت کلنې غمیزې په ترځ کې زموږ د هېواد اقتصادي، سیاسي، کلتوري او ټولنیز سیستمونه وران شول [۱۳]. د هېواد د هرې سیمې پر اوسېدونکو ډېرې د غم شپې، ورځې تېرې شوې او تېرېږي. همدا ډول د افغانستان د ښوونې، روزنې او روغتیایي چارو مرکزونه هم له منځه یوړل شول او د روغتیایي مرستو سیستم شل شو. ځکه چې ډېر خلک له هېواد څخه وتښتېدل او همدا ډول ډاکټران او نور روغتیایي کار کوونکي هم دې ته اړ شول چې له هېواد څخه وتښتي چې اوسمهال یوازې په نیدرلنډ (هالنډ) کې، (NOVIB) هالنډي مرستندویې موسسې له وینا سره سم، (۱۰۰۰) افغاني ډاکټران د پردیسۍ شپې ورځې سبا کوي [۹]. د افغانستان لاتجه په تېرو درې کلونو کې نوره هم کړکېچنه شوه، ځکه چې زموږ د هېواد اوسېدونکي د وچکالۍ او بې امنۍ له کبله له نویو ستونزو سره مخامخ شول او دغه نویو ستونزو د کډوالو افغانانو شمېر نور هم ډېر کړ[۱۸]. خو سربېره پر دغه ټولو بدمرغیو زموږ هېواد بیا یوځل د نړیوالو سیاستونو قرباني شو او د (۲۰۰۱م) کال د اکتوبر پر (۷) نېټه د افغان ولس پر سر امریکایي بمونه، راکټونه او میزایلونه وورول شول. چې په

زرهاوو خلك شهيدان شول او له (۶۰۰.۰۰۰) څخه ډېر خلك (په دوو میاشتو کې) له خپلو سيمو نه تېښتې ته اړ شول[۱۵] او نن سبا د افغاني کډوالو شمېر (۷.۰۰۰.۰۰۰) ته رسېدلی دی. د هېواد (۳۳٪) وګړي او د نړۍ (۳۳٪) مهاجرين جوړوي.

په (۱۹۹۶م) کال کې د طالبانو له راتګ سره د افغانستان په (۹۵٪) خاوره کې امنيت رامنځ ته شو او د هېواد د بيارغوني کار هم پيل شو او همدا ډول د روغتيا پالنې د سيستم بيارغونه هم پيل شوه. په کابل کې (۲۲) روغتونونه فعال شول، چې له هغوی څخه (۲) روغتونونه (ملالی زېږنتون او د رابعه بلخي کومپلکس روغتون) يوازې د ښځو لپاره ځانګړي شوي وو، خو د ښځو درملنه په نورو روغتونونو (د مور او ماشوم روغتون، وزير اکبرخان روغتون، نور روغتون، جمهوريت روغتون، ابن سينا روغتون...) کې هم ترسره کېدله او په دغه روغتونونو کې نرينه ډاکټرانو هم له خپلو افغاني خويندو سره مل کار کاوه. د افغانستان نامتو ډاکټر موسی وردګ د کندهار د مستشفی په نظامي روغتون کې کار کاوه او دکتورس سهيلا، چې اوس د لنډ مهالې واکمنۍ د عامې روغتيا وزيره ده، د طالبانو د واکمنۍ په موده کې يې د ښځينه ډاکټرانو د روزنې دنده پر غاړه درلودله او د کابل په نظامي روغتون کې يې خپله پتمنه دنده پر مخ بېوله. همدا ډول ډېرو نړيوالو مرستندويو موسسو هم خپل کار په افغانستان کې پياوړی کړی و او د ملګرو ملتونو د نړيوالې روغتيا پالنې (ICRC) له راپور سره سم چې خپلې هلې ځلې يې له (۱۹۸۶م) کال څخه فعالې کړې دي او د هېواد په نورو سيمو (مزار شريف ۱۹۹۱. هرات ۱۹۹۳. جلال آباد ۱۹۹۵. ګلبهار ۱۹۹۹) کې يې هم د ارتوپيديك ځانګې پرانيستې دي. د (ICRC) موسسه له ټوليزو روغتونونو لکه: جلال آباد روغتون چې (۲۴۲) او د ګلبهار روغتون چې (۴۰) بستره لري مرسته کوله [۱۵. ۱۴] او په افغانستان کې ډېرې نورې نړيوالې مرستندويې

موسسې لکه:

The Interantional Federation of the Red Cross and Red Crescent. Swedish Committee for Afghanistan SCA. Norwgan Assistance Committee. The Red Cross Society of the Netherlands. Aida Medicale International

هم په روغتيايي چارو بوختې وې او له (۴۶) کلينيکونو او (۲۳۰) نورو روغتيايي ځانګو سره يې مرسته کوله [۱۵. ۱۴]. چې د دغو نړيوالو موسسو مرستې د افغانانو لپاره ډېره غوره او اړينې بريښېدې.

په افغانستان کې د روغتيايي زده کړو پنځه پوهنځي (کابل. ننګرهار. هرات. مزار شريف. کندهار) فعال وو او د طالبانو په واکمنۍ کې د کندهار پوهنتون او پکتيا پوهنتون. چې د روغتيايي زده کړو ځانګې هم لري بنسټ کېښودل شو. د کندهار د روغتيا پالنې (طب) په پوهنځي کې (۴۶) تنه ښوونکي د ښوونې دنده پرمخ بېوله. د زده کوونکو (محصلينو) شمېر يې څه له پاسه (۴۸۷) تنو ته رسېده چې (۲۴۵) تنه يې په خوبتون (ليليه) او نورې نهارې ډول خپلې زده کړې کولې[۴]. په افغانستان کې روغتيايي خپرونو خپلې پانې بيا پرانيستې وې او د (روغتيا مجله. ذهني روغتيا مجله. الشفا خپرونه. چاپېريال مجله او داسې نورې خپرونې) په افغانستان کې له چاپه راووتې. په بهر کې ماهم له (۱۹۹۹م) کال څخه لومړۍ د "روغتيا" او بيا د "درملنه" په نامه مجلې راوويستې. په دغه مجلو کې علمي. طبي ليکنې راغلې دي: چې دا ټول زمونږ هېوادوالو ته د افغانستان د روغتيايي سيستم د بيا رغونې لومړنۍ وړمې وې.

د وګړو ښوونه او روزنه هم په ټولنيزه روغتيا او روغتيايي کلتور خورا غوره اغېزه لري او د (۱۹۷۸م) کال څخه مخکې (۴۲۰۰) ښوونځي په افغانستان کې فعال و[۱۳]. خو له بده مرغه وروسته له کمونستي او ښتون (۱۹۷۸) څخه او بيا د ټوپکيانو په موده (۱۹۹۶ - ۱۹۹۲) کې د افغانستان د ښوونې او روزنې سيستم ته نه رغېدونکې زيان ورورسېد. د

ملګرو ملتونو له راپور سره سم په (۱۹۹۰م) کال کې په افغانستان کې د ښوونځیو شمېر (۵۹۶) ته راښکته شوی و او (۱۹۵) ورکتونونه فعال وو چې ډېر یې په کابل او نور ولویو ښارونو کې وو او په ۱۹۹۵م) کال کې د ورکتونونو شمېر (۸۸) ته راښکته شو[۲] او ډېر نور ښوونځي هم له منځه لاړل. باید یاده شي چې د دویمې سقاوي په موده کې د افغانستان ټول اداري، عدلیه، قضاییه، نظامي، امنیتي، ښوونیز، روزنیز او نور دولیت او غیر دولتي سیستمونه او مرکزونه له منځه یووړل شول[۳]. د ملګرو ملتونو له راپور سره سم په (۱۹۹۹م) کال کې یوې بهرنۍ مرستندویې موسسې د ننګرهار په ولایت کې د ماشومانو د روزنې یو مرکز (ورکتون) ته د مرستو چارې سمبالولې. چې دا ټول د هېواد د چارو او په تېره بیا د ښوونې او روزنې یو بشپړ شل سیستم ته ښودنه کوي. غواړم څرګنده کړم چې په (۱۹۹۹م) کال کې د افغانستان د ښوونې او روزنې په برخه کې (۳۴) نړیوالو مرستندویو موسسو کار کولو چې د افغانستان له (۲۹) ولایتونو څخه یې په (۲۲) ولایتونو کې لومړنۍ زده کړې پرمخ بېولې. خو په نورو ولایتونو کې هم د ښوونې او روزنې ریاستونه فعال وو او تر (۱۹۹۹م) کال په پرتله چې له هرو (۸) ښوونځیو څخه یې په (۱) ښوونځي کې زده کړه کوله. نو په (۱۹۹۹م) کال کې یې وکولای شوای له هرو (۲۵) ښوونځیو څخه په (۴) ښوونځیو کې زده کړې ترلاسه کړي او په کلیو کې د ښار په پرتله نجونو د ښوونې او روزنې لپاره ښه امکانات درلودل. ځکه چې په لویو ښارونو، لږ ترلږه له (۲۹) ولایتونو څخه په (۱۹) ولایتونو کې ټول دولتي ښوونځي د نجونو پرمخ تړل شوي دي. خو له نېکه مرغه په پاکستان کې (۱۵۰۰۰۰) افغاني کډوال ماشومان په رسمي ښوونځیو کې شامل دي. چې درېیمه (۳۳٪) برخه یې نجونې دي. (۳۷۰۰۰) نور کډوال په نیمه رسمي ښوونه او روزنه بوخت دي. چې له هغوی څخه (۳۰۰۰۰) نجونې دي[۲]. د افغاني کډوالو تعلیمي اړتیاوې د لومړنیو او ثانوي

ښوونځیو له سویې څخه لوړې شوې دي. د افغاني ماشومانو هغه نسل چې د دوو لسیزو په موده کې یې په پاکستان او ایران کې ژوند کړی دی. اوس غواړي چې د لوړو زده کړو زمینه ورته برابر شي[۲]، چې دغه ټولې هلې ځلې د ښادي وړمې وي.

د طالبانو له منځه وړلو سره سم په افغانستان کې د انسان وژنې او ورور وژنې یوه نوې برېوکې. رامنځ ته شوې چې په زرهاوو عام افغانان یې قرباني شول او قرباني کېږي. زما په ګمان هره دښمني نوې دښمني او هره وژنه نوې غچ اخیستنه رامنځ ته کوي، ځکه نو باید افغانان دا سره ووايي چې بس ده نو، که هرڅه و تېر شول او هغه څوك چې په زړو خبرو شخوند وهي، نو مهرباني دې وکړي، یوې هېنداري ته دې ودرېږي. خپل زړه دې تش او روح دې آرام کړي. نو له دې کبله چې بېرته پر شا لاړ نه شو. راځئ چې د افغانستان د راتلونکي په اړه نېك ګامونه واخلو او خپل منځي سیاسي، ایډیولوژیکي، مذهبي، قومي او داسې نورې خبرې پرېږدو او د هېواد په بیا رغونه کې لکه یو سپېڅلی انسان برخه واخلو. ځکه چې نن سبا ټوله نړۍ په دې هلو ځلو کې ده چې د افغانستان په بیا رغونه کې برخه واخلي، چې دا به په ځینو خلکو ښه لګي او په ځینو بده. خو زه غواړم ووایم چې افغانستان د ملګرو ملتونو غړی و او دی. ځکه نو باید د دغه نړیوالو مرستو څخه د ملت لپاره هراړخیز ګټه واخیستل شي. خو باید یادونه وکړم چې د افغانستان بیا رغونه او په تېره بیا د روغتیایي سیستم بیا رغونه د اداري، امنیتي. اقتصادي. کلتوري او نورو ټولنیزو سیستمونو له بیا رغونې څخه پرته نه ترسره کېدلای شي ځکه د افغانستان د بیا رغونې په اړه ځینې تیورتیك وړاندیزونه اړین برېښي او کېدلای شي د افغانستان د بیا رغونې ټولنیز پلان په دوو برخو ووېشل شي: د بېړنیزو مرستو چارې او د بیا رغونې ستراتیژیك پلان.

## بیړنیزې مرستې:

له بده مرغه پر افغانانو باندې دا نوی امریکایي یرغل او د شمالي ځواکونو د جنایتکارانو غوبل د ژمي په موسم کې پیل شو او خورا ډېر افغانان دې ته اړ دي چې بېړنیزه مرسته ترلاسه کړي، که نه نو له لوږې، تندې او ساړه څخه له منځه ځي. ځکه نو په دې اړه باید هر اړخیز هڅې وشي، بل دا چې ډېر خلك په کلیو او یا غرنیو سیمو کې ژوند کوي او هلته قوماندان سالاري ده او دغه عام خلك ځان په امن کې نه احساسوي او ډېر به یې لاوژل کېږي، ځکه نو په دې اړه باید ډېر جوت ګامونه واخیستل شي. چې دغه خلك د دغو جنایتکارانو له منګولو وژغورل شي.

## د بیا رغونې ستراتیژیک پلان:

افغانستان ټول ویجاړ شوی دی. ځکه نو هرشي ته ضرورت لري او په ټولو برخو کې باید کار پیل شي.

د دولتي چارو جوړښت: پرته له امنیته د سوله ییز ژوندون امکانات نه شته دي. ځکه نو له هرڅه دمخه باید سوله په افغانستان کې رامنځ ته شي. له ټولو وسله وال ځواکونو څخه دې وسله ټوله شي او له اړتیا سره سم دې دولتي واحدونه په کلیو (اداري، امنیتي، تعمیراتي)، ولسوالیو (اداري، امنیتي، عدلي، تعمیراتي) او ولایتونو (اداري، امنیتي، عدلي، اقتصادي، تعمیراتي) کې جوړ شي، چې مسئوول خلك ولري. ځکه چې په اوسني حالت کې په هر ځای کې قوماندان سالاري روانه ده او عام خلك د دغه بې امنیتي او بې مسئوولیتي قرباني دي او قرباني کېږي.

د اقتصادي سیستم بیا رغونه: افغانستان یو زراعتي هېواد دی. ځکه نو په راتلونکي کې هم باید کرنې او مالدارۍ ته ډېره پاملرنه وشي او د نړیوالو موسسو په مرسته د افغانستان د نفت، ګاز او بېلابېلو معدنیاتو را

ایستل. د مرکزي بانکونو جوړېدنه او د مالیې سیستم پیاوړي کول به د افغانستان په اقتصاد ښه اغېز ولري. همدا ډول له افغاني سوداګرانو سره مرسته او هغوی ته د پور ورکول او له بهرنیو هېوادونو سره اړیکې ساتل به د افغانستان په بیا رغونه کې خورا غوره رول ولوبوي. د ویلو وړ ګڼم چې د افغانستان د پیسو چاپول همېشه روسانو په لاس کې وو. نو ډېر پرځای کار به دا وي چې د افغانستان پیسې یو بل ناپېیلي هېواد چاپ کړي او اوسمهال دې د اروپا هېواد پیسې (Euro) د یوې مودې لپاره (تر څو چې نوې افغانۍ جوړېږي او له چاپه راوځي) د افغانستان پولي واحد وګرځي. چې د پیسو له اقتصادي یرغلونو څخه زموږ خلك وژغورل شي.

## د عامې روغتیا بیا رغونه:

د افغانستان د عامې روغتیا سیستم بشپړ له منځه تللی دی. نو دا به ښه وي چې په دې برخه کې هراړخیز کار پیل شي

## ۱. د روغتیا پالنې روزنیز سیستم:

په اوسنیو شرایطو کې د خلکو لپاره ګرځنده روغتیایي او معلوماتي کورسونه خورا غوره ګڼل کېږي. خو مخکې له دې چې داسې ډلې جوړې شي. نو ښه به دا وي چې د کورنیو او بهرنیو راډیویي سیستمونو له لارې خلکو ته روغتیایي او معلوماتي پروګرامونه خپاره شي او په دې برخه کې د (BBC) پروګرام (زموږ نړۍ. زموږ راتلونکې) چې غواړي د افغانستان د دودونو. کلتور او پېژندنې په اړه معلومات خپاره کړي. ښه بېلګه ده. خو په دې توګه کېدلای شي د ماینونو د خطر. روغتیایي ښوونې او روزنې او ټولنیز ژوند په اړه هم معلومات خپاره شي او همدا ډول د ننني د اندېښنې وړ موضوعګانو سربېره کېدلای شي چې له دغه راډیویي سیستمونو څخه

په بېرته او لرې پاتې سيمو کې د ماشومانو. نجونو. ميندو او لويانو د ښوونې او روغتيايي معلوماتو لپاره هم په پراخه پيمانه کته واخيستل شي.

په ښوونځيو او پوهنځيو کې د روغتيايي مرستو روزنيز منځي: چې زده کوونکي په دغه مرکزونو کې راجستر شي او وکولای شي غوره روغتيايي معلومات او اړينه روغتيايي مرسته ترلاسه کړي.

## د مور او ماشوم لپاره ګرځنده روغتيايي ډله:

چې ميندې وکولای شي د روغتيا او رمتيتيا په اړه هرارخيز معلومات ترلاسه کړي.

## د لويانو لپاره ګرځنده روغتيايي ډلې:

چې د افغانستان وګړي وکولای شي د روغتياپالنې او د بېلابېلو ناروغيو د مخنيوي په اړه غوره معلومات ترلاسه کړي.

## روغيتايي منځنی زده کړې:

د زېږنپالو (قابله) روزنپالو (نرس) او روغتيا پالو (پرستار) د روزنې لپاره بايد ښوونځي جوړ او فعال شي. چې د هېواد روغيتايي بنسټ پياوړی شي.

## روغيتايي لوړې زده کړې:

د روغتياپالنې (د ناروغيو د مخنيوي. درملنې. ماشومانو د نارغيو او د درملو) پوهنځي بايد په ننني روغتياپالنې سمبال او فعال شي. چې هېواد په راتلونکي کې خپل روغتيايي مرسته ترلاسه کړي.

د روغتیایي چارواکي په کې وروزل شي او د کار په موده کې غوره زده کړه او معلومات ترلاسه کړي. چې روغتیایي چارې نورې هم پیاوړې شي.

## روغتیایي څېړونې او څېړنې:

چې د عامې روغتیا په اړه د لیکنو د خپرولو او خلکو ته د معلوماتو ورکولو امکانات جوړ شي او د روغتیایي څېړنو پر بنسټ د افغانستان د روغتیایي مرسته پر علمي څېړنو نوره هم پیاوړې شي.

## ۲. روغتیایي اینفرو سترکچر: جوړښتیزه اډانه :

د روغتیاپالنې ادارې. تشکیلاتي او تعمیراتي جوړښت: چې زموږ وکړي وکولای شي بشپړه روغتیایي مرسته ترلاسه کړي او د روغتیاپالنې ښه اداره او څارنه ترسره شي. نو د دغه موخې لپاره دا لاندې روغتیایي واحدونه اړین دي:

- کلیوال روغتیایي منځي.
- سیمه ییز او ښاري کتنځي.
- سیمه ییز او ښاري روغتونونه او زېږنتونونه.
- سیمه ییز او ښاري د مور او ماشوم روزنتونونه.
- سیمه ییز او ښاري روغتیایي کتابتونونه.
- سیمه ییز او ښاري پالتونونه.

د افغانستان د درملو تولیزه ډیپو. سیمه ییزه او ښاري درملتونونه.

- د عامې روغتیا د ستنوهنې (واکسینزېشن) او واکسین جوړولو څانګه.

- د عامې روغتیا د علمي مشرتابه مشورتي مشرتوب. چې د روغتیا پالنې د لاپیاوړتیا په اړه د بېلابېلو پروګرامونو د جوړولو دنده ولري او په

دې اړه د افغانستان واکمنو ته اړین وړاندیزونه او سپارښتونه وکړي او د هغه څارنه ترسره کړي، چې دا پروګرامونه د هېواد په روغتیايي چارو کې پلي شي.

## د عامې روغتیا د خپرونو څانګه:

باید هڅه وکړي چې د روغتیايي کار کوونکو، ډاکټرانو، محصلینو لپاره ځانګړې خپرونې خپرې کړي او د عامو خلکو لپاره په ټول هېواد کې ټولیزې روغتیايي خپرونې، پوسترونه، پامفلېټونه، لیکنې او بروشورونه خپاره کړي، چې زموږ هېوادوال وکولای شي د روغتیا په اړه اړین معلومات ترلاسه کړي.

د روغتیا پالنې د روزنیز سیستم د بیا رغونې لپاره تر هرڅه دمخه باید د عامې روغتیا تیوریتیکي بنسټ جوړ شي. د دې لپاره غوره ده چې له افغانستان څخه بهر او دننه په افغانستان کې مُسلکي افغانان خپلې هلې ځلې پیاوړې کړي چې د عامو خلکو او طبي محصلینو لپاره طبي لیکنې اوطبي کتابونه وژباړي یا یې ولیکي دا روغتیايي کتابتونونه باید په ښارونو کې فعال شي. چې په دې توګه د افغانستان د عامې روغتیا تیوریتیکي بنسټ جوړ او پراخ شي او په هېواد کې باید روغتیايي مجلې ورځپاڼې او نورې خپرونې په ملي ژبه جوړې او خپرې شي او روغتیايي روزنیز فلمونه له بهرنیو هېوادونو څخه افغانستان ته راوړل شي او په ملي افغاني ژبه وژباړل شي او د افغاني تلویزیون له لارې په یو ښه او مناسب وخت روغتیايي روزنیز فلمونه د خلکو لپاره خپاره شي. همدا ډول کېدلای شي هر ډول روغتیايي فلمونه په ښوونځیو کې هم په اوونۍ کې یوه ورځ ماشومانو، ځوانانو او مشرانو ته وښودل شي او دغه روزنیز او ښوونیزو فلمونو ته باید د ښوونې او روزنې په پروګرام کې ځای ورکړل شي. د

روغتیایي (منځنیو او لوړو) زده کړو لپاره مسلکي ښوونځي او پوهنځي جوړ شي او په ملي افغاني ژبه دې د زده کړو چارې سمبال شي.

د عامې روغتیا د کار د لاپیاوړتیا لپاره باید هڅه وشي چې په هر کلي کې روغتیایي منځي چې د اړین لومړنیزو مرستو (پانسمانو. پیچکاري کولو. واکسینولو او په روغتیایي برخه کې د وګړو د راجستیرولو) امکانات ولري. جوړ شي. په ولسوالیو کې باید لږ تر لږه (۱۰۰) کټیز تولیز روغتونونه او سیمه ییز کتنځي جوړ شي او په لویو ښارونو او ولایتونو کې د اړتیا په پام کې نیولو سره باید لوی روغتونونه. زیږنتونونه. ښاري او سیمه ییز کتنځي. د بیړنیزو مرستو منځي. پالنتونونه او د مور او ماشوم روزنتونونه جوړ شي. چې د افغانستان وګړي وکولای شي هر اړخیز روغتیایي مرستې ترلاسه کړي. په کلیو او ولسوالیو کې باید روغتیایي ګرځنده ډلې جوړې شي چې د بېلابېلو ناروغیو او د هغوی د مخنیوي د لارو چارو په اړه عامو خلکو ته (لیدنیز پوستیرونه. د لوستلو لیکنې. پامفلېټونه او لنډ لیکونه. وینیز له خلکو سره د بېلابېلو ناروغیو د لاملونو. بهیر او مخنیوي په اړه غږېدل). معلومات ورکړي. په کلیو او لرې پاتې سیمو او ولسوالیو کې باید د میندو او ماشومانو لپاره ګرځنده کورسونه او لویو ښارونو کې د مور او ماشوم روزنتونونه جوړ شي چې میندې د ماشوم د ساتنې او روزنې، روغتیایي. چاپېریال. د نفوس د کنترول او ښځینه ناروغیو په اړه معلومات ترلاسه کړي. چې د بېلابېلو ناروغیو مخنیوی وشي. باید یاده شي چې په افغانستان کې طبابت تجارتي دی. که پیسې لرې نو تداوي کېږې که نه یې لرې نو د الله په تمه کېنه. د دې لپاره چې د داسې ناځاپو پېښو مخنیوی وشي. نو ښه به دا وي چې په افغانستان کې د روغتیایي بیمې سیستم جوړ شي او هرڅوک له یو کورني (سیمه ییز) ډاکټر سره راجستیر شي او د کورني ډاکټر معاش به د دغه بیمې له خوا د کتل شوو ناروغانو د شمېر پر بنسټ ټاکل کېږي. د

افغانستان په لویو ښارونو کې درملتونونه او روغتیایي موسسې شته دي. خو په لرې پاتې کلیو او سیمو کې د زرهاوو وګړو لپاره یو ډاکتر خو لاڅه کوې. حتی یو روغتیامل یا روغتیا پال هم نه شته دی. ځکه نو په دې اړه باید مشخص اقتصادي او امنیتي ګامونه واخیستل شي. چې روغتیایي کار کوونکي وکولای شي لرې سیمو ته لاړشي او خلك تداوي کړي. باید یاده شي چې په افغانستان کې ګڼ شمېر زاړه درمل کارول کېږي چې د نړیوالې روغتیایي موسسې له خوا د دغه درملو کارول منعه شوي دي. نو په افغانستان کې د درملو د راوړلو لارې چارې باید داسې سمبال شي چې ټول درمل راجستر شي او هغه درمل چې د نړیوالې روغتیایي موسسې له خوا منعه شوي دي. نو زموږ هېواد ته هم د دغو درملو د راوړل. خرڅول او کارولو مخنیوی وشي. باید په ګوته کړم چې په افغانستان کې په خپل سر درملنه ډېره ترسره کېږي. نو ښه به دا وي چې د دغه پېښو مخنیوی وشي. درمل باید د ډاکتر په سپارښت ورکړل شي او وګړو ته د په خپل سر درملنې د ضرر په اړه باید هراړخیز پوره معلومات ورکړل شي. چې د په خپل سر درملنې د ناخاپو پېښو مخنیوی وشي.

## د ښوونې او روزنې د سیستم بیا رغونه:

د ټولنې په ټولنیزه روغتیا کې د وګړو ښوونه او روزنه خورا غوره ګڼل کېږي او د خلکو د پوهې د کچې په لوړوالي کې ښوونه او روزنه په مورنۍ ژبه خورا اغېزناکه ده. ځکه نو د ښوونې او روزنې لپاره باید په کلیو. ولسوالیو او ښارونو کې ښوونځي جوړ شي او هم یو ځانګړی ښوونیز پروګرام اړین بریښي. چې باید ډېر په بېړه جوړ شي او د افغانستان ملي پښتو ژبې ته ډېره پاملرنه وشي. ځکه چې د هېواد څرګند اکثریت (۷۳ . ۶۲%) پښتانه دي [۱۷. ۱۶. ۱۳. ۱۱. ۸. ۷. ۶. ۵]. خو زموږ په

هېواد کې بېلابېل قومونه اوسېږي، ځکه نو د هرې سیمې لپاره باید د سیمې په ژبه او د افغانستان په ملي ژبه (پښتو) لوست او معلومات ورکړل شي او باید د دې مخنیوی وشي چې د یوې سیمې ژبه د بلې سیمې ژبه لاندې کړي، د بېلګې په توګه: په ازبکي سیمو کې په ازبکي پښتو، ترکمني سیمو کې ترکمني پښتو، تاجکي سیمو کې په فارسي پښتو، په هزاره ګي سیمو کې چېرې چې هزاره ګي خبرې کېږي هزاره ګي پښتو او چېرې چې په پښتو خبرې کېږي، (د وردګو او غزني هزاره ګان) په پښتو، په پښتنې سیمو کې خو مالومداره خبره ده چې باید په پښتو زده کړه وشي او د ښوونې او روزنې بنیادي ژبه باید د افغانستان ملي ژبه (پښتو) وي. همدارنګه لوړه زده کړه هم ډېره مهمه ده، خو د دې لپاره باید بېلابېل مسلکي پوهنځي جوړ شي او په افغانستان کې دننه او بهر باید کتابونه ولیکل او چاپ شي، ځکه چې بې له تیوریتیکي بنسټ څخه هېڅ هم نه شي ترلاسه کېدلای. خو باید هېره نه کړو چې کلتور هم په ټولنیز ژوند او ټولیزه روغتیا کې خورا غوره رول لوبوي، خو زموږ هېواد ته له بهره، په تېره بیا د ایران له خوا هر ډول زاړه، نفاق اچوونکي او له لارې ایستونکي کتابونه رالېږل. د پاکستان له خوا هم ډېر فارسي او له افراطه ډك مذهبي کتابونه را استول کېږي چې د وګړو په روحي حالت او روزنه خورا بد اغېز لري او د هندوستان فلمونو خو زموږ ټولنه بیخي منحرفه کړې ده، هندي کلتور چې افغاني ټولنې ته بشپړ پردی دی او زموږ د خپلو کلتوري هلو ځلو د نیمګړتیا له کبله، پر موږ دا پردی کلتور راتپل کېږي، ځکه نو باید د افغاني کلتور په اړه فکر وشي او د افغاني کلتور د پیاوړتیا لپاره باید افغاني موسیقي. افغاني تیاتر او افغاني سینمایي علمي، تاریخي، روغتیایي او د ښوونې او روزنې فلمونه جوړ شي او یا له پردیو ژبو څخه زموږ په ملي پښتو ژبه وژباړل شي. چې زموږ راتلونکی نسل افغان پاتې شي او په خپلو ملي ارزښتونو سمبال او د هېواد ټولنیزه روغتیا پیاوړې شي.

## د کرنې او مالدارۍ بیا رغونه:

افغانستان یو زراعتي هېواد دی. خو ډېره ځمکه یې شاړه ده. ځکه نو هغه سیمې چې اوبه نه لري باید هڅه وشي چې کانالونه په کې وکیندل شي او دغه ځمکې تر اوبو لاندې شي. چېرې چې خاوره د کار نه ده. نو باید د دې امکانات جوړ شي چې له دې ځایه بې کاره خاوره لرې شي او له نورو سیمو څخه ښه خاوره راوړل شي. چې د نویو زراعتي پروګرامونو امکانات په کې رامنځ ته شي. بزګرانو ته باید د دې سپارښت وشي چې په ځمکه کې هغه څه وکري څه شی چې په دغه خاوره کې ډېر او ښه حاصل ورکوي. بزګرانو ته باید ځانګړې تخم ورکړل شي او د بهرنیو هېوادونو د تجربو په اړه باید کورسونه جوړ شي، چې زموږ بزګران هم له دغه نویو میتودونو څخه کار واخلي. مالداري د افغانستان ډېر عنعنوي کار دی. خو نن سبا په نړۍ کې ډېر نوي بدلونونه راغلي. چې د نړیوالو هېوادونو له دغو تجاربو څخه باید هراړخیز ګټه واخیستل شي او زموږ مالداران هم باید د پرمختللې نړۍ د نویو او ګټورو میتودونو په اړه معلومات ترلاسه کړي او په خپلو فارمونو کې دې د پرمختللو هېوادونو میتودونه پلي کړي او هڅه دې وشي چې لکه د طالبانو په موده کې چې د اپینو کرل منعه شوي وو په راتلونکي کې هم د داسې کرغېړن کار مخنیوی وشي. د طالبانو په موده کې د اپینو د کرلو د مخنیوي په اړه د ملګرو ملتونو استازي (Kenzo Oshima) هم ډېر په ویاړ خواخوږي ښودلې وه[۱۲] او اوس هم باید هڅه وشي چې زموږ هېواد د تریاکو او اپیونو د جوړولو او کرلو مرکز (منځی) ونه ګرځي.

په افغانستان کې د څښلو د اوبو نیمګړتیا په ټولو سیمو کې تر ستړګو کېږي او په ډېرو سیمو کې اوبه تروې دي. ځکه نو د څښاك د اوبو په اړه

باید یو تبولیز پروګرام جوړ شي چې په بېلابېلو سیمو کې د ژورو (عمیقو) څاګانو کیندل پیل شي او کورونو ته د نل اوبه ورسول شي. ځکه چې ناپاکې اوبه د خوړا ډېرو ناروغیو چینه ده او غیر صحي اوبه د انسان په روغتیا ډېر بد اغېز لري. ځکه نو باید په دې اړه جوت ګامونه واخیستل شي او د بېلابېلو ناروغیو چې د اوبو په وسیلې لېږدول کېږي په اړه خلکو ته معلومات ورکړل شي او وګړو ته د دې سپارښت وشي چې له خوټېدلو (پخو) اوبو څخه ګټه واخلي.

## د ټولنیزو مرستو سیستم:

د افغانستان د څلورویشت کلنې جګړې په ترڅ کې زموږ ډېر خلك معیوب شوي یا دا چې د کور مشر نه لري او یا هم دا چې کونډې میندې خپل اولاد په یوازیتوب روزي. نو ځکه د ټولنیزو مرستو سیستم د دغو خلکو لپاره ډېر ضروري دی. هغه معیوبین. میندې. پلرونه. ماشومان او یا هم لویان چې د دغه څلورویشت کلنې جګړې قرباني شوي دي باید له دولته پولي او روغتیایي مرسته ترلاسه کړي او څوك چې خپل کور نه لري باید د دې امکانات جوړ شي چې دغه خلك د ژوند پاتې ورځې لږ تر لږه په انساني حالاتو کې تېرې کړي. پر سر سیوری ولري. د ژمي په سړو او د دوبي په تودوخي ونه سوزي. د باران څڅېدل یې نری شوی زړه سوری نه کړي. د یتیم اولاد ژړا یې د زړه وینې وچې نه کړي او مورنی اوښکې یې د بې هیلې په وینو وانه وړي. د خوړلو او څښلو لپاره څه ولري. چې په دې پوه شي چې دوی هم انسانان او د خدای تعالی بنده ګان دي.

# پایله

روغتیايي مرستې باید د انسان جسمي او دماغي روزنه پياوړې کړي او د ناروغیو د مخنیوي چارو او د چاپېریال روغتیا پالنې ته پاملرنه وشي. مېندو. ماشومانو او کليوالو ته د وقايوي روغتيا پالنې د هراړخیزو مرستو امکانات جوړ شي، چې د هر ډول ناروغۍ مخنیوی وشي او هڅه وشي چې د هېواد په هر ګوټ کې خلك وکولای شي بشپړه روغتیايي مرسته ترلاسه کړي.

پرته له امنيته د افغانستان روغتیايي سیستم نه شي جوړېدلی. ځکه نو د ملګرو ملتونو ځواکونه باید د افغانستان هر ګوټ ته واستول شي چې د ټوپکیانو او نورو ډاړه مارانو قوماندان سالاري ختمه کړي چې امنيت رامنځ ته شي او عامو خلکو ته د ژوند او روغیتايي مرستو امکانات جوړ شي، ځکه چې په اوسني شرایطو کې خلکو ته ډوډۍ وروړسول شي. تودې جامې دې ورکړل شي او بيړنیزه روغتیايي مرسته دې ورسره وشي.

د لنډ مهالې واکمنې اداري په موده کې. څرنګه چې د ښاغلي حامد کرزي عبوري دولت د افغانستان رسمي اساسي قانون د (۱۳۴۳) لمریز کال اساسي قانون منلی، ځکه چې دغه یوازینی اساسي قانون دی چې د افغانستان د خلکو د استازو له خوا په لويه جرګه کې منل شوی دی. باید د دې شرایط جوړ شي چې د (۱۹۶۴م) کال له اساسي قانون څخه سرغړونې ونه شي.

باید هڅه وشي. هغه اشخاص چې په جنګي جرم تورن دي او اوس په دولتي چارو لوړ پوړي چارواکي خو هېڅ رانه شي. خو د نړیوالو بشري حقوقو له غوښتنو سره سم د دغه اشخاصو په اړه څېړنه پیل شي او له ملامتیا سره سم د هاګ محکمې ته وسپارل شي. چې په راتلونکي کې د افغانستان د خلکو د وژنې او قربانیو مخنیوی وشي.

وروسته له عبوري دولت څخه باید هڅه وشي چې د لويې جرګې په مرسته د افغانستان د خلکو استازي وټاکل شي چې د دولتي چارو واك ترلاسه کړي. چې د افغانستان پر ټلور ويشت کلونو پرهارونو د سولې پټۍ کېږي او د هېواد ټولې چارې له ملي غوښتنو سره غبرګې سمبال کړي او پر مخ يې بوزي.

د دې اداري چارو. ښوونې او روزنې. روغتيايي چارو. عدلي چارو او نظامي چارو لپاره باید تعميراتي واحدونه جوړ شي. چې د دې امکانات رامنځ ته شي چې په راتلونکي کې ټول افغانان راجستر شي. د ښوونې او روزنې او روغتيايي مرستو امکانات ترلاسه کړي او دولتي چارې په قانوني توګه پياوړې شي.

د افغانستان د بيا رغونې په پروسه کې باید د نوي نسل څخه چې د نن ورځ په تکنالوژي. کمپيوټرايزېشن او ساينسي پوهې سمبال دي. کار واخيستل شي او پرېږدئ چې دا نوی نسل د خپل هېواد بيا رغونه کې فعاله ونډه واخلي. چې په راتلونکي کې د مخکينيو سياسي. ژبني. ايډيولوژيکي. مذهبي او داسې نورو شخړو مخنيوی وشي او ټول افغانان وکولای شي په سوله او ورورولۍ کې له يو بل سره څنګ تر څنګ ژوند وکړي.

د انسان په روزنه کې کلتور هم ډېره غوره اغېزه لري. ځکه نو باید د افغاني موسيقي. افغاني تياتر. افغاني ليکنو او افغاني فلمونو لړۍ پيل شي. غوره ګڼل کېږي چې دغه هلې ځلې تقليدي نه وي او ښتني افغاني کرکتر ولري او همدا ډول د ښوونې او روزنې لپاره باید علمي. معلوماتي. روغتيايي او روزونکي فلمونه جوړ او يا له پرديو ژبو څخه په ملي (پښتو) ژبه وژباړل شي.

هر څوك حق لري چې زده کړه وکړي. ځکه نو ښوونه او روزنه باید په لومړنيو او بنستيزو پړاوونو کې وړيا او اجباري وي او ښوونه او روزنه باید

د انسان د شخصيت د بشپړې ودې. د بشر د حقوقو او د بنسټيزو ازاديو د درناوي د پياوړتيا لپاره په کار واچول شي. څو د هېوادونو او نژادي يا مذهبي ډلو تر منځ پوهېدنه. زغمل او ملګرتيا وهڅوي او د ټولو افغانانو او نورو خلکو فعاليتونه د سولې د ساتلو لپاره پياوړي کړي.

د ټولو لپاره د ښوونې او روزنې موخې ته د رسېدلو په لور د پرمختګونو د پياوړتيا لپاره افغاني چارواکي اړ دي چې د راتلونکي نسل په اړه ځانګړي نظر او د نړيوالو قوانينو سره سم د ښوونې او روزنې پراخ بنسټيه پلان ولري او د خپلو ژمنو بنسټيزو ارادو او کړنو څرګندونه وکړي. څو وکېدلای شي د دغه پلانونو د پلي کولو لپاره د اړيتا وړ تينګې پرېکړې وشي.

# اخځلیکونه

۱. افغانستان در ۵۰ سال اخیر. موسسه طبع کتب. ص ۱۹۰. اول سنبله ۱۳۴۷. کابل

۲. د تولو لپاره د ښوونې او روزنې کال: لندیز. یونسکو. د ملګرو ملتونو تعلیمي. علمي او کلتوري موسسه. د افغانستان لپاره د سویډن د کمیټې په مرسته.

۳. دویمه سقاوي. سمسور افغان. د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. دریم چاپ ۴۱۴ مخونه. ۲۰۰۱ کال. جرمني.

۴. صالح محمد صالح. کندهار او د بیا رغونې بهیر. هیله. څلورم کال. دریمه ګڼه. ۱۳۷۹ل کال. پرله پسې یوویشتمه ګڼه. ۸۳-۹۲ مخونه.

5. Afghanistan (Gesgiedenis, Politiek, Econome, Cultuur, Onderwijs, Nederland and Afghanistan), 1982, Nederland.

6. 16 – 17, 1992, Nederland.

7. Afghanistan today, Afghanistan's Population, on the basis of UNDATA (WF), UN.

8. Afghanistan. / Grote spectrum encyclopedic // Deel 1/Aslsholvers Argelander. Uitgeverij Het Spectrum, Utrecht/Antwepwn, 1978, Nederland.

9. Arts-vluchtelingen mogelijk tijdelijk naar Afghanistan./3.2002

10. De oorlog verklaard./ Achtergronden bij de stellingen tegen de Nieuwe Oorlog.// Nijmeegs Platform tegen de Nieuse Oorlog, Nijmegen, January 2002. Nederland.

11. Firozkohi een afghaane feisjourmaal. / Go mandersloot, josephhine powell en rita billand.// Museum voor land-en Volkenkunde Rotterdam. 192p., 1971, Nederland.

12. Geen papaver neer, dan maar dochters verkopen./ AP.// de volkskrant. Zaterdag 17 February 2001, Nederland.

13. Historiay Afghanistan/. U.V. Gankovski, 367 st., Mysel. 1982, Moscow, Russian.

14. ICRC/ Orghopedic Services in Afghanisntan. Briefing note, September 2000.

15. ICRC in Afghanistan./ Factfheet.// Healt Program, October 2000.

16. Survey of Progress, 1969-1970. Dep. Of Statistice, Ministry of Planing, Kabul. October 1970, Afghanistan.

17. The Ethnic Composition of Afghanistan./ Asix year Surver and Research (1991-1996).// Wak Fondation for Afghanistan.

18. Vluchtelingen uit Afghanistan./ op de vlucht voor geweld en honger.// Paulette Mostart: Artsen Zonder Grenzen. Jaargang 16, nummer 1, February 2001, P. 6 Amsterdan.

ډاکټر عبدالحی نیازی

# په افغانستان کې د ملي اردو د جوړېدو ستونزه

د معاصر افغانستان په ادبیاتو کې ملي اردو هغه وسله وال پوځ ته وایي چې په قومي او (Ethnic) اتنیکي لحاظ د افغانستان له ټولو اقوامو څخه جوړ شوی وي. د ملي اردو یا نشنل آرمي اصطلاح اوس تقریباً د نړۍ په ټولو هېوادونو کې رایجه ده. خو د کیفیت په لحاظ ملي اردو هغه وسله وال لښکر ته وایي چې د هېواد او ملت د سیاسي خپلواکۍ. د خاورې بشپړتیا. ملي امنیت او ټولو ملي او دیني مقدساتو څخه دفاع او ساتنه وکړي. په دولتي جوړښت کې ملي پوځ د دولت د دفاعي قواو یوه ستره برخه بلل کېږي چې د دولت او ټولو قوانینو د ساتنې بنسټیزه ښبنته بلل کېږي. پولیس او استخبارات هم پخوا د وسله والو قواو برخه وه خو د لومړي ځل لپاره په انګلستان کې د ښاریانو د امنیت او دفاع په خاطر پولیس له وسله وال پوځ څخه بېل شو. همدارنګه د استخباراتو اداره هم د وسله وال پوځ په جوړښت کې او هم د دولت او د ولس د ملي کتبو د ساتنې

لپاره شامل دي.

وسله وال لښکر د تاريخ په اوږدو کې د واکمنې اداري په خدمت کې موجود و خو د ملي پوځ اصطلاح تقريباً يو مدرن او نوې کلمه ده چې د وسله وال لښکر. اله جاري قواوې او د خوانينو قواوې او نورو ولسي او مليشيايي وسله وال ځواکونو څخه د ملي دندې او مسئوليت. د جوړښت او نظم. دسپلين. يونيفورم او د خدمت د مودې په لحاظ ستر توپير لري. په معاصر سياسي ادبياتو کې نور اصطلاحات لکه چريك. ګوريلا. پارتيزان. مليتانت او مليشيا شته چې دا رنګ وسله والې ډلې د ملي اردو په شمېر کې نه راځي.

په افغانستان کې د هرې واکمنۍ په دوران کې وسله وال لښکر موجود و خو د ډېرو تاريخي اسنادو په روايت د مدرن ملي اردو د جوړښت. نظم. دسپلين. يونيفورم او تر ټولو مهم د پوځي رتبې په لحاظ د امير شېرعلي خان د واکمنۍ په دوران کې رامنځته شوي دي. البته د اردو جوړښت چې پخوا په عنعنوي توګه موجود و او عسکري رتبې يې له اردو. فارسي. عربي. انګرېزي او ترکي ژبې د کلماتو څخه جوړې شوې وې په پښتو ژبې واړولې. د اردو تشکيلات او جوړښت د انګليسانو په څېر او عسکري رتبې ټولې په پښتو ژبه وژباړل شوې لکه ټولی مشر. کندك مشر. فرقه مشر او داسې نور. پخواني ګډ وډ اصطلاحات لکه سرلښکر. سپه سالار. سرهنګ. افسر. فراش باشي. جرنيل او کرنيل... له منځه ولاړل. د پښتو په نوې پوځي اصطلاحاتو کې په ملي اردو کې ملي روحيه غښتلې شوه. د افغانستان د اوسنۍ پوځي رتبې د شهيد جنرال عبدالرزاق مرستيال په نوښت او ابتکار رامنځ ته شوې چې عمدتاً په پښتو ژبه ده او د انګليسي جنرال کلمه ورسره د ډګروالۍ د رتبې نه وروسته کارېږي چې د افغانستان د اردو صاحب منصبانو درجې ته ښکلې بڼه او شکل ورکوي. دا نوې رتبې له دريم بريدمن څخه پيلېږي او له ډګروال د رتبې نه وروسته د جنرال کلمه

زیاتېږي لکه برید جنرال. تورن جنرال. ډگر جنرال. ستر جنرال او مارشال پورې رسېږي. د افغانستان د اردو د هرې درجې په مقابل کې یو انګلیسي عسکري رتبه شته. جنرال مرستیال د داودخان د جمهوریت په وخت کې د محمد هاشم میوندوال سره یوځای د کودتا په تور تورن او اعدام شو.

د دې لپاره چې د افغانستان د راتلونکي ملي اردو د جوړېدو په هکله او د هغو ستونزو په باره کې چې نن موجودې دي خبرې وکړو. لازمه ګڼل کېږي چې د افغانستان د معاصر تاریخ په اوږدو کې د افغانستان د استقلال په ګټلو کې. د ملي امنیت په ساتلو کې. د سرحداتو په ساتلو کې او همداراز د افغانستان د ملي اردو نقش د حکومتونو په غورځولو او جوړولو کې او د افغانستان د ملي اردو نقش د روسیې د تېري په وړاندې او بلاخره د افغانستان د نوي ملي اردو جوړښت. دنده او برخه د افغان ملت په راتلونکي سیاسي او ټولنیز برخه لیک کې څېړو.

دلته یوازې د افغانستان د ملي معاصر او مدرن اردو (۱۸۷۹ - ۱۸۹۲) د امیر شېرعلي خان د حکومت څخه د نجیب د حکومت تر راغورځېدو پورې بحث کوو. ځکه چې د امیر شېرعلي خان له مخه د افغانستان اردو یا افغاني لښکر عمدتاً د قبایلو او لویو خوانینو وسله وال خلك وو چې د حکومت سره یې مرسته کوله. ځکه چې افغاني ټولنه یوه ژوره فیوډالي ټولنیز جوړښت درلود او قبایلو د حکومت اساسي پایه جوړوله.

لکه څنګه چې له مخه مو وویل د افغانستان منظم پوځ د امیر شېرعلي خان په وخت کې د پنځوس زرو په شاوخوا کې اټکل کېدلو. د کال ۱۸۸۷ د مني په موسم کې بریتانوي عسکرو د دوهم ځل لپاره په افغانستان برید وکړ او جلال آباد او کندهار یې ونیول. د بریتانیې برید امیر شېرعلي خان وهڅاوه چې د روسانو نه پوځي مرسته وغواړي. امیر سره له دې چې پنځوس زره کسیز پوځ درلود خو امیر ونه شو کړای چې د انګرېزانو سره



پښتنو قبیلویت پرېږدئ...!

مقابله وکړي او یا لوړ رتبه افسران واك په لاس کې ونیسي او خپله ملي دنده ترسره کړي او یا امیر سره کومې موافقې ته ورسېږي. بلاخره انګرېزانو واك په لاس کې واخیست او د امیر زوی یې د امیر په حیث وټاکلو. په ۱۸۷۹ کال کې د مې په میاشت کې د ګندمك ننګین تړون د یعقوب خان او انګرېزانو تر منځ لاسلیك شو. د همدې ننګین تړون په اساس د خیبر دره. د کرم ولایت. سیبي، پشین د افغانستان له خاورې څخه تر نن ورځې پورې جلا شوې. لیدل کېږي چې د افغانستان پنځوز زره کسیزه پوځ د پردي تېري په وړاندې کوم مثبت رول نه دی لوبولی که څه هم ولسي غیر منظم لښکرو د پردیو یرغلګرو په وړاندې د هېڅ ډول سربښندنې څخه ډډه نه ده کړې او د ویاړ نه ډك تاریخي کار نامې یې پرېښودلې. نو په دې توګه دا یوازې د امیر شېرعلي خان لښکر و. نه ملي اردو چې د ملي نوامیسو نه یې دفاع کړې وی. نو له دې کبله موږ خپل بحث په همدې متمرکز کوو چې څنګه ملي پوځ رامنځته شي چې د یو فرد یا حکومت د قهر وسیله نه. بلکې په رښتیا ملي پوځ وي او د هر حالت د خپلواکی. ملي امنیت او د خاورې د بشپړتیا نه دفاع وکړي.

په همدې توګه د افغانستان پوځ یا د امیر عبدالرحمن خان لښکرو په داخلي چارو کې سخت د تشدد او زیاتي نه کار اخیستی دی. د عبدالرحمن د لښکر نقش په ملي امنیت کې یو بحث پارونکې مسله ده خو د زور زیاتي سره سره ویلی شو چې ملي امنیت یې ټینګ کړی و او کورنی جنګ سالارانو ته یې ماتې ورکړه خو د خاورې د بشپړتیا او د سرحداتو په ساتنه کې ناکام پاتې شول. د کال ۱۸۹۳ د سپټمبر په میاشت کې د بریتانوي هند د حکومت د باندنیو چارو منشي سرمور تیمردیورنډ کابل ته راورسېد او د همدې کال د نوامبر په میاشت کې هغه ننګین سرحدي تړون د امیر عبدالرحمن خان سره لاس لیك کړ چې د ډیورنډ د تړون په نوم یادېږي. په دې توګه یو ملت او یوه خاوره په دوو برخو ووېشلې شوه. خو د امیر

عبدالرحمن خان حتی یو افسر هم د اعتراض په توکه نه دی دربدلی او د امیر د لښکریانو نه یو عسکر هم نه دي ویلي:

موتی خاوره د وطن به پرې ورنه کړم

که په سر د څمکې هر وطن ختن شي

پرته له داخلي امنیت نه یې کوم بل مثبت رول نه دی لوبولی چې د ویلو وړ وي.

## د افغانستان د استقلال په جګړه کې د افغانستان د شاهي لښکر برخه :

د افغانستان استقلال په ۱۹۱۹ کال د اعلیحضرت امان الله خان په اراده او د جنرال محمد نادر خان په توره او د وزیرو او مسعودو قبایلو په زور کټل شوی. په داسې حال کې هغه خاوره چې د ګندمك او ډیورنډ د تړونونو په اساس د افغانستان د خاورې نه بېله شوې وه. بېرته ترلاسه نه شوه که څه هم پښتانه قبایل د جنګ لپاره پوره چمتووالی ښودلی و خو د امان الله خان حکومت د ډیورنډ د کرښې د بلې غاړې سیاسي او پوځي تثبیت نه کوي.

د افغانستان اردو د استقلال په جنګ کې په دریو ولایاتو (ننګرهار. کندهار او پکتیا) کې محاذونو ته ولاړل. که څه هم د کابل نه د وتلو په وخت کې د حکومت له خوا داسې آوازې خپرې شوې چې پوځ د داخلي امنیت د تینګښت لپاره ځي نو څکه داسې وسله وال خلك ورسره یوځای نه شول. د ننګرهار د پوځ قوماندان جنرال صالح محمد خان او د کندهار د بولدك د جبهې قوماندان سردار عبدالقدوس خان که څه هم د هریوه سره اته زره پوځ موجود و خو په مختلفو دلایلو یې څه توره ونه کړه. یوازې د پکتیا د محاذ قوماندان محمد نادر خان له څلور زره عسکرو سره د کابل نه وتلی و خو

ډېرش زره قبايلي سرتېري چې عمدتا د وزيرو او مسعودو جنګيالي وو. ورسره يوځای شول او ديني علماوو د جهاد فتوا صادره کړه او د خدای په مرسته د انګرېزانو دوه غټ پوځي قرارګاه. تل او وانه فتح شول او د انګرېزي لښکرو مورال کمزوری شو. په پای کې د ۱۹۱۹م کال د اګست په مياشت کې د راولپنډۍ د سولې تړون لاس ليك شو. خو د امير عبدالرحمن خان سرحدات د افغانستان او د برتانيوي هند د سرحد په حيث پاته شو. دا تړون د افغانستان له خوا علي احمد خان او د انګرېز له خوا سر هملټن ګرانټ د برتانوي هند د بهرنيو چارو سکرتر له خوا لاس ليك شو. دا چې د افغانستان منظمې اردو د افغانستان د استقلال په جنګ ستر نقش لوبولی يا د افغانستان ولس او سرحدي قبايلي لښکر؟ زما په خيال که د افغانستان اردو د يو منظم او با پلان او با موران پوځ په څېر عمل کړی وی نو ډېر احتمال يې درلود چې د ننګرهار او کندهار په جبهو کې تر پېښور او کوټې پورې مخ ته تللی وای او که چېرې د جنوبي په محاذ کې سرحدي ولسي قواوې د نادرخان سره مرسته نه وای کړې نو نادر خان ته به ډېر ګران کار وای چې د څلور زره عسکرو په زور تل او وانه چې ډېر سره لرې دي نيولي وای که څه هم نادرخان د تل او وانه څخه د مرکزي حکومت په امر بېرته شاتګ وکړ او نن نه تل او نه وانه د افغانستان په خاوره کې شامل دي.

دا د افغانانو په ذهنيت او معلوماتو پورې اړه لري چې د استقلال په جنګ کې د افغانستان د ملي اردو نقش څنګه ارزيابي کوي؟

## د کورنۍ جګړې په دوران کې د افغانستان د ملي اردو نقش:

د امان الله خان د حکومت په مهال کې افغانستان یوځل بیا په کورنیو جګړو اخته شو چې ځانګړې تفصیل ته اړتیا لري چې دلته کورنیو جګړو نتیجې ته کتنه کوو. د عبدالرحمن خان په وخت کې انګرېزانو امیر سره مخالفت نه کاوه. امیر کورنۍ جګړه وګټله او د امان الله خان په وخت کې چې انګرېزانو د جنګسالارانو سره مرسته کوله امان خان د حبیب الله کلکاني په مقابل کې کورنۍ جګړې او سلطنت بایلود. د دغو کورنیو جګړو په وړاندې د افغانستان ملي اردو د ویاړ وړ کومې کارنامې نه دي پرېښودلي.

په ۱۹۹۲ کال جنرال محمد نادر خان د حبیب الله کلکاني حکومت ته ماته ورکړه مګر نه د ملي اردو په زور. بلکې د قبایلي ولسي لښکر او په ځانګړي توګه د وزیرو او مسعودو پښتنو قبایلو په زور کوم جنګونه چې د نادرخان د حکومت په مهال شوي دي په هغو کې هم د جنوبي سیمې قبایلي ولسي لښکر د با قاعده پوځ په پرتله ستر رول لوبولی دی.

## مودرن وسله وال پوځ د افغانانو ملي ارمان:

دویم نړیوال جنګ چې د ختمېدو په حال کې و. د امریکا یو هیئت د جنرال پتریك جي هورلي په مشرۍ کابل ته راغلی و. افغاني مقاماتو د دې هیئت څخه د وسلو او پوځیانو د پوځي روزنې رسماً غوښتنه وکړه خو دا غوښتنه ونه منل شوه. د ۱۹۵۱م کال شاه محمود خان امریکا ته د خپل سفر په ترڅ کې له امریکایانو نه د وسلې رانیولو غوښتنه وکړه چې د امریکا له خوا ونه منل شوه. امریکایانو غوښتل چې افغانستان رسماً د پښتونستان د قضیې او د ډیورنډ د کرښې نه تېر شي. ځکه چې د امریکا

غوښتنه د منلو وړ نه وه. نو صدر اعظم شاه محمود خان د وسلې له غوښتنې څخه لاس واخیست. په ۱۹۴۹م کال د افغانستان د باندنیو چارو وزیر محمد نعیم خان د امریکا څخه یوځل بیا د وسلو غوښتنه وکړه چې بیاهم ونه منل شوه.

د پخواني شوروي اتحاد مشران هریو نیکي ولاې بلګانین او نیکیتا خروشچف په کال ۱۹۵۵م د دسمبر په میاشت کې کابل ته راغلل او د خپل سفر په ترځ کې د افغانستان او شوروي اتحاد د وسلو او افغاني افسرانو ته د پوځي روزنې تړون لاس لیک شو. شورویانو د پښتونستان مسله تائیدوله او بلګانین وویل چې (شوروي اتحاد د پښتونستان د مسلو مناسب حل غواړي خو دا د پښتونستان د خلکو د مهمو ګټو په نظرکې تر نیولو پرته نه شي کېدلی).

پښتونستان یعنې څه؟ صوبه سرحد او د بلوچستان یوه برخه. د افغانستان هغه خاوره چې د رنجیت سنګ په وخت کې او د ګندمک او ډیورنډ تړونونو په اساس د افغانستان له خاورې څخه جلا شوي دي پښتونستان یادېږي.

د پښتونستان کلمه د کومه شوه؟ د کال ۱۹۴۹م د اګست میاشت په دولسمه نېټه د ډیورنډ د کرښې نه راایسته پښتانه قبایل د افریدیو په مېنه کې د تیراه باغ په سیمه د یو لویې جرګې په ترځ کې پښتونستان د جوړولو رسماً اعلان وکړ. د افغانستان حکومت د اعلان مطابق د پوره مرستې ژمنه وکړه. حکومت اعلان وکړ چې هرکال د اګست په یودېرشم د پښتونستان ورځ دې د ملي ورځې په څېر ونمانځله شي. دا زما په خیال د افغانستان د حکومت لویه تاریخي اشتباه وه ځکه چې د افغانستان د خاورې د بېرته الحاق په ځای د یو بل هېواد د جوړېدو په فکر کې شو چې د پولیتکل جغرافیایي په لحاظ دا ناشونې برېښي چې د صوبه سرحد نه کوم مستقل هېواد جوړ شي.

دا چې د افغانستان حکومت او ملي پوځ ولې د پښتونستان په قضیه کې کوم مثبت رول نه دی لوبولی او برعکس نن کڼ شمېر افغانان داسې اټکل کوي چې د پښتونستان قضیه سبب شوه چې افغانستان هم خپله آزادي له لاسه ورکړه او د روسانو په لومو کې بند پاته شو او د روسانو او د هغو یرغل د پاره زمینه جوړول ټول د افغانستان د پوځیانو په واسطه جوړه شوه.

د افغانستان ملي اردو د محمد هاشم خان او د شاه محمود خان د صدارت په وخت کې د افغانستان د ملي امنیت په ټینګښت کې ستره ونډه اخیستې ده دا ملي اردو په کریدت کې شمېرل کېږي. په کال ۱۹۵۴م د ساپي کوزنی بغاوت د افغانستان د ملي اردو په زور سخت وځپل شو د دې واقعې نه وروسته د افغانستان ملي اردو د داود خان د جمهوریت تر جوړېدو کومه توره نه ده وهلې.

## د افغانستان د ملي اردو برخه د افغانستان په سترو تاریخي پېښو کې:

د افغانستان ملي مدرن اردو له خپل جوړېدو وروسته تر خپل خمېدو پورې په منظمه توګه د کوم بهرني اردو سره نه دی مخامخ شوی. د افغانستان ملي اردو په دوو تاریخي پېښو کې ستره ونډه اخیستې ده: لومړی د داود خان په کودتا کې. دویم د ثور په کودتا کې چې ننني ملي غمیزه د دغو ناوړو پېښو پایلې دي. ملي اردو نه زموږ منظور یو شمېر عسکري صاحب منصبان نه دي چې په انفرادي توګه یې د هېواد د دفاع په لاره کې خپل ځانونه له لاسه ورکړي دي. بلکې ټوله اردو د یوې ملي وسله والې ادارې په توګه مطالعه کېږي.

ملي اردو او ګوندي ایدیولوژي: که څه هم په افغانستان کې د ګوندونو قانون نه و نافذ شوی خو په ټولنه کې کڼ شمېر صاحب منصبان په مختلفو

ګوندونو کې شامل شوي وو. البته نن په آزاده نړۍ کې د نورو عامه وګړي په څېر د اردو صاحب منصب حق لري چې د ګوندونو غړیتوب ترلاسه کړي او د خپلې ټولنې لپاره د ګټور عنصر په توګه پاتې شي. خو افغانستان او افغانان له ګوندي صاحب منصبانو نه ترخې خاطرې لري. دا په راتلونکې کې هم پوځیان حق لري چې د ګوندونو غړیتوب ترلاسه کړي مګر نباید ملي ګټې پر ګوندي ګټو خرڅې کړي او تېرې ترخې خاطرې یوځل بیا را تکرار کړي. دا نن د یو ضرورت په اساس ویل کېږي چې ملي اردو باید غیر ګوندي وي او په یو ګوند یا تنظیم پورې اړه ونه لري. مقصد له دې خبرې نه دا دی چې د شمال ټلوالې او په خاصه توګه د نظار شورا افراد غواړي چې د افغانستان د قواوو ځای ونیسي چې دا مسله ځکه ناشونې برېښي چې د نظار شورا د افرادو لاسونه د افغانانو په وینو رنګ دي. د نظار شورا له روسانو سره نږدې اړیکې لري او روسان د دوو ملیونو افغانانو قاتلان دي. په بل عبارت د نظار شورا د روسانو د تخریبکارۍ آلې دي.

## د داود خان د جمهوریت په ټینګښت کې د ملي اردو برخه:

د داود خان کودتا (۱۳۵۲-۱۹۷۳) د یو شمېر ټیټ رتبې صاحب منصبانو په واسطه تر سره شوه چې په هغه کې د خلقي او پرچمي افسرانو ونډه ډېر تاریخي څرګند حقیقت دی. د داود خان د کودتا په وړاندې په عمومي توګه د ټولو عسکري قطعاتو د بې خبرۍ او بې کفایتۍ څرګندوی دي او کودتاچیانو ته بې له قید او شرط تسلیمېدل د نورو کودتاچیانو لپاره لاره خلاصول وو. د داود خان د کودتا په نتیجه کې اساسي قانون لغوه او ملي شورا ړنګه شوه او ریښتینی جمهوریت هم ټینګ نه شو او یو مسکو پلوه دکتاتوري نظام منځ ته راغلو چې نننی ملي غمیزه د هغه پایلې دي.

## د حکومت اغېزه په ملي اردو کې :

په افغانستان کې په هره زمانه کې اردو د هر ښه یا بد حکومت د لاس آله وه. په افغانستان کې اردو هېڅ کله د یو ملي او مستقل وسله وال ارګان په توګه لکه پاکستان یا ترکیه کار نه دی کړی. د پاکستان اردو یا د ترکیې اردو هېڅ کله د حکومت د لاس آله نه و. کله چې حکومت بې کفایته شي او یا ملي ګټې په پردیو باندې د خرڅولو نیت وکړي اردو واک په لاس کې واخلي که څه هم ګڼ شمېر پاکستاني یا ترکي پوځیان په مختلفو ګوندونو کې غړیتوب لري. په لوېدیزو هېوادونو کې اردو یو مستقل ملي ارګان دی چې د خپلو هېوادونو قانون ته په درنه سترګه ګوري. د افغانستان اردو د خپل موجودیت په تاریخ کې هېڅ کله ملي عمل نه دی کړی چې د باور وړ وي یا د کوم کودتا په وړاندې په مېړانه درېدلي وي او نه د پردیو د تېري په مقابل کې درېدلی دی. زموږ اردو یوازې د حکومت د قتل او قتال آله وه.

## د ثور خونړۍ کړغېړنې کودتا (۱۹۷۸) :

ملي اردو د ملي مصیبتونو په جوړولو کې سرته برخه اخیستې ده. د ثور کودتا چې د یو شمېر ماسکو پلوه پوځیانو له خوا ترسره شوه چې له کې. جي. بي. سره نږدې اړیکې یې درلودې. نن د ثور کودتا یو ستر تاریخي جنایت بلل کېږي. د ثور د خونړۍ کودتا ځانګړی فصل غواړي چې دلته پرې بحث نه کېږي. په دغه کودتا کې یوازې شپږ سوه عسکر او دوه کندک تانک برخه واخیسته. دې کودتا د داودخان نظام د تاریخ کندې ته وسپاره. افغانستان خپل سیاسي استقلال له لاسه ورکړ چې عواقب یې ټولو ته څرګند دي خو څه چې جالبه ده د افغانستان د نورو غټو او وړو عسکري قطعاتو عکس العمل د ثور د کودتا په مقابل کې دی چې د یادولو وړ دي: کودتا چې افسر غوث الدین فایق په خپل کتاب (رازی را که نمی خواستم

افشا گردید) کې ليکي:

د کودتا په ورځ زه په ګردېز کې وم. له کابل نه خبر راغی چې په داود خان باندې کودتا شوې ده نو ما د پکتيا د قول اردو قوماندان ډګر جنرال سراج الدين خان ته وويل: د داود خان سره بايد مرسته وشي او بايد قوا کابل ته ولېږو. ده راته وويل (حالا که شما با افسران قول اردو ديدن می کنيد. بعداً برايم نيم ساعت وقت بدهيد که در زمينه بينديشم من پذيرفتم)

(بعد از سپری شدن نيم ساعت وقت خودم به بهانه تشناب از دفتر بيرون شدم در دهليز از نفر انظباط پرسيدم که قوماندان قول اردو کجا می نشيند؟ انظباط مرا رهنمايی کرد وقتيکه داخل اطاق شدم ديدم که قوماندان در سجده است من داخل اطاق ايستاده شدم ديدم که از سجده سر برنمی دارد عصبانی شده از يخن دريشی عقب گردن اش گرفته بالايش کردم گفتمش به دعا دفاع دشمن ممکن نيست. وقت عمل است. تسبيح را به من پيش کرد و سوگند داد از اين نيت خونريزيکه داريد دست بکشيد.

من در پاسخ گفتم مرا به خداوند و همين تسبيح قسم که غرضم از اين کار جلوگيری از خونريزی است. جنرال سراج الدين خان تفنگچه را از جيب پطلون بيرون کرده گفت اين را بيگير مرا بکش بعد هر کاری که ميکنيد بکن). دا د افغانستان د پکتيا د قول اردو قوماندان د کندهار د شکارپور بازار اوسېدونکی ډګر جنرال سراج الدين خان دريغ د کودتا په وړاندې و چې اوس يې خلک ارمان کوي. که موږ ملي اردو درلودلی نو کورنی جګړه نه کېدله او قوماندان سالارې به منځ ته نه راتلای.

دا خبر خو څرګند حقيقت دی چې د افغانستان د ملي اردو اکثريت صاحب منصبانو ګوندي خلك نه بلکې بې طرف کسان وو. څکه بې طرف د ملت د ژوند او مرګ په هکله بې طرف د پرديو د تيري په وړاندې هم بې طرف. ځيني افغانان او ځيني صاحب منصبان استدلال کوي چې د اردو د

صاحب منصبانو سیاسي معلومات لږ وو نو ځکه نه پوهېدل چې څنګه د کودتاچیانو په مقابل کې عکس العمل وښیي. نو ځکه اردو د هر کودتاچي په مقابل کې تسلیم و او د هر حکومت د لاس آله. د خپل ولس په خپلو کې تکړه او د ملي ناموس په ساتلو کې کمزوري. همداراز د ملي اردو عکس العمل د ثور د کودتا په وړاندې د جنرال عمرزي او جنرال نبي عظیمي کتاب کې پوره تشریح شوی دی که څه هم دواړه د پرچم پوري تړلي افراد دي.

## د افغانستان ملي اردو روسانو د پوځي تېري په وړاندې:

په کال ۱۹۷۹ روسانو پر افغانستان څرګند تېری وکړ چې په نتیجه کې جمهور ریس حفیظ الله امین او د هغه د دفاع وزیر او لوی درستیز ووژل شول. په داسې حال کې په کابل کې قوای مرکز. اتم نمبر فرقه. اوم نمبر فرقه، د زره دار څلور او پنځه لسم قواوې ډېرې نورې قواوې موجودې وې، حتی هغه وخت د افغانستان ټول عسکري قطعات په ټولو ولایاتو کې تقریباً سالم پاته وو. یوې عسکري قطعې د خدای او وطن په نامه یوه ډز نه دی کړی. پرته د امین د ګارډ د لږ مقاومت نه. د امین د وژلو عملیات چې د کې. جي. بي. له خوا افشا شوي دي. د الفا آپرېشن په نامه یادېږي. اوس د هغه واقع مستند فلم د روسانو له خوا خپور شوی دی. په دې فلم کې د شرم نه ډکه خبره دا ده چې دا د نړۍ په تاریخ کې د افغانستان اردو یوازینی اردو وه چې له خپلې خاورې یې دفاع نه ده کړې. ځیني صاحب منصبان استدلال کوي چې د امین په وخت کې اکثریت صاحب منصبان کمونست وو. نو ځکه یې له خپلې خاورې نه دفاع نه ده کړې. خو ځینې نور افسران استدلال کوي چې د امین په وخت کې لږ شمېر صاحب منصبان خلقي یا

پرچمي وو. په هر صورت د افغانستان یوې قطعې هم په منظم ډول د روسانو د حملې په وخت کې د افغانستان نه دفاع نه ده کړې. د مثال په توګه ما د یو صاحب منصب نه چې ځان مسلمان او متقي هم بولي پوښتنه وکړه چې تاسې د روسانو د حملې په وخت چېرته وظیفه درلوده؟ ده راته وویل چې زه د ننګرهار د کشف په قطعه کې قوماندان وم. ما وویل تاسې چې پوه شوئ چې کابل د روسانو له خوا اشغال شوی او جمهور رییس او د دفاع وزیر وژل شوي. تاسې د کشف د قواوو د قوماندان په حیث څه عکس العمل ښودلی؟ ده وویل هېڅ. ما وویل چې د ننګرهار په قطعه کې اضطراري حالت اعلان شو؟ ده وویل نه. ما وویل بالاخره تاسو څه وکړل؟ ده وویل هېڅ. موږ باید څه کړي وای؟ ما وویل لکه نورو خلکو چې په کوڅو. کلیو او بانډو کې چې خلک په جنګ او مخالفت او مقاومت پیل وکړ. ما وویل د کابل له نیولو وروسته څو ورځې وروسته روسان ننګرهار ته راغلل؟ ده وویل دولس ورځې وروسته. ما وویل روسانو څه وکړل؟ ده وویل ټولې وسلې یې رانه تسلیم کړې او د ټانکونو ستنې یې وایستلې او نوي قوماندانان یې وټاکل. دا وې زموږ د ملي اردو ملي کارنامې. البته یو شمېر افسران په انفرادي توګه په جهاد کې ګډ شول او خپلې پوځي قطعې یې مجاهدینو ته تسلیمي کړې. خو په مجموعي توګه تعداد د هغوی جهادي قوماندانانو چې د مسلك په لحاظ عسکر نه وو لس چنده د هغو جهادي قوماندانانو نه ډېر وو چې د مسلك په لحاظ د عسکري لوړو زده کړو خاوندانه وو. همدغه اردو د روسانو په څنګ کې د جهاد له لومړۍ ورځې تر پایه پورې د مجاهدینو پر ضد جنګېدلې ده.

## د ملي اردو خاتمه او نتیجه (۱۸۷۹ - ۱۹۹۲):

د افغانستان ملي اردو په حقیقت کې په هره زمانه کې د حاکم حکومت د لاس آله وه خو په واقعیت کې نه پادشاه ته او نه جمهوریت ته او نه ولس ته

وفا داره وه. همدا ناوړه روحیه په اردو کې حاکمه وه چې اردو هېڅ کله په یوه ملي قضیه کې مستقل ملي دریځ نه دی غوره کړی او مثبت رول یې نه دی لوبولی. نو ځکه د کورنیو جګړو په لومړی ورځ له منځه لاړل که څه هم یو شمېر خلك د ملي اردو د منحلېدو مسبب قوماندان مسعود بولي: هو مسعود پرچمي صاحب منصبان او د خاد افراد د نظار شورا ته منتقل کړل او د اردو تشکیلات یې له منځه یوړل. په داسې حال کې چې نور افسران له مخه تبنتېدلي وو. د پاکستان پخوانی صدراعظم نواز شریف هم ادعا کوي چې ده د افغانستان ملي اردو له منځه وړې. خو په واقعیت کې هغه یونیفورم لرونکي وسله وال ډله چې د افغانستان ملي اردو په نامه یادېدله اصلاً ملي اردو نه وه بلکې هغه اردو یو شمېر یونیفورم لرونکي وسله وال کسان وو چې تل د حاکمه نظام په خدمت کې وو. حتی که حاکمان پردي هم وي. هغه اردو چې په هغه کې د ملي مسئوولیت روحیه موجود نه وي او د خطر په ورځ خپلې وظیفې خوشې کړي او خپلو کورو ته روان شي ملي اردو نه بلل کېږي. د جمعي مسئوولیت د روحیې پرځای د فردي مسئوولیت روحیه زموږ په اردو کې حاکمه شوه.

## افغان جهاد او ملي اردو :

د افغانستان اردو د جهاد په دوران کې په عمومي توګه او په منظمه توګه کومه برخه نه ده اخیستې. خو په انفرادي توګه ځنې افسرانو په جهاد کې برخه اخیستې ده. خو برعکس د افغانستان اردو د افغان مجاهدینو په ځپلو کې د روسانو په څنګ کې ستره ونډه اخیستې ده. که څه هم د اردو په تشکیل کې ګڼ شمېر خلقي او پرچمي افرادو ځای نیولی و. دا چې د اردو څخه تبنتېدلي صاحب منصبان ادعا کوي چې د اردو اکثریت افراد خلقي او پرچمي وو. خو د جهاد په صفونو کې هم د عسکري صاحب منصبانو

تعداد ډېر لږ و. دا چې بزګرانو. زده کوونکو. مامورینو. کوچنیانو لپاره ممکن وو چې جهاد وکړي او قوماندانان ځنې جوړ شي. مګر هغه افسرانو لپاره ناممکن و چې د وسله وال جهاد رهبري وکړي او یا وسله وال جهاد رهبري کړي. دا چې د جهاد رهبري ولې د صاحب منصبانو لاس ته نه ده ورغلې یوې علمي څېړنې ته اړتیا لري. دا چې نن قوماندان سالاري په هېواد کې رایج شوې ده. ځکه چې د جهاد رهبري د بې سواد او غیر مسلکي خلکو په لاس ولوېده او د جهاد آرمانونه ناکام شول.

## د افغانستان ملي اردو د کورنیو جګړو او بهرنیو مداخلو په مقابل کې :

په کال ۱۹۹۲ د نجیب د حکومت د ختمېدو سره سمدستي په افغانستان کې کورنۍ جګړې پیل او له روسانو سربېره د ټولو ګاونډیو هېوادونو او نورو وسله والو بهرنیو ډلو لاس وهنې په افغانستان کې پیل شوې چې تر نن پورې دوام لري. مګر ګڼ شمېر افغانان فکر کوي چې که چېرې ملي اردو منځ ته راشي دا شونې برېښي چې په افغانستان کې ملي امنیت ټینګ شي.

## د ملي اردو د جوړېدو اړتیا او ملي ارمان :

د یو هېواد لپاره چې په هغه کې یو دولت واکمن وي دا دولت درې پایې باید ولري چې د ملي دولت په نامه یاد شي. منتخب حکومت. منتخب پارلمان او مستقله قضایه دستګاه. ملي اردو او نورې وسله والې قواوې باید د حکومت، پارلمان او قضایي قواوو ساتندوی وي او د قانون په اساس د حکومت امر ومني. ملي امنیت وساتي. خپلواکي او د خاورې له بشپړتیا نه دفاع وکړي.

ځنګه ملي اردو؟ دا په فزيکي لحاظ ممکنه ده په قومي لحاظ اردو د افغانستان د ټولو اقوامو مجموعه وي. اما نبايد د اردو قومي جوړښت ډېر مشخص او مجزا وي. د کانکور د آزموينې په اساس د اووم او دولسم ټولګي ځوانان د استعداد په اساس په حربي پوهنتون کې جلب شي او سرتېري د مکلفيت په اساس له ټول افغانستان څخه راټول شي.

د بن تړون په اساس بايد يو ځل بيا په افغانستان کې ملي اردو جوړه شي. دا چې په اوسني حالاتو کې د يو ملي مسلکي ځواك نه هېڅ ډول سوله ييز پلان نه بريالي کېږي. د ملي اردو جوړول په اوسنيو حالاتو کې څلورو ستونزو سره مخامخ دی:

۱. د ملي اردو قومي جوړښت. خصوصاً چې د شمال ائتلاف پلويان په هغه باندې ډېر ټينګار کوي. که څه هم د قوميت پر بنسټ اداره جوړول د افغانستان په تاريخ کې سابقه نه لري. له کومه ځايه چې د اوسني وسله وال واکمن کسان د شمال ائتلاف غړي دي چې په هغه کې عمدتاً تاجك. هزاره او ازبك دي او له بده مرغه ګڼ شمېر افراد يې په ملي او بشري جرايمو تورن او يا د بن د تړون په خلاف په کابل کې پاته شوي دي. دا عمل د دې سبب شو چې پښتانه هم د ملي اردو قومي جوړښت ته ژوره پاملرنه وکړي. په عمومي توګه په مشخص ډول اقوام په اردو کې ګډول د افغان ملت د جوړولو تاريخي پروسې ته کلك تاوان رسوي. په کار ده چې د جغرافيايي جوړښت په اساس د افغانستان د ټولو ولاياتو شپږم او دولسم فارغان د کانکور د آزموينې په اساس حربي پوهنتون ته شامل شي او د مکلفيت دوره په بيرته عملي شي.

۲. د ملي اردو سياسي جوړښت: دا هم يو موقتي مسله ده. په اوسنيو حالاتو کې د شمال ائتلاف موقت پوځي محور جوړوي او په هغه کې د جمعيت اسلامي او د نظار شورا واکمنه ډله جوړوي. د دوستم مليشيايي ډله دوهم ستر ځواك او د وحدت دريېم. د تورن اسماعيل خان څلورم او د

حاجي عبدالقدیر پنځم او ګل آغا شیرزی شپږم کتار کې راځي. البته یو شمېر پېژندل شوي پرچمیان په پراخه کچه د نظار د شورا له لارې د موقتې اداري په اردو کې شامل دي. همداراز ګڼ شمېر جهادي او ملیشیایي قوماندانان هم د موقتې اداري د دفاع په وزارت کې او د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې شامل دي چې مسلکاً عسکر نه دي کار کوي. نو ځکه د اردو دا رنګ سیاسي او تشکیلاتي جوړښت باید په راتلونکي ملي اردو کې د ملي ګټې په خاطر منعکس نه شي.

په افغانستان کې باید داسې یوه ملي اردو رامنځته شي چې تېرې ترخې تجربې بیا تکرار نه شي. د افغانستان په دوو سترو تاریخي پېښو کې د افغانستان اردو په لویه کچه برخه درلودې یعنې د داود خان په کودتا کې او د ثور په کودتا کې چې د هغو عواقب تېولو ته جوت دي. دا چې یو شمېر ماسکو پلوه خلقي او پرچمي صاحب منصبانانو په کودتا کې برخه واخیسته یو ځرګند حقیقت دی. خو د نورو عسکري قطعاتو (بې طرفه قطعاتو) بې له قید او شرطه تسلیمېدل کودتاچیانو ته د اوسنی ملي غمیزې بنسټ جوړوي. دا ممکنه ده چې د اردو قومي او منطقوي جوړښت به حل شي او وسلې، پیسې او یونیفورم په ورته تهیه شي. دا چې څنګه ملي روحیه او ملي ګټې د ساتنې د مسئوولیت روحیه په راتلونکې ملي اردو به تلقین شي او څنګه وروزل شي.

د موقتې اداري مشر ښاغلي حامد کرزي د بن د تړون په اساس ژمنه کړې چې د ملي امنیت د تینګولو لپاره یو ځل بیا به ملي اردو جوړه کړي چې په دې لړ کې یې یو شمېر پخواني جنرالان او جنګ سالاران د مارچ په اومه نېټه سره راغونډ کړل ترڅو چې د ملي اردو د جوړولو لپاره ورسره مرسته وکړي. خو جنګ سالارانو ته د راتلونکي ملي اردو قومي او ایتنیکي ستونزمنه لانجه ډېره په زړه پورې ښکاري چې ملي یووالي ته ستر تاوان ګڼل کېږي. د بلې خوا روسانو د شمال ائتلاف په غوښتنه منلي دي چې د افغانستان لپاره به یو ځل بیا صاحب منصبان وروزي. اګر این مکتب است و این ملا کار طفلان هم خراب می بینم.

پوهاند ډاکټر مجاور احمد زيار

# پښتانه دې د خپلو ښېخرته ملي - ديني بنسټپاليو په ګرمانه کې " اپارتايد" ته هم سترګې پر لار اوسي!

دا به زموږ د پښتنو ليکوالو. پوهانو او سياستوالو ځومره لنډ پاري وي چې په هېواد کې اوسنۍ راپېل شوې درېيمه لويه لوبه لنډپرلنډه دلويديزې او شمالي لرې کې تلوالې نندارمه (ډرامه) وبولو او دسپنار يو کښنې پړه يې يوازې اويوازې پرشورويانو او شوروي پلوو "ملحدينو" واچوو او په وړاندې يې دلويديځ او لويديځ پلوو" مجاهدينو" لاسونه په زمرمو پرېمينځو. دهغوی په غندنه او د دوی په ستاينه خولې او قلمونه ستړي کړو. کيسې . داستانونه او پنډپنډ کتابونه خپاره کړو.

زموږ دا يو اړخيزه اولنډپاري ورمند (قضاوت) او ارزونه. نه نياومنه ده اونه سولمنه او منطقيي . نانياومنه په دې چې ورمند او ارزونګ بايد د تولنمنلي دوي ( قانون) او دود له مخې پرتليز ( نسبي) وي . يوه خوا يو مخيزه ګرمول اوبله يو مخيزه سپينول بې پلوي له خرخشې سره مخامخوي او باور وړ نه پرېوځي او ناسوليزه او نامنطقي په دې چې يو خوا د توسن

(علت) له توسنه ستړکې پټوو او بلخوا له کار کړن او کار پايلو څخه . هغې تړلوالې څه کړې او څه پايلې او پېښې يې را منځته کړې او دې بلې څه کړې او څه پايلې او پېښې يې را زېږولې دي. او له دې سره سره دا هم له خپله ځانه وپوښتو چې د نومونړو غبرګوتړلوالو په ورانـدې مونږ څه راز دريځ او چلند درلودلې او هغه يا دامو څومره اوځنګه پر خپله ګټه راڅرخولې او ترهر څه غوره بيا دا چې په دغه اړه موڅومـره سرګرځولې او ددې توسن په لټه کې شوي يو. په مونږ کې څه کم وو چې ناپښتني لړ کې تړلواله راڅخه مخکې شوې او له غبرګې تړلوالو يې له ټول لړ کيوالې سره سره زياته ګټه تر لاسه کړې. يا په بله وينا هم يـې راڅخـه دويمـه لوبـه لويـه پرخپلـه ګټه راڅرخولې او نن سبا داده . دريېمه هم راڅخه بلوسل غواړې!

که مُونږ په ټوله سولواله او رښتينوالـه په خپله ارزونه او شننه کې له پښتني ولولو او ذهنيوالې ، بېځايه ښاخ وغرور او لنډاندې کار وانه خلو. هرو مرو به د اوسنيو انديېښنو او نهيليو له کلابندې ژغورنه ومومو او له لاس تللې واکې بـه د بومې ډېرې (اکـثريت) پـه تـوګه بېرتـه راتيـنګې کـړای شو. ځکه که " بوميوالې مو" د ملې - تاريخې نوم ونښان او اکروکر انکار نه منونکې آر واصـل جوړوي. " ډېرې" مـو د وسمهالې ولسواکې پـه اډانـه کې د برلاسې او مشرتابه لومړی آروآر.

مونږ زده کړه وال. ليکوال. خپرنوال. سياستوال او بيا پوهان که د ټولې پښتني ټولنې يوه خورا کمکوټې سلنه هم جوړوو. خو په ورانـدې يـې ستره پازوالې او مسئووليت لرو. نوکه مونږ پرناسموشننو او ورمندونو ( تحليلونو او قضاوتونو) نوې کتنه او نوې غور ونه کړو. مانا به يې دا وي چې په لوی لاس مـو هم خپـل ځانونـه غولولـې او هم مـو پـه ميلونونـو بې ليـك ولوستـه پرګنې . اورا پېښـه ماتې او نهيلې مو هم ورسره وېشلې دي.

که مونږ پـه ټولـه رښتينوالـه د خپلو بدمرغو او جنګ . جهل او جنايت ځپلو پرګنو د راوېښونې او لارښوونې ننګېرنه کوو او ځانونه يې په ورانـدې پښتانه دي د خپلو بېخرته ملې...

پازوال او ژمن بولو. نو په کار ده . ږومبی یې له خپل ځانه راپیل کړو. خپله لید تو ګه سمه کړو او دا ورته په ویل او کول ورزباته کړو چې موږ رښتیني روښاندان . یا په بله وینا د دوی د سر سترګې یو او د ویښتیا. روښانتیا. اوښتیا او لارښووني جوګه یې یو.

موږ پرون د ټولې افغاني ټولنې دمشر او واکمن ورور په توګه له لومړنۍ لویې لوبې مخسوږ او مخرونۍ راوتي وو. خو په دویمه کې مو نه یوازې مشري او واکمني له لاسه ورکړه چې لاسکتور هم شو.

اوله هغې مو لاملا سمه رانېغه کړې نه وه چې د دریمې له ننګونې (چلنج) سره مخ شو. موږ دویمه په دووغبرګو مورچلو کې په دې بایلله چې په یوه کې مو د "ملی" بنستپالی لار راخپله کړه او په بله کې د "دیني" بنستپالی . سره له دې چې په دواړو کې مود مخکښی "ویاړ" راپه برخه و. هم د مرګ ژوبلې . ورانی تباهی له پلوه او هم دبلهارۍ اوسرښندنې له پلوه.

راته په کار ده . هماغومره چې د پېښو پدیدو په انځورنه او ځیرنه کې هېڅ راز ذهنیوالي. نباځ غرور. پره والي. ورځچارۍ. نمې. ډار... ته ګډون ورنه کړو. یا په لنډه څرګندونه علمي . افاقي اوسو. همدومره په ورځني کړتیز سیاست کې له ټولو انساني چلندونو سره سره تېرېدنې. زغمنې . نرمښتونه او ان چمونه اوسازښتونه هم له یاده ونه کاږو. دا چې ناپښتنو لړکیانو تر ډېري پښتنو زیاتره سیاسي میدان ګټلی. دك ودلیل یې نه یوازې دا وروستی کړنونه او چال چلندونه دي. بلکې ترهر څه له مخه یې د سیاسي پوهې . ویښیارتیا او سمې څېرنې انځورنې وړتیا هم ده. دا به ومنو چې د زده کړه والو د سلنې اندول به یې تر پښتنې دې تېري ونه کړي .خو دخپلو خپلو ژبتوکمیزو ډلو ټپلو په لارښوونه او یو موټي ساتنه او بیا له نورو سره د اړیکو په ټینګونه کې، هغه هم د ډېري پښتنو په وړاندې. له ډېرو ځاني او اندپوهیزو (ایډیالوجیکو) ګټو هم تېرېدای شي او

هغه واتېن او نه پخلا کېدونکې دریځ چې د پښتنو د کینې او ښې. یا په ورځنۍ نومونه "ملحد" او "مجاهد" ترمنځ ټیکاو لري. په هغو کې یا هېڅ نشته او که بیا شته وي، دوخت له غوښتنې سره سم یې یوې خواته پردي.

موږ تر اوسه ډېرلږ په دې سوچ کړی چې لږ کي ډلې هر چېرې همداسې زرنګې وېښیارې او یوموټې وي او له ټولو ربنتو اوغوښتنو له سمبالېدنې سره سره د بومي ډېري په وړاندې یو لاس وخوله او نه پخلا کېدونکې وي؟

له انتي پښتونېزمه تر اپارتایده:

انتي پښتونېزم یا پښتون دښمني چې هم مهال ترې د افغان دښمنۍ توږم هم راپورته کېږي ، له آره دهماغې دښمنۍ ښکارندو يي.کوي چې د وګړنې تاریخ په اوږدو کې یې هر چېرې د لاسلاندې لږکیو له خوا دلاسباندې یا واکمنو ډېریو په وړاندې بېلګې لیدل شوې او لاليدل کېږي. خو که چېرې لکه په سویلي افریقا کې لږ کي لاسباندې شوي او ډېري یې لاسلاندې. نو پایله یې سرچپه شوې او د توکمپالنې تر کړغېړنترین برید "اپارتایده" رسېدلې ده او دادی. نن سبا زموږ په جنګ وجهالت ځپلي هېواد کې د داسې یوې تورې بلا بوږنې د ډېري پښتنو ولسپالو او سیاستوالو زړونو ته پرېوتی دی. هغه هم ښایي په دې دک ودلیل چې اړوند افغاني لږکي یو خوا د افریقایي هغو غوندې د زاړه ښکېلاک پاتې شوني دي او بل خوا ګوري چې د نوي ښکېلاک په پېرکې یې ورځ پر ورځ زیاتېدونکی واک وځواک له ورته سرچینو څخه خړوبېږي. هم یې ناپانګوال "شوروي" زبرځواک مرستې ته رادانګلي وو او هم دادی، یوازې پرمیدان بریالی او سوبمن پاتې پانګواک "امریکا" دا یې دخپلې اړوندې ټلوالې په ملتیا نورې هم متې او ملاوې ورغښتلې کوي او د اړوندو ژبتوکمیزو ګاونډیانو. لا تر هندیانو او روسانو پورې یې خو وارله مخه پټ وښکاره ترشا درېدلي دي!

داهم په زړه پورې ده چې په اوسنۍ شمالي ټلواله کې هماغه درېګونې

انتي پښتو نېستي ژبتوکميزې ډلې رانغښتې دي. چې دوې (تاجيکي او وزبيکي) دا يې لومړی ځل د پښتنو د نږدې ساکي تربرويپتلانو دټولواکمنۍ د شمالي سيمو د بلوسنې لپاره د اوومې زېږدي پېړۍ په وروستيو کې د يوې لنډ مهالې ټلوالې په بڼه دې خاورې ته رانوتې وې او دربيمه "مغولي - هزاره ګي" ډله يې اووه پېړۍ وروسته له خپل چنګېز نېکه سره.

په دې ډول دهېواد شمال د آمو دواړو غاړو ته تر ابدالي پېړه تورکمنايز پاتې شو او تورکستان ونومول شو او لويديزه تراډه پرسنايز شوه او دخراسان په نامه ترهوتکي پېره دپارس يوه برخه وګرځېده چې نن سبا يې له بلخه ترسيستانه يوه نرۍ. هغه هم پرسنايز شوې ريتاړه د ښخوا راپاتې ده او ډېري مېشتو پښتنو يې خپله پښتو زياتره پرپارسۍ اړولې ده. له دغه برخيز ځمکني نيواك سره ټوليز ژبنی زېښناك ترکابله پر مختګ وکړ او هښنده لاداچې مغولي چغتايي تاړاکګرو او نيواکګرو هم چې ترپارس وروسته افغانستان ته پرله پسې راغلل. د خپلو تورکومغولي ژبو پرځای پارسي ژبه رادود کړه او په هندوستان کې خوېښتنو لودي شهانو وارله مخه ور رسمي کړې وه.

په هره توګه له پښتنو سره داوسنۍ درېځنډيزې (مثلثي) ټوالې دهډماتۍ مخينه د اوومې زېږدي (ميلادي) پېړۍ پرشا ځي، خو ډېره د خواشينۍ او هسې ور دا چې د لوی احمدشاه بابا له خوا د وسمهالي افغان دولت سره چې له آره د بې شمېرو خانواکيو اوسيمه واکيو يوه ټلواله (کانفدراسی) ولې وه. هغو ټولو زړو دشمنيواو تربګنيو ته پای ټکی اېښوول شوی و او تر پرونه د نورو کوشنيو بومي لږ کيوغوندې ټولو پارسي او تورك - مغولي ټبرونو له ډېري بومي پښتنو سره يوه يوازينۍ ولسي- دولتي اډانه جوړوله او ګرد سره دافغان په نامه وياړېدل، مګر نن سبا چې تش په نامه پښتني شاهي نظام هم پای ته

رسېدلی. هغو تېرو هېرو دښمنيو ته لمن وهي او داسې انګېرې چې داوسنيو هېواد سراسري ورانيو او بدمرغيو آره همدا بدمرغه ناګټلی مشروزور دی. که هغه يې د دوه نيم سوکلنی واکمنی پېرو. که د امين - تره کي شل مياشتنی واکپېر او را وروسته د طالبانو پنځکلن پېر! بل خوا پردې بيا ځانونه ناکاروي چې د شاهي نظام په رنګونه کې زياترينه ونډه بيا هم د پښتنو وه او دامين- تره کي هغه کې دهمدوی په ګټه شورويانو نقش ولوباوه او ورپسې د ډاکټر نجيب الله شپږ کلن واکپېر خو بيا هم د لنډاندو پښتنو د لنډپاری له لامله زيات د همدوی په ګټه راوځرخېد او په پای کې همدوی له هماغې بدنامې کارملې ډلې تپلې سره د ناسپېځلې تلوالې په رامنځته کولو همغه ستره سياسي ګرکه په دې ناره (شعار) راوپرځوله چې د پښتنو د دوه نيم سوه کلنې واکمنی وروستنی استازي و!

لومړی اسلامي حکومت هم همدغې ناسپېځلې تلوالې دنجيب- ښېنن سوان د سوله ييز ځواك لېږد پلان په بيه رامنځته کړ او په څلورکلنې زور واکی او اپارتايد وزمه چال چلند يې دومره ناخوالې او بخولې پرهېواد او هېوادوالو راوتپلې چې لويديز ياران يې هم له ځانه بېزاره کړل او هغوی يې هم طالبان ځايناستي کړل او دادی داخل يې د هغو په سيده پوځي لاسوهنه تر تو يې اېستنې وروسته بيا هم د واك وځواك پرګدۍ کښېناستل. که څه هم داخل يې ملونې د يوه پخواني مجاهد پلوه ولسپال پښتانه پرلاس ورکړه او د يونيم وزير په ګډون يې د سويل - ختيځ ولايتونه زياتره د همدوی له پخوانيو لاسکتوو پښتنو مجاهدينو سره ووېشل او چې څوك يې نه خوښېدل. هغه يې په سپوږمکيزو تيلفونو امريکايي پېلوټانو ته په ګوته کړل. په خپلو اړوندو واکسيمو کې يې د پښتنو لړ کيوپه وړاندې هماغه پرونی نژادي اوژبنی سياست بېرته راتاند کړی او داخل يې د طالبانو او القاعده وو په پلمه نړيواله قانون بنه ورکړي ده:

د بون په غونډه کې يا راوروسته د سولې سې يوځ په اړه چنب وهنې يې



پښتانه دي د خپلو بېخرته ملي...

هم د همداسې خپلسریو او نژادي ګټو ښکارندویه وې او ورسره ورسره په دې شوم نیت وکاته چې تراوسې وسې اوسنی لنډ مهال واکپېر د مخکیني ازمېښت له مخې پراوړدمهال پېربدل کړي اویا لږ ترلږه راتلونکي بهړنی لویه جرګه له اړوند منځمهال واکپېر سره که سبوتاژ نه شي کړای. پرخپله ګټه خو یې راوڅرخوي.

دا د بن لادن په مشرۍ د اړوندې ترهګرې ډلې او سختچارو. ډېر پېرو پښتنو طالبانو او نورو بهرنیو بنسټپالو او بیا پرنیویارك او واشنګټن باندې بېساري ځانمرګي کوزارونه وو چې شمالي ټلواله یې له اړین (حتمي) سیاسي مرګه راوژغورله. که نه دایې په خوب کې هم نه لیدله چې سپکتاریستي بېرغ یې پرجمهوري ماڼۍ یوځل بیا وریږي او اخواني - ستمي سروال یې پکې بیا استوګن شي! له دې ګردو رواوو اونارو او و سیاسي او اقتصادي ښمرو او ښېګڼو دغې ټلوالې دابرۍ اوبریا هم لاسته راوړل چې په مخني څلورکلن واکپېرکې یې له لاژوردو او زمـردو نیولې تربانکي پشتوانو، موزیمونو او نوروملي اوتاریخي شتمنیو دچورچپاول او پښتون وژنې او نورو تېلوژنـو. ورانیـو او تباهیو کې ککـړه لاسونه هم پرطالبانو اونورو اړوندانو یې پاك کړي. دوی د لویدیزو خبریالانو لـه اشواګریو او د نړیوالې ښښنې د سازمان دریکارډونو پروا هم نه کوي، ځکه غونډې ټلوالې یې پرې وازره را خپاره کړي او ترڅو پورې یې دغه سیورۍ له سره لیرې شوی نه وي. نه دچاله غچه وېرېږي او نه له قانوني سپیناوي یا حساب کتابه. پـه تېره یې د تورك - مغولي ټلوالـو هغـه ناخوالې، بخولې او تېلوژنې چې په لویدیز کابل کې یې د "سیاف خېلو" او په مزار او جوزجان کې یې دطالبانو په پلمه پرېېګناهو پښتنو تر سره کړې. ته وا پنځه سوه کلنه زړه "مغولواله" یې پرې یوځل بیا وازمایله!

مغولي ډلګۍ یې دا پلمه هم کوي چې امیر عبدالرحمان نیکونه وروژلي او پښتانه باید دغه پور پرې کړي. دا چې د دوی حنګـزر او هلاکـو د

پښتنو نيکونه څومره وژلي. ځانونه ناکاره اچوي. له ګوډ تېمور او بابره نيولې تر الغ بېګ اکبر او اورنګه پورې يې ددغو نورو تربرو نو پښتني ضد ناخوالې او ناتارونه لاڅه کړې. څه کړي.

اخواني - سيتمي تاجيکي ټلوال يې خو بيا يوازې امير عبدالرحمان نه چې. له احمد شاه تر ظاهرشاه يو مخيز دخپلو نيکونو. پلرونو او ځور وزېښناك مرګ وژوبلو پوروړي بولي او دټولو تورونو او توراوو په سر کې يې د ځمکسمون (ارضي اصلاحاتو) تر تګلارې لاندې شمال ته د پښتنو بېدونه د پزې پېزوان کوي. بې له دې چې پرتاريخي او ملي واقعيتونو سر وګرځوي . چې ترتورکمنازېشن څخه له مخه دګردې منځنۍ اسيا په کډون دغه شمالي لتې دپښتنو ساکانو دواك وځواك. ياپه بله وينا ژوند وژواك اوېجه وه هغه مهال لانه تورك ومغول له التايي غرونو دېخواراوښتي وو او نه د کډوالو تاجيکو نيکونه له پارسه تر امو غاړې او بيادې غاړې ته بلکې متې د اسلام په درشل کې رالېږدېدلي او دغلته يې ترخراساني پارسيوانانو مخينه ډېره راوروسته ده. په ځانګړي ډول د "ستم ملي" بنسټوال يې زياتره د اکتوبر انقلاب شړوني او تښتېدوني دي.

په هره توګه که دغه ناسپېڅلي "شمالي ټلواله" له دومره ناسپېڅلو بخولو، کړووړو او نيت ونمات سره سره د لويديځوالو له خوا همداسې نازلو بولي پاتې شي. يرې نه ده چې اوږدمهالی انتې پشتونيزم د اپارتايد تر بريده ورسوي. خو له ښه مرغه د تېرستمبر ديوولسمې بوږنوړې بخولې د ځمکې پرمخ يوازينی ځښتن نور دې ترخې پايلې ته رارسولی چې د خپل سيال تر راپرځونې وروسته يې "سياسي اسلام" نور له ګټو سره جورجاړی او سمون نه لري. هم يې نور منځنی ختيځ د له منځه تګ له ډار سره مخ دی او هم يې دمنځنی اسيا نوي پلانونه او دېته اړوتی چې په دغه سياسي اسلام ځپلي هېواد کې يې دپانګوالي ديموکراسی پرته بله "کراسي" په درد نه لګي او دا په دې مانا چې پښتانه به بيا هم د طبيعي ډېري (نه کاغذي

پښتانه دي د خپلو ښخرته ملي...

ډېرې) په توګه د واك وځواك په سر کې ټيکاو مومي.

نوي ښکيلاك او زيبښناك هم د زاړه هغه په توپير نور د يوه هېواد پر لښ کيو ډډه نه شي لګولای. همد خبره وه چې شمالي تلواله يې له ټولو سياسي اقتصادي نازلوبونو سره سره دېته اړ ايسته چې ښاغلی کرزی د ړومبی لنډمهالې واکمنۍ د مشر په توګه ومني او د دويمې منځمهالې واکمنۍ لپاره پخواني پادشاه ته دېېړنۍ لويې جرګې د سروالۍ وياړ ورپه برخه کړي.

## بيا هم د پښتنو ټکني دريځونه:

دتېر اکتوبر له اوومې راهيسې چې امريکا د ورتېرې مياشتې د يوولسمې د زړه بوږنوونکې بخولې د سيکندې (تلافی) په موخه دسختچارو طالبانو او اسامه بن لادن او اړوندې نړيوالې ترهګرې ډلې په لټه او اخېسته (تعقيب) کې زموږ د جنګ او جهل ځپلی هېواد او هېواد وال او په ځانګړې ډول د سوېل او بيا سوېل ختيځ سيمې له بېګناهو استوګنو سره تربېلوروبې امانه ګوزارونو لاندې نيولې او دادی. په څلورو مياشتو کې يې د نيويارك او واشنګټن د مړو ژوبلو ترپوره هم وراړولې ده. لويديځ مېشتي ډېرې پښتانه ليکوال. ژورناليستان او سياستوال د مړې خېتې پارسي وايي اواړو پېچ (ضد ونقيض) دريځونه څرګندوي. يو وايي يا ليکي چې امريکا يا نورلويديځوال څه حق لري چې زموږ پرخاوره تېری کوي او ديوه عربي ترهګر په سر دطالبانو ربښتينی اسلامي حکومت له منځه وړي. بل يې د قانونپوه په توګه په دې ردوي چې ولې يې دغه کار د ملګروملتو په چوکاټ کې نه کاوه. دريم بيا پر يرغلګرو خپل ناز پلورې چې ښه يې وکړل. دافغانانو او بيا پښتنو له تندې يې دا تور داغ ليرې کړ. خو چې له وچو سره يې لاندې يوځای نه سېزلای او دشمالي تلوالې په نغوته

يې دا ړانده ګوزارونه نه کولای. پروني مجاهدين يو بل ته قهر وړي چې ولې يې دهماغې تېرې څلورکلنې اسلامي واکمنۍ په څېر هرڅوك په خپله خپله اړونده سيمه کې اولدار نه کړ. بنسټپال يا اخواني هغه يې خو په تولنه رياکارانه توګه دغه پوځي تېرى ګرد سره غندلي او د روسانو له هغه سره يې پرتله کوي. پخواني کمونېستان هم پردوو ډلو وېشل شوي. يوه يې ښکاره تېرى بولي او د دولتي يا نړېوال تروريزم نوم ورکوي او ورسره ورسره د امريکا او نورو پانګواکو (سرمايه سالارانو) پر ضد تروريستي مذهبي جنګ جګړه هم په دې غندي او بې پايلې يې بولي چې دپاړکيزې (طبقاتي) جنګ جګړې ځای نيولای نه شي. منځلاري هغه يې چې د ډاکتر نجيب الله " وطن ګوند" له سره بېرته رارغولی دی. دغه پوځي لاسوهنه يوازې له تاکتيکي پلوه په ښه شګوم نيسي او ورسره ترلې پرمختياوې لږ تر لږه د امريکايي ډوله ولسواکۍ د رامنځته کولو لپاره غنيمت ګڼي.

وسپال يا ناسوناليستان پښتانه هم پردوو ډلو وېشل شوي. سازماني تولنواك ولسواك يا " افغان ملتيان" چې مشرتابه يې د بون په غونډه کې هم د ګډون ربنته ترلاسه کړې وه او دروښانه لرليد او راتلونکې په هيله يې په اوسنۍ لنډمهال اواکپېر کې له ګډونه ډډه وکړه. دغه پوځي لاسوهنه د ځان اوملت په ګټه بولي اوناسازماني تنګ نظر يا څېرمه ډلې تپلې يې بيا چې دکابل له " بارانه" د پاکستان " ناوې" ته تښتېدلې وو او د" آی ايس آی" تر چتر لاندې يې له اخواني ليډرانو سره د "ملې" نه. بلکې نړه سياسي - اسلامي جهاد په ساړه " تبليغاتي" سنګر کې کارنده ونډه اخيستې وه. زياتره اوسنۍ امريکايي پوځي لاسوهنه او رامنځته کړی لنډ مهال حکومت ردوي اوغندي او ترهرڅه له مخه يې پښتني ضد کړن بولي . هغه هم په دې لاسوند چې هر څه " دستمي تلوالې" پرګټو راڅرخي. ان تردې چې محمد ظاهرشاه هم د ښاغلي کرزي غوندې دهغې لاسکتوی ګڼي. له دغو" جهادي" ناسيوناليتانو څخه يوازې هماغه يو وړنده غبرګون څرګندوي چې يونيم



پښتانه دې د خپلو بېخرته ملي...

انډيوال يې يا د "روم" او يا "پېښور" د ونډوله مخې په لنډمهالپېر کې د پوړۍ خاوند شوی او د راتلونکې لپاره يې ورپورې هيلې تړلې دي.

## پايلنيوى (نتيجه ګيري):

دا چې پښتنو تر اوسه ځومره طلايي چانسونه په لوی لاس له لاسه ورکړي او په ځانګړي ډول يې په تېرو غبرګو(انقلابي اوجهادي) مورچلو کې په بې کچه او بېخرته بنسټپالو ملي او اسلامي تګلارو او هوډيالو دريځونو د نورو کورنيو او بهرنيو دښمنانو پر ژرندو اوبه خوشې کړې. دچا خبره توري للاو هلې او مړۍ عبدالله. خو بيا هم ګرد سره لا اوبه تر ورخه تېرې نه دي او اوس هم لا د پتې سر دی، نو بايد له بده يې بتر ته ونه رسوي اولاس پرکار شي او په تېروبايلنو پسې هسې بېځايه سر ونه ګرځوي. بلکې په خپله ګرمانه کې يې وشمېري.

اوس هم بايد د سترځمکني خدای او نورو وړو خدايانو دا وروستی پېرزوينه او لورېينه غنميت وګڼي او په منفي دريځونو او غبرګونونو يې نور له ځانه بېزاره نه کړي. اوس يې هم کوروداں چې همدومره وايي "نور به افغانان پر وچ ډاګ نه پرېږدو او نه به يې هېروو!" که شمالي لړ کې تلوالـه هـر ځومـره وګړشـمېره (احصائيـه نفـوس) درغـل کـړي اوپـه ملګروملتوکې يې تش په نامه استازی. پښتانه هم يو ورتـه لړ کی وښيي، له ايرانيانو پرته پرې نوره نـړۍ باور نـه کوي او پـه دې لړ کې دامريکا پـه مشرۍ اوسنۍ تلواله پښتون دافغان دويم نوم ګڼي او دټولمنلي بومي ډېري په توګه ورته د " افغانستان" له نامه سره تړاو ورکوي. دا چې شورويانو پـه خپل پوځي ځواك ناپښتنو انقلابيانوته واکي پرلاس ورکړې وې. لکه چې له مخه ورته نغوته وشوه. دملي بنسټپال امين ناخوالو له تېسه وه. که نه ولې به يې بېرته پښتانه انقلابي " نجيب الله" ته مخه کوله. که څه هم ډېر ناوخته شوی و.

پر افغانستان باندې د امريکا دهوايي يرغلو په هماغه لومړيو کې د

انګلستان سر وزیر تردې شعار لاندې چې د امریکا او نورو تلوالو دغه
پوځي لاسوهنه نه د اسلام پر ضد ده .نه دافغانانو او بیا پښتنو پرضد، دوه
ځلې د بي بي سي پښتو خپروني له ویاندانو سره مرکه وکړه. امریکا بیا په
کړن کې دورته زبات پخلی وکړ. یو خوا یې داروانښاد عبدالحق ملا وتړله
او بل خوا یې د ښاغلي حامد کرزي او دا چې لومړني د کابل ښار د زرګونو
بلهاریانو پور پرې کړ. نو دا بل منځلاری پښتون یې راتیننګ کړ او په ترڅ
کې یې پخوانی بادشاه د دویمې منځمهالې واکمنۍ د پرانېستونکې لویې
جرګې سروالۍ ته راوهڅاوه. همدارنګه یې دهېواد مشر د سلاکار زلمي
خلیل زاد تر څنګه یو بل پوخ سیاستپوه پښتون ډاکتر اشرف غني احمدزی
سم له سمونې افغانستان ته واستاوه او تر کوم ځایه چې څرګنده شوې ده،
کوم ولایتي اندېول چې په سوېل او سوېل ختیځ کې له شمال اولویدیځ هغه
سره د پخوانیو منځلارو مجاهدینو او تېرنیو مشرانو مخورو د واکمنو
جرګو یا شوراوو له لارې رامنځته شو، د همدغه پوهاند له نوښتګرانه هڅو
اولارښوونو څخه شمېرل کېږي، که نه له امریکا سره له شمالي وسله والو
پرته بل بلونج (الترناتیف) نه و چې توده پرتوده یې پرتول هېواد واکمن کړې
او خبره یې اپارتاید ته نوره هم ورنژدې کړې وای. دهمده هلې ځلې وې چې
خپل احمدزی تربور ډاکتر نجیب الله یې دیوه بلونج په توګه پرزبرځواك
ځلورکاله دستمي - اخوانی له ګوزاره خوندي وساته، ترڅو چې د "سیا"
دوزخي څرکښي سامان اولنډاندوسیاستوالو یې طالبي بلونج ورپیدا کړ او
هغه بې بډه او بدیله انسان یې هم لاسوپښې تړلی وروسپاره چې ددې
جوګه و، تر امیر امان الله راوروسته د پښتني لیډرشپ تشه ډکه کړای
شي، هغه د تېرو غبرګو اوربتیو لکه پولاد مخسور راوتی و او په توله مانا
یې د یوه تولمنلي افغان او بیا ښتنانه په توګه هبراد او هېوادوال د سرو
سکروټو او تورو ایرو له خوګلنه راهسکولای شول او ترهر څه له مخه یې
دوروستیو یوولسو کلنو بخولو او ناخوالو مخه لکه څنګه یې چې پخپله



پښتانه دې د خپلو بېخرته ملي...

مخکې له مخکې دهغو اټکل او ګوابښ دافغان ولس او نړیوالو غوږ ته رسولی و او په ترڅ کې یې پخواني باداشاه ته پلاوي د ننواتو په توګه وراستولي وو چې ټول دولتي او حکومتي واك او ځواك وروسپاري او په دې ډول دمنځته راتلونکې ځواك تشې مخنیوی وشي او کله چې تر نړیوال فشار او تینګار لاندې له دولتي دندو ګوښه کېدوته اړایستل شو، د کمونیستي- اخواني- ستمي- کودتا په درشل کې یې پرحکمتیار هم غاړه خلاصه کړه، خو ده هم دپادشاه غوندې د ځمکني خدای له وېرې دهو ځواب ورنه کړ او تیاره مړې هم د شمالي ټلوالې خولې ته ورغله.

اوس چې د هماغه ځمکني خدای په لوربینه پخواني منځلارې پښتون مجاهد ښاغلی کرزی د لنډ مهالې واکمنۍ دسروالې ویاړ ترلاسه کړ او پخواني پادشاه د ورپسې بېړنۍ لویې جرګې دمشرتابه ویاړ، نو دا به د پښتنو څومره بدمرغي او ناغېړي وي چې بیا هم له دغې وروستنۍ لور بیني ګټه وانه خلي. که پر نجیب یې د "کې جي بې" ټاپه لګوله. پردوی د "سي آی ای" ټاپه ولګوي اوپادشاه لابیا په دې ناپښتون وګڼي چې په پښتو نه پوهېږي او دناپښتنو تر اغېز لاندې دی او که له انګروزو او انګازو سره سم یو اروپايي ډوله سېمبولیك شاهي نظام ورسره لویه جرګه ومني. بیا به هم ډېر لنډاندي. هغه هم لویدیځ مېشتي پښتانه لیکوال اوسیاستوال هماغه زړه ببولاله راغبرګوي اوبیا به هم د پښتون دښمنۍ او اپارتاید زهرژلې اندېښني خپروي!

پاتې شوه. د امریکا د پوځي ټېري ربړه چې له شوروي هغه سره پرتله کېږي چې هماغسې بلوسګرانه او نیواکګرانه بڼه لري . دا به پرځای پرېږدو چې شوروي هغه لږ ترلږه له افغانستان سره د امنیتي تړون له مخې دامین په انکارنه منونکې غوښتنه او ورسره ورسره دیوه کډ څلورکسیز خلقي - پرچمي پلاوي په بلنه ترسره شوی وا و کارمل یې هسې ملګرتیا کړې وه. مګر امریکا لکه د ویتنام. عراق. سومالیا... بې له کوم تړون یا



پښتنو قبیلویت پرېږدئ...!

دملګروملتو د کوم توك مادي له مخې تش د ترهګرو دځالې په پلمه افغانستان تر پوځي يرغل لاندې ونيو. خو دا چې ددغې ځالې په نړونه کې ددغه هېواد او استوګنو ژغور اوبيارغاونه هم نغښتي او دچا خبره خپل را تپلې ډېرپېري ترهګر يې ببرته زموږ له سره کم کړل، بيا هم غنيمت شو. که نه پخپله افغانان يې هېڅکله د ورکاوي جوګه کېدای نه شول، دا رياکارانه پخوانی افغان ملتي ببولاله له هماغو لومړيو څخه بې سروبوله وه چې نه روس. نه امريکا او نه چين... اوس خو همدايو پانګواك زبرځواك دنړۍ پرمخ راپاتې دی. که وغواړو. ونه غواړو. د ټولو نړيوالو او په دې لړ کې زموږ دمرګ و ژوند برخليك د همدغه ځمکني بادار په لاس کې دی. نوولې هسې ځان او جنګ وجهل ولوړې ځپلې ولس وغولوو!

دا ناخوالې چې ولې له وچو سره لانده هم سوځوي او زرګونه بېګناه خلك او هغه هم زياتره پښتانه د امريکايي ړندو هوايي او ځمکنيو بريدونو بلهارئې کېږي، يوازې زموږ نه بلکې د ټولې نړۍ اندېښنی او ولولې يې راپارولې دي، ان ترې چې د نيويارك د بلهاريانو کورنيو دمرستې اوخوږۍ لاسونه وروغځول. که پخپله امريکايي دولت په بېړنيو انساني او اقتصادي مرستو کې ترنورو وروسته دی او پلمه يې هم روان پوځي ګوزارونه دي چې ورځني لګښت يې تر دېرشو ميلونو ډالرو تېرې کوي. او په ترڅ کې يې پاکستان ته پر طالبانو کړې تاوان او اوسنی تاجيي هم سوونو ميلونو ته رسي. نورشاوخوا هېوادونه خو لا څه کوې.

خو هيله ده. دخپلو بې کچه تاکتيکي اوستراتېژيکي لېوالتيا وو او ورسره تړلې پانګوانې او مادي - تخنيکي مرستې يې په سيده ډول يا دنورو پانګواکي تپلوالو له لارې افغان ولس ورو ورو د پېريو پېريو له درانه خوبه راويښ کړي او دخپلې خوښې او ځان بسيايني پرلوري يې ګامونه چټك کاندي. بيايې خوښه چې کومه ژوند توګه او روده لاره پسې اخلي.

## دسېکولرېزم (ازاد دینی) اندېښنې:

یو شمېر لنډاندي لیکوال اوسیاستوال چې د سختچارو سیاسي اسلامتانو په لاروی، داتلونکي امرلې ولسواکی. د یو رغنده توك سېکولرېزم اندېښنې انګروزوي او د ډېکشنریو له مخې یې "بېدیني" مانا کوي. هم بې سروپوله دي. سېکولریزم په کړن او دود کې د دینواکی، یاتیوکراسی په وړاندې تیکاولري .چې دمجاهدینو او بیا په بشپړډول دطالبانو سختچارې واکمني یې یوه بېلګه وه. ایران، سوډان، عربستان... یې هم تر ډېرې کچې ښکارندویي کوي، حقوقي، جزایي، فرهنګي او داسې نورې چارې له خپل خپل مانا کړي اسلامي شریعت سره سمې پرمخ وړې. ګروه پلټیون یا تفتیش عقاید د "امربالمعروف اونهی عن المنکر" په چوکاټ کې ترسره کوي زیاتره پر ښوونه روزنه، خپرنیو او رسنیو یو لړ بندیزونه لګوي. په تېره دښځمنو نومهالې زده کړې او ټولنیزې ، اقتصادي او فرهنګي کار او بوختیا ته زړه نه ښه کوي او په ټولیز ډول له نومهالو پدیدو او څیزونو یا په لنډ ډول له ساینس او تیکنالوجېسره رخه سیخه لري.

دسېکولرېزم جاج او مفهوم "بېدیني" نه، بلکې "ازاد دیني" ده چې څین یې "پرمذهب نه ولاړ سیاست یا سیاسي تګلار" نوموي. دا تګلار دهر راز ولسواکه (دېموکراتیکو) دولتونو د ټولنیز سیاست Sociopoletics یو رغنده توك (متشکله جزء) ګڼل کېږي. په داسې ټولنو کې هرڅه له نومهالي (مدني) قانون سره سم ترسره کېږي، په بله وینا دین له سیاسي او ساسته جلا ساتل کېږي. اسلام د ډېرو لاسوندوله مخې په آر ډول یو سېکولردین بلل شوی او هغه دا چې ان د حضرت پېغمبر پروخت دیهودو، نصارا او نورو په وړاندې له زغمه کار اخیست کېده او چېنه مسلمانېدل او د مسلمانانو پر ضد یې سرغړاوی یا پاڅون نه کاوه. په زور وجبر اسلام ته نه

اړ ېستل کېدل او دمسلمانانو په منځ کې ژوند وژواك ازاد او خوندي و او خپل ديني دود ودستور يې پرځاى کول .د اسلامي ګروهې دخپراوۍ من لاړ هم لاړښوونه او تبليغ و اود " ماعلينا الالبلاغ" تر بريده نه اوښت د "لکم دينکم اولی دين" مانا او جاج هم دا و چې هر څوك پوه شه. دين او ګروهه يې!

د زده کړې او ښوونې اسلامي آر يوازې دينپوهنه او ديني سکالووې نه. بلکې دهغه مهال په نومونه پر منقولو (شرعي پوهنو) سربېره معقولې هغه هم اړينې بلل کېدې، بې له دې چې د پوهې او ګروهې ترمنځ تکرته ارزښت ورکړشي." العلم علمان، علم الاديان والعلم الابدان" په همدې مخه ويل شوې. يا اطلو بوالعلم ولوکان فی العين او بيا هم پرنرو او ښځو يو راز د پوهې او زده کړې تينګار کېده او دټولو لاسوندونو په پای کې دا نبوی سپارښتنه چې د قرآن اوحديث ترڅنګه دې اجماع وقياس او بيا اجتهاد ته هم په شريعت کې ځای ورکړ شي. داسلام د سپېڅلي دين د خوځون (ډينامېزم) او بدلون يا سمون (رېفورم) ځلندوی بلل کېږي .مانا دا چې د مهال او چاپېريال له اړتيا وو او آړونو(شرايطو) سره سم په لومړيو دوو ښنستېزو احکامو کې د دينښووانو د پرېکړو له مخې بدلون او سمون راتلای شي.

له بده مرغه چې دشلمې زېږدي پېړۍ له پيله راهيسې چې د "سياسي اسلام" ښنسټ اېښودل شوی . له شريعته دوه وروستني توکه ګرد سره له پامه غورځول شوي او وهابيانو خوله دوو بنيادي توکو څخه يو دا "حديث" هم پسې راکم کړی دی. داجتهاد يا سمون (رېفورم) آرخه ناخه شيعه وو راتينګ کړی او په ايران کې يې همدا نن سبا ډېرې ښېلګې ليدل کېږي، په تېره دښځو د ښوونيزو، فرهنګي او ټولنيزو ازاديو په برخه کې . ان تردې چې ورزشي لوبډلې يې رامنځته شوي او دلوبغاړو په توګه په فېلمو اوننداړو کې هم برخه اخلي. هرګوره اسلامي پوښلتيا يې په پام کې نيولې ښنتانه دې د خپلو ښېخرته ملي...

او دملایانو په نومونه "وجهین. یدین او قدمین" نه پتېوي او داچې د حضرت پیغمبر ﷺ پروخت ښځمنو په غزاوو کې د خوریانو (نرسانو) په توګه د نارینه ټپیانو درملنه اولاسنیونه کوله. نو دقیاس له مخې خو باید نن سبا ورته د مخلوقې لاځه چې د سرلو څې اجازه هم ورکړشي. لکه څنګه چې کلیوالې مېرمنې د کرکیلي. لو او لور اوان په کور کې دسختو کارونو پر وخت خپل تیکرې ملاوستنې کوي ان دطالبانو "قلم دین خان" هم ونه شو کړای . دښاریانو غونډې پرهغوی هم څادرې پرسرکړي. یا یې دلاسو وپښو ګوتې ورقلم کړي. تر اسلامي – ستمې واکمنۍ له مخه نه یوازې حکومتونه. بلکې ټول افغانان سېکولربلل کېدل او دا ورته همېشه تلقین شوې وه. چې په اسلام کې حرج نشته او د اړتیا پروخت ورته تر نمانځه او روژې پورې خدای وربښي. په دې توګه کوم سېکولرېزم به چې په راتلونکي امرلې ولسواک (دېموکرات) دولت کې یې دلویدیځوالو له خوا تینګار کېږي. له آره د هماغه مخکینې شاهي او جمهورې پېر پایونه وي.

ګوره بېخې نومهالې رسمي بڼه یې دتورکیې او هندو بنګله دېش ترهغه تېرې نه کوي. داسلام خپراوي‌ش هم ددغه انساني دین ددینامېزم او اداپتېشن زېږنده بلل کېږي. دا چې وایي افغانانو یا پښتنو نیم قرآن منلی مانا یې دا چې هغه یې له خپل دود ودستور. کولتور او ژوند توګې سره را پخلا کړي او له ټولې مسلمانۍ سره سره یې خپل ملې. تاریخي اکروکر هم له لاسه نه دي ورکړي. حال دا چې طالبانو او نورو بنسټپالو له دغه راز راخپلونې او پخلاینې سره بدوالی او مخ لفت ښوولی او په دغه لړکې یې د موزیمو او بودا پژیو په ګډون ټول تاریخي اثار انګړه دنګړه کړل. په ځانګړې ډول هزاره وو او تاجیکو بیا په دې انګېزه چې د مهاجرو په توګه یې په خپلو تاریخي اوملي ویاړونو کې نه شمېرل.

په اسلام کې پر" حق العبد" او "نفع الناس" دومره ټینګار شوی . چې د خدای عبادت د مخلوق دخدمت په وړاندې وسیله برېښي. د ښتینې

اسلام او اوسنی سیاسي اسلام ترمنځ توپیر له همدې سرچینه اخلي. چې د "خدمت" پرځای ټول زور پر" عبادت" اچوي.

د بشري حقوقو جهاني منشور یا اعلامیه چې سیاسي اسلامپالو او بنسټپالو تر پښو لاندې کړي، له خدايي اونبوي لارښوونو سره پوره سمون لري او سېکولریزم یې هم پخلی کوي. که په دولتي کچ سېکولریزم د دېموکراسۍ رومبۍ آرکښل کیږي، په یو ګړیز (فردي) توګه سېکولریزم د روښاندۍ لومړی آر (شرط) شمېرل کېږي. دوې نورې ځانګړتیاوې یې دا چې یو روښاند بایه د یو ټولنیز کره کتونکی او ګوتینوونکی اوسی اوبیا دزمان له رغنده بهیر سره همیونی وي. چې زموږ لنډانده لیکوال اوسیاستوال له دغه دروګونو آرونو او آړونو سترګې پټوي اولا د روښاندۍ enlightenment ضد یې بولي.

داسې هم نه ده چې افغاني سېکولریزم یا ازاد دیني دې کټ مټ له لویدیزو بېلګو سره اړخ ولګوي. بلکې د پخوا په څېر به له ربښتینو اسلامي اوافغاني ارزښتونو او کولتور سره اخښلی رااخښلی او په دوستي او فردي کچه به پکې هم ټول منلي ملي او دیني ارزښتونه رانغښتي وي. دغه ارزښتونه له آره په هغو ارزښتونو کې راځي، چې د ټول ختیځ اوبیا اسلامي ختېح په اډانه کې دافغانې ټولنې د ژوند وژواك مانیز اړخ جوړوي او لویدیځ ترې بې برخې دې او که څه څرك یې پکې لګېږي، هغه به هم له همدې ختیزې نړۍ آره اومنشاء اخېستې وي.

داڅرګنده ده چې په پښتني اوټول افغاني ملي - اسلامي ژوند وژواك کې ډېرې کړنې انګېرنې او بدګنې (خرافات) هم رانوتي او زموږ له ربښتینو مانیزو ارزښتونو سره را اخښل شوي دي، نو له نومهالي نړیوال سیاسي فرهنګ اوپه دې لړکې سېکولریزم سره به ورو ورو سوانېږي او چڅلېږي، لکه واخلي د واده یولړ ناوړه دودونه. دستورونه چې ترهر څه له مخه له اسلامي لارښوونو سره ټکر کوي ،د بېلګې په توګه" مهر" پرملاماتوونکي پښتانه دې د خپلو ښځو ته ملي...

ولور اوښتی او د زور ودونو ډېرې ناخوالې رامنځته کړې دي. ډېرښځمني (تعدد زوجات) نور نه له اسلامي آړونو (شرايطو) سره سمون خوړلای شي او نه زموږ له ملي او نومهالي نړيوال ژوند وژواك سره. نو په دې توګه که راتلونکي ولسواك او بيا سېکولر حکومتونه يې نوره مخه ونيسي ، په هېڅ ډول زموږ ياد شويو مانيزو ارزښتونو ته کوم زيان او وته نه شي وراړولای.

له سياسي اسلامېزمه راتوکېدلي ولس دښمني تش په نامه جنګيالي "مجاهدين" دې هم پردې خوښ نه اوسي چې په اوسني شپړمياشتني لنډمهال واکپېرکې پرې لويديز پانګواك يوځل بيا را ولوړېدل او بيا د توپك او پاټك ښنتنان شول. بيا به وسلې او پيسې ولجه کوي او دهېواد او هېوادوالو په شتمنيو به خورجينونه ډکوي. له دې سره دې زموږ لنډاندي ليکوال او سياستوال هم نور ډاډه اوسي چې په ځانخبرې او ناخبرې توګه به ملي خپروونکې زهرژلې اندېښنې او نهيلي کوم ځای ونه نيسي او دشمالي لړ کې تېلوالې اوسنۍ ناخوالې او غچ اخېستنې به هم همداسې تلپاتې نه وي!

هو، باور دی چې افغان ولس او بيا د پېريو له درانه خوبه راويښېدونکي پښتانه نور لاس له پښو ختانه کړي او درېيمه لويه لويه په غړو لوسترګو ونه بايلي!

# د یوه اتل ولس غم لړلی برخلیک

"مهابارت" د لرغوني هندوستان یعني بهارت ستر کرکېښ لیکونکی (مورخ) سید یاس د نن نه دوه درې زره کاله مخکې هغه مهال چې سانسکرت ژبه یوه پرمختللې حاکمه ژبه پېژندل کېدله لیکلی بشپړ تاریخ، مذهبي او ټولنیز سند دی. په دې غټ او ارزښتناك تاریخ کتاب کې، د بهارت له بریدونو وتلې سیمې چې په ټولنیز (مجموعي) ډول یې یو جلا هېواد تمثیلاوه او جلا خلك ورکې مېشته وو د ګندهارا په نوم یاد کړی او ستایلی دی. د ګندهارا خلکو ته ګندهاریان ویلی شوي چې په جلا ژبه (ګندهاري یا ګندهارۍ) یې خبرې کولې.

زموږ د ګران هېواد ټکره مورخین لکه استاد احمد علي کهزاد. استاد پوهاندعبدالحی حبیبي، پوهاند حسن کاکړ او همدغه ډول هندي او نورو بهرنیو کرکېښ لیکونکو، ګندهارا اوسنۍ پښتونخوا او د افغانستان د ننه له ننګرهار نه نیولې تر کابل او آن چې تر نورو وړاندې سیمو پورې د ګندهارا پورې تړلې سیمې ګڼلې دي، چې اوسیدونکي یې له څېرمه پښتانه او د ویلو ژبه یې پښتو ښودلې شوې ده.

د ګندهارا او لرغوني بهارت د خلکو ترمنځه له جنګ جګړو سره سره نژدې اړیکې موجودې وې. د همدغو اړیکو په برکت د پښتو ژبې نه ګڼ شمېر لغتونه او نومونه په سانسکرت ژبه کې ورداخل شوي او ګڼ شمېر توري. نومونه او لغتونه له سانسکرت ژبې څخه پښتو ژبې ته ورغلي دي چې په دې ځای کې وربانديې خبرې د اوسني مقابلې له موضوع نه بهر خبره ده.

د ګندهارا د خلکو چې پښتانه وو او پخواني هندوستان یا بهارت د وګړو ترمنځ یې اړیکې دومره نژدې او ژورې وې چې د ګندهارا پاچا یا کندهارا مهاراج یوه لور د بهارت پاچا (راجا دهشرت) ته واده شوه او همدغه شان د بهارت یوه شهزادګۍ د ګندهارا یو زلمي شهزاده ته ورکړې شوه چې د نیمې وچې یو مسلمان تاریخ پوه (پروفیسور محمد شعیب خان) د راجا د هشرت د یوې مېرمنې نوم (کیکۍ) راوړی دی چې د پښتو ژبې په قاعده جوړه شوې پښتو نوم دی لکه (شینکۍ. مکۍ. اوکۍ. پېکۍ) او داسې نور....

علامه عبدالحی حبیبي خو په خپله یوه څېړنیزه علمي مقابله کې د هندوزایي برېخ په نوم د یوې پښتنې قبیلې نوم هم راوړی دی. په دغو تاریخي حقایقو کې د دې خبرې ثبوت ډېر روښانه دی چې پښتانه یا پښتون قوم د نن نه درې زره کاله پخوا هم یو پېژندل شوی او منل شوی ځواکمن قم و چې ویاړلی او ښاغلی نوم او شهرت یې درلود او هېڅا یې خاورې او د هېواد بریدونو ته په بده سترګه نه شو کتلی او په هند کې پاچاهانو او نورو ګاونډیانو ورسره د دوستۍ هیلې درلودلې.

د پخوانۍ آریانا ستر ځواك هم پښتانه پاتې شوي وو چې د ایراني هخامنشیانو او ساسانیانو غټو پاچاهانو لکه کوروش او داریوش ورسره ډغرې ووهلې او په جګړو کې د پښتنو له لاسه ووژل شول.

## آریانا - ویستا او پښتانه:-

په لرغوني آریانا کې زېږېدلی او ستر شوی روحاني. مذهبي او تولنيز شخصيت اړتښت. زردشت. زراتپشترا او زردشت دي چې په اويستايي ژبه باندې ليکل شوی کتاب (آويستا) د همدوی له خوا مينځ ته راغلی دی.

ځینې تاریخ پوهان دا عقیده هم لري چې د اریایي توم لومړنی غټ کتاب (ریګویدا) هم په افغانستان یا پخوانی اریانا کې کښل شوی او په برهمني هند کې يې بشپړتیا سرته رسېدلې ده. باید وویل شي چې برهمني مذهب هم همدغو برهمنیانو له ځان سره آریانا یا لرغوني افغانستان ته راوړ او د کابل شاهان د همدې مذهب پیروان وو چې پښتو ژبه يې هم ویله.

د هېواد نومیالی موراخ احمد علی کهزاد عقیده ښکاره کوي چې د افغانستان یا لرغوني آریانا د کوشانیانو ژبه پښتو او لیك دودیې خروشتي ژبې ته ورته و.

په آوستایي ژبه کې هم چې په بلخ کې پیدا او ډېره ژر له منځ نه لاړه د پښتو ژبې اغېزې لیدل کېدلې چې په خپله د زردشت نوم (سپین تمام) د هغه یو غټ ثبوت کېدلی شي چې د پښتو ژبې سپیني تومني یا پاك نژاد سره اړه لري. د ساسانیانو په وخت کې د دربار ژبه پهلوی وه چې لرغوني پارسي هم ورته ویل کېږي. پوهاند عبدالحی حبیبي وايي چې د ساسانیانو په وخت په غرو او درو کې پښتو ژبه ویل کېدله او دغه ژبه د پارتیانو ددربار ژبه هم وه. "سر اولاف کیرو" د پرنګیانو پېژندل شوی مورخ او محقق دی. وايي چې د ایراني ساسانیانو په دربار کې د یو سفرو پښتنو سرداران هم وو او د ډنمارك لوی ختیځ پېژندونکی "ارتور کریستن سن" په (ایران در زمان ساسانیان) کې لیکي چې:

"دساسانیانو په وخت کې. د ایران د هېواد په ختیځ کې خلکو افغاني ژبه (پښتو) ویله. استاد کهزاد په (غرغښت یا ګرشاسب) کې عقیده ښکاره

کوي چې په اوستا کې پښتانه مشران (بیټ نیکه غرغښت او سړبن د اتریت یا اترت، ګرسپ او سړبن د سرند په نوم یاد شویدي او ګرشاسپ یا غرغښت هغه نومیالی جهان پهلوان و چې په خپل ژوند کې له ماتې سره مخامخ نه شو. دغه پښتون مشر (غرغښت - ګرشاسپ) که د غرغښت یا غرشسپ نوم ډېر راغلی دی. لېکن د پهلوان رستم نوم په کې نه لیدل کېږي، په داسې حال کې چې فردوسي په شاهنامه کې د رستم خبرې زیاتې کړې دي.

دا چې آوستا د پښتون غرغښت یا ګرشاسپ، سړبن یا سرند وبېټین یا اترت نومونه راوړي دي په خپله د دې حقیقت ثبوت دی چې پښتانه په بلخ کې له زردشت یا زراتشته سره ډېر نژدې وو. ځکه خو زردښت هم هغوی په آوستا کې کښلي دي.

خدای ښبلي کهزاد که څه هم په ختبه پښتون نه و، لېکن د تاریخي سندونو له مخې او هم د حکیم اسدي طوسي د ګرشاسپ نامې د شاعر په حواله د دې خبرې یادونه کوي چې پښتانه مشران (بیټني یا بیټ نیکه یا اتریت - غرغښت یا ګرشاسپ او سړبن د ابل پاچاهان وو).

په همدغه ډول په پخوانۍ آریانا یا افغانستان کې پښتانه مشران امیر پولاد او زوی یې امیر کروړ سوري هم د غور پاچاهان وو چې د عرب فاتحانو په ضد یې د ابومسلم خراساني ملاتړ وکړ او د پښتنو ملي ځواکونو د همدوی په مشرتابه کې د عربو سره سختې جګړې وکړې.

امیر کروړ جهاني پهلوان او هماغه ملي اتل و چې د زابل پاچاهی ته هم ورسېد او دا شعر له هغه نومیالي پښتون نه موږ ته راپاتې دی چې :

زه یم زمری په دې نړۍ له ما اتل نشته
په هندو سندو په تخار و په زابل نشته
بل په کابل نشته. له ما اتل نشته

## پښتانه، دهند په خاوره کې يو ځواکمن ولس:

په تېرو کرښو کې مو دمهابارت په حواله د پښتنو او هنديانو تر منځه د نژدې اړيکو د شيته والي ذکر وکړ. چې د دې اړيکې پايله په منځنيو پېړيو کې د پښتنو په داسې واکمنيو بدله شوه چې د اسلام له راتلو نه وروسته يې هند ساری نه و ليدلی. له دغو پښتني واکمنيو د ټولنيزو او پوهنيزو اغېزو په اړه هندي کړکېښ ليکوالو ډېرې ليکنې کړې او کتابونه يې خپاره کړي دي.

د نومورو واکمنيو سر خپلان غوري، لودي او سوري پښتانه وو چې د افغانستان بل هېڅ قوم لکه تاجکان. ازبکان او هزاره گان ورسره شريك نه وو. د پښتنو واکمني په خپله د پښتنو د تربگنۍ، دښمنۍ او بې اتفاقۍ له امله مغل بابر ته په لاس ورغله. د پښتون ابراهيم لودي خلاف د هغه خپلو تربوراانو د بابر سره پټ او ښکاره سازش وکړ او گټه يې مغل بابر ته ورسېدله او که څېرته پښتنو دغه غلطي نه وای کړې نو مغلان هېڅکله په دې نه شو بريالي کېدلی چې هند باندې واکمني وکړي.

په هند کې د پښتنو د واکمنيو په وخت چې د اسلامي رون پېر دوره وه د هند خلکو ته زياتې گټې ورسېدلې او له برهمني دورې ډېرې تيارې رڼا شوې چې په دې لړ کې د لودي سکندر واکمني د هند د کړکېښ ليکوونکو له خوا د (عصر احياء علوم) او د سوري شېرشاه واکمني د عدل، نياوانصاف ، برابرۍ او وروروليٰ دورې بلل شوې دي. د" کيمبرج هستری اف انډيا" په پاڼو ليکل شويدي " "سوري شېرشاه هغه ستر واکمن دی چې د ډيلي تخت د هغوی سارې نه دی ليدلی"

د نړۍ پېژندل شوي مورخانو ونسنت سميت. سرهنري هيگ. ايچ. جی. کين ارسکين او نورو عقيده ښکاره کړېده چې : "سوري شيرشاه د منځنيو

پېړیو په دوران کې د هند تر ټولو ستر واکمن ګڼل کېږي."

د هند تاریخ لیکونکي ډاکټر شرما ویلي دي:

" دا به لویه بې انصافي وي که د سوري شېرشاه کارنامې او خدمتونه د اووم هنري او ویلیام فریدریک له کارونو سره برابر ونه ګڼلی شي."

د هند په خاوره کې د پښتنو داسلامي او انساني خدمتونو ځلي تر اوسه هم ژوندي او خوندي پاتې دي. چې هر یو یې د دې حقیقت ثبوت وړاندې کوي چې پښتانه په لوی هند کې یو ځواکمن ولس و او د پښتنون قوم د عزت شمله یې هسکه ساتلې وه.

## پښتانه، په افغانستان کې د خپلواک دولت بنسټ ایښودونکي:

پښتانه که په لرغوني آریانا کې وو او که په تاریخي ګندهارا یا پخواني هندوستان کې تل یې دغه ویاړ په برخه و چې خپلواك او آزاد د ژوند وکړي. د خپلو واکمنیو ساتنه او د جګړییزو ځواکونو پالنه په خپله کړې او په بل هېچا باندې تکیه او باور نه لري. دا د پښتنو فطري خصلت پاتې شوی چې د بل د سیوري لاندې ژوند د مرګ برابر وبولي همدغه وجه وه چې ستر پښتون مشر میرویس نیکه یوازې د خپلو پښتنو په ملاتړ او ننګه د خپل هېواد نه د ایراني ښکېلاك جرړې وویستلې او د یوه ملي آزاد حکومت بنسټ یې کېښود.

د افغانستان د تاریخ دغه ستره کارنامه د میرویس خان هوتك او پښتنو په نوم لیکلې شوې. نه د کوم بل چا په نوم او همدغه پښتانه بیا د ایران پاچاهان شول او ایراني شهزادګۍ د اشرف خان هوتك مېرمن شوه.

د نړۍ هر قوم او هر ولس ځانته تاریخ لري او هیڅ قوم نشي کولی د بل قوم یا ولس تاریخ په بده ووهي او یايي نفي کړي او سترګې ورته پټې کړي، حتی د پوهانو په عقیده دغه ډول یو سوچ او فکر هم حماقت او لېونتوب ګڼل کېږي.

دا چې ایرانیانو له ډېرې راهیسې د پښتنو د تاریخ پورې تړلې پېښې په مهارت سره تخریف کړې دي، هغو هڅوته ډېرې ورته دي چې یهودي عربي پوهانو او ماهرانو د عظیم الشأن قرآن د سپېڅلو آیتونو د تحریف او مسخ کولو لپاره پیل کړې وې، خو کومه نتیجه په لاس ورنغله او ناکام شول.

د نومیالي مدبر پښتون مشر میرویس خان هوتك نه وروسته بل پاك زړی او د لویې اروا څښتن احمد خان ابدالی د ځوانی په وخت د پښتون ساهو ولس په ننګه او ملاتړ په خپل آزاد هېواد(افغانستان) کې د پښتنو لپاره د لومړني خپلواك دولت بنسټ په داسې طریقه کېښود چې په پرمختللې نړۍ کې ورته ډیموکراسي وايي.

زلمي احمد خان وروسته د خپلو نیکو سترو کارنامو او د افغان ولس په ګټه د کړو خدمتونو په نتیجه کې په یو داسې لوړ شخصیت بدل شو چې افغانانو ورته د بابا غوره لقب ورکړ او د هند مسلمانانو هغه د درناوي وړ روحاني او د اسلامي مشر په توګه ومنلو او خطبو کې به یې د هغوی نوم یادوه.

احمد شاه بابا د پښتنو ملي اتل و چې بهرنیو مورخانو هغه د اوسني افغانستان بنسټ ایښودونکی وګاڼه. یا په بل عبارت د معاصر افغانستان جوړښت د ستر احمد شاه دراني د همت، پوهې او تدبر پایله بولي چې دغه ویاړ بیا هم پښتنو ته رسي. هغوی د پښتنو د هېواد سرحدونه ډېر پراخه کړل او یو ستر افغانستان یې منځ ته راوړ، چې غیر پښتنو ته هم ورکې د اوسېدو او مېشته کېدو حق ورکړ شو. لوی احمد شاه د پاك اسلامي او پښتني احساس او د هېواد د ملي ګټو له مخې په دې

فکر کې و چې غیر پښتنو قومونو ته لکه تاجکان. هزاره گان. ازبکان او نورو ته د افغاني هویت ویاړ وروبښي او په دې ډول د هېواد داوسېدونکو ترمنځ ملي وحدت تامین کړي. لېکن ایران په هماغه وخت کې د اعلیحضرت احمدشاه دراني د نوموړې مفکورې سره مخالفت ښکاره کاوه او دغه تبلیغ یې کاوه چې په افغانستان کې فارسي ویونکي د ژبې او توکم په لحاظ ایرانیان دی او د افغانستان شیعه مذهب خلك هم له ایران څخه افغانستان ته تللي او په حقیقت کې ایرانیان گڼل کېږي نه افغانان.

د پام وړ خبره خو دا وه چې د افغان شهنشاه احمدشاه بابا له وخت د پښتنو واکمنو په دوره کې فارسي ژبې او شیعه مذهبه دواړه د حکومت په لوړو څوکیو کېناستل او وزارتونه هم ورته ورکړی شول.

د ایراني مقاماتو پورتنۍ عقیده او مفکوره ایراني مورخ سید مهدي فرخ چې د امیر امان الله خان په دربار کې د ایران لوی سفیر و په خپل لیکلي او خپور شوي کتاب "تاریخ سیاسی افغانستان" کې هم غبرگه کړه او ویې کښل چې په افغانستان کې فارسي ژبې خلك په ایراني ټولنې پورې تړاو لري او ایراني الاصل دي. د ستر ټولواك احمد شاه بابا نه وروسته د هغوی زوی اعلیحضرت تېمور شاه دراني خو د حکومت ټول مهمې چارې هم هغو کسانو ته په لاس ورکړې چې د ایراني مورخ فرخ په وینا په ژبه فارسي بان او په مذهب قزلباش وو. (وگورئ د مهدي فرخ کتاب، تاریخ سیاسی افغانستان).

په دې ډول یو پښتون پاچا تېمورشاه دُراني ایران ته په افغانستان کې د فرهنگي ښکېلاك د خپرولو لار خلاصه کړه او پښتو ژبه او پښتانه چارواکي شاته پرېښودل شول.

د لوی احمد شاه بابا په لاس جوړ شوی افغانستان کې چې څومره پښتانه پاچاهان قدرت ته ورسېدل او نیژدې درې سوه کاله یې واکمنیو دوام وکړ. فارسي ژبه د افغانستان حاکمه ژبه پاتې شوه او د فرهنگي

ښکېلاک ځنځيرونه هغه شان د پښتنو په پښو کې پاتې شول. د پښتنو شاته غورځول ده غه ولس شاته غورځول وو چې د افغانستان خپلواک دولت يې منځ ته راوړی او د هغوځخه يې دفع کړې وه. د افغانستان د خپلواکۍ ګټوونکي او ساتوونکي پاتې شوي او ايرانيانو، عربو او نورو دوی د افغانانو په نوم پېژندل.

## په افغانستان کې د فرهنګي ښکېلاک د اغېزو پايلې:

په افغانستان کې د ټولونه مخکې پښتانه واکمن يا پاچاهان د ايراني فرهنګ د اغېزو ښکار شول چې فارسي ژبه د هغه فرهنګ لومړنۍ او اغېزمنه وسيله وه. پښتنو شاهانو خپله مورنۍ او پلارنۍ ژبه يانې پښتو هېره کړه او په دې ډول د افغان ولس او شاهي دربارونو تر منځه واټن راپېدا شو چې دا په حقيقت کې د پښتنو په هېواد کې د فرهنګي ښکېلاک د اغېزو لومړنۍ پايله ګڼل کېږي.

همدغه ښکېلاک د دې سبب هم شو چې د هېواد هغه لړه کې چې په فارسي ژبه يې خبرې، ليکل او لوستل کول د همدې ژبې په برکت د افغانستان دننه په يو ځواکمن عنصر بدل شي او د ډېره کيانو (پښتنو) په پرتله زيات سياسي، اقتصادي او پوهنيز امتيازونه لاس ته راوړي او د پښتنو سره په ميراث کې ځان شريك وبولي. پاچا د پښتون په نوم تش يو سمبوليك حيثيت پيدا کړی او نور هرڅه د غير پښتنو په برخه شي چې دا د فرهنګي ښکلېلاک د اغېزو بله پايله وه.

د دې فرهنګي ښکېلاک په نتيجه کې هغه ملي يووالى او وحدت ته هم کلك زيان ورسېد چې ستر احمد شاه بابا د هغه لپاره غير پښتنو قومونو ته هم افغاني هويت ورکړی و. دغو لړه کيود ډېره کيو د ژبې د حاکميت سره هم مخالفت ښکاره کړ او په پښتو ژبه باندې يې د غير علمي ژبې ټاپه

ووهله او دا هغه څه وو چې ایرانیانو یې تبلیغ کاوه چې همدا نن هم اوبه په همدې سربند ور اوړي.

هغه اتل او نومیالی ولس چې په لرغوني آریانا، هند او سند کې یو ځواکمن او واکمن قوم پېژندل شوی و او د امپر طوریو په جوړونو او چلولو بریالی شوی و اوس د فرهنګي ښکېلاك په چاره سخت تپې شوی او بې واکه شوی و.

د افغانانو په لوی کور کې، کوره کي د راپیدا کېدلو په حال کې شول او پښتانه پاچاهان د فرهنګي ښکېلاك د خمار په وجه بې حاله او بې حرکته پاتې شول. د پښتني احساس او جذبې تودوخه په کې سړه شوه څکه خو غیر پښتنو د افغانانو په هېواد کې د خپلې واکمنۍ خوبونه ولیدل او د هغې د تحقق لپاره یې پلانونه جوړ کړل.

## د غیر پښتنو د واکمنۍ څرک ۱۳۷۱ ل ه کال:

د ایران د دانشګاه (پوهنتون) یو استاد دکتور چنګېز پهلوان دی چې په خپل خپور کړي کتاب " افغانستان، عصر مجاهدین وبرآمدن طالبان" کې عقیده ښکاره کوي چې: (افغانستان د ایراني فرهنګ د نفوذ لاندې سیمه ده او فارسي ژبه په کې حاکمه ژبه ده)

خو په مجموعی ډول ایراني محققین دې حقیقت ته غاړه ږدي چې په افغانستان کې افغانان یا پښتانه اکثریت دي چې په افغاني یا پښتو ژبه خبرې کوي. یانې ایرانیان زموږ نورې اتنیکي لړه کي لکه تاجك، ازبك او هزاره چې ژبه یې افغاني یا پښتو نه ده افغان بولې، چې روڼ اندي افغانان دغه عقیده ناسمه او باطله بولي. څکه چې ټولو اتنیکي لړه کیو ته د لوی احمد شاه بابا په واکمنۍ کې افغاني هویت ورکړ شوی او ټولو په افغانستان کې د پښتنو سره د وروروليۍ ژوند تېر کړی دی.

د پښتنو په واکمنۍ کې د نومړو لړه کيو څخه زيات کسان د صدارت او وزارتونو مقام ته رسېدلي او بې ساري امتيازات يې لاس ته راوړي دي لېکن د ۱۳۷۱ ل کال د غوايي په مياشت کې چې د پروفيسور برهان الدين رباني تر مشرتابه لاندې د (افغانستان اسلامي دولت) په نوم کومه اداره جوړه شوه نو دې اداري يا دولت د پښتنو په ضد له داسې پريوتې سياست نه کار واخيست چې د بدخشان د سيمې د يوه کمونيست زلمي (طاهر بدخشي) د عقيدې او مفکورې نماينده ګې يې کوله او هغه د پښتو ژبې او پښتون قام سره دښمني وه. طاهر بدخشي په افغانستان کې د (ملي ستم) په نوم يو داسې ګوند جوړ کړ چې موخه او مقصد يې د پښتنو د واکمنۍ سره مخالفت او د هغه په ضد تخريبي عمل و.

پروفيسور رباني هم د بدخشان په فيض اباد کې زېږېدلی او اسلامي زده کړه يې د مصر د جامع الاظهر په پوهنتون کې د پروفيسور عبدالرب رسول سياف او حضرت صبغت الله مجددي سره يو ځای حاصله کړېده. د استاد رباني د اسلامي دولت اصلي جوړوونکی قوماندان احمد شاه مسعود او د هغه جګړه ماره ډله (شورای نظار) وه. د افغانستان خلک تر ډېر وخته په دې نه پوهېدل چې ولې د رباني د اسلامي دولت د قدرت ستنې د خلق او پرچم د کمونستي ډلو پورې تړلې جنرالان اصف دلاور، جنرال بابه جان، جنرال نبي عظيمي ، جنرال مومن او داسې نور دي.

احمد شاه مسعود چې د نظار شورا مشر هم و د استاد رباني د دفاع وزير هم و او زياتره دولتي قدرت د هغه په لاس کې و. دواړو په يوه خوله د خپل دولت جوړېدل د پښتنو د څو سوه کلنې واکمنۍ پای اعلان کړه او نوی دولت يې د افغانستان د تاجک قوم پورې مربوط وګانه چې ازبکانو او هزاره ګانو د حکومت د انحصار په ضد غبرګون ته کړ او په دې ډول پلازمېنه (کابل) د خونړيو جګړو ډګر وګرزېد او د کورنيو او بهرنيو مطبوعاتو د خبرونو له مخې په هغو جګړو کې د يوې اونۍ په موده کې يوازې د کابل

په ښار کې څلوېښت پنځوس زره کسان ووژل شول.

د نوي اسلامي دولت څېره د جوړېدو سره په وينو ولړل شوه او دښاريانو، په تېره بيا پښتنو لپاره د مرګ آستازی وپېژندل شو. کابل ښار د جګړه مارو له خوا تقسيم او توکړې شو. په هره برخه کې قوماندان سالاري شوه او د ښاريانو عزت او ناموس په بازار ليلام شو. ټوپك لاټچر او توغندي د قانون ځای ونيو او حکومت د غلو، داړه مارانو، قاتلانو، فسادکارانو، ويرې اچوونکو سرې وژوونکو، بدو خړوونکو او د ملي شتمنيو د لوټ کوونکو ځاله شوه.

پېغلو د بې ناموسه کېدو له وېرې ځانونه له څو پوړيزه اپارتمانونو څخه لاندې واچول او پلرونو د قوماندانانو څخه د کرکې او نفرت له امله تېرې چړې د خپلو ځوانو لوڼو په مرۍ راښکودلې چې خبرونه يې د نړۍ د مطبوعاتو په لومړيو مخونو کې په غټو تورو چاپ شول.

د جرمني يوې ورځپاڼې (شتوتګارت سايتونګ) وليکل چې: په کابل کې جوړ شوی اسلامي دولت مجاهدينو په خپله نه دی منلی. کابل د ارواح ګانو په ښار بدل شوی او کورنۍ خپل مړي په کورونو کې ښخوي. وسله والو ډلو د ځنګل قانون جاري کړی او د مسلمانو ښځو تيونه او د نارينه و سرونه پرېکوي. هلته داسې ناروا وې رواني دي چې د بشريت په تاريخ کې نه دي ليدل شوې. (فون اندريانوسي ۲۷۶ ګڼه ۱۹۹۳ کال)

## د کابل د حالاتو په اړه د يوه ژوندي شاهد خبرې:

لطيف احمد سکندر د نبك محمد سکندر بارکزي زوی دی چې پلار يې د اعليحضرت امان الله خان په پوځ کې بريګيډ او وروسته فرقه مشر و. لطيف احمد په خپله د خلق پرچم د حکومت په دوران کې د هوايي ډګروال و او کور يې د هوايي ډګر په اپارتمانونو کې. دی د حفيظ الله امين له خوا تقاعد کړی شو. دی په ۱۳۷۲ ل کال کې د درهيم مکرويانو په سيمه کې د

يوې ډلې پنجشيريانو له خوا دومره وهل شوی و چې د ملا تير يې مات او خپلې کورنۍ يې د قاچاق وړونکو په وسيله تر جرمنې راورساوه او په جرمني کې د دوه عملياتونو وروسته د جرمني د کسل په ښار کې وفات او همغه ښار کې خاورو ته وسپارل شو.

## د لطيف احمد سکندرمرحوم د خولې خبرې:

" زه درېيم مکرويانو په لوی سړک روان وم هلته د پاما مؤسسې سره نژدې زما د خورېي ذکي احمد عديل کور و چې د سوداګرۍ د وزارت لوړرتبه مامور و. د پاما د دروازې په خوله کې يو څو تنو هلکانو لاسونه لګولي او يو بل يې ژوبلول. ما د همدردۍ له مخې په هغوی غږ وړ چې: يه هلکانو په ښار کې لږې جګړې او وينې توېږې چې تاسو لا په دې منګ هم لاسونه اچوئ... څغلئ کور ته ځئ که نه کوم راکټ به مو بلې دنيا ته ولېږي. زه پوه نه شوم چې هلته د پاما د دروازې درې تنه پنجشيريان ولاړ دي. په فکر روان وم چې د شا له خوا را باندې غږ وشو... کاکا لږ ودرېږه چې څه درته وايم... زه ودرېدم او هغه رانژدې کېدو سره ماته لاس واچوه او زه يې راوپرزولم... د يوه سره يو غټ دروند کېبل و او په هغه کېبل يې زه ډېر سخت ووهلم او د وهلو سره يې همدا خبره کوله چې ته زموږ د حکومت دښمن او مخالف يې. ډېر وروسته يو څو تنه راپيدا شول او زه يې له هغو خلاص کړم او که نه تر مرګه يې وهلم.

زه له ځايه نه شوی راپورته کېدی او نه مې د حرکت توان درلود، داسې ښکارېدل لکه چې ملا مې ماته شوې وي. ما هغو خلاصګرو ته د خپل خورېي دکور پته ورکړه او زه يې هلته ورسولم.

څومياشتې په کور کې پاتې شوم لېکن نور د ژونديو له کتاره وتلی وم. يو څه خپلوان مې په جرمني کې وو په دې هيله چې په جرمني کې به مې

عملیات وشي او ښه به شم څکه خو دلته جرمني ته راغلم.

هغه ویل: په کابل کې خو اسلامي دولت جوړ شو مګر د کفر نه بدتر حالت په کې روان دی هېڅوك مصئونیت نه لري او د شپې په هره کوڅه کې د مرګ قاصدان ګرزي. د افغانیت او انسانیت جنازه وتلې او اسلامیت په بده وهل شوی دی.

## د اسلامي دولت ناکامي او سقوط او د طالب غورځنګ ظهور:

موږ مجبور یو د مطالبو په لیکلو کې د لنډیز نه کار واخلو که نه د مقالې نه به کتاب جوړه شي. د رباني او مسعود د اسلامي دولت حکم په ولایتونو کې نه منل کېده، په ولایاتو کې قوماندانانو خپل خپل حکومتونه جوړ کړي وو. هر قوماندان پاچا و او په خپل سر یې عمل کاوه. د خلکو وژل، اعدام او د نجونو او ښځو تښتول یوه عادي او معمولي خبره وه. په کلیو او بانډو کې وحشت او دهشت خپور و. هر ټوپك والا خپل قانون چلولو، نه حکومت و او نه محکمه اوعدالت. هغوی چې سواد نه درلود نو د اسلام نه هم بې خبره او ناواقف.

استاد رباني په خپله تر وروستۍ شېبې پورې په اسلامي قانون عمل ونه کړ او په غیر مشروع ډول واکمن پاتې شو چې د روسیې سره یې پټې اړیکې او لوزنامو د ګناه پېټي نور هم ور دروند کړ.

په ولایاتو او ولسوالیو کې د خلکو نارضایي هم اوج ته رسېدلې وې، په کابل ښار او ولایتونو کې خلکو پخوانیو کمونستانو ته دعاوې وکړې څکه چې حالت یې له بد نه بتر شوی و. د همدغو حالاتو او شرایطو په نس کې د طالبانو د اسلامي غورځنګ په نوم یو نوی تحریك راپیدا شو چې د زېږېدلو له لومړۍ ورځې خخه یې د خلکو ملاتړ ترلاسه کړ. ددې غورځنګ

مشر یو زلمی ملا و چې (محمد عمر اخوند) نومېده او په ختبه هوتک پښتون و. د دوی په مشرتابه کې طالب جنګیالیو په لنډه موده کې د پروفیسر رباني او احمد شاه مسعود اسلامي دولت له پښو وغورځاوه، داسې چې روسیې هم هغه دولت په خپلو پښو ټینګک نه کړی شو.

طالبانو په ۱۳۷۸ ل کال کې د افغانستان د اسلامي امارت په نوم خپل دولت تاسیس کړ. په دې کې د طالبانو له خوا اسلامي شریعت د اسلامي قانون په توګه جاري او نافذ شو. د افغانستان د خاورې په سلو کې ۹۰ برخه طالبانو ونیوه چې رباني - مسعود د طالبانو حکومت د پښتنو د واکمنۍ دوام وباله. ځکه خو یې ورسره د مخالفت او دښمنۍ اعلان وکړ او د راپرزولو لپاره یې د روسیې څخه د پریمانې مرستې اخیستو غوښتنه وکړه، پرته له دې چې د افغان ولس سره د ملحدې روسیې دښمنۍ ته کوم اهمیت ورکړي.

استاد رباني او مسعود د پښتنو طالبانو د نسکورولو لپاره نه یوازې په افغان ضد روسیه تکیه وکړه، بلکې د افغانستان د کمونستي رژیم تکړه جنرالان یې هم د ځان ملګري او د جګړې ډګر ته راوستل. په دې ډول دغو دواړو مشرانو د افغانستان د اتل ولس افغاني او اسلامي جذبات او احساسات زخمي کړل او د ملت سپکاوی یې وکړ.

رباني - مسعود چې خپل اسلامي دولت د تاجاکانو په نوم اعلان کړی و په ۱۹۹۰ م کال کې یې د پښتنو طالبانو په وړاندې سقوط وکړ او له یو ډېر بد نوم څخه پرته ورته نور څه په لاس ورنغلل. د کابل د ښار دوه ملیونه وګړي د دې حقیقت شاهدان دي چې د کابل ښار په همدې دوره کې په کنډواله بدل شو. دافغانستان بانك په ټنونو طلا د نظار شورا یوړه او د کابل تاریخي موزیم د هزاره (حزب وحدت) له خوا لوټ شو. د وزارتونو او د مکریانو د کورونو شتمنۍ ټوله ازبك ټوپك والو چور کړه.

په ولایتونو کې چې تنظیمي قوماندانانو په خلکو باندې رښا ورځ شپه

کړې وه د طالبانو اسلامي غورځنګ يې د خداى رحمت وګڼه او خپل زلميان يې د طالب جنګيالو په ډلو کې داخل کړل چې د دې په نتيجه کې نوموړى غورځنګ په يو داسې پياوړي ځواک بدل شو. چې هېڅ تنظيمي او جهادي قوماندان ورسره د مقابلې او جګړې وس ونه موند. د تنظيمونو اميران ټول د استاد رباني په ګډون بهرنيو هېوادونو ته وتښتېدل. احمدشاه مسعود د روسيې او هند په ملاتړ يوازې په شمالي افغانستان کې ځينې کوچنۍ سيمې له ځان سره وساتلې او په دفاعي حالت کې پاتې شو او په هماغه حالت کې د تخارستان دخواجه بهاء الدين په کوچنۍ سيمه کې د دوه تنو ناپېژندل شويو عربو له خوا ووژل شو لېکن د دې مسئلې په اړه ټول حقايق په تياره کې وساتلی شول ځکه خو د افغانستان خلکو او بهرنۍ نړۍ د مسعود قتل ته د شک په سترګو ګوري.

طالبان چې د ۱۹۹۵ م کال څخه په افغانستان کې واکمن شوي وو د حکومت کولو طريقې ورته سمې نه وې معلومې او د سياست يانې (plitic) د عنصر سره بيخي ناآشنا وو چې په خپله يې هم په دې خبره اعتراف کاوه.

هغوى په هېواد کې يو داسې امنيت او کراري راوستله چې پخوايې چا سارى نه و ليدلى، لېکن د شرعي قانون د سختۍ او کلک تطبيق له امله ولس د ځينو ستونزو سره مامخ او د ټولنيز، پوهنيز او اقتصادي ژوندانه چوکاټ ورځ په ورځ وړوکى او زيات تنګ شو چې وروسته ورنه ناراضګي وزېږېده او بهرنۍ نړۍ هم طالبان د تجريد خواته وړټېل وهل ځکه چې د هغوى د حکومت کولو د ډول او شرعي قانون د تطبيق سره موافق نه وو.

په ډيپلوماسۍ او سياست باندې د طالبانو نه پوهېدل چې د همدې له مخې يې ونه کړاى شول د نړيوالو او بيا د اسلامي هېوادونو ملاتړ او دوستي لاس ته راوړي، د طالبانو د اسلامي امارت عمر ډېر لنډ کړ.

اسلامي امارت د خپل پنځه کلن عمر په دوران کې د امانت دارۍ، ناموس دارۍ، اسلامي او افغاني اخلاقو درلودلو ډېر ښه ثبوت افغان ولس ته

وړاندې کړ او دا هغه څه وو چې د پروفیسر رباني په اسلامي دولت کې چا نه وو لیدلي.

طالب چارواکي چې له اوله نه تر اخره پښتانه وو د غیر پښتنو او د هغوی د ژبې سره هېڅ ډول ناوړه سلوك ونه کړ لېکن په اسلامي دولت کې هم د پښتنو او هم د دوی د ژبې سره دښمنانه سلوك کېده. دولتي مشرانو د هر پښو ویونکي، په تېره بیا روڼ اندی پښتون سره حساسیت ښاره کاوه که څه هم پروفیسر سیاف چې په ختېه پښتون او د رباني او مسعود ملاتړ یې کاوه د نظار شورا سره په ګډه د کابل په لوېدیځ کې د هزاره حزب وحدت په ضد وجنګې. کله چې رباني مسعود د تاجکانو په نوم دولت جوړ کړ استاد سیاف یې په قدرت کې شریك نه کړ چې دې موضوع ته افغان کمونست جنرال (نبي عظیمي) په خپل اثر "اردو وسیاست" کې څرګنده اشاره کړېده.

احمد شاه مسعود او استاد رباني د پښتنو په ضد یو پراخ تبلیغاتي پروګرام پیل کړ او د پنجشیر د زمرودو نه لاس ته راغلې پرېمانه پیسې یې په دې کار کې دلګښت لپاره په کار واچولې چې یوه غټه برخه یې په امریکه کې فارسي ژبې اوه نیزې امید ته ورکول کېدلې. د امید د جریدې پښتون دښمنه تبلیغات د افغان اتل ولس لپاره یو قوی سند ګڼل کېږي. د طالب غورځنګ غټه تېروتنه دا وه چې خپل پېر او رواني پېږې د غوښتنو او شرایطو سره نااشنا پاتې شول او د بشري کاروان سره یې د تللو تګ‌کل څرګند نه کړ. هغوی د وربښمو د چینجي په څېر یوازې د خپل تفکر په غوزه کې ایسار پاتې او په نتیجه کې په همغه غوزه کې له منځ نه ولاړل.

موږ دلته په دې هکله خبري نه کوو چې د طالبانو کوم کارونه ښه او کوم نابښه وو بلکې افغان ولس باید په دې باره کې خپل قضاوت وکاندي ځکه چې د ولس قضاوت تر هرچا لوړ او عادلانه دی.

## په افغانستان د امریکې یرغل او د طالبانو د واکمنۍ پای:

په افغانستان کې د روسیې، هند، ایران، ازبکستان، ترکیې او تاجکستان لاس وهنې هغه مهال د رسوایي حد ته ورسېدلې کله چې د افغانستان په شمال کې د همدوی په مرسته د تاجکانو، هزاره، او ازبکانو ټلواله له طالبانو سره د مقابلې په هیله منځ ته راغله چې مشري یې احمد شاه مسعود ته وسپارل شوه. د استاد رباني د واکمنۍ په وخت په خپله استاد او د دفاع وزیر احمد شاه مسعود د افغان ولس له نظر او مشورې نه غیر مسکو ته پټ سفرونه وکړل چې دغه حقیقت بیا د طالبانو د رژیم له سقوط نه وروسته روسي لوړ رتبه چارواکو (د دفاع او د بهرنیو چارو وزیرانو) په مطبوعاتي کنفرانسونو کې اعلان کړ چې راپورونه یې په مسکو کې د بي بي سي د خبریال لطیف بهاند له خوا د بي بي سي په پښتو خپرونه کې خپاره شول که څه هم د امریکې او لویدیځو مطبوعاتو له خوا د هغو پټو سفرونو په هکله خبرونه په ورځپاڼو کې چاپ شوي وو.

د طالبانو سره د مقابلې په ورځو کې روسي مطبوعاتو هم په پراخه پیمانه دغه موضوع وڅېړله او حتی د روسي مشرانو سره یې د پروفیسر رباني او د شمال ټلوالې د مشرانو عکسونه خپاره کړل چې افغان روڼ اندو دغه عمل او دوه مخي د افغانستان د خلکو سره ملي خیانت وباله.

موږ وړاندې دې ټکي ته اشاره وکړه چې د طالبانو شرعي قوانین او د طالب مشرانو چار چلونه تل د لویدیځې او ختیځې نړۍ د حکومتي نظامونو د منفي غبرګون سره مخامخ کېدله او طالبان بنسټ پال بلل کېدل حتی اسلامی حکومتونو د طالب رژیم کړنې نه خوښولې او وېره یې ورځخه ښکاره کوله ځکه خو چې کله (د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر میاشت) امریکې د اسامه بن لادن د نه سپارلو او د ده د تروریستي ډلې (القاعده) د ورانکارو عملونو د بدل په نوم په آزاد او خپلواك افغانستان چې طالبانو وربانديې حکومت کاوه یرغل وکړ نو هېڅ یو اسلامي حکومت د امریکې د

يرغل غندنه او د طالبانو د ملاتړ غړ پورته نه کړ او نه کوم اسلامي يا د نړۍ کوم ډيموکراتيك دولت د امريکې په ضد احتجاج وکړ.

امريکې په سعودي نژاد اسامه بن لادن او د ده په ډلې القاعدې دغه تور لګولی و چې د امريکې په دوه لويو ښارونو (نيويارك او واشنګتن) باندې د تروريستي بريد چې څه دپاسه درې زره کسان په کې ووژل شول مسئولين همدوی دي او طالبانو دوی د خپل وزر لاندې نيولي او ساتنه يې کوي.

طالبانو هم په دې جريان کې سترې تېروتنې او آن چې سرتمبه ګي وکړې او په دې کار سره امريکې او ملګرو ته يې په افغانستان باندې د يو پراخه او درونډ يرغل بهانه په لاس ورکړه.

## د شمالي ټلواله د امريکې د پلي پوځ په رول کې :

امريکې د نيويارك او واشنګټن له خونړيو پېښو نه وروسته طالب مشرتابه ته يوه مياشت وخت ورکړ چې عرب اسامه او ملګري يې بايد امريکې ته په لاس ورکړي ترڅو محاکمه شي، لېکن د طالبانو مشرتابه په ډېر کمزوري دليل او منطق د اسامه له سپارلو نه ډډه وکړه او د امريکې د پوځې يرغل د ګواښ په مقابل کې يې د جهاد پيل کولو اعلان کړل.

د يوې مياشتې په تېرېدلو امريکې په افغانستان باندې زورور هوايي يرغل پيل او د هېواد په ګوټ ګوټ کې يې طالب جنګي ځواکونه د سختو بمباريو لاندې ونيول . د لوېديځو مطبوعاتو په وينا د دوهمې نړيوالې جګړې نه وروسته دا د امريکې د هوايي طاقت تر ټولو درنه او خطرناکه بمباري وه چې ډېر نوي بمونه او توغندي په کې استعمال کړی شول. ځينې به لارښودونکي توغندي وو او ځينې بمونه خو ۲۲ مترو پورې په ځمکه ورننوتل.

د امريکې پوځې ماهرانو دغه پرېکړه کړې وه چې پلي پوځونه به

افغانستان ته نه استوي او د شوروي اتحاد غلطي به نه تکراروي څکه چې پلي پوځونه د افغانانو سره د مقابلې وس نه لري.

د امریکې جنګ ستراتیژي دا وه چې د ځینو امتیازاتو ورکولو له مخې به د شمال ټلوالې له ملیشې ځواکونو څخه د طالب جنګیالو په ضد کار اخلي او نوموړې ټل والې هم د امتیازاتو لاس ته راوړلو په بدل کې د امریکې لپاره د امریکې د پلي پوځ رول لوبوي. امریکې او د طالبانو مخالفې لویدیځې نړۍ دا پریکړه کړې وه چې د طالبانو د واکمنۍ له پای ته رسېدلو وروسته به په افغانستان کې یو داسې حکومت منځ ته راوړي چې حاکمیت ورکې د شمال ټلوالې د تاجکانو په لاس کې وي او د پښتنو په ځای دوی د قدرت اصلي مرکز اوسي.

امریکې او لویدیځې نړۍ د ملګرو ملتو د چتر لاندې د سرمنشي کوفي عنان د استازو (لخدار ابراهیمي او فرانسیس ویندرل) په وسیله خپله موخه تر شمالي ټلوالې ورسوله او د هغوی موافقه یې هم لاس ته راوړه.

## د بن غونډه او د پښتنو غم لړلې برخلیک :

طالب جنګیالو د امریکې د هوایي ګوزارونو او د ناآشنا وسلو، بمونو او توغندیو د استعمال له امله خپلې تولې سیمې یانې د هېواد په سلو کې ۹۰ برخه خاوره په تدریجي ډول پرېښوده او د کابل ښار یې هم له لاسه ورکړ، چې د پلازمینې د لاسه وتل د امریکې او لویدیځ له خوا د طالبانو د واکمنۍ پای وګڼل شوه او په چټکتیا سره یې د لخدار ابراهیمي او نورو په مرسته د افغانستان د راتلونکي حکومت د جوړولو په مقصد د جرمني د بن په ښار کې د یوې لویې او مهمې غونډې جوړېدل اعلان کړل. په دې غونډه کې د ګډون لپاره د شمال ټلوالې د پلاوي، د روم د جریان چې مشري یې د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه په غاړه وه، د قبرس د جریان او د پېښور د بې طرفو جرګو او سوله غوښتونکو سیاسي ډلو پلاوو ته د ګډون

بلنه ورکړې شوه چې د لومړي ځل لپاره په کې افغاني مېرمنو ته هم د برخې اخيستو حق ورکړی شو.

د بـن د غونـډې د ګډون کوونکـو پـه ترکيـب کـې د هـېواد وتلـو غـير جانبدارو شخصيتونو او هېواد دوستو روڼ اندو، انجنيرانو، ډاکټرانو، د پوهنتـون استـادانو. پيژنـدل شـوېو پوهـانو او ټولنيزو ملي شخصيتونو تـه ځای نه و ورکړی شوی او پښتنو ته هم د يو وړوکي اقليت ځای ورکړ شوی و په داسې حال کې چې د شمال ټلوالې د غړو شمېره په کې لـه ټولـو زيـات و.

په همدغه دليل دغونډې په جوړښت او د ګډون کوونکو په ترکيب پـه هماغه غونډه کې اعتراضونه وشول او هم د غونډې له ځايه بهر پـه سـوونو افغانـانو د احتجاج چيغې وهلې او ملګري ملتونه يـې د پښتنـو سـره پـه خيانت کولو تورنول.

د بن غونډه د خپل سياسـي ماهيت لـه پلوه بايد يـوه تـاريخي غونـډه وپېژندل شي، ځکه چې د لومړي ځل لپـاره پـه کـې د پرديـو حکومتـونو د مشرانو له خوا د افغان اتل او انګرېز شکن- شوروي شـکن ولـس پـه نـوم د نوي حکومت پرېکړه کېدله او ګڼ شمېر نړيوال شخصيتونه يې ننداړې ته ناست وو.

پـه همـدې غونـډه کـې د وران شـوي او کنډوالـه شـوي افغانســتان د بيارغونې په کار کې د بهرنيو هېوادونـو د برخې اخيسـتلو وعـدې هم تـازه شـوې لېکـن ترټولـو مهمـه پريکـړه يـې دا وه چـې هـر څومـره ژر بـايد د افغانستان لپـاره د يو عبوري شپږ مياشتني حکومت د جوړېدلـو موافقـه لاسليک شي چې د طالبانو د حکومت ځای ونيسي.

په دې پرېکړه کې دا هم راغلي وو چې دغه څلور مياشتنی حکومت بـه د بيارغونې کار پيل کوي او د لويې جرګې د جوړېدلو امکانات به برابروي چې هغه لويه جرګه به ديوه دوه کلن انتقالي حکومت د جوړېدو اعلان کوي

چې دا حکومت به په هېواد کې د ډیموکراسۍ یا ولسواکۍ د پلي کېدلو په منظور اساسي قانون او ورپورې تړلي نور قوانین تسوید، ناغذ او جاري کوي.

په هغو ورځو کې چې د بن غونډه روانه وه او د چوکیو او وزارتونو په سر د اختلاف غبرونه پورته وو، طالبانو لا په کابل او قندهار کې د امریکې د بمباریو په وړاندې مقاومت کاوه، د کابل او بګرام هوایي ډګرونه له کاره لوېدلي او د کابل په هوایي ډګر کې ولاړې افغاني ترانسپورتي الوتکې په امریکایي بمونو ویشتل شوې وې. د کابل ښاریانو په دې تشویش ښکاره کاوه چې د شمال ټلوالې ملیشا د ۱۹۹۲ کال په څېر کابل ښار ته داخل نه شي او د هغه مهال حالات منځ ته رانه وړي نو د همدې تشویش له مخې د بن غونډې په خپلو پرېکړو کې دا هم وویل چې د طالبانو له وتلو وروسته د شمال ملیشه او وسله وال کسان ښار ته د ننوتلو حق نه لري لېکن ملګرو ملتونو استازو او په خپله امریکې او لوېدیځو هېوادو په دې مطلب سترګې پټې او عملي بڼه یې ورته ورنه کړه او په نتیجه کې د شمال ټلوالې په زرګونو وسله وال کسان د کابل په دروازو ورننوتل.

د بلې خوا د بن په غونډه کې هغه ټول امتیازات د شمال ټلوالې تاجك اړخ ته ورکړی شول چې امریکې او لوېدیځو حکومتونو یې وعده ورکړې وه.

د شپږ میاشتني عبوري حکومت ټول مهم مقامونه او لوړ وزارتونه لکه د بهرنیو چارو وزارت، کورنیو چارو وزارت او د دفاع او عدلیې وزارتونو چوکۍ د شمال ټلوالې تاجك اړخ ته چې په عین حال کې د استاد رباني د جمعیت ائتلافي او د نظار د شورا غړي هم وو ورکړ شوې.

د عبوري حکومت مشر حامد کرزی وټاکل شو چې د غونډې په وخت په ارزګان کې د سوله یېزې لارې د قدرت نه د طالبانو د لرې کولو په کار بوخت و. دی په جنته پوپل زی پښتون دی چې پلار یې عبدالاحد کرزی

نومېده او په تېرو وختونو کې د افغانستان د ولسي جرګې مرستیال پاتې شوی او د پخواني پاچا له طرفدارانو څخه و چې د طالبانو په دوره کې د ناپېژندل شویو کسانو له خوا ووژل شو.

د طالبانو د ماتې او د کابل نه له وتلو وروسته د هېواد په شمالي او لوېدیځو ولایتونو کې غیر پښتنو او په خصوصي ډول د شمال ټلوالې پورې تړلو ځواکونو د طالبانو په تېس کې د پښتنو وژل په پراخه پیمانه پیل کړل. پښتانه په هره سیمه کې د ټولو نه مخکې له بلخ. مزارشریف. فاریاب. جوزجان . کندز. بغلان. غور. هرات اونورو شاوخوا سیمو څخه د پښتون وژنې خبرونه د خلکو غوږو ته ورسېدل. د بن د غونډې پرېکړو غیر پښتنو ته دغه انتباه ورکړه چې د هېواد سیاسي قدرت نور د پښتنو سره نه دی پاتې او نه پس له دې د ډېره کیو او لږه کیو پوښتنه په منځ کې شته.

د بن د غونډې د پای ته رسېدلو نه مخکې د شمال ټلوالې وسله وال ځواکونه د طالب جنګیالو له وتلو وروسته کابل ښار ته ورننول او چې کله د عبوري حکومت ټول غړي (وزیران د حکومت له مشر حامد کرزي سره) کابل ته راغلل نور وسله والو ځواکونو په بېرته ویستلو لکه څنګه چې د غونډې په پرېکړه کې ویل شوي وو بریالي نه شول او په دې ډول وسله وال ځواك یوازې د غیر پښتنو په لاس کې پاتې شو او د دفاع د وزارت له خوا حمایه شول.

د عبوري حکومت په وزیرانو کې داسې کسان هم شامل وو او دي چې د امید د پښتون دښمنې جریدې قلمي همکاران او د پښتنو په ضد یې لیکنې په همغه جریده او ځینو نورو کې چاپ او خپرې شوې وې.

د بن په غونډه کې حاکمه ژبه فارسي وه چې په دې باندې د اعتراض په توګه د غونډې په ګډون کوونکي حاجي عبدالقدیر چې د شهید قوماندان عبدالحق ورور دی له غونډې څخه ووت او بیرته ننګرهار ته لاړ.

په کابل کې هم چې کله برهان الدین رباني قدرت د نوي حکومت مشر

حامد کرزي ته سپارلو نو تولې ویناوې د نوي حکومت د مشر تر وینا پورې په فارسي ژبه وې چې دا هم د دې حقیقت یو ثبوت و چې پښتانه له سیاسي قدرت نه ګوښه کړی شوي دي.

د ۱۳۸۰ ل کال د حوت په دویمه نېټه د نوي حکومت د لوړو زده کړو وزیر (دکتور شریف فایض) چې د هرات اوسېدونکی دی د امریکې غږ راډیو د دري خپرونې سره په مرکه کې وویل چې د کابل پوهنتون د تاکلي پروګرام له مخې به د طب د پوهنځي تدریسي ژبه انګلیسي. فرانسوي او فارسي وي.

په همدې نېټه د آزادۍ راډیو (پراګ) په تاجکي خپرونه کې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ داستازي (یوسف حسن) وینا خپره کړه چې خبرې ورکاوه د افغانستان د شمالي ولیایتونو په سوونو پښتانه په زور او جبر له خپلو سیمو شړل شوي چې ګڼ شمېر یې د پاکستان په کویټه او د افغانستان ځینو نورو سیمو کې په موقتي ډول مشته شوي دي چې د بي بي سي راډیو پښتو خپرونې هم په همدې اړه د جنرال عبدالرشید دوستم د ویاند (فیض الله ذکي) خبرې خپرې کړې چې د پښتنو سره د تشدد موضوع یې ردوله.

څرګنده خبره ده چې په راتلونکې لویه جرګه کې به هم د پښتنو ډېر لږ استازي ګډون ولري او غوځ اکثریت به دهغو ډلو وي چې وسله وال ځواکونه یې په ولایتونو او ولسوالیو مسلط دي او دحکومت لوړې څوکۍ هم د هغوی سره دي. ځکه خو ویل کېدی شي چې پښتانه داوچت اوبنایي په راتلونکي د یو غم لړلې برخلیک په درشل ولاړ اوسي.

د اکټر طارق رشاد

رښتینو افغانانو! که سره یو نه شئ د هغې سترې لوبې قربانې به شئ
چې په هېواد، سیمه او نړۍ کې روانه ده.

# "یا به یو کېږو، ګنې ورکېږو"

هر هغه چا ته چې په خپل حق او د بل په حق پوهېږي. نه خپل حق چا ته ورکوي او نه د بل خوري. دا څرګنده ده کله چې په ټولیز ډول پښتانه افغانستان کې د سیاسي بلوغ هغه لازم حد ته نه وو رسېدلي چې په هېواد کې د ډېرکي (اکثریت) په توګه له خپل حق څخه دفاع وکړي او کله چې به د څومره والي په اندول و. د وندې خبره رامنځته شوه. نه یوازې دا چې د اکثریت حق نه ورکول کېداه. بلکې پر دوی. د دوی پر ژبه او فرهنګ ملنډې وهل کېدې. کله به یې "اوغان غول" او کله به یې "اکثریت بې فرهنګ" ورته ویل او هم به یې درنې پښتو ته سپکې سپورې ویلې. په رسمیاتو. زده کړو او میډیا (رسنیو) کې یې خو لاونده پرېږده او په اصطلاح ستمي فرهنګیانو به دا هم پر زیاته کړه: "قبیله چی باشد که پادشاهی کند" او هم کله چې پر ۱۹۹۲ کال د "همه با هم علیه پشتونها" تر شعار لاندې د جبل السراج کړغېړن تړون او د ملګرو ملتونو د سولې د پینځه فقره ییزه پلان پرضد کودتا وشوه او د سالنګ پر تونل ولیکل شول "به خراسان خوش آمدید" په مزار شریف کې د "مرګ بر قبله سالاری" شعارونه ورکړل شول. نو له پښتنو سره لکه اوس په شمال کې د څرګند مخالفت پیل. پښتون وژل کېدنه. رټل کېدنه او سپکېدل او ورسره درنه

پښتو رټل کېږي. (چې زه خپله د تويك سالارۍ د وخت د دوی په بند کې د دغو اعمالو څرګند شاهد يم).

او همدارنګه د دغه پښتني او افغاني کلتور ضد ډلو له خوا د پښتو ژبې اکثر تاريخي، ادبي او علمي کتابونه. مجلې او ورځپاڼې او همدا ډول مهم ارزښتناك سندونه. مدرکونه او آثار له وزارتونو. کتابتونونو. آرشيفونو. ګالريو. موزيمونو او علمي مرکزونو څخه لوټ او اورونه ورته واچول شول چې په دې ډول پښتانه او افغانان له خپلو علمي او کلتوري شتمنيو څخه بې برخې کړي او هم يې د ټولې ملي ترمينالوژۍ په اړولو تر پوځي چارو لاس پورې او خپلې تنظيمي ستمي ترانې ته يې ملي سرود ووايه.

د دې لپاره چې له پښتنو سره په کرکه ښه او ښستيز زړه سوړ کړي نو يې د قومونو په اړه نوې سليزه (فيصدي) وړاندې کړه چې هېڅ بنسټ نه لري او يوازې د دوی د ستمي کرکې ذهني محصول ښيي چې پښتانه د (۴۰%) په شاو خوا کې ګڼي. خو هغه سر شمېرنې چې له ستمي واك تر مخه د نړيوالو موسسو له خوا او يا وروسته له هغه تر سره شوي او په هغو کې د هېڅ ډول قومي کرکو اړتيا او دلچسپي نه شته. په لاندې چوکاټ کې ليدلای شئ:

پر ۱۹۹۲ م کال په هالند کې (Alle landen van de Wereld) يا (د ټولې نړۍ هېوادونه) په نوم کوم تاريخي - جغرافيايي اثر چې د نيدرلنډ د علمي مرکز له خوا چاپ شوی، په (۱۶) مخ کې د Afghanistan تر سر ليك لاندې د وروسته له اوږده تاريخي او جغرافيايي بحث څخه داسې ليکل شوي:

De grootste bevolkingsgroep (60%) wordt gevormd door de Pasjetanen. Zij beschowen zichzelf als de echte Afghanen.

يانې: د افغانستان د نفوسو لويه ډله (۶۰%) پښتانه دي. چې دوی ځانونه ربښتيني افغانان ګڼي.

بل اثر د (Werld Atlas voor het Gezin) يا (د کورنۍ لپاره د نړۍ اطلس) په نوم په نيدرلنډ کې پخوا خپور شوی په هغه کې داسې راغلي دي:

De bevolking bestaat voor ca. 60% uit Afghanen. Wier taal. het Pasjtoe. de officiele landstaal is.

يانې: د نفوسو (۶۰%) په شاو خوا کې افغانان، چې بنسټيزه ژبه يې پښتو ده، دغه ژبه رسمي – ملي ژبه ده.
دوی دغه پورته سر شمېرنې باطلې ګڼي. ځکه په دغو سر شمېرنو د دوی پښتنې ضد او د لوړتيا غوښتنې تنده نه ماتيږي او که له استدلال سره

| Source | Author | Publication | Ethnic Groups | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | Pashton | Tajik | Hazara | Uzbak | Baluch | Turkman | Aimaq | Pash |
| The ethnic composition of Afghanistan | A six year survey & research | WAK-1999 Norway | 62.73 | 12.4 | 9 | 6 | | 2.69 | 2.68 | |
| Afghanistan | Max Clumborg | 1960 | 60 | 30 | 3 | 3 | | | | |
| Fundamentalism Reborn? Afghanistan and the Taleban | William maley | London, 1998 | 62.73 | 12.4 | 9 | 6 | | 2.96 | 2.68 | |
| The world Geothonology | Academic Research, M. Mahjub F Yawery | 5th Ed, 19987 Iran | 60 | 20 | 5 | 5 | | | | |
| The world Population | Prof. C.I Brok | 1981, USSR | 52.8 | 18.6 | 8.6 | 8.6 | | 2 | 3 | |
| Afghanistan | Prof. M. Ali | 1955 Kabul | 60 | 20 | | | | | | |
| The National Language of Afghanistan | Prof. Aslancv | 1964 USSR | 60 | | | | | | | |
| Afghanistan Federation System? | M. Enam | 2000, Pakistan | 62 | 12 | 9 | 6 | | | | |
| Afghan Millat Journal | Issues 42-43 | 1995, Pakistan | 50 | 21 | 8 | 8 | | | | |
| History & Establishment of Afghanistan | Abdullah Ahmad Almir | 1995, London, Qattar | 58.7 | 28.7 | 2.7 | 8 | | 2 | | |
| Ibid | Adul Azim Walyan | 1987, Iran | 70 | 13 | | | | | | |
| Sukhan Journal | Ali Akbar Jafaryan | | 50 | 20 | | | | | | |
| The World Large Languages | Mackenzie | 1987, Europe | 55-65 | | | | | | | |

مخامخ شي نو په ډاګه وايي چې په افغانستان کې دقيقه سر شمېرنه نه ده شوې. که موږ دا ومنو چې دغه پورتنۍ سر شمېرنې (چې دا ډول موسسې په ورته هېوادونو کې د تجربو پر بنسټ يو لړ معيارونه لري) تر څه حده اټکلي وي. نو د جګړو په شرايطو کې د دوی ستمي ذهني سر شمېرنې چې ځينې يې د ايرانيانو. روسي استخباراتو او د دوی د ستمي پلويانو په لاس اېښودل شوې او اوس هم کله نا کله د ځينو رسنيو (ميډياو) له خوا خپرېږي. هغه هم په داسې حال کې چې يوه ستمي له خپلو غټو نومونو او بهادريو سره دا زړورتيا نه لري چې له خپلې سيمې را ووځي او رښتيا په خپلو سترګو له نژدې وګوري څنګه دقيقه سر شمېرنه کېده.

اوس هغه ګاونډي ځواکونه هم په دې پوهېږي چې د پښتنو په ځواك او قوت کې د افغانستان قوت او د پښتنو په بې سېکه کولو کې د افغانستان بې سېکه کول پراته دي. سيال هېوادونه چې نه غواړي قوي او ځواکمن افغانستان ووينې نو د پښتنو په ضعيفۍ او بې سېکه کولو پسې يې مټې راغښتې دي. لومړی له پښتو ژبې او فرهنګ سره او بيا له پښتنو سره کرکه ښيي او په دې کار کې بيا ايران ډېره هڅې کوي چې افغانستان په فرهنګي لحاظ د خپل ژبني او فرهنګي ښکېلاك په کړۍ کې راګير کړي نو د خپل ښکېلاکګر خوی له امله د افغاني ټولنې د بې ثباتۍ هڅه کوي او غواړي پښتانه په افغانستان کې د يوه لوی اکثريت په توګه چې د سياسي ثبات د ثقل مرکز دی متزلزل او کمزوری وښيي. نو دا ډنډوره يې سر کړې. ځکه دوی پوهېدلي چې پښتانه اوس سياسي بلوغ ته رسېدلي. د بل حق نه خوري خو خپل حق غواړي. نو د دې لپاره چې دوی له خپل طبيعي حق څخه محروم کړي په ميډياوو (رسينو)کې پښتانه د (۴۰%) په شا و خوا کې ښيي.

د پښتنو دغه ډراماتيکه راتيټېدنه دوې پوښتنې رامنځته کوي. لومړی دا که وانګېرو چې د پښتنو دغه ډراماتيکه راتيټېدنه د ستميانو او د دوی د کورنيو او بهرنيو انډيوالانو په وسيله رامنځته شوې ده. نو دوی د پښتنو پر ضد داسې پراخ جينو سايډ (نسل وژنه) تر سره کړې چې دوی ټول بايد د جګړې د جنايتکارانو پراخو نسل وژنکو په توګه نړيوالې محکمې ته



"يا به يو کېږو. يا به ورکېږو"

راکش کړای شي. بلـه پوښتنـه داده چې ایا د پښتنو میندې وچې (شنډې) شوي چې اولادونه نه زیږوي؟ چې هېڅ سالم عقل یې نه مني.

بیا د دې لپاره چې دغه (۴۰٪) حق هم ورنه کړي هغه پښتانه چې سر یې په تن ارزي او غواړي خپل حق ترلاسه کړي او یا هغه پښتانه چې په خپلو سیمو کې یو څرکند ځواک دی او ستمي ډول ته نه نخښېږي او هم سبا کولای شي د خپلې پوهې او یا متبو په زور خپـل حق ترلاسه کړي. د طالب په نوم ځپي او د دښمنانو په نوم پردي یا خپل ور ښکاري. ځکـه د دوی پروګرام د پښتنو په اړه "نابود سازی و خاموش سازی" دی او دا هغه زړه تبلیغـاتي توره ده چې همېش یې د پښتنو سرونه وربانديږ ږېلي چې په لومړۍ سقاوي کې یې پښتانه د غازي امـان الله خان او یا غـازي محمد نـادر شاه سره په تړاو کې وژل. له روسانو سره د تېرې په وخت کې یې د نشنلسنانو او یا هم کله د باندیستانو په نامه. په دویمه سقاوي کې د حزب اسلامي او طالب په نوم او اوس په پراخه پیمانه له پښتنو سره د طالب او القاعدې نوم دا کار تر سره کوي.

ستمیان د دې لپاره چې دنړیوالو په سترګو کې خاورې واچوي او یو څو تنه بې خبره پښتانه په دې راضي کړي. دوی د پښتنو د استازو په توکه تاکي. که دا حق غیر پښتانه لري چې په فکري لحاظ خپل استازي د قوم پالنې او ژبپالنې په روحیه خپله وټاکي. نو پښتنو ته ولې دا حق نه ورکول کېږي. که د یوه قوم استازی یوازې د وینې په لحاظ هغه قوم ته منسوب وي او د بل قوم دا په فکري لحاظ. یا یو قوم دې تول وسله وال وي او بل دې بې وسلې شي اویا یو قوم دې د بل قوم په وسیله بندیانېږي. رټل کېږي بې پته کېږي. دا به هېڅ ډول عادلانه وېش نه وي. او که هر قوم ته د هغه د شمېر په اندول د ژبې حق ورکول کېږي نو ولې لږکي (اقلیت) د ډیر کي (اکثریت) ځای نیسي او خپل قوم خو نه حتی خپله ولسوالي او ژبه پر نورو مسلطه کوي او دا هم باید په ډاګه وواېو هر هغه پښتون مشرکه تر پښتنو پر غیر پښتنو ډېره تکیه وکړي. د دوی په لاس بـه یې پایله داسې وي لکـه د ډاکټر نجیب الله.

دا حقیقت باید ومنو چې په هېواد کې د ټولو خلکو فردي حقوق مساوي

دي. خو په ټولنيز ډول د قومونو سياسي. ټولنيز او فرهنګي حقوق د ملي مسئلې د عادلانه حل په توګه طرح کېږي او هر قوم د څو مره والي له پلوه خپل حقوق اخلي. تر هغه چې ملي ټولنه جوړېږي. د قومونو دا وروري ربښتيني خبره ده. خو د برابرۍ تر پردې لاندې. بايد نا برابري رامنځ ته نه شي او اندول په نظر کې ونيول شي. دا څنګه کېداى شي چې د (۱۲.۴%) او د (۶۲.۸%) حقوق دي له قومي پلوه سره مساوي وي. په هر هېواد کې د اکثريت ونډه د اکثريت او د اقليت ونډه د اقليت وي او د ډيموکراسۍ اصول هم دا څرګندوي او داسې هم نه شي کېداى چې يوه ولسوالي او په اقليت کې اقليت دې بيا د نورو اقليتونو پر حقوقو خېټه واچوي او د "برادرۍ او برابرۍ" تر شعار لاندې دې د "دشمنۍ او نا برابرۍ" ګټه واخلي.

تر ټولو د پام وړ خبره داده. که پښتانه د خپل حق غوښتنه کوي. د فاشيزم خطاب ورته کېږي. خو که دوى پر خپل حق سربېره د نورو پر حق هم تېرى کوي بيا نو دوى فاشستان نه دي؟! په خپل ملت او هېواد شرمېږي او په څرګنده توګه په ايراني ورځپانو کې ليکي:

"افغانستان يك نام جعلى و افغان يك هويت مشكوك"

دې ډول اشخاصو ته بايد په ډاګه وويل شي چې د افغانانو د ملي هويت او ملي پېژندګلوۍ دوې څانګړتياوې دي. يو دا چې په نړۍ کې زموږ سر لوړى ملت. افغان دى او بل زموږ ګران هېواد. افغانستان دى او څوك چې زموږ دغه دوې څانګړتياوې ونه مني. نو نه هغه د افغانستان دى او نه افغان دى او له هغه څخه بايد افغاني هويت او تابعيت واخيستل شي. نه دا چې دا ډول اشخاصو ته. دوى ته د ورته اشخاصو له خوا په نړيوالو رسنيو (ميډياوو) کې د افغان او افغانستان پېژندونکي په توګه بلنه ورکړل شي او دى د افغانستان او افغانانو په اړه نظريات خپاره کړي (البته د يو پردي په توګه دا کار کولاى شي. نه د افغان په توګه) او يا د واك پر ګدۍ کښېني او په افغانستان کې پر افغان ملت واکداري وکړي.

که غواړو د افغانستان د خپلواکۍ او د مځکې د بشپړتيا تر څنګ ملي واکمني د مرکزي واك او باثباته نظام په توګه رامنځ ته کړو او د تل لپاره د کورنۍ جګړې او بهرنۍ لاسوهنې مخنيوى او دوامداره سوله ټينګه

شي. باید د ملي مسئلې عادلانه حل ته ژوره پاملرنه وشي. له ټولو جګړه مارو ډلو څخه دې په ټول افغانستان کې وسلې ټولې او د دموکراسۍ پر بنسټ دې ولاړه آزاده "ملي" اسلامي . مدني ټولنه جوړه شي. چې فردي امنیت. بشري حقوقو او انساني کرامت ته په کې درناوی وي. څو د ټولنیز اقتصادي عادلانه پرمختګ لارې چارې ولټول شي او خلکو ته دې بې له فشاره د آزادې ارادې او رایې حق ورکړل شي. خو تر هر څه لومړی ګام. وروسته تر دولت او واکمنۍ د ملي ټولنې د جوړولو عملیه ده. چې په هغه کې دربښتینې رسمي - ملي ژبې خبره بنسټیزه بریښي.

خو د هېواد په اوسنیو حساسو شېبو کې د ملي او تاریخي ژمنې د ترسره کولو په خاطر د پورتنیو توطیو په وړاندې درېدل. زموږ د ټولو رښتینو افغانانو دنده ده چې په دې کې د فرهنګیانو او روڼ فکرو ونډه درنه ده څو رښتیني افغانان په واقعیتونو پوه او د دوی دوستان. دښمنان او اکستریمستان ور وپېژني او هم خپلو ملي ګټو او ملي فرهنګ ته له نړیوالو سیاستونو سره سمون ورکړي او د نړیوالو پام هم زموږ د ټولنې واقعیتونو ته را وګرځوي. څو دوی هم زموږ د هېواد په اړه خپل سیاستونه زموږ د ټولني واقعیتونو پر بنسټ وټاکي. نه د څو تنو توطیه ګرو او ملي ضد جګړه مارو ډلو د غوښتنو پر بنسټ.

د شاعر په وینا چې وایي:

مونږه لا لګیایو خپل تر بورته نوی غم ګورو
کور یې په اور سوی او بچي یې په ماتوم ګورو

د دغه تاریخي او ملي ژمنې لپاره لازمه ده چې "یا به یو کېږو ګنې ورکېږو"

او پای کې:

په هر چاره پښتنان تر مغل ښه دي
اتفاق ورسره نه شته ډېر ارمان
که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشال به دوباره شي په دا ځوان

پوهاند دکتور الف، روستامل

# دیکتاتوری، دموکراسی و مشروعیت قدرت در افغانستان

د دا هسې بې معنی ژوندون له پاره
له اضدادو سره تل ولې په جنګ یم
چې نه درد یم او نه درد لره دوا یم
زه له دې بې سوز و سازه ژونده تنګ یم
خدایږو دې ژوندون نور سترې کړم ستومانه
د ژوندون او د ژوندو له پاره ننګ یم
خاورې یمه خو له باده سره مل یم
د هر کس او د ناکس له پښو نه څنګ یم
تېټ مې مه بوله غورځنګ رابانديې مه کړه
زه په دې افتادګۍ کې لوی ګړنګ یم
نه د کوندو منډو مرسته رانه کېږي
نه د چا په شان د بل په ځان پلنګ یم
نه آیینه یم چې طرف شمه د ښنګلیو
چې مې کېږدي په منګولو نه اترنګ یم
نه مې روح د شرقیت دومره قوي دی
نه خبر له مادیت لکه فرنګ یم

# ځوانه

سوی باغ تالا ګلشن دی
مړاوی ګل خاورې چمن دی
نه بلبل نه لولکۍ شته
نه نرګس نه یاسمن دی
دا ګلاب دی ایرې شوی
که په اور سوی ختن دی

اې پښتونـــه! ســتا وطــن دی
اې پښتونـــه! ســتا وطــن دی
د دې بـــاغ خـــاورې راواخلـــه
ترې نه نوی بوستان جوړ کړه
اې د ســـوي بـــاغ مالیـــاره
د نورونـــو جـــهان جـوړ کـړه
اې چـې ښکتــه ښکتــه ګورې
نــن پـښې ابلـه سر سـرتورې
تــه خبر یـې چـې تــه څوك وې
تــه د مینـځ اسـمان وې ستوری
ستا شمله چې بـه شـوه پورتــه
شـوې بـه ښکتــه شـملې نـورې
په مستۍ او ننـګ بـه سر وې
ستـا دا ټیټـې سترګې تـورې
اې د ټیـټو سـترګو ځوانـــه
پـاڅه هغـه جـهان جـوړ کـړه
د دې بـــاغ خـــاورې راواخلـــه
ترېنـه نـوی بوسـتان جـوړ کـړه
اې د وران خپرمـــــــیرمنې
اې د وږې بچـــــې پـــلاره
بـــې درکــــه ســـر ګردانــــه
اې د ســـوي بـــاغ مالیـــاره
اې چـې نـن بربنـډ بچـی سـتا
د خـــوراك پـــه کشـــاله دی

ستا د لاس مانۍ ولاړې
په ډهلي په بنګاله دي
اې د بل د در مریده!
پاچه هغه دوران جوړ کړه
د دې باغ خاورې راواخله
ترینه نوی بوستان جوړ کړه
اې په غره په سردرو کې
زما لال پټ په ایرو کې
اې د زرکو په خندا کې
د تنزرو په نارو کې
د شېرشاه نازبینه زویه
ته یې پروت تورو تیارو کې
کړه د غم تیارې راغونډې
ترې د مینې داستان جوړ کړه
د دې باغ خاورې راواخله
ترینه نوی بوستان جوړ کړه

# پښتنو!
# قبیلویت پرېږدئ،
# قومیت جوړ کړئ!

پښتانه د پنځه زره کلن پېښلیک په اوږدو کې د خپل جغرافیایي موقعیت په لرلو درې نیم زره کاله د بهرنیو یرغلګرو پرضد په مېړانه جنګېدلي او د خپل پلرني ټاټوبي ساتنه یې د خپلو وینو په بیه کړې ده. پاتې شول یو نیم زره کاله چې د هغه اټکل د پښتنو له روان ژوندي. ژبني او کلتوري بهیر او په تېره بیا د معاصر افغانستان له پېښلیک څخه جوتېدلای شي. چې له څو لنډو مودو پرته یې ټول ژوند په خپلمنځي نفاق. سیالیتوب او تربګنیو کې تېر شوی. چې په دې توګه یې په خپله نویو او پرله پسې بهرنیو تېریو ته لاره پرانیستې ده.

له دې امله ویلای شو چې زموږ د ملي کور د ورانېدو لاملونه دوه دي. یو یې بهرني او بل یې کورني دي. چې بهرني یې په سلو کې اتیا او کورني یې په سلو کې شل اټکلېدای شي. د تخریب بهرني عوامل په لوی کچ له

بهرنیو لاسوهنو سره اړه او تړاو لري. خو کورني لاملونه یې زموږ د خپلو یو شمېر ټولنیزو نیمګړتیاوو زېږنده دي. چې بویه سترګې وربانديې پټې نه شي. همدې ډول نیمګړتیاوو پښتني ټولنه د حضرت خوشال بابا علیه رحمه نظر ته "د کړو خښتو دېوال" په توګه وروستلې وه. د افغاني ملت پالنې د نظریې د بنسټ اېښودونکي لوی شخصیت زړه همدې خبرې خوږین کړی و. ځکه خو یې په مات زړه له خولې دغه چغه وتلې ده چې:

که هر څو یې سمومه نه سمېږي
پښتانه دي د کړو خښتو دېوال

اوس چې د خوشال خان بابا له زمانې څخه درې نیمې - څلور پېړۍ تېرېږي. نور ولسونه او ملتونه چې د غلامۍ او وحشت په حالت کې یې ژوند کاوه. اوس د تمدن لوړو پوړیو ته رسېدلي دي. خو له بده مرغه د پښتنو د ارادو متې لا تراوسه پورې د قبیلوي نظام په زړو او ورستو رسیو تړلي او رانښکېل پاتې شوي دي. چې راتلونکی او ابعاد یې پښتنو ته د اندېښنې او کره کتنې وړ دي.

ښکېلاکګرو او استعماري مداخله کوونکو په هر وخت کې د "بېل یې کړه. اېل یې کړه" ښکېلاکي پالیسیو چلولو لپاره. زموږ له دې لویې ټولنیزې نیمګړتیا څخه زښته ډېرې ګټې اخیستې دي. په وروستیو درېیو پېړیو کې. خو د یوې سلیزې په واټن کې پر موږ دریو نړیوالو زورواکو په بربنډه توګه تېري وکړل چې جګړې. ورانی. وژنې. مهاجرتونه او په تېره بیا د هېواد د غوڅ اکثریت ډېر کي پر وړاندې داقلیت ګرځولو دسیسې منلې وې او دي. همدا وجه ده چې د ستر احمدشاه بابا لوی افغانستان یې موږ ته د اور په لمبو کې "کوږکي" وګرځول.

تر درېیو سترو خونړیو جګړو وروسته په (۱۹۱۹ز) کال کې. افغانستان خپله سیاسي خپلواکي د اعلیحضرت غازي امان الله خان په مشرۍ لاسته راوړله. خو له دې سره سره انګرېزان غلي پاتې نه شول او خپله پخوانۍ


پښتنو قبیلویت پرېدئ قومیت جوړ کړئ!

فارموله "بېل يې کړه، اېل يې کړه" د يو شمېر پښتني کورنيو په منځ کې په برياليتوب وکاروله. د همدې دسيسې په پايله کې يې د افغانستان قانوني دولت شنډ کړ، د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ هيلې يې نيمه خوا کړې او پر ځای يې داسې يو داړه مار او بې فرهنګه سړی. (د سقاو زوی) چې په لړکيو کې يو کمکي لړکي ته منسوب و او پر هېڅ ډول انساني، اسلامي او افغاني کرامت او تقدساتو باندې يې عقيده نه درلوده، پر ارګ باندې واکمن کړ، چې په شلمه پېړۍ کې د افغان ولس لپاره د وحشت او بربريت لومړنۍ توره دوره ګڼل کېږي.

فيض محمد کاتب چې د لومړۍ سقاوي پر مهال په کابل کې د ګڼو پېښو ليدونکی و، په دې اړه ليکي: "د سقاو د زوی په واکمنۍ سره په ټول هېواد کې يوه سراسري انارشي رامنځته شوه. نوی راټوکېدلی تمدن په شا وتمبول شو، د خلکو غيرت، حيا، سر او مال په خطر کې شول، د پوهې، کلتور او پرمختګ دروازې وتړل شوې. آن تر دې چې بچه سقاو لومړی کار دا وکړ چې په خپله کابينه کې يې د معارف او عدليې وزارتونو ته ځای ورنه کړ".(۱)

فيض محمد کاتب د خپل کتاب په ۵۷ مخ کې زياتوي: "دا په حقيقت کې د شيطان پوځ دی، چې ودانۍ تباه کوي او کورونه چوروي، مګر سره له دې فاسد وزيران، حضرتان او تش په نامه ملايان او نور بې دينه خلک دا غم لړلې وضع چې د دوی له لاسه پر خلکو راغلې ده، عادي بولي او وايي چې خير او خيريت دی".

زړورو افغانانو د اعليحضرت غازي محمد نادرخان، جنرال محمد ګل خان مومند او غازي جرنيل يارمحمد خان وزيري په مشرۍ لومړۍ سقاوي ختمه کړه، د ولس پت او عزت يې خوندي کړ.

دا يوازې مغل او انګرېزان نه وو چې خپلو ښکېلاکي موخو ته يې د رسېدو لپاره په موږ کې د "خېل"، "زي" او داسې نورې زهرجنې کرښې د

تېرو چړو په څوکه لاژوروليٰ. بلکې د ډيموکراسۍ له لسيزې (۱۹۶۴-۷۳) راهيسې د ځينو کينې اړخو ګوندونو په جوړولو. شوروي اتحاد هم له دغه شيطاني تاکتيك څخه کار واخيست، چې تردې دمه دوام لري. روسانو که له يوې خوا د بېلابېلو مليتونو په نامه او پلمه افغاني ورونه او قومونه يو له بل سره خونړيو جګړو ته وهڅول، له بلې خوا يې په مصنوعي توګه د پښتنو کورنيو (قبيلو؟!) ترمنځ د "طبقاتي تضاد" کرښې وايستلې. په دې موخه لومړنی کتاب چې شورويانو خپور کړ د درانيانو امپراتوري نومېږي. (د يادونې وړ ده چې تر هغه يوولس کاله وروسته په ۱۹۸۹ز کال ښاغلي راج انور د ذوالفقار علي بوټو پخوانی سلاکار هم يو کتاب د The Traqedy of Atgh. په نامه خپور کړ. چې دا موضوع يې په کې په شيطاني کچه وپړسوله.) په نوموړي کتاب کې د روسي کمونيزم تيوريستانو د درانيو او غلجيو کورنۍ يو له بلې څخه په طبقاتي وېش بېلې کړې وې او يوه له بلې سره يې نه پخلا کېدونکې دښمنيانې بللې وې. په نوموړي کتاب کې ليکل شوي دي، چې دراني کورنۍ ښکېلاکګر او د غلجيو کورنۍ د دوی تر استعمار لاندې خلك دي.[۲] همدارنګه د جهاد په يو ډېر حساس پړاو کې شورويانو د افغانستان د وېشنې په موخه د ژبې مساله يوې حساسې او خطرناکې مرحلې ته ورسوله چې ايران هم ورسره اوږه په اوږه ونډه واخيسته. له دې لارې يې ځينې کسان او تنظيمونه چې مذهبي، سيمه ييز او سکتوريستي تمايلات يې درلودل "او لري يې!". ملګري کړل او پر نورو افغانانو يې په ډاډه زړه خپلې حملې سختې کړلې. چې د افغانستان غوڅ اکثريت په لږکې باندې بدل کړي. روسانو او بيا ورځپرمه ايرانيانو د خپلو ناوړه موخو لپاره يو ګډ مورچل جوړ کړ، چې په لويه کچه يې د پښتنو او د افغانستان د نورو ورونو قومونو تر منځ هم نه پخلا کېدونکو تضادونو د موندلو، ډېرولو او لازورولو لپاره د بېلتانه همدغسې کرښې ايستلې وې. دوی د افغانستان د شمالي سيمو د ځينو لږکيو قومونو په غوږونو کې دا



پښتنو قبيلويت پرېدئ قوميت جوړ کړئ!

خبره څخولې وه، ګڼې دا چې د پښتنو واك او ځواك دننه په افغانستان کې د نورو اوسېدونکو قومونو لپاره يو داخلي استعمار دی. زموږ په هېواد کې دغه ډول ماويستي او کمونيستي نظريې د ځينو پرديپالو او بېلتونپالو اشخاصو او ليکوالو لکه غبار، کارمل، فرهنګ او يو شمېر نورو له خوا پرسول او رهبري کېدلې. "غبار له کوم نامعلوم وخت څخه له ببرك كارمل، نور محمد تره کي او نورو کمونيستانو سره په يوه ليکه کې ولاړ و، تر هغه چې ببرك كارمل د تره کي په کور کې د يوې درويشت کسيزې کمېټې په وړاندې د يوې موضوع په سر وغانده او تر هغه وروسته غبار ګوند ته رانه غی. غبار شعله يانو ته په خپل کور کې په ځانګړي او خصوصي ډول د مارکسيزم درس ورکاوه او دغسې شعله يان د هغوی د ګوند له خوا تاکل کېدل." له همدې امله به وي چې انتروپولوجست، مايکل بېري (Michal Barry) ليکي چې: "غبار د افغانستان د ماويست ګوند باوري لارښود و"[٣]

په ۱۹۷۳ كال د شهيد داودخان په کودتا کې کمونيستانو په پراخه کچه ونډه واخيسته او ځينې آن په دې باور دي. چې نوموړې کودتا له اره د روسيې او افغاني کمونيستانو ګډ پلان او توطئه وه. د شهيد داودخان په جمهوري دوره کې (۱۹۷۸ - ۱۹۷۳ز) کمونيستان دومره د واك خاوندان شول چې يوازې د شهيد ميوندوال د کودتا په تور يې د دوی په ګډون ۱۲۵ د دولت په بېلابېلو پوړيو او څانګو کې د افغان ملت پالنې متقي او سرايستلي پښتانه چې خپله په کابل کې اوسېدل. خو د ولس ډېرې پرګنې يې په ځانګړو ولايتونو کې تر شا وې. په شهادت ورسول چې څو بېلګې يې دا دي: محمد هاشم ميوندوال- صدراعظم. خان محمد- مرستيال جنرال. سيف الرحمن- وکيل. زرغون شاه- منصبدار. محمد اکرم شينواری- منصبدار. نيك محمد سهاك- منصبدار او قومي مشر. سرورخان ځاځی- منصبدار. هزارګل هوډخېل- سوداګر. جنت ګل غروال- د اقتصاد متخصص. سيف الرحمن سافي- منصبدار او په لسګونو داسې نور....[٤]

د یادونې وړ ده هغه کښ شمېر پښتانه شخصیتونه چې د شهید داودخان په دوره کې په زندانونو کې د غویږي تر ناورین پورې (۱۳۵۷) ژوندي پاتې وو او یا له خپلو دندو کوښه کړای شوي وو او په کورونو کې کښېنول شوي وو. دوی بیا د غویږي تر ناورین وروسته په شهادت ورسېدل چې یوه نامتو بېلګه یې د هېواد ستر ملي شخصیت او پخواني صدراعظم شهید محمد موسی شفیق دی. د ښاغلي غبار د مارکسیستي تعقداتو د پخولو لپاره او په همدې توګه د پښتون تبر د سلنې لړ ښودلو او پر وړاندې یې د نورو افغاني قومونو د لمسون په موخه ښاغلي صدیق فرهنګ داسې یو کتابګوټی (افغانستان در پنج قرن اخیر) وایست. چې له آره د تاریخ لیکنې له معیارونو او د افغانستان له پېښو او حقایقو سرغړونه ده. د ډېرې خواشینۍ خبره خو دا ده چې د فرهنګ دغه کتابګوټی د دویم ځل لپاره په امریکا کې اوسېدونکي تش په نامه پښتون چاپ کړ. د ښاغلي غبار، کارمل او فرهنګ د اړیکو په اړه چې د افغانستان د څلورویشت کلنې غمیزې بنسټ اېښودونکي دي. په یوه اثر کې د پاملرنې وړ حقایق راغلي دي: "ده (غبار) د (ملي ژبې) د اصل پر ځای د (ملي ژبو) اصل منلی او د افغانستان خلك یې عمدتاً په دري ژبو او پښتو ژبو وېشلي دي، د ازبکانو او بلوڅانو غوندې قومونه یې هم دري ژبي بللي دي. د مرحوم غبار مشهور اثر (افغانستان در مسیر تاریخ) په ۱۳۴۹ل (۱۹۶۷ز) کې چاپ شوی دی چې له چاپېدو سره سم مصادره شو. له دې امله چې د ده کتاب د ژبو په اساس پر افغانستان کې د دوو حکومتونو د جوړېښت له نظریې سره زیاته مرسته کولای شي. نو هغو پرچمیانو په ۱۳۷۰ل کال (۱۹۶۷ز) کې بیا چاپ کړی دی. که له ببرك کارمل او میر محمد صدیق فرهنګ سره د مرحوم غبار نژدې روابط چې د ډکتور محمد حسن شرق په خپل کتاب (کرباس پوشهای برهنه پا) کې د هغو یادونه کړې ده. په نظر کې ونیسو. نو سړي ته دا شك پیدا کېږي چې د مرحوم غبار له علم او شخصیت څخه د



پښتنو قبیلویت پرېږدئ قومیت جوړ کړئ!

هغې ستراتیژۍ په جوړونه کې استفاده شوې ده. چې د افغانستان په شمال او جنوب کې یې د دوو ژبو پر اساس د دوو حکومتونو د جوړښت هدف درلود. د کارمل د واکمنۍ په موده کې درې ستراتیژۍ غتې غتې برخې راڅرګندې شوې."[5] که څه هم نوموړو کسانو په خپلو کتابونو کې پښتون تبر په شعوري توګه په (اقوام و قبایل پښتون) وېشلي دي. خو له ډېره بده مرغه کښ شمېر پښتانه لیکوال او څېړونکي هم دا مظلوم تبر په بې شمېره قومونو او یا لږ تر لږه په کښ شمېر قبیلو وېشلي دي او لا یې وېشي. خو عواقب یې نه څاري.

لکه څنګه چې پورته ورته ګوته ونیول شوه د بناغلي غبار د تول ژوند طبقاتي مبارزه د ببرک کارمل پر مهال چې د روسانو په ملتیا راوستل شوې و. د پښتو او پښتنو پر وړاندې خپل لومړني عملي پړاو ته وردننه شو. د پښتنو تولې سیمې تر هوایي او ځمکنیو بریدونو لاندې راغلې. په سلګونو زره افغانان په شهادت ورسېدل او له هغو نه څو چنده ډېر کډوال شول. په دولتي ادارو کې د پښتنو شمېر لږ او ځای یې هغو ملي ضد ډلو ټپلو چې لږکي قومونو ته منسوب وو. ونیو. کله چې د روسانو تېري او یو اړخیزه جنایتونه پر پښتنو خپلې رسوایۍ ته راوسېدل. نو روسانو د خپلې ماتې انګېرلو او د خپلو راتلونکو پلانونو د پلي کولو لپاره. تر کارمل ډاکټر نجیب غوره وګڼانه او د ۱۳۶۵ل د غویي پر ۱۴مه نېټه واک ته ورسول شو. "د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ په نیمایي کې (د شهنواز تني کودتا) په نوم یوه سنجول شوې توطیئه جوړه شوه او په همدې نامه یې کښ شمېر پښتانه صاحب منصبان له پوځ څخه وایستل. د وسلوال پوځ د یوه صاحب منصب په وینا یوازې د "شهنواز تني کودتا" په نوم شپږ زره تکړه مسلکي صاحب منصبان له وسلوال پوځ څخه وکښل شول او زنداني شول. د دې لپاره چې د وسلوال پوځ دودیز او قانوني واک ختم کړي. د بېلابېلو قومي غونډونو په جوړولو لاس پورې شو. په شمال کې د عبدالرشید دوستم او سید کیان په

مشري د ازبکو او هزاره اسماعیلیانو لپاره بېلابېل قومي غونډونه او فرقې جوړې شوې او هم هزاره ګانو ته د ګڼ شمېر قومي غونډونو د جوړولو امکانات برابر شول. د جګړې دروند بار بیا د پخوا په څېر د پښتنو سیمو ته متوجه شو. د سکارټ هغه په سلګونو توغندي چې په افغانستان کې استعمال شوي، په سلو کې (۹۹) یې پر پښتون مېشتو سیمو ویشتل شوي دي. د ډاکټر نجیب الله شپاړس ورځې کم پنځه کاله واکمني په افغانستان کې د لږکیو (اقلیتونو) د ودې، خوځون. کورني او بهرني لمسون لپاره مساعدې شپې او ورځې وې. ده لکه چې په خپله یې هېواد د یوې لویې تباهۍ کندې ته ټېل واهه، په خپله د لږکیو د راپارولو لپاره لاره چاره برابروله، له دولتي پانګې او شتمنۍ څخه یې ملي ضد ډلو ټپلو ته پیسې او امکانات ورکول."[۶۰۱]

د ډاکټر نجیب الله د کورنۍ سیاست پایله چې د خپل رتېنې او پردي پالنې پر بنسټ ولاړ و، د خنجان د دسیسې او دویمې سقاوۍ د راوستلو لامل وګرځېد. په زړه پورې خو دا چې که انګرېزانو له پښتنو څخه د خپلې غچ اخیستنې د فورمول لپاره د شوربازار له حضرتانو: ګل اقا مجددي او شېر اقا مجددي څخه د کټلایزاتور په توګه سیاسي او مذهبي ګټه واخیسته او بیا یې لومړی سقاو (د سقاو زوی) راوایست. په همدې توګه روسانو هم د خپلې غچ اخیستنې په فارموله کې د هماغو تش په نامه حضرتانو (کټلایزاتورانو) له ټولې نه یو بل عجیب و غریب صبغت الله مجددي رامخې ته کړ، چې ترشا یې د دویمې سقاوۍ اصلي لوبغاړي (رباني - مسعود) وو، چې مسعود یې د لومړي سقاو سیمې ته منسوب هم و، راوستل. مجددي د خپلې دوه میاشتینۍ بېواکۍ، بلواکۍ او تش په نامه واکمنۍ په موده کې له افغان ولس او جهاد سره د خیانت تر بریده یوه جفا خو دا وکړه چې د ملت قاتل او د روس روزل شوي ګوډاګي. ګلم جم

دوستم ته یې د خالد بن ولید او ورته القاب وبخښل. خو ولس بـه یـې هېڅکله ونه بخښي.

لکه څنګه چې ښاغلي فیض محمد کاتب د لومړۍ سقاوۍ پېښې او جنایتونه په خپلو سترګو لیدلي او بیا یې لیکلي دي. همداراز زموږ یو ځوان لیکوال چې د دویمې سقاوۍ د څلورنیم کلن ناورین پـه اوږدو کې پـه کابل کې و. داسې لیکي: "د افغانستان په ټول تاریخ کې دویمه سقاوي(د اکاډیمیسین (۱) رباني - مسعود) دوره تر ټولو تیاره. ترینګلې او بې ثباته دوره وه. د دوی د نیمواکـه واکمنـۍ پـه څلورنیمـو کلونـو کـې د دوی د مخالفینو او بیا د دوی د موئتلفینو له خوا دومره جنایتونه تر سره شول چې نه یوازې زموږ د ټولنې په تاریخ کې. بلکې د نړۍ په تاریخ کې به یې سارې ډېر کم وي. پر دې مهال په ټوله افغاني ټولنه کې سخته بې ثباتي رامنځته شوه. نه قانون حاکم و او نه اداره موجوده وه او نه هم چا د چا پوښتنه کولای شوه. په خپله هغه څوک چې ځانونـه یې د واك رسمي مدعیان ګڼل. هغوی خپله تر غوړونو پورې په جنایتونو کې ډوب وو. د هغو احصایو له مخې چې د غربي راډیوګانو له خوا نشر شوې په دې څلورنیم کلن ناورین کې څه لـه پاسه اتیا زره بېګناه انسانان په کابل ښار کې وژل شوي دي. کله چې رباني او مسعود د کابل پر تخـت او خزانـو خېټه واچولـه نـو د خپلو پخوانیـو تحریکونو تر څنګ یې عملي ضد هلې ځلې او فعالیتونه نور هم ډاکیز کړل، دوی خپلو قومیانو او همژبو تـه وویـل چې همدا مـو نوبت دی. بـاید زموږ تر څنګ ودرېږئ!" ۲۰۲

د ۲۰۰۲م کال په فبروري میاشت کې کلـه چې نړیوالو ټولنیزو رسنیو زمـوږ د هـېواد لـه شمالي سـیمو څخـه د مېشـتو پښتنـو پـر وړانـدې د افغانسـتـان د لږکیو ټوپکمارو (تـاجکو. اوزبکو او هـزاره ګانـو) د تېریـو. وژنو. بېناموسیو او لـه کورونو څخه یـې د شړلو موثق خبرونـه خپاره کړل. چې یوازې د ملګرو ملتونو د ادارې له خوا د هغو شړل شویو پښتنو شمېره

۲۵۰۰۰ ښودل شوې وه. د کاناډا د National Post په ورځپاڼه کې په دې اړه یوه تبصره شوې وه چې ځینې ټکي یې دلته د یادونې وړ دي: "په ټول افغانستان، خو په تېره بیا په کابل کې د ۹۶ - ۱۹۹۲ د انارشۍ پر مهال د راپېښو شویو ناخوالو چې د افغانستان په تاریخ کې یې ساری نه و لیدل شوی، په لسګونو زره افغانان ووژل شول، ورانۍ، لوټماري، د منځنیو پېړیو په څېر وژنې، د اندامونو پرې کول، غیر انساني ډلوژنې، پر ماشومانو، ځوانانو او زړو ښځو بېشمېره جنسي تېري او لنډه د افغانستان د وېشنې پروګرام، چې د ځینو ګاونډیو هېوادونو لکه روسیه، تاجکستان، ایران، ازبکستان، پاکستان او یو شمېر نورو له خوا لمسون شوی و، په افغانستان کې د ځینو لړه کیو ډلو او ټوپکمارو له خوا پلي کېده، چې پر ۱۹۹۴ کال افغان مظلوم ولس یو ملي پاڅون ته اړ وت. دغه پاڅون چې مشران یې په تېره بیا پښتانه طالبان وو د ۱۹۹۶م کال په سپتمبر کې کابل ونیو او بیا یې د افغانستان شمالي سیمې یو پر بل پسې په ډېره چټکۍ، خو د زښتو ډېرو قربانیو په بدل کې تر ولکې لاندې کړې. د خلکو عزت او امنیت یې خوندي کړ، خو پرته له دې چې د حکومت چلولو په رمزونو پوه شي، دوی هم د دولت ډېرې سترې څوکۍ چې د ډېرو د اداري وړتیا یې نه لرله، په خپل انحصار کې راوستلې او بیا یې د یوه بنسټپال او سخت دریځه اسلامي تحریك بڼه غوره کړه. لکه څنګه چې بره یاده شوه په دغه تحریك کې ګڼ شمېر یې پښتانه طالبان وو، خو دوی له قومي او ژبنې توپیرونو څخه په کلکه کرکه لرله. ځکه خو د کابینې یو شمېر غړي، آن ځینې وزیران، والیان او داسې نور لوړ پوړي کارکوونکي یې د افغانستان له بېلابېلو ولایتونو او قومونو او په پوځي ډګر کې آن له ځینو بهرنیو طالبانو او ملایانو څخه جوړ وو. طالبانو له خپلو سترو پوځي بریاوو سره د هېواد ښوونې، روزنې او اقتصادي ربړونو ته چې وچکالي هم ورسره مله وه، څه پام نه کاوه او په کورني سیاست کې یې پر ډېرو وړو او جزوي خبرو

تینګار کاوه. نړیوالو نورمونو او بشري حقونو ته یې ارزښت نه ورکاوه. ځکه نړیوالو د رباني شړل شوی دولت چې یوازې پنځه سلنه (۵٪) خاوره یې په واک کې وه او پر دې سربېره په افغانستان کې د ترهګرۍ بنسټ اېښودونکي هم و، په رسمیت پېژانده. خو د سپتمبر یوولسمې نېټې هرڅه پر بل مخ واړول. مړي راژوندي کړای شول او په زرګونو افغانان د امریکا د بمباریو له امله مړه او نن په لسګونو زره بېوزله افغانان په تېره بیا د افغانستان د شمالي سیمو پښتانه د طالب او یا لږ تر لږه له طالب سره د همکارۍ په پلمه له یوې سترې بشري نجولې (فاجعې) سره لاس و ګرېوان دي."[۷]

دا یوازې افغاني ټولنه نه ده چې له ډېرو قومونو جوړه شوې ده. بلکې په بل هر ملت کې زموږ د ټولنې په پرتله لږ او یا ډېر قومونه شته چې خپلې قومي ځانګړنې یې هم ساتلې دي، خو په مجموع کې یې له خپل ملت سره خپله ملي وفاداري ساتلې ده او ښکېلاکګر نه شي کولای چې په کورنیو چارو کې یې لاسوهنې وکړي او درزونه په کې وزېږوي. ځکه دوی خپل ملي مورچلونه کلک کړي دي.

که موږ هر یو له خپلو خپلو ځانونو سره یو حساب ولرو. د جهاد پر مهال دوو شیانو "ګوندونو او ګوندیو" زموږ خلک ډېر ستومانه او لالهانده کړي وو. په نورو هېوادونو او ټولنو کې ګوندونه په دې موخه جوړېږي چې د قبیلوي ژوند کړۍ ماتې کړي، د خپل هېواد او ټولنې لپاره ګڼ اړخیز پرمختیایي پروګرامونه رامنځته کړي او د هېواد په ښېرازه کې فعاله ونډه ولري، خو له بده مرغه په افغانستان کې د قبیلوي ژوندانه شرایط دومره ډېر مسلط او لاسبر وو چې ګوندونو هم د "ګوندیو" رنګ واخیست او سیاستوال یې د ملي او اسلامي یا انساني ایډیالوژیو له پراخ نړۍ لید څخه بېل او د (قومي - قبیلوي) تنګ نظریو په زنځیرونو کې راښکېل کړل. د همدغو قومي تنګ نظریو او قبیله پرستیو پایله (نتیجه) وه چې خپل راځخه پردي شول او پردي دومره راخپل شول چې د "افغان" ستر او ویاړلي

خپل نوم پرې شرمېږي. کله چې امریکایانو د لوی احمدشاه بابا پر خاوره: افغانستان. د طالبانو او القاعده ډلې د خپلو په موخه درانه او وژونکي بمونه غورځول او د طالبانو تر څنګ يې بېوزله ملکي وګړي تباه کول. نو يو شمېر بې ننګه او نامردانو چې خپلو قومي تنګ نظريو يې وجدان او احساسات له خپلو نورو افغانانو څخه پردي کړي وو. نو د امریکایانو د منني ويبونه "تنك يوو" يې ډېر ښه زده کړي وو. چې د افغانستان د خلکو پر کورونو. کروندو. بڼونو او آن روغتونونو باندې له امریکايي الوتکو څخه د بمونو د اچول کېدو پر مهال يې له خولو وتل:

د زمريو په جنګ نه شي ور وتلای
د ګيدړو که کلې که يې لښکر دی
يوه ورځ د اجل کانې درته ګوري
سل ګوزاره د زرګر يو د ګګر دی
"جهاني"

په ډېره خواشيني پر دې واقعيت بويه سترګې پټې نه شي چې د پښتنو بېځايه او بې ارزښته خپلپاليو (قوم - قبيله پرستيو) په يوه واحد پښتون (افغان) تېر چې له بده مرغه کور په کور. کلي په کلي او بيا ولايت په ولايت تر ننه دوام لري. پښتانه د افغانستان د غوځ اکثريت او ستر ملت په توګه په تېره بيا په شلمه او روانه يوويشتمه پېړۍ کې د خپل ملي رسالت او ژبني اصالت د نه ساتلو او په همدې توګه د نفاق په وجه د يوه ملي محور په پالنه او پرمختګ کې د يوه "کلتوري ستم" له امله. غلي او ناکام پاتې شوي دي. له همدې امله ده چې د افغانستان يو شمېر لږکي قومونه د خپلو بهرنيو انډيوالانو په لمسون او د پښتنو پر وړاندې د نويو نړيوالو دريځونو او بدلونونو له امله ځانو ته نوې سلنې (فيصدۍ) او عجيبې نقشې ايستلې دي. چې په دې لړ کې تاجکانو د ۱۲% پر ځای ۲۵%. هزاره ګانو ۹% پر ځای ۱۹%. ازبکانو د ۶% پر ځای ۹% خوښې کړې او پښتنو ته يې برعکس د ۶۳% پر ځای ۳۸% ټاکلې دي. په زړه پورې خو دا چې سي آی اې ويب سايټ ته وګورئ. ورته د سپتمبر له يوولسمې نېټې څخه بره سلنې

منلي دي او ډېر عموميت يې ورکړی دی چې نن يې د نړۍ د ټولو لوېديځو هېوادونو په ټولنيزو رسنيو کې کارول کېږي. "وګورئ د ۲۰۰۱ کال National Geographic د ډسمبر ګڼې ته. دا خو لاڅه چې په زرګونو داسې ورته مجلو او ورځپاڼو ته چې په نوموړي کال او مياشت کې خپاره شوي دي."[۸]

په معاصر افغانستان کې د پښتنو د ماتولو او لړولو لپاره ښکېلاکګرو هر کله خپلې هڅې کړې دي او نوې نوې فورمولې يې پر موږ کارولې دي. خو د بشر له حقوقو په سرغړونه د ګندمک تړون د پښتنو د جغرافيايي وېشنې پلان، چې په ډېره څېرتيا او دقت شوی و. د يوه ناسور داغ په څېر يې د پښتنو (افغانانو) د ملا تير مات کړ او دا ولس يې د تباهيو کندې ته ورټېل واهه. که څه هم په دواړو خواوو کې پښتنو د "ډيورند" پښتونوژونکې کرښه په خوله نه ده منلې، خو د دې زنځير د ماتولو لپاره په نره يو عملي ګام هم پورته شوی نه دی. په دې برخه کې د پښتنو ټوله مبارزه پر يو څو ټکيو شعرونو محدوده پاتې شوې ده.

ترڅو چې مې ژوندون وي وابه نه وړمه له تانه

زما پښتونستانه

زما حيات ژونـدون يې

ناموس د هر پښتون يې

ناموس نه تېرېدل بيا پښتنو له دي ډېر ګرانه

زما پښتونستانه

چې څو مې خوله خوځېږي

ستا نوم به پرې يادېږي

چې ته پرې ذکر نه شې خدای دې ژبه واخلي ما نه

زما پښتونستانه

"ملنګ جان"

"پر ۱۹۱۷ کال کله چې کمونیستان په روسیه کې واکمنان شول. نو پر ورانديې يې د منځنۍ اسيا خلکو پاڅونونه پیل کړل. دغه پاڅونونه پر ۱۹۱۸ په "وادي فرخانه" کې پیل شول او تر ۱۹۲۶ کاله پورې یې دوام وکړ. د دغو پاڅونونو په پایله کې د نوموړو سیمو د وګړو له ټولشمېر څخه دريمه برخه يې د روسي سرو لښکرو په وړاندې په جهاد کې شهیدان شول او یا له لوږې او قحطۍ څخه ومړل او یا افغانستان ته په مهاجرت اړ وتل. د ډیوډ مونټګمري د اټکل پر بنسټ د پنځو لکو په شاوخوا کې تاجکان او ازبکان افغانستان ته وکوچېدل. چې بیا وروسته د افغانستان په قومي جوړښت کې د یو څه بدلانه لامل شول."[۹۰۱]

که چېرې موږ د فیض محمد کاتب هزاره. سراج التواریخ ته ځیر شو. نو هلته د تاجك قوم یادونه له آره شوې نه ده. خو یو شمېر لیکوالو پرته له دې چې ځینو حقایقو ته پام وکړي کوهستانیان چې ګڼ شمېر یې پښتانه وو په غلطه تاجك وبلل. هند الاصله قومونه لکه کشمیریان، ملتانیان، پنجابیان، سندیان او په همدې توګه کوهدامانیان. پښتانه کابلیان (درانیان، غلجیان)، تاجکان ونومول شول. دې خبرې دومره عمومیت وموند چې یو شمېر قزلباشان هم د تاجکو په نامه مسمی شول. په داسې حال کې چې قزلباشان ترکي الاصله خلك وو. په دې وروستیو کې واك فونډېشن دې خبرې ته دومره عمومیت ورکړ چې د پارسي ټولو ویونکو ته دا خطاب وشو. له دې سره سره واك فونډېشن په خپله شپږکلنه سروې (۱۹۹۶ - ۱۹۹۱) کې "د افغانستان قومي جوړښت" په افغانستان کې په ژبني او کلتوري لحاظ د پښتنو د سلنې د راټیټېدلو دویم لامل یې په لنډو ټکیو داسې څرګند کړی: "د افغانستان امپراتوري او دولت جوړوونکی پښتون قوم په کلتوري لحاظ په تاریخ کې یو ډېر زیات مسخه کېدونکی قوم دی."[۱۰]

د پښتو ملي ژبې په برخه کې ځينو ليکوالو ډېرې ښې او د لوړې کچې (سويې) څېړنې کړې دي. کورنيو او بهرنيو ليکوالو ته چې پر پښتو او پښتنو يې په ناحقه تجربې کړې دي. ورو او په زغرده د حقايقو په رڼا کې علمي او مستند ځوابونه ورکړي دي. چې کوريې ودان. خو دلته به ټوله پړه پر نورو نه اچوو. د خپلې علمي کچې اعمال به په عمل کې وګورو او دپلټو چې په لويه کچه پښتو ژبه د خپله پښتنو له ناځرګنده افراط او نامعقوله تفريط قرباني شوې ده. چې مسؤولين يې په تېره بيا خپله پښتانه دي او موږ به دغه لړۍ ته له ۱۳۶۰ کال څخه چې پښتو د افغانستان رسمي ژبه شوه. يوه لنډه کتنه وکړو.

پښتو يا افغاني ژبه د افغانستان د غوڅ اکثريت. پښتنو ژبه ده. چې د نړيوالو مدني. تاريخي او ژوندنيو (حياتي) قوانينو په رڼا کې د افغان ملت د ملي هويت. حيثيت او پېژندوينې په موخه د افغانستان د ۱۳۴۳ل (۱۹۶۴ز) کال کې د افغانستان ملي ژبه وګرځېده. د افغانستان د ملي ګټو د لاپياوړتيا او پراختيا لپاره له ۱۳۱۶ل څخه تر ۱۳۲۴ پورې د افغانستان په ټولو سيمو کې زده کړه په پښتو ژبه ترسره کېدله. د دغه ملي ګام په اړه د بهرنيانو په يوه کتاب کې داسې راغلي دي: "د افغانستان دولتي ژبې پښتو او دري وټاکل شوې، خو پښتو د افغانستان ملي ژبه ومنل شوه، چې د ننني ټولنيزو اړيکو له غوښتنو سره يو جوت او ورو کار و."[1]، خو په دې اړه زموږ څېړونکي او ليکوال داسې ليکي: "په ۱۳۱۶ش کال کې چې پښتو د افغانستان د ټول معارف تعليمي ژبه پښتو وګرځي او دري د يوې ژبې په توګه پاتې شي. په لومړي قدم کې يې تر پنځم ټولګي پورې ټول ښوونځي په پښتو کړل او د ښوونکيو لپاره يې لاړښوونکي تهيه کړل. دې کار تر ۱۳۲۴ پورې دوام وکړ. خو نتيجه يې ډېره خطرناکه وه. نه يوازې دا چې پښتو زده نه شوه. بلکې معارف د بېسوادۍ غېږې ته ولوېد او دا ناکامي د دې سبب شوه چې په سلګونو زره چاپ شوي کتابونه د

پوهنې وزارت له خوا وسوځول شي او دا هم یوه فاجعه او ضایعه وه. تر دې ناکامۍ او د ملي مادي او معنوي زیان لرونکې تجربې وروسته له ۱۳۲۵ تر ۱۳۲۹هـ ش (۱۹۵۰ - ۱۹۴۶م) کال پورې د پوهنې پر پروګرام غور وشو او د پوهنې وزارت یوې داسې منطقي نتیجې ته ورسېد. چې په پښتو ژبو سیمو کې دې د تعلیم ژبه پښتو او ورسره دې دري د یوې ژبې په حیث ولوستله شي. په دري ژبو سیمو کې دې د تعلیم ژبه دري او ورسره دې پښتو د یوې ژبې په حیث ولوستل شي او د همدې نوي نصاب له مخې د هرې سیمې لپاره بېل بېل کتابونه چاپ شول او په هېواد کې معارف د رسمي ژبو له پلوه په یوه معقوله کرښه روان شو چې دا سلسله د ثور تر کرغېړنې کودتا پورې په همدې ډول روانه وه. یو ځل بیا راغبرګوو چې د افغانستان په نظامي زده کړو کې پښتو بنیادي ژبه او دري د مفاهمې ژبه راغلې ده." [۱۲]

مخکې له دې چې د افغانستان په شمال او ځینو نورو سیمو او ولایتونو کې قومي وېش وړاندې کړو، یوه پوښتنه خو دا چې ولې افغانستان په دوو سیمو (پښتو ویونکیو او پارسي ویونکیو) ووېشل شي؟ لکه څنګه چې د همدې لیکنې په یوه برخه کې مو د غبار دغه عقیده د افغانستان د ملي ګټو پر ضد او د وېشنې یو پلان ښودلی. نو دلته به پرې بحث نه اوږدوو.

زما په اند که چېرې پر هغه مهال (۱۳۱۶ل) چې په افغانستان کې د نوې ښوونې او روزنې بنسټونه جوړېدل او د هېواد څه له پاسه ۹۵% سلنه وګړي نالوستي وو. که پښتانه پوهان او چارواکي په دې سپېڅلې ملي لاره کې ټکني شوي نه وای او تر پایه یې له ثبات څخه کار اخیستی وای. د پلي کېدو لپاره یې د کورنیو تخریبونو پروا نه ساتلای او د ملت جوړونې په دې ستنیز بهیر کې د هېواد راتلونکې ته په خیره د ملي شعور په چوکاټ کې کتلي وای. نو ارو مرو به نن د یوه غښتلي او کلك ملي مورچل خاوندان وای. د هېواد ملي او رسمي ژبې دواړه په پښتو وای. نه به پر موږ دومره

بدمرغی راتلي او نه به مو هېواد دومره وران شوی وای. نه به کورني غلیمان وای او نه به بهرني تخریبونه او نه په یوه واحد افغان ملت کې د ملیتونو تحقیرونه. لمسونونه او نه به هم افغان مظلوم. خو ویاړلی او توریالی ولس چا "اوغان غول" بللی وای.

واك فونډېشن د افغانستان لپاره د ولسوالیو په کچ د قومونو د وېش تر ډېره بریده یو دقیق جدول وړاندې کړی چې زموږ د موضوع په اړه یې ځینې برخې د یادونې او د راتلونکي لپاره د پاملرنې وړ دي: د نوموړي جدول له مخې په ټول افغانستان کې یوازې دوه ولایتونه دي چې هلته تاجکان د نورو قومونو په اندول ډېرکي دي. چې په تخار کې د ټولو اوسېدونکو ۵۵% سلنه او په بدخشان کې چې د افغانستان د نورو ولایتونو په اندول ډېر لږ شمېر اوسېدونکي لري ۸۳% سلنه جوړوي. خو د افغانستان په پاتې ولایتونو کې یا د کمکي اقلیت په توګه ژوند کوي او یا په ګڼو ولایتونو کې له اره نه شته او نه خو کومه سلنه (فیصدي) جوړولی شي. په فاریاب کې ازبك ۵۲,۲۷ په سلو کې. پښتانه ۵۹,۲۷%. ترکمن ۱۴,۲۸ او د نورو افغاني قومونو په ګډون هلته تاجك کومه سلنه نه جوړوي. په جوزجان کې ترکمن ډېرکي دي چې په سلو کې ۳۴,۴۱. ازبك ۲۵%. پښتانه ۱۶% او تاجك ۸% دي. په سمنګان کې هم ازبك. هزاره او پښتانه ډېرکې او تاجك پر ۱۱% سلنه په اقلیت کې راځي. پښتانه په بادغیس کې ۵۶,۲۱%. په بلخ کې ۵۳% او په کندوز کې ۶۹% پښتانه ژوند کوي چې په نوموړو ولایتونو کې تاجکان د درېیم یا څلورم اقلیت ځای نیسي. په کابل کې ۶۹,۵% (غوځ اکثریت) پښتانه دي او تاجك ۱۹% سلنه دي. (۹,۲) نو بیا د کوم نیاو (انصاف). قومي او ژبني اندول له مخې په دغو ولایتونو کې له ۱۳۲۵ کال راهیسې پر ټولو نوموړو افغاني وروڼو قومونو. تاجکي پارسي کلتوري او ژبني ستم واکمن دی. آیا په هغو دوو ولایتونو کې چې ازبك او ترکمن ډېرکي دي او یا په ځینو نورو ولایتونو کې چې له تاجك څخه د پام

ورغبت لږکي دي. کوم چا او یا دولت دوی ته دا حق ورکړی چې د یونیسکو د ترون او قوانینو له مخې تر شپږم ټولګي پورې په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وکړي؟! آیا په بادغیس. بلخ. کابل. کندوز او بغلان کې چې پښتانه مطلق اکثریت دي. لومړۍ. منځنۍ او لوړې زده کړې په خپله ژبه کوي؟! دا کلتوري ستم د څه او چا لپاره. آیا زموږ په خاوره کې یوازې تاجکان د خدای تعالی بنده ګان دي او انسانان دي او هرڅه دې د دوی په ژبه وي؟! که دا نور هم انسانان دي. بیا نو ولې یې مدني حقونه تر پښو لاندې شوي او یو محدود لږکي ته ورکړل شوي؟! آیا د پورتني قومي وېش. ټولنیز ژوندانه او د هېواد د ملي ګټو په رڼا کې دا حکم وړ او عادلانه دی ګڼې دا چې له ۱۳۲۵ لمریز کال څخه د غویي تر کودتا پورې د افغانستان معارف په یوه معقوله کرښه روان و او یا دا چې نوموړی حکم. له افراط څخه ډک تفریط دی چې پر ټول مظلوم افغان ولس تپل شوی دی؟!

نن که دننه په هېواد کې وي او که بهر. له لوستي او نالوستي پښتانه وپوښتې چې ولې پښتو نه وایې او یا نه لیکې، نو په ځواب کې به وایي چې دا خو د ظاهرشاه ګناه وه. ځکه په خپل دربار کې یې یوازې د پارسي ژبې شاعران، لیکوال، سندرغاړي او ... ساتل او پالل او په ژوند کې یې یوه کلمه پښتو هم ونه ویله.

دا رښتیا خبره ده کله چې د ولس مشر یا ټولواك د خپل ولس په ژبه خبرې ونه کړي او په خپلو ویناوو او دربار کې یې په عملي توګه ملي او رسمي نه کړي، له هېواده بهر په نړیواله کچه یې رابرسېره نه کړي.... ارو مرو به ډېر زیانونه وزېږوي او لارویان به یې ډېر شي، خو ټوله پړه پرشاه باندې اچول هم سمه خبره نه ده، ګڼې دا چې شاه ته به چا په ماشومتوب کې ویلي وي که یو ځلې پښتو خبرې وکړې نو د خولې ټول غاښونه به یې ولوېږي. ځکه به دوی هم قسم کړی وي چې په ژوند کې به پښتو یو ټکی هم ونه وایي. خو بیا دې یې هم کور ودان وي چې د دوی د واکمنۍ پر مهال

پښتو ته د افغانستان په اساسي قانون کې نه یوازې د رسمي ژبې په توګه ځای ورکړل شو، بلکې د هېواد یوازېنۍ ملي ژبه هم وګرځېده. چې په دې اړه یو څېړې داسې راغلي دي: "در کورسهای اکابر از طرف شخص پادشاه طرز سواد آموزی بنام صوت غازی رایج گردید که یکعده آنها را شخصاً تدریس و مراقبت مینمود. بعداً طرز کاکا رایج گردید و انجمن پشتو برای تعمیم زبان ملي پشتو تاسیس شد."[۱۳]

له هغې مودې راهیسې چې پښتو د افغانستان ملي ژبه وګرځېده، په تېره بیا د یوه کومکي اولیت دریغ ټولو ته څرګند دی. خو دا چې په ټولیزه پښتون ولس او په ځانګړې توګه زموږ روښاندو پښتنو څه ډول غبرګون وښود، یو څه په کار ده چې ځینې ناویلي یا لږ ویلي ټکي رابرسېره شي.

له بده مرغه زموږ په ټولنه کې د اساسي قانون په لمن کې د پښتو د رسمي کېدو او په ځانګړې توګه ملي کېدو پر مفهوم او ارزښت ګڼ شمېر روښاندو پښتنو خپل ملي مسئوولیت یا هېڅ ادا نه کړ او یا لږ تر لږه کوم دولتي مقام ته د رسېدو په موخه، خپل ملي او مانیز (معنوي) ارزښتونه تر پښو لاندې کړل او د خواشینۍ خبره خو دا ده چې ګڼ شمېر لا تراوسه هم پوه شوي نه دي چې ملي او رسمي یانې څه!

په دولتي کچه یوازې په ګوتو شمېر داسې پښتانه وزیران او نور جګپوړي غړي وو چې پښتو یې په ملي کچ د خپلې وینې په بیه وپالله او ویې ویله، خو پاتې ګڼ شمېر نورو پښتنو وزیرانو، ریسانو،...، پښتو، پاچاصیب ته د رسېدو او ورنږدې کېدو په لار کې هېره کړه او په دولتي غونډو کې د یوه تاجك او یا بل غیر پښتون په وړاندې آن په خپلو منځو کې پارسي ویله. که څېړې دوی پښتو یوازې او یوازې په ویلو او لیکلو "په خپلو دفترونو کې" پاللې وای نو آیا له دوی څخه به وزارتونه، ولایتونه او نور دولتي مقامونه بېرته اخیستل شوي وای؟! دوی چې داسې کول او



پښتنو قبیلویت پړ دئ...!

کوي(!) نو بیا له داسې یوه غریب پښتانه څخه څه ګیله چې په غریبۍ پسې د پښتنو قبرستان (کابل) ته ځي....

په اردو کې چې ګڼ شمېر پښتانه له نورو هېوادوالو سره په دندو بوخت وو. ټول پرې پوهېږو چې د پښتنو منصبدارانو لویه سلنه له خپلو ازبک. ترکمن او داسې نورو عسکرو سره په پارسي خبرې کولې. خپل راپورونه یې پارسي لیکل او اورول او پښتو یوازې د بولیو او رتبو ژبه وه. چې بیا پرچمیانو او ستمیانو په هماغه پسې هم راواخیستل او خبره یې آن په ټولو اړخونو کې د ملي ترمینالوژۍ د له منځه وړلو برید ته وغځوله.

په هره ټولنه او هېواد کې د پوهنې لوړ ځلي په پوهنتونونو کې ترلاسه کېږي او هلته علمي درجې د ټولنیز ژوندانه په هر ډګر کې تر هرې مادي شتمنۍ. سیاسي او پوځي واک و ځواک لوړ معیار او درنښت لري. ځکه چې د پوهنتون استادانو او لاربنوونکیو ته پوهان او د ژور فکر خاوندان هم وایي. د یوې احصایې له مخې په ۱۳۴۶ل په کابل پوهنتون کې له ټولو استادانو څه ۳۸٪ یې پښتانه وو او په همدې اندول او یا لږڅه پورته د پښتنو زده کوونکیو سلنه وه. چې بیا وروسته په پنځوسمو لمریز کلونو کې دغه شمېره لږ څه نوره هم لوړه وختله. په دغو استادانو کې ډېر داسې کسان وو چې د کابل پوهنتون د بېلابېلو پوهنځیو لپاره یې د زده کړې پوهنیز. څېړنیز او تخلیقي اثار خپاره کړل. خو له بده مرغه ۹۹ په سلو کې ټول په پارسي غربېدل او همدارنګ یې په پارسي لکچرونه ورکول او په زرګونو خپل پښتانه زده کوونکي یې په پارسي روزل او په دې توګه یې ژبه تربې پردۍ کوله. چې بیا دوی (زده کوونکیو یې) هم په خپل وار دغه لړۍ او کلتوري غلامۍ ته دوام ورکړ. په ټول پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه. بیا ډېر وروسته د کرنې په پوهنځي کې چې تېزسونه او ریفرنسونه په پښتو ولیکل شول او په همدې توګه په ځینو پوهنځیو کې د ګوتو په شمېر (څلور

---

پښتنو قبیلویت پرېدئ قومیت جوړ کړئ!

پنځه) د ملي اند استادان وو چې په پښتو یې زده کړه ورکوله. خو دا د یوه هېواد د ملي ژبې لپاره د سمندر یو څاڅکی و چې په هېڅ کې راتلل.

په سیاسي ډګر کې چې د ډیموکراسۍ لسیزه او له هغې راپه دېخوا په لړ کې نیسي. یو شمېر پښتانه د ځینو ګوندونو غړي شول او یا یې خپل ګوندونه او تنظیمونه جوړ کړل چې هغوی هم په خپل وار سره پښتو د خپلو شنو او سرو افراطي مزاجونو په لمبو کې. یوه ناڅرګند او تور برخلیک ته پورې ووهله. هغه ډله کسانو چې د یوه ګوند په چوکاټ کې او یا په ځانګړي توګه د ملت او ژبې تېره پر تېر وهله- وهي یا ځینې یې افراطي لیکنې خپروي او یا دلته وهلته په کوم ګوټ کې تشې ویناوې اوروي. پرته له دې چې د پښتو پر وړاندې تعصب راوپاروي بله کومه پایله نه لري. د دوی د ډول غږ له لیرې ښه راځي او د غټو غټو ویناوو او لیکنو تر شا یې پرته له یو شمېر ځاني او کورنیو عقدو بل هېڅ شی نه شته. دغه عقدې او نیمګړتیاوې په تېره بیا دوه لاملونه لري: لومړی خو دا چې دغه کسان یو ټاکلی او منلی مشر نه لري. نو څکه هر یو یې ځانته "زه - هرڅه" وایي او په خپلو منځو کې دومره لیرې تللي چې د هېواد ملي ګټې او دښمنان ترې پاتې دي او ټول فعالیتونه یې د یوې ښکلې تخنیکي کړنلارې له چوکاټ څخه بهر نه دي وتلي. دویم ټکی چې زموږ په ټولنه کې په ټولیزه. خو په دغه ډله او په ځینو نورو سیاستوالو کې یې په ځانګړي توګه عمومیت موند. د ودونو مسله ده. څکه یو وخت دوی ته ځانونه سړي نه ښکارېدل. له پښتنو سره یې د خپلوۍ پر وړاندې حساسیت ښکاره کاوه او ځانو ته یې کمکي شاهي دربارګي جوړ کړل او نن د دوی اولادونه نه یوازې دا چې د "څنګه یې؟" ځواب آن په پارسي نه ورکوي. بلکې په ډېره کرکه او حساسیت یې له پوهېدنې انکار کوي او درته وایي به "چه میګي؟!" هغه پښتنې چې دوی ته ور واده شوې له ورته برخلیک سره مخامخې دي. د پښتنو ځینو لویو او کمکیو کورنیو ته چې پارسي ژبې ور واده شوې. په اصل کې دوی

ور واده شوي نه دي. بلکې ۹۵٪ په کې خاوندان ور واده شوي او پر دې سربېره له خپلو خپلوانو او دوستانو څخه دا تمه هم لري چې د ادب او نزاکت له مخې دې له مېرمنې (!) سره يې پارسي خبرې وکړي او که زده يې نه وي نو ارو مرو دې زده کړي. کنه بيا يې متعصب خلقي او يا افغانملتي بولي....

دلته په تورنټو کې د يوې روژې په مياشت يو چا دقرآن عظيم الشان ختم کړی و او برخوال يې يوازې پښتانه وو. چې هر يو لږ تر لږه يوه سپاره قرآن شريف تلاوت کړ. له ختم او ډوډۍ وروسته يوه ځوان له ما وپوښتل چې پلاني شي ته په پښتو کې څه وايي. ما ورته په ځواب کې وويل: د دې پر ځای چې موږ ټيلفون اړ ټلويزيون ته لغاتونه جوړ کړو او د ملنډو وړ يې وګرځوو. نو ښه به دا وي چې په ورځني ژوند کې يې له خپلو ټولو افغانانو ورونو سره وکاروو او پرې خبرې وکړو. دا خبره مې لا پای ته نه وه رسولې چې يوه منور او د لوړې زده کړې خاوند پښتون چې يوه لوېشت مبارکه سپينه ږيره يې هم پرېښې وه. بې اړونده زما خبره پرې کړه او په ډېره غوسه يې وويل: "اسلام تينګک کړئ. اسلام!" ما ترې په غبرګون کې دومره وپوښتل چې ولې څه خبره ده. آيا ما کفر ووې؟!

له داسې پښتنو سره هم لږ مخامخ شوی نه يم چې له خپل ازبك يا تاجك ملګرو سره به مې په کومه ناسته ولاړه کې په خبرو بوخت وم او ناڅاپي داسې پښتانه اشنايان به مو په خبرو کې راپېښ شوي وي. چې ټول عمر يې له افراطه ډك او ناخرګند پښتو شعارونه ورکول. خو همداسې پښتنو د دوی په وړاندې پرما نيوکه کړې چې ولې تعصب لرم او د خپل هېواد په ملي ژبه (پارسي؟!) له دوی سره خبرې نه کوم. په داسې حال کې چې زه له دوی سره په کلونو په همدې پښتو غږېدلی وم او يوه يې هم راته ورته سپکه خبره نه وه کړې... دغه ډول بېلګې په سلګونو څه چې په زرګونو شته. خو کوم ځای څکه نه نيسي چې د دغه ډول تخريبونو ترشا په تېره بيا ځينې مرتجع

پښتانه هم دي، ځوك يې تعصب ونوموي. چا د كفر نوم پرې كېښود. ځوك يې له ډك افراط څخه په تفريط او ځوك يې په بل او بل نامه د پرمختګ او دودېدنې مخه نيسي. ښاغلی پوهاند محمد حسن كاكړ په دې اړه د غوريانې په ځواب كې د خپلې يوې ليكنې لمن داسې ټولوي: "كه چېرې له پخوا نه د پښتنو د پام وړ برخې. پښتنو له لاسه نه وای وركړې او نورو پاته پښتنو يې پر وړاندې له بې پروايي كار نه وای اخيستی، هغوی به اوس له هغه څه نه چې دي، زښته ډېر غښتلي ته‌ر وای او د هېواد بد نيته ګاونډيو به د دوی ملي خپلواكی ته خطرې پېښې كړې نه وای." ۲-۹:

## پايله او د حل لارې :

په پای كې ويلای شو چې زموږ د ملت د تباه كېدلو كورني او بهرني عوامل په لوی كچ د پښتنو له لاسه پېښ شوي دي، ځكه پښتنو د افغانستان د غوڅ اكثريت. مشر ټبر او شمزی په توګه خپلې ټولې ملي او ټولنيزې دندې او مسؤليتونه په وړ توګه سرته نه دي رسولي او د نالوستوب په وجه يې د يوه غښتلي ملت د ساتنې او پاينښت معيارونه ترناوړه خپل پالیو او قبيله پرستيو قربان كړي دي. چې په دې توګه يې په خپله بهرنيو لاسوهنو ته هم موقع برابره كړې ده. په خواشينی سره پښتانه په خپلو خپل پاليو او تربګنيو كې دومره ژور ځي، چې آن د كليو. ولسواليو او په تېره بيا د بېلابېلو سيمو او ولايتونو په كچ يې په خپلو منځونو كې راشه ورشه او ودونه حرام كړل او پر ځای يې له غير پښتنو سره خپلوی غوره وګڼلې. چې پايله يې "د افغانستان قومي جوړښت" پر بنسټ. پښتنو ته يوه ستره بشري بخوله فاجعه زېږولې ده. ځكه پښتانه له خپلې اصلي سلنې اته په سلو كې (۸%) راټيټ او تاجك يوولس سلنه (۱۱%) له خپلې محدودې سلنې پورته وختل او كه چېرې دغه وضعه همداسې دوام وكړي نو

لنډه موده وروسته به د دغه اتل تېر يوازې تش نوم پاتې وي!

د ګران هېواد په دې ځلوريشت کلنه غميزه کې چې په لکونو لکونو پښتانه شهيدان او په خپله خاوره کې بې کوره او بې کهوله شول. همدا اوس اوس ډېر شمېر پښتانه د دې پرځاى چې خپل اصلي دښمنان وپېژني او وزسره حساب وکړي. له بده مرغه آن په خپلو خپلوانو او کليوالو کې لـه ما او تا نه د "بدل" سلا غواړي او په شپو خوب نه ورځي چې له پلاني څخه څنګه خپل غچ واخلي. په پښتنو کې دغه بې ارزښته او بـې بنسته تربګنى چې د اسلامي اصولو پر خلاف عمل دى. په مياشتو او کلونو نـه. بلکې په پېړيو دوام مومي. ځکه دا لړۍ له خپلې ممدنې لـه مخکې. خپلو لوښو او زامنو ته ورلېږدوي. خو له بېلګو به يې تېر شم.

د هاتې په غوږ ويده يې بې انصافه
خلك ګرځي د اسمان په کنارو کې
تـه لاوايـې الف بـې د تربګنيو
د نفـاق او جهالت پـه سيپارو کې

"شهيد م. موسى شفيق"

په پښتني ټولنه کې د قبيلوي نظام د کړيو د ماتولو لپاره درې ټکي. سياسي. کلتوري او اقتصادي (پـه تېره بيا سوداګريزې) اړيکې اړيـن (حتمي) بربښي، چې د درې واړو بنسټ عصري ښوونه او روزنـه جوړوي او بې له دې دغه پيوستون ناشونى دى. د دغـو ټکيـو د پلي کېدو لپاره ټولنيزې رسنۍ (راډيو. ټلويزيون. انټرنټ. ورځپاڼې. مجلې. ...) پـه ملي ژبه. ستره او اغېزناکه دنده سرته رسوي.

پښتانه په هره بيه او هر ډول چې کېږي. بويه په خپله مورنۍ ژبـه د زده کړو خاوندان شي او د افغانستان په ټولو سيمو کې دې د خپلې ملي (!) او مورنۍ ژبې حق وغواړي. خپل ماشومان دې (په پښتو" ښوونې او روزنې تـه وهڅوي. له دې وروسته دې د نورو ژبـو د خړوب او خدمت لپاره وخت نـه

تېروي. ځکه د اقليتونو ژبې ځانته خپل تاکلي پروګرامونه لري. چې هر کال په مليونونو ډالر يې د ودې. پرمختګ او دودونې لپاره لګوي. خو پښتون څوك او څه لري؟! چې پارسي ته دري نوم جوړوي او يا مغلو ته تاريخونه ليکي... .)

پښتانه بويه په دې پوه شي چې حق نه وېښل کېږي. بلکې اخيستل کېږي نو په مورنۍ او ملي ژبه ليك. لوست. غږېدل او خبرې کول د دوی مانيز او مدني حق دی او بويه په اخيستلو کې يې په هېڅ وجه غلي پاتې نه شي. ځکه که پښتون دا حق ونه غواړي. بل هېڅوك به په دغه محکومه او بکره ژبه ليکل او خبرې ونه کړي. د دغه حق د اخيستلو لپاره تر هرڅه د مخه لومړی پښتنو ته په کار ده چې پښتانه شي او خپلې ژبې ته تر وروستي بريده کار ورکړي. که چېرې پښتانه د اسلام مبارك دين په خپله ژبه زده او پلي کړي. نه به په دوی کې غچ او بدل وي او نه به هم د پښتنو پر افراطي اسلام د خلکو او نړيوالو ملنډې... وايي په غزني کې يوه نالوستي ملا صاحب د جمعې د لمانځه په خطبه کې خپلو اورېدونکو ته ويلي وو چې د خدای تعالی په چار کتاب کې راغلي دي "که تو کني دل و جانم را کبا تفسير: اې خلکو ښه وکړئ بد مه کوئ." همداراز پښتنو ته په کار ده چې له يو بل سره د روغبړ پر مهال د اوو پښتنو (نسلونو) د ګروهېړنو پر ځای د پښتون په نامه او ژبه بسنه وکړي. د يوه روايت له مخې يو پښتون له افغانستان څخه د هندوستان ستر پښتون واکمن. شېرشاه سوري عليه رحمه ليدو ته تللی و. سوري عليه رحمه د روغبړ پر مهال يوازې دومره ترې په پښتو وپوښتل چې له کوم ځای څخه راغلې؟ افغان يې په ځواب کې وويل چې له افغانستان څخه. د پاچا د دربار کوم بل پښتانه ترې وپوښتل چې څوك يې. خو لوی شېرشاه سوري عليه رحمه ته ډېره غوسه ورغله او په قهر يې ورته وويل. همدا بس نه ده چې پښتو وايي او پښتون دی؟!

پښتنو ته په کار ده چې د تاريخ له نادودو او نامردو پېښو او ناورينونو

نه په زده کړه د همدې فلسفې په رڼا کې خپل پښتني اندود "طرزالفکر" سمبال او عيار کړي، کنه دغه د يوې کمکۍ ولسوالۍ منځ مهال اپارتايد به په داسې يوه بله کرغېړنه لوبه واوړي، چې د ټول پښتون ټبر جنازه به د تل لپاره له بېخه پورته کړي. نو د افغانستان او پښتون ټبر د ژغورنې، تلپاتېينې او بقا لپاره بويه پښتانه د ستر پښتون انديال (مفکر) شېرشاه سوري عليه رحمه دغې نغوتې، ننواتې او وصيت ته غاړه کېږدي چې ويلي يې وو:

"پښتنو!

قبيلويت پرېږدئ،

قوميت جوړ کړئ!"

هوښياران په دې خبره باندې ښه پوهېږي
چې خواران پر دې دنيا باندې ذبون وي
ما مې خپله غاړه خلاصه کړه افغانه
تر اسمان لاندې ټيټ مه کرځه پښتونه!

"شهيد سيد بهاءالدين مجروح"

PROPERTY OF ACKU
11774

# اخځونه


۱. هیله مجله، عبدالباري جهاني، ۱۳۷۸ل کال، ۳ ګڼه، (۱۴ - ۵) مخونه، پېښور.

۲. د درانیانو امپراتوري، یو. و. ګالکوفسکي، د ګل مهر نوروزي ژباړنه، کابل، ۱۳۵۷ل.

۳. دعوت، پوهاند محمد حسن کاکړ، ۱۱۲، ۱۱۳ او ۱۱۴ پرله پسې ګڼې، ناروې.

۴. قربانیان مشروطیت، مسعود پوهنیار.

۵. د زړونو او دماغونو ماینونه، عبدالجلیل وجدي، ۲۰۰۰م کال ۱۳۷۹/، ملت پریس، لاهور.

۶. دویمه سقاوي، سمسور افغان، دویم چاپ، پېښور، ۲۰۰۱ز کال، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.

۷. دویمه سقاوي، سمسور افغان، دویم چاپ، پېښور، ۲۰۰۱ز کال، بېلابېل مخونه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.

۸. National Geographic، د ۲۰۰۱ کال د ډسمبر ګڼه، د امریکا متحده ایالات.

۹-۱. رښا او دفاع، د محمد حسن سهاك لیکنه، ۱۳۷۷ - ۱۹۹۹، ۲۸ مخ، پېښور.

۹-۲. رښا او دفاع، د پوهاند محمد حسن کاکړ لیکنه، ۱۳۷۷ - ۱۹۹۹، ۲۸ مخ، پېښور.

۱۰. د افغانستان قومي جوړښت، واك فونډېشن، ۱۹۸۸، د ولسوالیو په کچ د قومونو د وېش جدول، ۹۹، ۸۴ او ځینې نور مخونه.

۱۱. Historiya Afghanistan, U.V Gankovski: 367 st, Mysel 1982 Moscow, Russia

۱۲. ملي زاویه، حبیب الله رفیع، د هېواد پېښې د ملي نظر په رڼا کې، ۲۰۰۰م کال، لاهور، پاکستان.

۱۳. افغانستان در پنجاه سال اخیر، موسسه طبع کتب، اول سنبله، ۱۳۴۷، کابل، افغانستان.

ARIC
B
3.121
WAR
11774

## په دې کتاب کې لولئ:

- جرګې، ملي جرګې او لويې جرګې
- اقدامات دپلماتيک و مسئله صلح در افغانستان
- ملي ژبه، ملي بيرغ او ملي سرود
- د حالاتو بې ثباتي + د نظرياتو بې ثباتي = ...
- ماجرايى بس است
- پښتانه تل د تورې سپر دي
- په بشري ټولنه کې د پښتو او پښتنو سره د بشري حق...
- سقوط رژيم شاهي و آمدن دولت جمهوري در افغانستان
- نوى افغانستان او د نويو کلتوري هڅو لپاره وړانديزونه
- د افغانستان د بياودانولو په اړه
- د بن تړون، دريم قوت او د مذهبي بنسټپالنې ماتې
- حکومت "کشاد" او ملي حاکميت
- ازبک سالاري په افغانستان کې
- که د عشق لاره اغزنه وي...
- افغانستان: اميدونه او ايرادونه
- پښتانه او يو موټى افغانستان
- د پښتنو بې غوري او د دښمنانو بدسګالي
- د افغانستان د روغتيايي مرستو بيارغاونه
- په افغانستان کې د ملي اردو د جوړېدو ستونزه
- پښتانه دې د خپلو بېخرته ملي...
- د يوه اتل ولس غم لړلى برخليک
- يا به يو کېږو، ګنې ورکېږو
- ديکتاتوري، دموکراسي و مشروعيت قدرت در افغانستان
- زما کندهاره
- پښتنو! قبيلويت پرېږدئ، قوميت جوړ کړئ!

Download from:aghalibrary